سرې لښکرې په افغانستان کې



Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

سرې لښکرې په افغانستان کې

PROPERTY OF
ACKU
6419

ب : ګروموف

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

ژباړه : پردیس مسافر

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

دکتاب نوم : سرې لښکرې په افغانستان کې

لیکوال : ب - ګروموف

ژباړه : پردیس مسافر

مهتمم او ګرافیکس : عبدالحی سحر

چاپ ځای : پېښور دانش کتابخانه

دچاپ نېټه : ۱۳۷۵ / هـ ش ۱۹۹۷ میلادي

تصحیح خان محمد سیند او باز محمد عابد

بسم الله الرحمن الرحيم



څوخبرې

دغه کتاب چې ژباړه يې ستاسو مخ ته پرته ده، پر افغانستان د شوروي پوځي تيري د عواملو او پايلو په هکله د يو روس جنرال د قضاوت نښکارندويي کوي. دې د تيري له هماغه پيله تر روسۍ شپې نه يوازې د پښتو شاهد، آن چې ګډون کوونکی او هستوونکی واو دوه کاله وړاندې يې د خپلو يادداښتونو پربنسټ دغه رساله کښلې ده. په هغې کې د ټولو شويو دليلونو او خبرو سموالی يا کړوالی ته په خپله کره کړه اوله مانه مه غواړه چې درته ووايم رښتيا يې ليکلې او که نه زه درته بل څه ويل غواړم.

د جنرال ګروموف دا ليکنه د افغانستان په هکله، د هغه د ولس په هکله، د هيواد د نړۍ وال اعتبار او وزن په هکله او پر کابل د هغه وخت د حاکم روس پلوه رژيم د اصلي ماهيت په هکله د روسي قضاوت يو بشپړ انځور جوړوي، که ليکوال په لوی لاس د خپل پروني ملګري هيواد ولس ته سپکاوی کوي ته مه خوابدی کيږه، که هغه مجاهدينو ته پر خپلو خلقي او پرچمي دوستانو ترجيح ورکوي ته يې دا د بيطرفه قضاوت نښه مه بوله، که هغه په افغاني خاوره کې د خپل سر تيري يو مخيزی وژنې ته اتلوالي او زړور توب وايې ته له غوسې مه سورکيږه، که هغه په سپين سترګی د خپل سياسي او پوځي مشرتابه د ترټونکو کړنو د سپينولو په نيت

ځینې حقایق نیم کاږي او ځیې بیخې پټوی ته سینه مه تنګوه ځکه چې هغه دیر غلګړی په روحیه او دماتې له عقدو سره له افغانستانه وتلی اوپه همدغه چاپیریال کې قضاوت کوي .بده به هله وای چې ده افغان ستایلی ، دافغاني شملې په وړاندې یې خپله خولی له سره کوزولی او دانن یې هم درښتوني انسان په دود خپل پروني انډیوال ته دوست ویلی.

دلته نوحق ستاپه خواکیږي که په ذهن کې دي ددې کتاب دژباړې په اړتیا کرښه باسې. خووایي هرکتاب په یوځل لوستلوارزي، نه، زه په دې خبرې دباورله مخی داژباړنه توجیه کوم. له دې کارنه زما مقصد دانه دی چې تاته که نورنه وي دیووار لوست له پاره څه ډالی کړم. زه غواړم افغانان په هغه څه چې ددوی په هکله لیکل شوي اویا ویل کیږي خبرشي.له بدو نه بې خبري دهغو زیان نه کموي. چې څومره تړې ژراو ژور خبرشو هومره یې دعواقبودورکاوي او دتکرار دمخنیوي تدبیرښه نیول کیدلی شي .

ددې ژباړې بل دلیل دخپلو او پردو تاریخ لیکونکوله پاره دموادو برابرول دي.هیڅوک داوس نه لري داویا یمې لسیزې له دوهمې نیمایي وروسته دراماتیک او غم لړلی پراو دافغانستان له تاریخ نه حذف کړي. دا دوره لامحتاطی اوژوړې څیړنې ته اړه لري اوباورلرم چی په دې کتاب کې راټول شوي اسناد به له څیړونکواوپوهانوسره دهغې په ښه څیړنه کی زیاته مرسته وکړي.

دکتاب دمتن په هکله هم دیرې خبرې خوندنه کوي. هغه په خپله ستاسی دلوستلوارځاري. خوبیځایه به نه وي که دژباړې دځینو ځانګړتیاوو په باب څه

ووايم.

گروموف خپل کتاب ته «محدود پوځي تولګي» نوم ورکړی دی. دهغه له نظره ښايي يود کوچني هيواد کی ترغاښو وسله واله څه د پاسه سل زره کسيزه ډله «محدوده قطعه» وبريښي خو زموږ له پاره دا يو خونړی ښورتيری و. له همدی امله دهغه دپښتو ژباړی له پاره «سری لښکرې په افغانستان کې» نوم غوره وبلل شو.

ژباړه دمتن دامانت دساتلو ترڅنګ آزاده بڼه لري. دروسی متن د (۲۰۶) مخ له څوجملو پرته چې دقلم پاکي په کې نه وه ساتل شوې، نورټول کتاب په پوره امانت پښتو شوی دی. هلته چې دغينو روسی يا اروپايي مفهومونو دروښانتياله پاره په پښتوکې اندول نه دی موندل شوی، نوله اوږدو توضيحاتونه کار اخيستل شوی دی.

هغه اضافي توضيحات چې ليکوال ورکړي په خپله يې د «ب. گ» (باريس گروموف) په نښې ښودلي او کومې څرګندونې چې په ژباړونکي پورې اړه لري مخې ته يې «د. ج» (داود جنبش) کښل شوي دی.

زماله نظره لږتر لږه ددې کتاب په دوو برخوکې دلوستونکي تنده پوره نه ما تړی اوپوښتې يې بې ځوابه پاتې کيږي. يوهلته چې پرافغانستان د سرولښکرو ـ مسلی تړی خبره راځي. دلته ليکوال له يوې څلورمياشتنی دوری نه توپ اچوي او لوستونکی په خلاکی پريږدي. بل هغه وخت چې دخپلو پوځي استخباراتو په مرسته دمجاهدو قوماندانانو په اجيرکولو غږيږي. دلته له ورايه بريښي چې

لیکونکی دځینو ټکودویلوله لاړې هڅه کوي دځینو مهموخبرودبرسیره کیدومخه ونیسی.

لوستونکی حق لري دپلټنې او پوهیدنی خپل حس ارضا کړي. نوځکه بیځایه به نه وي کـه دلتـه دنورو سرچینو په حواله دکتـاب دغـه نیـمګړتیـاوي پوره او دلوستونکی تنده ماته کړم؛ هیله من یم چې ګران لوستونکی به دکتاب ترلوستلو وروسته دسریزې دې برخې ته یوځل بیا مراجعه وکړي.

هیڅوک شک نه لري چې د ۱۹۷۸ کال له اپریل وروسته په کابل واکمن شوی رژیم روس پلوداو ترډیرې اندازې یوازې ددوی په مرسـته ژوندی و. خـوروسـانو درژیم په لومړي یونیم کال کې په افغانستان کې دپام وړ پوځي حضورنه درلود نوځکه دادعوه به سمه نه دي چې ګنې خلقی واکمنې روسي عسکرو په اوږوولاړه وه. په همدې اندازه به ددې خبرې کول هم له انصافه لیرې وي چې تره کی اوامین روسانوته دعسکرو دورلیږلو وړاندیز نه دی کړی. په دې کتاب کې را ټول شوي اسناد په دې اړوند ټول شکونه له منځه وړي خواصلي پوښتنه دادې چې ولې مسکو خپلو خلقي اډیوالانوته دیوه هلیکوپتر یا یوه زغره وال ګاړي دورکړي په سردومره چنې وهلې او هغوی یې تحقیر کړي دي. دهغو دغوښتنې خلاف یې افغانستان ته دخپلو عسکرو لیږل دنړیوالو نورمونومغایر عمل اودیوه خپلواک هیواد په کورنیو چاروکې لاس وهنه بللې ده. خود ۱۹۷۹ کال په پای کې چې واک ته دپرچمیانو درسولوخبره را اوچتیږي، داهرڅه تر هیریږي او دسترګوپه یوه رپ کې د وروږګلویزې مرستې په پلمه دسړو اووسلو سیلاب پرافغانستان ورماتوي

گروموف ددې خبرې اصلي دليل نه شي روښانولی اويايې په لوی لاس له نبودلونه ډډه کوي . هغه دا پوښتنه هم يې ځوابه پريږدي چې پرافغانستان د پوځي تيري پلان په دقيقه توګه کله او څنګه عملي شو .

وروستۍ پوښتنې ته تريوه ځايه په « الفا - د ک . ګ . ب پټ پوځي ټولګی » نومي کتاب کې ځواب موندلی شو . دهغه ليکونکی د ک . ګ . ب افسر ميخائيل بالتونوف ليکي چې د ۱۳۵۸ کال دجدي له شپږمې نه دوه اووه نيۍ وړاندې د تيري پيل په پام کې و . دهمدې مقصد له پاره دببرک کارمل په مشرۍ يوه څلورکسيزه ډله په پټه بګرام ته رسول شوې وه خو دځينو دلايلو په وجه دغه پلان شاته وغورځول شو . دلته دياد شوي کتاب ځينې په زړه پورې برخې راوړم :

« . . . سلګونوبهرنيو اوشوروي خبريالانو او څيړونکوزيارايستلی هغې پوښتنی ته ځواب ومومي چې نړۍ وال يې لاتراوسه په حقيقت نه دي خبر اوهغه داچې :

څنګه ببرک کارمل له چکوسلواکيې نه کابل ته ورسيده ؟ . . . له يوه هيواد نه بل ته ددغه افغان مشر تګ ،راتګ لاتراوسه پټ رازپاتې شوی دی .

خوخپله ببرک په دې هکله څه وايی ؟ . . . يوه ورځ ده له يوه خبريال سره مرکه درلوده :

« ببرک : په هرد لاره چې هيواد ته ستون شوم ،دازما دولس غوښتنه وه . . .

خبريال له : خوبياهم لطفاً ووايا ست هيواد ته ستاسې ستنيدل له تخنيکی پلوه څنګه شوني شول ؟

ببرک: بیشکه چې مانه شوکولی د پاکستان یا ایران له لارې ولاړشم. یوازې یوه لارپاتې وه: دمسکو او تاشکند لار! خو داچې څنګه او په څه شي کې لاړو، داهغه جزئیات دی چې څرګندول یې لازم نه بولم.»

«پخواني افغان مشر رښتیا ویل: دهغه ستنیدل یوازې د مسکو او تاشکند له لارې شوني و. خو ترکومه چې دجزئیاتو خبره ده غواړم لوستونکوته یې ښه په تفصیل روښانه کړم:

...د ۱۹۷۹ کال د دسمبر میاشت په مسکو کې د یره غنمجنه او واورینه وه. دهمدغې میاشتې په یوه سهار دوالنتین شرګین په مشرۍ دالفاد ډلې اته غړي په بیړه رااوچت او په یوه سرویس موټر کې د ک. ګ. ب دلومړي ریاست ودانۍ ته ورسیدل.

عزتوف په حیرانتیا وویل: اوهو! وګورئی څه پرتمین هرکلی! تولوله کړکیونه بهر وکتل. په انګړ کې درې تورې «والګاوې» ولاړې وې. له هغونه دوه تنه چې مسلکي کالي یې په غاړه و، راووتل او دسرویس په لورروان شول. شرګین دموټرله ورده ورکوز شواو دخپل راتګ خبر یې ورکړ.

امروشو: په موټر وکې ځای پرځای شئ...

والګاوې په چټکۍ له انګړنه ووتې. دمسکو په آشنا کوڅو کې څراغونو هماغسې ستر ګکونه وهل. دموټروخاوندانو چې په مخکې سیټونوکې ناست و، هیڅ خبرې نه کولې او هغو منظروته ځیرو چې دموټروله کړکۍ بهر په منډه تیریدې. میلمانه هم چوپ و. په داسې حالاتو کې څه پوښتل مناسب نه بریښي.

... موټرې نیم ساعت وروسته دیوې دروازې مخې ته ورسېدې. له دیوالو دننه ښائیسته ښکلې مانۍ اوپاک پریولي سړکونه ترسترګوشول.

میلمانه دننه وبلل شول. په یوې خونې کې یوپنډ سړی دمېزشاته ناست او په پوره زور له چا یو نه غږپ کوي. یوبل ته یې ځانونه سره وپیژندل: دپنډ سړي نوم باریس چیچرین و.. هیڅوک نه پوهېده چې څه له دغه ځای ته راوستل شوی دی.

خو دانتظار شېبه لنډه وه؛ دلومړي ریاست استازی راغی، له روغبړ وروسته یې په څوټکوکې دهرچا دندې روښانه کړې: دهغوکسانو پوره ساتنه به کوئ چې اوس درسپارل کیږي... دغفلت په صورت کې موسرونه غوڅیدلی شي!

اوله یوې لنډې وقفې وروسته یې زیاته کړه: «داستر خلک دی چې نړۍ ترې لانه ده خبره اوباید خبره هم نه شي!»

نړۍ رښتیا هم نه پوهېده چې دامین له قهره تښتیدلی وطنجار، اناهیتا او نوراحمد نور چیرته دي. دافغانستان له پولوبهر دببرک کارمل نوم هم چادومره نه واوریدلی.

د «الفا» دډلې غړوهم دلومړي ځل له پاره دوی لیدل. درې نارینه او یوه ښځه خونې ته ننه وتل او ودریدل. د تورې اوهغه دچاخبره سوځېدلی څېرې، کړې پړی اوتورو ستر ګوخاوند سړی له نورونه نیم ګام وړاندې ولاړو... ښه اروپایي دریشي یې په ځان کې وه.

بارئیس چیچرین میلمه راوپیژانده:

- ببرک کارمل!

دازمور له پاره څه نا آشنا نوم و. عزتوف بیا بیا له ځان سره تکرار کړهسی نه چې خدای مکړه تړې هېرشي.

چیچرین بیا دببرک شاته ولاړ ددنګې ونې اوپک سرخاوند نسبتاً ځوان سړی راوپیژانده:

– دانوراحمد نوردی! هغه دلته زده کړې کړي اوپه روسي ژبه پوهیږي.

...چیچرین دلاس په یود نازک حرکت دتورې کوڅې خاوندې ښځې ته چې غنم رنګه څېره یې درلوده اشاره وکړه ویې ویل : دااناهیتا ده...

باریس وروسته یادونه کړې وه چې اناهیتا دشته منې کورنۍ غړې وه، ښې زده کړې لرې اوتل دببرک په څنګ کې وي.

داناهیتا خواته بل اوچت او دنوروخلاف دروښانې څېرې خاوند سړی ولاړ و..دهغه څېرې ته ګنې وینښتو او ګورو بریتو افغاني ښځه ورکړې وه...همدا وطنجارو.

دقوماندانۍ استازي له دې پیژندنو وروسته وویل: زما خبرې همدومره وې .اوس نوپریکړه وکړې چې څوک به دچا ساتنه کوي.اوضاع ښه وڅیړئی او دامر انتظارباسی.

ددې له پاره چې خبرې اترې آسانې شي اودغه راز داسرارودپټولوپه غرض په دغو څلورو تنو روسي نومونه کښېودل شول.

چیچرین له نورو لومړی شو او ویې ویل: دوطنجار نوم محمد اسلم دی. داکوم روسي نامه ته نږدې بریښي؟ «میشا» ته که «ساشا» ته ؟

کوم چاوویل:

«ساشاد» به غوره وي

- ښه ده راځئ چې په دې ساشا نوم کښيږدو».

ليکونکی دلته د ځلور کسيزی ډلې د نورو غړو روسی نومونه نه يادوي. خوما اوريدلي چې همدلته د ببرک له پاره د «بوريا» اوداناهيتا له پاره «آنيا» نومونه غوره شول.

کتاب وړاندې تاشکند ته د ببرک کارمل او ملګرو د ليږد يدونکل کوي او ليکی چې څنګه دوی د ازبکستان د مشر شرف رشيدوف په ځانګړي ميلمستون کې له مادي نعمتونه خوند اخيسته. وايي همدلته ببرک کارمل د روسانو په سلادامين درژيم د نسکوريدو په هکله وينا ثبتوي. تينګار کوم داد جدي له شپږمې نه نږدې شپاړلس ورځې مخکې خبره ده، همدغه وينا له پولې نه د روسي ځواکونو له تيريدو سره جوخت د تاشکند راډيو په لنډو اومنځنيو څپو د کابل راډيو په فريکونيسو خپره کړه او داله نړيوالو قاعدونه د روسانو بله سرغړونه وه. په دې کتاب کې وړاندې لولو:

«د سفرنوی لار د افغانستان د پولې له پاسه د هندوکش د غرونو پر سر تيره او په بګرام کې ختمه شوې وه... څوپه بګرام کې ډير پاتې نه شو. (هلته له رسيدو دوه ورځې وروسته) يعنی د دسمبر په ځوارلسمه مودماښام ډوډی په ځای پرينښوده او په يوې بې نښې الوتکې کې د ببرک کارمل، نور، وطنجار او اناهيتا او دهغو د کالیو په بارولو لګيا شو. هغوی بيرته له افغانستان نه وايستل شول...

ددسمبر له ۱۲- ۱٤ په کابل کې څه پیښ شول؟ ولی ببرک کارمل او دهغه ملګري وزیران په بیړه له بګرام نه ولیږدول شول؟ دلتـه بیل ، بیل نظرونـه وړل کیږي خو دادوه فرضیې ډیرې دمنلو وړبریښي: لومړی داچې امین ته دببرک او دهغـه دملګرو د راتګ پتـه لګیـدلې وه او ځکه شـورویانـو یې په بیـړه دبیـرته وړلوپریکړه وکړه. دوهم داچې تاکل شوي پوځي عملیات پوره نه ووسنجول شوي او دهغو سم تطبیق یوځه نور وخت ته اړتیا درلوده ... ».

شورۍ پوځي ماشین ته نورې دوه اووه نې په کاروې چې دکودتا او مداخلې نقشه له سره جوړه او ددسمبر تر ۲۷ پخه اوبیا پلې کړي. ګروموف په خپل کتاب کې دعسکرو له ورتګ وروسته دځینو حالاتو انځور دلته وړاندې کوي.

دحاضرکتاب بله تشه هلته ترسترګو کیږي چې ګروموف دروسې له پوځی استخباراتو سره دجهادي قوماندانانو داړیکې خبره کوي. لیکوال ددې ادعا په کولو هڅه کوي« وچ اولانده برابر په اورکې وسوځي ». له همدې امله په دې اړوند دهرډول ابهام دلیرې کولو له پاره د « ماشکوفسکی کمسمولیځ » په نامه د مسکو دیوې ډیرې معتبرې ورځپاڼې دیوه مطلب ژباړه راوړم. دغې ورځپاڼې د ۱۹۹٤ کال د اپریل د ۱۳ نېټې په ګڼې کې دروسیې دپوځي استخباراتو دیوه مشرمامور معرکه خپره کړې چې درې کاله په افغانستان کې ددد په وینا دافغانانو په جلبولو بوخت و. مرکه دپوښتنو اوځوابونو په بڼه ترتیب شوې ده:

« ...خبریال: ایګورباریسوویچ! په هغـو ټولو پیښـوکې څه شي ته دپوځي استخباراتو دادارې دبریانوم وړکولی شی؟

– ځواب هره ورځ موزیارایسته چې دسردزیان اندازه تردیره کمه کړو. دانه یوازې ستونزمن چې له ځانې خطره ډک کارو اوځکه په دې لړکې د «کوم ستربري» په ګوته کول آسان نه بریښي... ښه به وي که بری یاماته په هره ځانګړې پیښه کې په جلا توګه ولټول شي.

خبریال: خوله دې ټولوسره سره..

– ځواب: زمور د اداري کارکوونکي کله ناکله په دې یریالي کېدل چې له احمد شاه مسعود سره مخامخ تماس ونیسی.

خبریال: لږصبروکړئ، لږ صبر وکړئ! ستاسې مقصد دادی چې ګنې احمدشاه مسعود دشوروي پوځي استخباراتو جاسوس و؟

– ځواب: نه، خوکه تیک خبره رانه غواړی نوهغه زیاته موده په مور پورې تړلی اوزمور دنفوذ عامل و. نږدې یوکال زمور مامورنیوله ده سره لیده کاته کول، بیلې بیلې موضوعګانې یې ورسره څېړلی اوګډې پریکړې موسره کولې اوهغه به زیات وخت هغه څه کول چې مور ورته ویل.

خبریال: احمد شاته مودد غسې یوه خدمت په بدل کې څه ورکول؟

– ځواب: عملاً هیڅ! مور دجاسوسی دخپلې ستړې شبکې دمادي تأمین له پاره پوره امکانات هم نه درلودل.

خبریال: که تاسې کولی شول د احمد شاه مسعود په څېړو ګړی ځان ته متمایل کړئ نوبیا موداماتې ولې وخوړه؟

ځواب... زمور دمشر تابه داهڅه چې په افغانستان کې خپل ګوډاګی نظام

وساتي له هماغه پيله ناشونې اوشنډه وه. که موږ ان دافغانستان د پولو په پوره ترلولاس موندلی هم وای، که مودغه هیواد له ایرانه او پاکستانه بشپړ تجرید کړی هم وای او که هلته دیوه ځواکمن حکومت په جوړولو بریالي شوي هم وای، بیا هم زموږ د تلپاتې او غوڅ برې امکان نه و».

گومان کوم چې دا اضافي څرگندونې به له لوستونکي سره د دغې لس کلنې ویرنې په سمه څېړنه کې لاس وکړي او تر ډیره به یې هغو پوښتنو ته چې روسی جنرال په لوی لاس نالیدلي پرېښي، ځواب ووایي.

بې انصافي به وي که په دې برخې کې دخپل ښه دوست، لیکوال زرین انځور هڅونې، لارښوونې او مشورې یادې نه کړم. د ژباړې په ټول بهیر کې مې د ده ملاتړ دلارې مل و. هیله من یم چې گران لوستونکي به پښتو ژبې او افغان ملت ته زموږ دچوپړ داکوچنۍ هڅه لږ تر لږه منظوره کړي.

چې غلیم یې په کینه شونډې په غاښ چیچي تر اوسه
زه د هاغه غیرتی وطن پردیسه افسانه یم.

په مینه

پردیس مسافرد - ۱۹۹۵ - دسپتامبر څلورمه

دليکوال له خوا

ستره هېوادنۍ جګړه څلور کاله روانه وه، خو دې لپاره چې دهغې بشپړ، په تېره بيا ريښتينې تاريخ وليکل شي، نيمه پېړۍ هم دځېرونکو لپاره بس نه شوه. ښايي همدومره وخت په کاروي چې دافغانستان په خاوره کې دځلويښتم لښکر جګړه ييز فعاليتونه وځيړل شي.

لومړی ځل د ۱۹۸۹ کال دفبروري په ۱۵ دافغانستان له خاورې نه دشوروی محدودو پوځي ټولګيو له وتلو روسته سمدلاسه ما ته دا دې کتاب د ليکلو وړانديز وشو. وروسته له مانه بيا بيا ورته غوښتنې وشوې. ښکاره ده چې دکلونو په تېريدو وسره دافغانستان دجګړې په وړاندې علاقمندي نه کميږي.

زه دځلويښتم لښکر په هکله ټولې ليکنې په غور سره ځيړم او د برخله داسې راته بريښي چې دغه ليکنې د صلاحيت لرونکو خلکونه، بلکه دمغرضانو کار دی. بېشکه دافغانستان دجګړې او دشوروي سرتيري د ميرانې په هکله ريښتيا، له هغه چا پرته بل څوک نه شي ويلی چې مخامخ يې په دې جګړه کې ګډون درلود. همدې اصل ار کړم چې دهغو پېښو انځور جوړ کړم چې مامخامخ ګډون په کې درلود.

زه له پوځي ژورنالېست سرګي باګدانف نه له دې امله چې دکتاب په ليکلو کې زما مرستندوی و، مننه کوم.

له جګړې نه ډېر مخکې

باورولره چې داولګاد (مورنی سیند)

تاته ډډ یې مودې لپاره ځواک ورکړی دی.

زه چې دستري هېوادنی جګړې په هماغه تودو لمبوکې دستروسي سیند په څنډوکې دنیا ته راغلم، ډډغې جګړې په هکله یوازې دکتابو اوکیسوله مخې معلومات لرم، خو دتقدیر لوبه داوه چې زه باید په بلې، همدومره سختې او غم لړلې، دافغانستان په جګړې کې ګډون وکړم.

زما پوځي ژوند له دولس کلنۍ نه پیل شو. په ۱۹۵۵ کال کې دسوروف په نامه دسارانف په حربي پوهنتون کې شامل شوم. زما مشرور ور الکسي هم په ۱۹۵۳ کال کې دغه پوهنتون بشپړ کړی و. تر اوسه می په یاد دی چې په څه حسد اوشوق مې دهغه ښکلي پوځي یو یونیفورم ته کتل.

دسارانف په حربی پوهنتون کې مې ښې زده کړې وکړې. مورډ ډېر تجربه لرونکي استادان لرل چې هڅه یې کوله نه یوازې په خپلو مضامینو کې مو ورسوي، بلکه له مورنه ریښتیني افسران جوړ کړي.

دعادی درسی پروګرام ترڅنګ مودبالت نڅا، ښکلا پوهنه، موسیقی او دهنرونو تاریخ هم زده کول، خو شک نه شته چې مورپوځي مضامین لکه په نظام

دریدل، نښه ویشتل او په ستدیوم کې لوبې، ډیر خوښول.

په اوونۍ کې یوه ورځ د حربي پوهنتون ټولو کارکونکو په انګریزۍ خبرې کولې. داکار به له خوبه دراویښېدلونه نیولې، بیا تر بېرته ویده کیدو روان و. ټول د پوهنتون له قوماندانه، د لومړي ټولګي ترزده کوونکي مجبور وو، دغه خبره په پام کې ونیسي. په دې ترڅ کې د خندا وړ ځینې پېښې هم خامخا رامنځته کېدلې. زیاتره استادان په انګریزۍ نه پوهېدل، نوځکه ډیرو، په تیره بیا سپین ږیرو قاموسونه په لاس کې ګرځول. په لومړي سر کې مور هم په سختۍ په انګریزۍ غږېدو، خو دغه احساس په دې برخه کې له مور سره تل مرسته کوله.

تر اوسه ما ته دا حقیقت روښانه نه شوچې ولې په ۱۹۶۰ کال کې دسارا تف په ګډون دیو شمیر حربي پوهنتونو درنګولو اوپه واقعیت کې د هغوی پاسلو پریکړه وشوه. تردې وروسته په ټول هېواد کې د سوروف په نامه یې په شپږ حربي پوهنتونه پاتې شول. زمور ټولګی کالنین ته ولیږدول شو. ده دوروستي کلونه موهمدلته درس ولوسته.

زه په داسې یو د کورنۍ کې لوی شوی یم چې مشریې زمور نیکه دیمتري فیودروویچ لیبدیف و. هغه په تیره پېړۍ کې زیږېدلی او پورته اتیا کاله یې ژوند وکړ. ده د مسکو پوهنتون د حقوقو پوهنځی لوستی و. هغه وخت د پوهنتون په زړه ودانۍ کې چې د «مانیژ» ډګر ته څېرمه پرته ده، درس ویل کیده دزده کړو په پای کې د پینزا په ولایت کې مورنۍ ښار «کوزنیتک» ته ستون او په کاربوخت شو. دنیکه ژوندمې بدنه و، خوشتمن سړی نه ګڼل کېده. د حقوق پوه په توګه کار کولو،

ده ته وس ورکاوه چې خپله دژوند بېړۍ پرمخ بوځي . همدلته ده زما له نیا الیزابت اناتولیفنې سره واده وکړ . هغې هم په کوزنیځک کې مسلکي ښوونځي پای ته رسولی و . د دوارو فرانسوی ژبه ښه زده وه . هغه وخت په روسیه کې دیروخلکو په دغه ژبه خبرې کولای شوې .

تر هغو چې انقلاب کېده ، دوی یوه زوی اویو لور پیداکړل . همدازما موروه . ماته اوس پوره نه ده معلومه چې ولې ، خو دده پرشموکلونو په پای کې موټوله کورنۍ سارااتف ته ولېږدېده . په ۱۹۳۵ کال کې زما مشر ورور الکسی اوپه ۱۹٤۰ کال کې می منځنۍ ورور سرګی په سارااتف کې نړۍ ته راغلل .

نیکه مې له هغه حالت نه بېخې ځوړېده چې له انقلاب وروسته وسره مخامخ شو ، او دازیات له دې امله چې له یوې لنډې مودې پرته ، نورې تل له خپل مسلک نه غیر کارونه کول . خوده له خپل مسلک سره دېره مینه لرله ، آن کله چې به خبره دراتلونکو لمسیانو په هکله راغله ، ده به تل ټینګارکاوه چې موږ باید دحقوقو زده کړې وکړو ، په تېره بیا چې په سارااتف کې دځانګړو (حقوقی) زده کړو پوره امکانات موجود وو . ترکومه چې مې په یاد راځي هغه خپله داولګادسیمې داوسپنې دپټلیو دځانګې دسرتحلویلدار په توګه کار کاوه . له جګړې وروسته زما نیکه ته هم داوسپنې پټلیو دنورو کارکوونکو په څېر دډریم برید من رتبه ورکړل شوه او تل به په پوځي یونیفورم کې ګرځیده .

ترکومه چې مې رایاد دي ، هغه په ځوانۍ کې دنګه ونه درلوده او سره له دې چې زموږ کورنۍ له قفقازیانو سره هیڅ ګډه سته نه لري هغه دقفقازخلکوته ورته

څېره لرله.

نیکه اونیامې دواړه د تیاتر سخت شوقیان وو. ماهم له تیاتر سره مینه له همدوی نه په ارث اخیستې ده. سره له دې چې سارا تف یو اطرافي ښارګنډ کېده، خوځلور، تیاتره یې لرل: اوپرا، بالت، ډرام او د ځوانانو، هرکال له نورو ښارونو څخه هم د تیاتر هنرمندان سارا تف ته راتلل حتی (دااوس مې) هغه نندارې رایادې شوې چې د سورد لفسک د اوپرا تیاتر هنرمندانو ښودلې وې. سربیره پردې سارا تف خپل سرکس او د موسیقۍ ښوونځی هم درلود.

له تیاتر سره پیدا شوې مینې د عادی ژوند د پرمخ بیولو لاره پرمور نه بندوله. رینښتیا خوداده چې زما ورځنی ژوند د منځني ورور ترسختې څارنې لاندې تېرېده، چې یوګام به یې هم له ځانه لیرې نه پریښودم.

سرګی، سره له دې چې ایله درې کاله له مانه مشرو، خوتل یې خپلواکي په برخه وه او دیو غټ سړي په توګه به یې زما څارنه کوله. نږدې دوه کاله چې زه ورکتون ته تلم نو همده به بوولم. دا یو ډول کورنۍ ځان تېرېدنه وه، ځکه چې هغه وخت میندو اوپلرونو خپل بچیان ان ښوونځیو ته یوازې نه لیږل.

مور داولګا پرځنډه ستر شوه. هر دوبی مو پیچلی شان جالی جوړولی. سرګی پرله پسې هڅه کوله چې په دې برخه کې مې ورسوي. آن هغه شیان یې هم راته ښودل چې خپله پرې پوره نه پوهیده. مثلاً راښودل یې چې څنګه څټک په لاس کې ونیول شي او څنګه میخونه ووهل شي. کله کله لومړی خپل لاس په څټک وهي، په قهرشي، خوبیاهم میخ ټک وهي اوبیا وایي: «د غسې کار کوه» زه به هله ډیر په

غوسه شوم چې ما به ورسره مرسته کوله، دلرګو تختې به مې ورته راوړلې، خو «لامبو» ته به له ما پرته ته سربېره پردې به يې راته امرهم کاوه: «له ساحله يوګام هم مخې ته وانخلې».

کله چې به مې د ورور ددومره بندیزونو زغم نورنه درلود، نوترې تښتېدم به دغه وخت نوماهم ډغان لپاره دملګرو يوه کوچنو تې ډله پيدا کړې وه. مورله جګړې نه دراوروسته دورې عادي ماشومان وو. مور به لمباته تلو. قوتبال به موکاوه او هرهغه څه چې په ذهن کې به موګرځيدل، لاس به موورته اچاوه، خو يوه بوختتيا مونه ټولوڅخه ډېره خوښه وه. ددوبي هره وزګاره شيبه به مور دسيند پرغاړه تېروله. تقريباً هره ورځ به زمور «بندر» څنګ ته کوچنۍ باروړونکې بېړۍ رارسېدلې. په هغوکې به د آستراخان اوکامېش نه راوړل شوي سترختکي باروواودومره به درنې وې چې ترمورګوپه اوبوکې ډوبې وې. هلکانو به لکه دمرغيو پردې ختکو يرغل کاوه. مور به له مقابل ساحله دبېړۍ خواته ورتلو، يوله بل سره به مومرسته کوله او هغې ته به ورجګيدو.

په هره بېړۍ کې ټوپک په لاس ساتونکی و نه پوهېږم چې کارتوس يې له څه شي ډک و، خودوه ځلې يې پرمور هوا يې ډزې وکړې. ډاروونکې صحنه وه، خوپه بله ورځ به بيا هم مور بېړۍ ته ورختلو او ختکې به موغلاکول. دکوچنيتوب له حرصه به مودې ر زيات ختکی په اولګا کې وغورځول، خوله اوبونه به مودې ر کم ببرته رانيولی شول. مور به خپله نور دلامبووس نه درلود اوپه کاروده چې ختکې هم له ځانه سره يوسو. سره له دې به مو دوه درې له ځانه سره ساحل ته

ایستل. کورته مونه وړل ،څکه چې په کار وه دې پوښتنې ته ځواب ووایو: له کومه موکړل؟ هر یوه په انګړ کې دځان لپاره پټنځای لاره چې پرته له بلنې هلته ننوتل غټه ګناه ګڼل کېده. همدلته به موختکي تر پوتکي پورې شپېلول.

په اوونۍ کې درې ځله به موږ بامونو یرغل کاوه، اولګاته په کوزه شوې شپله کې کورونه یوبل ته ډیر نږدې پراته وو. موږ په اسانۍ دلومړنۍ کوربام ته ورختلو. چې څوک به لږ زړور و اوله ونو نه به یې ګټه اخیستله، نوکولای یې شول چې د ټول کلي پربامونو ورګرځي. کله کله په کار وه چې له یوه بامه بل ته ټوپ ووهل شي، خوځومره چې سړی اولګاته نږدې کیږي، هومره دبامونولوړوالی زیاتیږي. که ریښتیا ووایم کله کله دغه ټوپونه دومره ډاروونکی وو چې د سړي زړه له ډاره درېده. په موږ ټولو کې زړور والود یاګوسیف وچې وروسته پوځي پیلوټ شو او د ډګروالی رتبې ته ورسېده. هغه به له موږ نه مخکې له یوې ارتفاع نه بلې ته ټوپ واهه او موږ به ورپسې روان وو. د شپې به د ټوپ وهلو غږیې اندازې لوړو. څوځولې هڅې وشوې چې موږ ونیسي خوهر ځل به له لومې نه تښتېدو. کله کله به موپر توګونه څیري شول اوبس، خودا ولګاځېرد او دماجرا غوښتنې تلوسه په دغو ځوریدنو ارزېده.

له ارتفاعاتو سره مینه، نږدې وه چې زما لپاره بدعاقبت منځ ته راوړي. ما او والود یاګوسیف یود ورځ غوښتل دلرګیوله یود نوي دیوال نه چې پایې سمې نه وي ښخې شوي، تېر شوخو ناڅاپه هغه ټول زموږ پر سر راونړېده. ما د تیښتې وخت پیدا نه کړ او ټول تر تختو لاندې شوم، خوچې کله د پورته ارسېد لیو سړیو، دیوال

زماله سره اوچت کړ ،هغوی هک پک پاتې شول ،ځکه چې نه مې کوم ځای ټکېدلی اونه زخمي شوی وم. له هغه راوروسته مې ورور دغه پېښه دویمه زوکړه بولي. دخبرو په ټرکی باید یادونه وکړم چی په افغانستان کی رابانده دغسی پېښی ډیرې راغلی دی.

په کوچنیوالی کې موله مرغیوسره هیڅ توپیر نه درلود . زمور کورنۍ یودود لاره : په مني کی نیاخامخا سائره اخیستله. ټول ژمی به مودد غې مرغۍ پالنه کوله اودانه به موورکوله اوپه پسرلي کې چې کړکۍ خلاصېدلې نوسائره به موبن ته خوشې کړه. خوزمور ډېر نږدې ملګري سپي وو. له سپیو سره مو دزړه له کومې مینه لرله. مور هم په هغه وخت کې دسپو دکوکریو غوندې وواوبې له کلمو یو دبل په خبرو پوهیدو.

له سپیو سره زما په زړه کې مینه ، تردغه اوسه هم پاتې ده .ان په افغانستان کې زماد دوو دورو خدمت په ترڅ کې زمور کورنۍ ته گرانه سپۍ « لیکا » راسره وه.

دسوورف په پوځي پوهنتون کې ترشاملیدو مخکې مې څلور کاله په ښوونځي درس ویلی و ،زه چې پوهیدم ، مشر ورورمې څنګه درس وایي اونیا اونیکه څنګه دهغه د لوستونوځارنه کوي ، دخپل لومړني درسی کال په درشل کې مې نوی بکس هسی پټ کړ ، چی چاهډو پیدا کولای نه شو ، خوپه پای کې بکس پیدا شو اودسپتامبر په لومړی نیټه دګلانوله یوی غټې ګیډۍ سره ښوونځي په ویاړن کتار کې ودریدم . له دی امله خوښ وم چی دخپل ټولګی نږدې ټول هلکان اونجونې مې

له نردې پیژندل .

د تصادف له مخې په همدغه وخت کې زه په مرکزي مطبوعاتو کې راڅرګندشوم . خبره داسې وه چې په سارا تف کې د یوه نوي ښوونځي د پرانستلوله پاره لیکوال لیف کاسیل چې هغه وخت یې داګانیوک (په مجله) کې کارکاوه ، راغلی و . په کاروه چې عکس واخیستل شي. خبریالانو زه ټولګي ته وروبلم اوزمور ښوونکي ایلینا واسیلفناوویل: « داسې وښیه چې ګواکې ته او تاماره غواړئ څنګ په څنګ کښینئ ». ماله نجلۍ نه مخ واړاوه ،هغې له مانه. په دې توګه نوپه مجله کې زمور عکس چاپ شوچې لاندې ترې لیکل شوي وو: « ب »په دوهم ټولکي کې یوه پیښه منځ ته راغلې ده. بوریا ګرومو ف چې له تاماراګارانیسې سره په یوه میز برابر شوی چیغې وهي: زه نه غواړم چې له نجلۍ سره څنګ په څنګ کښینم!

په ښوونځي کې مې سپورت ته کلکی متې ونغښتلی زمور د یوه ملګري بوری ایپیفانف خور دلامبو د ښوونکي ده لرله. همدې مور ته دلامبو تقریباً ټول ډولونه رازده کول. مور سهار وختي په شپږو بجو له خوبه پاڅیدو اوسمدلاسه دلمبا لپاره دډنډ لورې ته تلو. وروسته بیا ښوونځي ته تلو. د درېیم ټولګي په پای کې مې داکروویاتستانو په ډله کې خپل نوم ولیکه. دنهم ټولګي زده کوونکویه زه دیوازینی ماشوم په توګه د کومې څېړې یامجسمې سره نښه ورپورته کړه اوبیا به ما په لاس ځینې سمونې کولې.

زمور روزنه دنیکه په لاس شوې وه. که هغه نه وای ،زه او روربه مې داسې

وای لوی شوي لکه اوس. دنیکه ترټولوغټ خدمت داوچې که مور غوښتل اوکه نه، هغه به تل مور ته دښه چال چلند دودرازده کاوه. هغه مور ته رازده کول چې په کورکې باید څنګه چلند وشي. دکورنۍ دمشرپه توګه دنیکه نیا مور اونورو ښځو څنګه درناوی په کاردی؟ ډیر ځله نیکه هغه کسان چې فکر یې کاوه پوره پاکی اوعقل نه لري، په بدوالفاظویادول.

نیکه هیڅکله مور نه وهلو، خودنارینه دخبرې اغېزه تل پرمور پرته وه. له یوې خوامې هغه ته درناوی کاوه، خوله بله پلوه ترې سخت ډاریدم.

په سارا تف کې مور داولګا په څنډه په پراته یو دوه پوړیز لوی بلاک کې یو اپارتمان په کرایه نیولی و. په یونسبتاً لویې اودوه ډیروکوچنیو کوټوکې نیکه، نیا، موراومور دوو ورونو ژوند کاوه. په اپارتمان کې دځان مینځلواودحاجت درفع کولوتشنابونه نه وو اوداټول شیان دباندې په کوڅه کې جوړشوي وو. خپله مولرګي چلول، بخاری موتوروله اواوبه موراوړې. دځان مینځلو لپاره موله یو کوچني لګن نه ګټه اخیسته چې په پخلنځي کې ځای پرځای شوی و. په همدې ځای کې دوه کوچني میزونه هم ووچې پریود به یې پریموس اوپربل به یې لوښي اینبي وو. لږ وروسته مور ګازي داش پیداکړچې هغه وخت ترټولو لویه نیمکرغي ګنیل کیده.

په لوډ کوټه کې میز اینبی وچې شاته یې دکورنۍ ټول غړي، بې له دې چې یوله بله کوم خاص شرم ولري، راټولیدل. مورمو په سیمه ییزه شورا (دښاروالۍ په ډګه) کې کار کاوه، وختي له کوره وتله او ناوخته راستنیده، ټول یوازې دمانبام

ډډوډۍ پرسراتولیدو. هرځل به دماښام ډوډۍ دنیکه په نصیحتونوپیل کیده: کاچوغه یاپنجه باید څنګه ونیول شي، ډوډۍ باید څنګه وخوړل شي، د ډوډۍ پرسرباید کومې خبرې وشي...؟

که چیرې به سینماته لاړو، دبېرته راتګ په وخت کې نیکه خامخا اړکولو چې دفلم کیسه ورته ووایو. وروسته زده پوه شوم چې دنیکه مقصد له دې کاره، په کیسې پوهېدل نه وو، بلکه غوښتل یې په دې توګه زموږ حافظه وازمایي اوهم راته دسمو خبرو اترولارې چارې وښیي.

نیکه د پر یفرانس (دقطعه دلوبې کوم ډول دی) لوبه ډیره خوښوله ان تردی چې دقطعې نوري لوبې به یې اصلاً لوبې نه ګڼلې هغه وارپه وار دیوې یابلې لوبغاړې دلې غږې کېده. لومړی دلې دوه، درې یاڅلورورځې لوبې کولې اوچې کله به لوبغاړي یوله بله مات شول، نیکه به سمدلاسه په نوې دله کې په لوبو پیل کاوه. دلته به یې هم دوه، درې یاڅلور ورځې لوبې کولې چې تولې مخکنۍ عقدې یې حل شي. وروسته بیا همدالړۍ له سره تکرارېده.

معمولاً داسې لوبې په پخلنځي کې کېدې، ځکه چې دیونالیکل شوي قانون له مخې تول لوبغاړي مجبور وو، سګرټ وڅکوي. داسې ګڼل کېده چې پریفرانس بې له څکولو هیڅ معنی نه لري. ماښام چې به له کاره راغلل نوپه لوبې به بوخت شول اودسهار ترڅلورو پنځو بجوبه لوبه همداسې روانه وده. په تېره بیاهغه وخت چې نیکه تقاعدو کړنودالوبه به یې ډېره کوله. ماهم ددې لوبې لاړې چارې له نیکه زده کړې، خودهغه غوندې مې دمهارت لوړې پورې ته ونه رسولای شوه.

له نیکه نه مې دسګرټ څکولو عادت هم په ارث اخیسی دی. دا یو ځانګړی دودو. هغه به دغرمې دوډۍ له کورته راته اوله رارسېدو سره سم به یې رادیو روښانه کړه، بیا به کښیناست او خپل سګرټ به یې ولګاوه. له هغه وروسته به یې دسګرټو پاتې برخه په یوه ایرنۍ کې، چې په هره کوټه کې موجوده وه، وغورځوله اولاسونه به یې ومینځل. په بله کوټه کې به یې بیا خپل بې فلټره سګرټ دڅکولو په ځانګړې وسیله کې کیښود اووبه یې لګاوه. هره ورځ په بیلو بیلو کوټو کې دنیکه څوبې فلټره سګرټونه لګیدل اولوګی یې پورته کیدل ما به په مینه مینه له سګرټ نه پورته شوي لوګي ته چې لومړی نیغ او وروسته په کړه وړه لیکه پورته کیده، کتل.

کله کله به نیاله دې امله چې نیکه دماشومانو په شته والي کې سګرټ څکوي، پرهغه نیوکې کولې، خودې خبرو هیڅ اغیزه نه لرله. له بلې خوا مور هم نورله سګرټ تورودي شوی وو. بیا به له دې امله تل په فرانسوي ژبه پرنیکه نیوه کې کولې، بنایي دا ځکه چې مور پرې پوه نه شو.

لومړی ځل مې په نه کلنۍ کې دسګرټ خوند وڅکه. بیا مې غوښتل که نه خبره پسې اوږده شوه. په هغه ورځ نیکه په کوټه کې اونیا په پخلنځي کې وه، زه هم په بله کوټه کې دډوډۍ دمیز شا او خواته څرخیدم هره ورځ مې په سر کې دسګرټ څکولو شوق و اوومې پټېله چې خوند یې وګورم په تیره بیا چې دنیکه لګیدلی سګرټ هلته پروت و او نور هیڅ شي ته اړتیا نه وه. شا او خوا مې وکتل، له غټانو نه هیڅوک په نظر رانغلل. ترکومه ځایه چې اوس مې دهغه وخت خپل احساس

رایادیږي، نویونه انځوریدونکی کثافت په نظر راغی، تهوخي وینولم اوپه داسې حال کې چې خوله مې له لوګي ډکه وه، خوامې وګرځېده اوسرمې هم په ګرځېدوشو. سره له دې چې نیکه هره ورځ دسګرټ څکولو مخصوصه وسیله پاکوله خوسږي یې له ځان سره انځورولی شي چې هغه څه ډول شی و، داسې وه زمالومړنۍ تجربه دایوازینی ناوړه څیز دی چې ماله نیکه نه په ارث وړی دی.

مورنیکه ته په خپل ټول ژوند کې دومره ژور درناوی درلود چې ورورهمدا اوس هم په ساراتف کې دهغه ټول شیان خوندي ساتلي دي. ددغو شیانو په منځ کې هغه څوکۍ هم شته چې نیکه به پرې دمیز شاته کښیناسته دغرمی له ډوډۍ وروسته نیکه ورځپاڼه رااخیسته حلاصوله یې په لوستلو یې پیل کاوه او معمولاً دپنځو دقیقو وروسته به په هغې کې نغښتي خوب وړی و.

نیا مودې بره مواظبه ښځه وه، او چې خبره به دروزنې راغله نوبیا به یې نرمي نه پیژندله. تل به یې له مورنه دلوستو پوښتنه کوله او دهلکانو لپاره له دې نه بله سخته بلانه شته. نیامو زمورد ورځني کارمهالویش په غور تعقیباوه او تل به یې مورد خپل کار، په وخت اجراته هڅولو. تل به یې مورته کتابونه لوستل. په تېره بیاهغه وخت چې مورډېر کوچنیان وو. دهغې له برکته موله ښوونځي نه ډېر پخوا لیک لوست زده کړی و. نیامو ۹۳ کاله عمروکړ. دژوند وروستي اته کاله یې په بستر کې تېرکړل. دهغې څنګ ته دژوند تروروستی شیبې، منځنی ورور سرګي ناست و.

مورته مې چې مارینا دیمیتروفنا نومیده، زه په سپیڅلتیا قایل یم. هغې دیره

لږه نیکمرغي ولیده. میږه یې په ځوانۍ کې له لاسه ورکړ: زمور پلار زما دزیږیدو په کال (۱۹۴۳) په جګړه کې وژل شوی و. نوځکه د کورنۍ تولې ستونزې - تنخوا کورته راوړل، دخورو اوکالیو اخیستل دهغې پراوږد وې. مورمې د پیسو دګټلو لپاره دنارینه وپه څیر کارکاوه. له موراونیکه پرته چې په هغه وخت کې یې څومحدودې ټینګې تنخوا درلوده (او وروسته یې تقاعد وکړ) زمور کورنۍ کوم بل ګټوندوی (روزی رسان) نه لاره. مورمې په خپل ټول ژوند کې دخپلو بچو اوکارپه هکله فکرکاوه.

ترهغه ځایه چې مې مورراياد یږي، هغې تل ان درخصتیو په ورځوکې کارکاوه، په کوچنیوالي کې مې د هغې په وړاندې دحسد احساس کاوه. ماته داسې بریښیده چې هغه خپله ټوله پاملرنه پردوخلکوته ګرځوي.

کله چې مې مورررا یاده شي نوپه مرۍ کې مې غوټه جوړیږي. طبیعت څومره په زړه پورې شیان هغې ته ورکړي وو. خوله ژوندانه، نیکمرغۍ او بچونه دخوند اخیستلو فرصت یې بیخې نه و ورښلی. مورمې تل دروسی ښځینه ښکلا اوروح دیوه تصویر په توګه زما په وجود کې ژوندۍ ده.

په وروستیو وختوکې ټولو خلکوستونزې لرلې اوژوند یې تریخ و.. خوبیا هم داسې ډېره کمه رخصتي به وه چې مور به تیا ترته په کې نه تلو. مور به موتل تیاترته پرلاره دښودونکي ډرام کیسه راته کوله، نوځکه به مور له لومړي سره په هغه څه چې دستیج پرسر پیښیږي، خبروو.

مشر ورور، الکسي، ماته دیوې نه ایلیدونکې، له بلې نړۍ نه دراغلې یوې

هیلی په څېرېرېښېده . د ورور په څېر مې له الکسي سره داوسیدونیمکرغي په برخه نه شوه. زه چې دري کلن شوم ،هغه حربي ښوونځي ته لاړ. یوازې داوونې په دوو وروستیو ورځوکې به کورته راته. مابه دهغه دښکلي یو نیفورم نندارې کوله اوبیا به مې غلي دخپل شلیدلي پرتوګ درزونه دهغه له نظره پټ کړل. شااوخوا بیکسي او غریبي وه هغه هیڅکله کورته یوازی نه راته تل به ملګري ور سره وو یورالاسف چې وروسته درانده اتلتیک کې دنړۍ اتل شو ،څوڅو ځله زمور کورته راغلی دی. نیا به همیشه دهغوی دراتګ په ورځ دهغه وخت له امکاناتو سره سم ښه شتمن دسترخوان جوړکړ.

وروړمې اوملګري یې تل په شورماشور اوله خندا وهیلو ډکوخولوکورته رانغوتل اوسمدلاسه به ددسترخوان چارچاپېره را ټول شول. کله کله به یې ما اوبل وروړته هم دکښیناستلو بلنه راکوله ، خوډیر ځله به مې ترې اوربدل: «ځه له دې ځایه ، ته لاسترشوی نه یې ! » داخبره یې ماته کوله. له سرګی سره به یې دخپل ښوونځي دچاروپه هکله خبرې اترې کولې. په ګډه به یې وروستي خبرونه تحلیلول. ذاستادانو په هکله به غږبدل. ښایې دنجونو په هکله به یې هم خبرې کولې ، نه پوهیږم. وروسته به لاړل چکرته . غالباً به بېرته ښوونځي ته دنڅالپاره تلل . کله کله به زه او سرګي هم هلته تللو. حربي ښوونځي دښار په مرکز کې و ، او ددوهم پوړله کړکیونه چې لرغوني بڼه یې درلوده ، دموسیقۍ آوازغوږته رارسیده. دلوی قندیل رڼا به هرې خواته سترګکونه وهل اوله کړکۍ نه به په ښکلو کالیو کې راغلې نجونې نظرته راتلې. له همدې امله زه او بل وروړمې تل دغې خواته

ورښويدو.

دحربي ښونځي ترپای ته رسولو وروسته الکسي دريازان پلي پوهنځي ته وروپيژندل شو. هغه يې د برید من په رتبه لومړی نارا - فومينسک او وروسته هنګري ته ولېږه، هلته چې همداڅورورځې مخکې دهغه وخت دليکنو له مخې «ضد انقلابي اغتشاش» پای ته رسېدلی و. کورته يې ډېر کم ليکونه رالېږل خوبيا هم دهغو له مخې پوهيدو چې دنده يې بده نه ده. په کورنۍ کې چادهغه دبرخليک په هکله انديښنه نه درلوده، ټولو په هغه ويار کاوه.

په ۱۹۶۳ کال کې چې مالاد پتربورګ په حربي ښوونځي کې لوست وايه، الکسي يې ناڅاپه دطبيب په ملګرتيا له بودا پسته راوړ. دلمفاوی غدود سارکوم په ناروغۍ اخته شوی و. لکه چې مور ته يې وويل، هغه مسموم شوی و. څرګنده شوه چې پخوايې ورته په هنګري کې دوه عملياته کړي وو، خو ده په يوه ليک کې هم مور ته په دې هکله نه وو ليکلي. هغه مرګونی ناروغ و. ددې لپاره يې سارا تف ته راوړ چې دژوند وروستۍ شپې ورځې په خپله کورنۍ کې تېرې کړي.

لومړۍ ورځې يې په کورکې تېرې کړې، وروسته پوځي روغتون ته ولېږدول شو. شپږمياشتې وروسته چې زه له ښوونځي نه رخصت شوم نوله سرګي سره به مو وار په واردورور دبستر خواته کړۍ ورځ اوشپه نوکري کوله.

زما رخصتي پای ته ورسېده اوبايد تللی وای. دوه ورځې زمور ترښوونځي لاره وه، چې راورسيدم، تلګرام يې راته وسپاره: الکسي مړ شوی دی.

له منځني ورورسره زما داسې اړيکي راجوړې شول چې له بل هيڅا سره نه وې

او ښايي نه به وي زه نه يوازې له هغه نه مشوره غواړم ،بلکه د خپلو کارونو دسموالي په هکله نظرهم ترې پوښتم. د هغه ژوند ترما زيات تريخ و. هغه چې په سارا تف کې اوسېږي، د کورنۍ د ټولو غمونو پېټي يې په اوږو پروت دی. لومړي مشر ورور مړشو او پوره يوکال وروسته مورد هغه له غمه له دنيا نه ستر گې پټې کړې. وروسته نيکه مړ شوچې سر گي ورسره ځانگړې مينه لرله. دوه کاله وروسته مر گي دنيا ستونی هم ونيود .

دوخت په تيرېدو سره سر گي واده هم وکړ. ښه زوی خدای ورکړ: ميشا: ميخايل سر گيويچ پوځي جراح دی. اوس يود لمسی هم لري.

وروړمې هيڅکله «لوړو پوړيو» ته د پورته کيدو هڅه نه ده کړې. له ديرشو کلوزيات يې د تيلو اوگاز په څيړنيز انستيتوت کې کار وکړ. څوځله مې ورته وړاندیز وکړ چې د کارلپاره به ورته دبل ځای په پيدا کولو کې مرسته وکړم. خوهرځل مې د ردځواب اوريده: نه ،زما زړه په دې انستيتوت پورې تړلی دی.

سر گي مې تل د ژوند تکيه او ملاتړ و. د ۱۹۸۰ کال د جنوری په يوه نيمه شپه کې مې له تاشکند څخه همده ته تيلفون وکړ. د تيلفون لين بيخي خراب و ، ايله مو پنځه دقيقې خبرې وکړې. د هرڅه په هکله وغږېدواوگواکی هيڅ مو ونه ويل. يوبل موښه سره پېژندلې وو. هغه هڅه کوله، لږ مې ارام کړي: اندېښنه مه کوه هرڅه به سم شي. ماهم ورته وويل: هرڅه به ښه شي ،اندېښنه مه کوه ورته ويلي مې وو: تاشکند ښه ښاردی. ورته ويلي مې ووچې دلتـه ډېره واوره ده. ورته ويلي مې ووچې سباته د افغانستان خواته الوتونکی يم.

«ځانګړې دوسیه»

دځلوینښتم لښکر وروستي ټولګي د ۱۹۸۹ کال دفبروري په نیمایي کې له افغانستان نه ووتل. له دغې پیښې راوروسته څوتېر کلونه بس ووچې په تیره بیا دافغانستان په جګړه کې دشوروی اتحاد ګډون له سیاسي زاویې وتلل شي.

خوتراوسه لاهغه ټول دلایل پوره روښانه نه دي چې دځلوینښتم لښکر داستولو موجب شول. دا خبره له دې امله هم حیرانوونکي بریښي چې د ۱۹۷۹ کال په وروستیو ورځوکې ،افغانستان ته دجنګي قطعو استول له «دویمې نړیوالې» جګړې وروسته دخارجي سیاست په برخه کې دشوروي اتحاد تر ټولو ستراقدام ګڼل کیږي.

ددغو پریکړو دعاملینو خولې دادی ټپې شوي چې ووایي دشوروی اتحاد دکمونیست ګوند دمرکزي کمیټې په سیاسي بیروکې چې دافغانستان حالات څېړل کېدل، په کوموموضوعګانو بحث وشو؟ دسیاسي بیورو غړیوڅه شی دخپل عمل ملاک ټاکلی و؟ دافغانستان حالات دکومو معیارونو له مخې څېړل کیدل؟ دزرګونو هغو شوروی پوځیانو دوژل کیدو اصلي ګناهکار څوک دی چې له خپلې ارادې پرته یې په پردی خاوره کې ګام کیښود اوپه جنګونو ورګډ شول. په جنوب ختیځه اسیاکې دحالاتو دلازیاتې خرابۍ او دبهرني سیاست په ډګر کې دشوروی

اتحاد د دریځونو د کمزورتیا پړه دچا پر اوږو پرته ده ؟

ښکاره ده چې د شوروي اتحاد سیاسی مشرتابه د افغانستان د حالاتو د ښه کولو پریکړه د هغو اطلاعاتو پر بنسټ کړې وه چې په بیلابیلو وسیلو او په لومړي ګام کې د بهرنیو چارو وزارت له لارې (مسکوته) رسیدل. د کمونیست ګوند مرکزي کمیټې ته په افغانستان کې د میشتو ګوندي او پوځي سلاکارانو او د شوروی اتحاد د امنیت د دولتي کمیټې (ک. ګ. ب) د افسرانو د رپوټونو سیلاب را روان و. نه یوازې خبررسوونکو بلکه (د دغو خبرونو) څېړونکو او تحلیلوونکو موسسوهم د ډیرې خولې تویولې.

آیا دهغوی معلوماتو، نتیجه اخیستنو او لارښوونو په افغانستان، کې د دغه هیواد د خلکو په دیموکراتیک ګوند او وسله وال پوځ کې له ریښتینو حالاتو سره څومره سمون درلود ؟ د شوروی اتحاد د سیاسي مشرتابه د دغو یا هغو پریکړو، په تېره بیا افغانستان ته د پوځونو د لېږلو د عواقبو اټکل څومره د مسلکی وړتیا او هوښیارۍ له مخې شوی و ؟

زمور هېواد خپل دود ونه لري. یوهم دادی چې د دغه یا هغه سړی، د دې یا هغې سیاسي څېړې ریښتینی ارزښت، یوازې د هغه له مرګ وروسته معلومیږي، او کله کله داهم په ډیرځنډ سره. خلک د خپلو پټو رازونو په څرګند ولو کې چندان بېړه نه کوي. له دې امله زه ګومان کوم چې په نړۍ را تلونکي کې افغانستان ته د شوروی اتحاد د محدود پوځي ټولګیو داستولو د ریښتینې کیسې څرګند ېدل ممکن نه بریښي.

هیله من یم چې دځپړونکو په زیارژریا وروسته دډیرو پوښتنو ځواب وموندل شي. زما په نظر همداډول یوبل تکی ډیر ارزښت لري: موږ ته په کارده چې له تیرو لوستونو نه پند واخلو، په تېروتنوځان پوه کړو او هڅه وکړو په راتلونکي کې یې تکرار ته لاره خلاصه نه شي.

فکرنه کوم، دشوروی اتحاد دکمونیست ګوند دمرکزي کمیټې دسیاسی بیرود پخواني ارشیف هغه اسناد چې دلومړي ځل له پاره په دې کتاب کې راوړل کیږي، هر اړخیزو تبصروته اړتیا ولري. دسیاسي بیرود غوندو ولیکل شوی لنډیز، دخبرو اترو ثبت شوې بڼه اونور اسناد چې اوږده کلونه ډېر پټ ساتل کیدل، پخپله دلږ وړاندې پېښو یو رنګین انځوردی.

دغرونوهېواد

افغانستان دمنځنی ختیځ په بڼه غوټه زمکه کې پروت دی. پوره پلنوالی یې له ٦٤٧ زروکیلومترو مربع نه اوړي. دافغانستان ټولو ګاونډیو، چین، هند، ایران پاکستان اوپخواني شوروی اتحاد ددغه هیواد په کورني سیاسي ژوندانه خپله خپله اغیزه ښندلې ده. دپاملرنې وړ ده چې افغانستان دروسیې په مرسته چې ددغه هېواد خپلواکي یې د ۱۹۱۹ کال دمارچ په ۲۷ ترټولو مخکې په رسمیت پېژندلې وه، د ۱۹۱۹ کال په اګست کې له انګریزانو سره دسولې ټرون لاسلیک کړ. په نتیجه کې هېواد دپردیو له جغ نه خلاص شو اوپه نړیوال ډګر کې یې خپل دریځونه پسې ټینګ کړل.

دختیځ تاریخ تریوې اندازې دتوطیو، دسیسو او درباري کودتا ګانویوه نه

ختمیدونکې لړۍ ګڼل کیدای شي. دافغانستان وروستی لس کلن تاریخ هم له دغې قاعدې نه بهرنه دی. دسلطنتي کورنۍ واکمني چې څوپیړۍ چلېدله اوان له انګریزانو سره د دریو خونړیو جګړو له توفان نه هم روغه راووتله، دهمدغې کورنۍ دغړیو په لاس ړنګه شوه. د ۱۹۷۳ کال په دوبي کې چې ظاهرشاه د پاریس په کتنه بوخت و، دخپل سفر په درېیمه ورځ خبر شوچې له تخته غورځول شوی دی. دکودتا لارښوونه دپاچاد تره زوی اوددې په یوه حکومت کې (پخوانی) صدراعظم سردارمحمد داود په غاړه درلوده.

سپینه کودتا چې دسلطنتي ضد افسرانو په ملاتړ وشوه، دوخت له دیموکراتیکو غوښتنو سره یې سمون درلود. د ۱۹۶۵ کال له پیله په دغه هېواد کې دخلکو دیموکراتیک ګوند فعالیت درلود. دګوند دبنسټ تیږه هغو کسانو کیښوده چې یوه نیمه لسیزه وروسته تقدیر له مور سره دهغوی نړدې اشنا کیدل ممکن کړل. خولکه چې په ختیځ کې وایي «الله تعالی هرڅه وینې» هغه واکمني چې دتګې اوظلم په لاس جوړه شوې وي بقا نه لري. د داود دواکمنۍ په دوران کې مخالفتونو قوت وموندچې اصلي علت یې اقتصادي ستونزې وې. په دغه وخت کې دخلکو ژوند له اقتصادي پلوه (دپخواپه انډول) په کمه موده کې دوه ځله خراب شو. دڅواونیو په اوږدوکې دجمهوري نظام درنګولولپاره دري ځله هڅې وشوې، خوهر واربې نتیجې وې. یوازې د ۱۹۷۸ کال په اپریل کې دخلکو دیموکراتیک ګوند مشران بریالي شول، دڅو پوځي قطعو په مرسته چې له مخکې نه یې په اخلاقي لحاظ ککړ کړي او خپلې خواته رامات کړي وو، په سیاسي واک

قبضه وکړي.

خو دخلکو دیموکراتیک ګوند واک ته له رسیدو وروسته د کورنیو سختو شخړو له امله دخپلې توټې کېدو مخه ونه نیولی شوه. دخلق او پرچم ډلې چې دخلکو دیموکراتیک ګوند له جوړېدو وایله دوه کاله وروسته په هغې کې دننه راجوړې شوی اوږده کلونه یو دبل په رسوا کولو اخته وې. د دغو ډلو کورنۍ اختلافونه دومره ژور ووچې ان شوروی ګوندي سلاکاران دهغو په لیرې کولو بریالي نه شول.

حتمي بری

د ۱۹۷۸ کال د اپریل له هماغې اووه ویشتمې نه دافغاني انقلاب لرلیدونه ځلانده ښکاربدل. د خلکو دیموکراتیک ګوند مرکزي کمیټې عمومي منشي نورمحمد تره کی او دهغه پلویانو کولی شول ډاډو لري، شوروی اتحاد به سمدلاسه، بې له کومې پلمې مرسته ورسره کوي. په نوي جوړشوي حکومت کې دنظریو له اختلاف، او له کورنیو ګوندي شخړو سره سره د کابل نوي رژیم، دځو دلیلونو له امله حق نه درلود واکمنې له لاسه ورکړي.

ترهغو چې شوروي اتحاد ژوندی و په هیڅ هیواد کې انقلاب له ستونې نیول کیدای نه شو، او دې خبرې په لومړي سر کې په هغو هیوادو پورې اړه لرله چې دشوروی اتحاد د پولې ترڅنګ پراته وو.

د تره کي دې تلوسې چې وروسته پاتې افغانستان کولی شی په یوه توپ دخوبولي فیودالیزم او سوسیالیزم ترمنځ واټن ووهي او داخبره یې بیا بیا کوله،

دشوروي مشرانو په زړ ونوکې له نوې زیږېدونکې دموکراسۍ سره د خلاص مټ هرا ړخیزو مرستو یوشوق راپارولی و. دافغانستان د پېښوو دې باید یوځل بیا ښودلی وای چې دلویدځ له ادعاوو سره سره کمونیستي نظریو خپل بالقوه ځواک نه دی بایللی.

د کابل له حکومت سره د مرستې له لارې، شوروي مشر تابه غوښتل یو شمیر نورهدفونه هم ترلاسه کړي. دامریکې متحدو ایالتونوچې په ایران کې ماتې خوړلې وه، هڅه کوله، داسیا په دې سیمه کې ورته بل پلوي وموميي. که چیرې حالاتوسم بهیرموندلی وای، نوافغانستان د غسې یوهېواد کیدلی شو. د محمد داود یو شمېرهڅې د دې ښکارندویي کوي چې په منځني ختیځ کې دامریکې پلانونه د بري په درشل کې وو، خو د اپریل پېښو د غه منسوبه شنډه اوحالات یې دشوروی په ګټه واړول. زمور د هېواد او افغانستان ترمنځ دودیز دوستانه اړیکي د ۱۹۷۸ کال له اپریل وروسته په سیمه کې دشوروی اتحاد دستراتیژیک بري په توګه ګڼل کیدای شول. په افغانستان کې دیوشوروی پلوه رژیم شته والی، داسې یوروښانه دلیل هم ګڼل کېدای شو چې لویدیزته یې په ډانګ پیلې توګه ښودله: « د دریمې نړۍ په هېواد وکې » دلویدیځو هیوادود پرانتیا غوښتنې هڅې په جدي توګه تنګېدلی شي.

سره له دې چې دامریکې په اندول، شوروي په ایران کې پیاوړی دریځ موندلی و، خپل پاچایي نظام ړنګېدو، د اسلامي بنسټ پالنې د خوږېدو وېره را پیداکړې وه. د « پان اسلامیزم » نظریو په راتلونکي کې دشوروي د منځنۍ اسیا

PROPERTY OF ACKU 6419

په جمهوريتونوکې ډير پلويان موندلی شول. انقلابی افغانستان د دغسې ایديالوژۍ دخورېدو په لار کې په لوی خنډ بدل شو.

تر ۱۹۷۸ کال پورې شوروي اتحاد د سوسیالستي کمپ د ننه د خپلو پلویانو د ننګې په برخه کې ښه پوره تجربه راټوله کړې وه. مور د غو هېوادونه نه یوازې نا پایه اقتصادي مرستې ورکولې، بلکه له پوځي ځواک نه کار اخیستل موهم له یاده نه وو ایستلي. په هنګري او چکوسلواکیا کې د شوروي مشر تابه لاس وهنو، په هېواد کې د ننه د مخالفت د غورځنګ له یوځه پیاوړتیا پرته، نورې کومې ستونزې راونه زېرولې. له چکوسلواکیا او هنګري پرته کیوبا، ویتنام او یوشمېر نورهېوادونه هم وو چې شوروی اتحاد ورسره مخامخ یادپردې تر شا پوځي مرسته کوله. په دې توګه شوروی مشران باید هغه عمل تکرار کړي چې بیا بیایې (په نورو ملکونوکې) تکرار کړی دی. یوازینی توپیر داوچې داځل ټوله پاملرنه یوه اسیایي هېواد ته ګرځول شوې وه.

د کورنۍ جګړې په جبهو کې

د افغانستان سیاسي مشران له ډېرو اړخونو یوبل ته سره ورته دي. زیات یې په شتمنو کورنیوکې زېږېدلي او په یو اشرافي چاپېریال اونازاونعمتِ کې یې خپل ژوند پیل کړی دی. ډېرویې ورته لیسې او پوهنتونونه لوستي او له همدې امله یوله بل سره هغه د چاخبره «د خوسي دلوبوله وخته» پېژني، هغه وخت یودبل په وړاندې ودرېدل او یو دبل په نه پخلاکېدونکو غلیمانو بدل شول چې دواک د تر لاسه کولو لپاره توده مبارزه ونښتله له هم همدې امله د ۱۹۷۸ کال د اپریل پېښې له نورو

خبرو پرته، باید پریوې ډلې د بلې ډلې دبرې په توګه وګڼو.

دتره کي خلقي ډله چې واک لاس ته ورغلی و، اړ شوه، په دوو جبهو کې مبارزه وکړي. له یوې خوا باید دشاله خواد خلکو په دیموکراتیک ګوند دخپلو پخوانیو انډیوالانو دګوزار مخه نیول شوې وای اوله بلې خوا باید دزرغونښدونکي مخالف غورځنګ دفشار له امله دانقلابي حکومت دپرزیدلو لاره بنده شوې وای.

د ۱۹۷۹ کال په پسرلي کې نوره دلمر په شان روښانه وه چې افغانستان دکورنۍ جګړې په لمبو کې ګیر شوی دی.

دمارچ په ۱۵ په هرات کې حکومتي ضد پاڅون پیل شو. په دغه پاڅون کې ستره وډه دپښتنو قبیلو استازو درلوده. دتوپچي غوندې او دهوایی مدافع لوا پوځیانو چې دهرات په ګارنیزیون کې ځای پرځای وو، دیاغیانو ملاتړ وکړ. له دې سره چوخت ایران دیوشمېر کډوالو په بیره ستنول پیل کړل چې دغه پاڅون نورهم تودکړی. بغاوت ایله دمارچ په شلمه وځپل شو. یوه ورځ وروسته دجلال آباد په ګارنیزیون کې دیوې دسیسي سته راوسپړل شوه. له ۲۳۰ سرتېرو او افسرانو نه زیات دحکومتي ضد فعالیتونو په تورونیول شول. دغو پېښو په کابل کې دانقلابي رژیم شته والی عملاً له خطر سره مخامخ کړ. دغې لانجې ته دمسکو دواک په ډیرولوړو پوړیو کې هم پاملرنه وګرځول شوه.

«مورِ افغانستان له لاسه نه شو ورکولی»

دمارچ په ۱۷ دسیاسي بیروغړي دمقرر وخت خلاف دمرکزي کمیټې وډانۍ ته راورسېدل. بریژنف دخپرنې لپاره په افغانستان کې دحالاتو په چټکي خرابی

پورې اړونده مسأله وړاندې کړه. بریژنف له خپل استراحت ځایه په تیلفون کې (دسیاسي دفترغړي) کیریلینکو ته وویل: په دې خبره کې هیڅ ځنډ په کار نه دی. زه سبا ځان درسوم.

« ارشد محرم.

یونقل. »

ګرومیکو: دهغو وروستیو رپوټونو له مخې چې دشفري تلګرامونو په بڼه او یا له پوځي سرمشاور ملګري ګاریلف او شارژدافیر ملګري الکسی یف سره د تلفوني خبرو وله لاړې لاس ته راغلي ،دافغانستان حالات په بیړه خرابیږي. اوس اوس دهرات بنار د پاڅون په مرکز بدل شوی دی. له مخکینیو تلګرامونځخه ښکاري چې د غلته دافغاني اردو او ولسمه فرقه ځای پرځای ده چې د نظم په راوستلو کې بریالی شوه، خونوي معلومات دا ښیي چې د غه فرقه نوره بیخي خوره وره شوې ده. ددې فرقې یو توپچي او یو پیاده غنډ دیاغیانو خواته وراوښتي دي. له پاکستان نه راغلو ورانکارو او تروریستي ډلو چې نه یوازې د پاکستاني واکمنو بلکه د چین او د غه راز امریکې او ایران په لاس روزل شوي او په وسلو سنبال شوي دي. په هرات کې ناتارپیل کړی دی. کورني انقلاب ضد عناصر هم له ایران او پاکستان نه هرات ته له راغلیو باغیانو سره یوځای شول. په دې ډله کې دروحانیونو ونډه ستره ده. دارتجاعي ډلو ډیر مشران مذهبي عالمان دي. داچې څومره خلکو قیام کړی دی، معلومول یې ګران دي، خو زمور ملګري وایي چې شمېر یې زرګونو ته رسېږي، هو زرګونو ته.

دپاملرنې وړ ده یادونه وکړم چې مادبهرنیو چارولە وزیراودتره کې له مرستیال امین سره دسهار په یوولسو بجو تیلفوني خبرې وکړې. هغه په افغانستان کې دحالاتو په باب هیڅ اندیښنه ونه ښودله اوپه خوراسړه سینه یې وویل چې حالات دومره کړکیچن نه دي اوداچې پوځ په حالاتوبشپړ کنترول لري او داسې نور. لنډه داچې دهغه له خبرو داسې بریښېده چې د دغه ملک حالات آرام دي.

کیریلینکو: دامین له خبروکه داسې لنډه نتیجه واخلو ،دافغانستان مشران د دغو حالاتو له امله هیڅ وارخطایي له ځانه نه ښیي.

گرومیکو: دنښې منځ دې وویشته. امین ان وویل چې په افغانستان کې بیخي کراري ده. هغه وویل چې دکوم والي دسرغړونې علامې نه دي لیدل شوي. یعنې داچې ټول والیان دقانونې حکومت په لیکه کې ولاړدي ،خوپه واقعیت کې ،هغسې چې زمور دملگرولە رپوټونو نه بریښي ،دهرات اویو شمېر نورو سیموحالات کړکیچن دی. په دغو ځایو کې یاغیان واک چلوي.

ترکومه ځایه چې دکابل خبره ده ،نوپه دغه ښارکې اوضاع اساساً عادي ده. له پاکستان اوایران سره دافغانستان اوایران پولې ټرلي اوکه دقیقه ووایم نیمې ټرلې دي. ډیر افغانان چې پخوایې په ایران کې کارکاوه ،له دغه ملکه شړل شوي اوبې شکه هغوی له دې حالت نه سخت خوابدي دي. ددوی زیاته برخه هم له یاغیانو سره یوځای شوې ده.

داچې مور غواړو له افغانستان سره څه مرسته وکړو له هغو وړاندیزونو نه په داګه بریښي چې (په لیکلې بڼه) ستاسوپه لاس کې دي. غواړم ووایم چې مور

نورلس ملیونه روبله دبهرنیو اسعارو په بنه افغانستان ته بیلې کړي چې خپلې پولې پرې ټینګې کړي.

څرنګه چې پاکستان ،افغانستان ته دسړي وژونکو داستولواصلي سرچینه ده ،فکر کوم بنه به داواي چې د افغانستان مشرتابه پاکستان ته کوم احتجاجیه لیک سپارلی وای اویایې په دې باب کومه وینا خپره کړی وای. لنډه داچې کوم سند یې باید خپورکړی وای. خوافغاني مشرتابه به داکارونه کړ. البته دایو عجیبه کاربرینبي.

ماله امین نه وپوښتل : تاسې له مورنه دځه شي دترسره کولو هیله لرئ؟ماهغه ته دهغې مرستې اندازه او ډول وروښودل چې مورنې دکولو وس لرو. هغه بله هیڅ غوښتنه له مورنه ونه کړه. یوازې دومره یې وویل چې هغه دافغانستان حالات ډبرښه ګڼي .ویې ویل چې ستاسې مرسته ډیره پرځای لګیږي .ویې ویل چې ټول ولایتونه دقانوني واکمنو په لاس کې دي. ماترې وپوښتل: ایا دګاونډیو هېوادو ،کورنې انقلاب ضد ، مذهبیانو اونورو له خواد کومې ناوړې پیښې دکیدواحتمال نه ویني؟ امین په کلکوتکوکې وویل چې نه . رژیم له هیڅ خطرسره مخامخ نه دی. دخبرو په پای کې دسیاسي بیورو غړو اوشخصاً بریژنف ته سلامونه وویل. داوې له امین سره زما دنن سهار خبرې.

څه وخت وروسته ،تقریباً د دوو ،دریوساعتوپه ترڅ کې مورله خپلو ملګرونه په هرات کې دګډوډیو دپیل خبر ترلاسه کړ. یوغند ،لکه مخکې مې چې وویل ،توپچي غند په خپلو پلویانو ګولې ووړلې .دبل غند یوه برخه دیاغیانو

خواته ورواوښته . په دي توګه له حکومت سره يوازې داووسلمي فرقې بوه برخه پاتې ده چې دهرات ساتنه کوي. زمور ملګري داهم وايي چې نن سبا په پاکستان او ايران کې دروزل شويو ياغيانو نوې ډلې دافغانستان خاورې ته ننوتونکي دي. تقريباً نيم ساعت وروسته موله خپلو ملګرونه خبر ترلاسه کړچې زمور پوځي لوی سلاکارملګری ګاريلف اودسفارت شارژدافيرملګری الکسی يف ملګري ترې کي خپل ځان ته وربللي دي. له ترې کي سره په څه موضوعګانو خبرې وشوې ؟هغه له هرڅه مخکې شوروی اتحاد ته دپوځي تخنيک، جبه خانې اوخوراکي موادو دمرستې لپاره لاس اوږدکړ. په دغه هکله مور مخکې اسناد برابر کړي او دمنظوری لپاره موسياسی بيورو ته وړاندې کړې دي. کله چې خبره دپوځي مرستې راغله، نوترې کې داسې ضمني غوندې اشاره وکړه چې ښايي دهوايي اوزمکنۍ مرستې اړتيا پيدا شي. له دې خبرې نه بايد داسې مطلب واخيستل شي ښايی افغانستان ته زمور دزمکنيو اوهوايي لښکر وداستولوخبره راوچته شي.

زما په فکر بايد افغانستان ته دمرستې په وخت کې يوعمده ټکی په پام کې ونيسواو هغه داچې: مور په هيڅ ډول نه شو کولی افغانستان له لاسه ورکړو. دادی شپيته کاله مور يوله بل سره په سوله او ښه ګاونډيتوب کې ژوند کوو. که اوس افغانستان له لاسه ووځي او دشوروي اتحاد له څنګه ليرې شي، نودابه زمور په سياست لوی ګوزار وي. له حکومت نه دپوځ دملاتړ په وخت کې فوق العاده امکانات کارول يود خبره اوله قانوني حکومت نه دپوځ دمخ اړولو په حالت کې دغسې کول بيخي بله خبره ده، اوبالاخره که پوځ دحکومت خلاف ودريږی اوپه دې

ډله کې زمور پوځ هم مخالفت وکړي، نوحالات به بیخي نازک شي. دملګرو ګاریلف اوالکسی یف داطلاعاتو له مخې، د (افغانستان) دمشرانواوپه دې ډله کې خپله دملګري تره کې طبیعت چندان ښه نه ښکاري.

اوستینوف: پرشارژدافیرملګري الکسی یف سربیره تره کې ته زمورلوی پوځې سلاکارګارلیف هم ورغلی و له ملګری ګارلیف سره ما په تلفون خبری ورکړې او هغه راته وویل چی دافغانستان مشران له روانو حالاتونه سخته اندیښنه لري. په تیره بیادهرات اوپکتیا حالات بورنوونکي دي. بده خبره داده چې دهرات ساتونکې فرقه دومره غښتلې نه وه. دفرقې قوماندان په هوایي ډګرکې دی اوکه دقیق ووایم دغه ځای ته راتښتیدلی دی او روښانه ده چې دحکومت پلوي قطعي دهیڅ فعالیت لارښوونه نه شی کولای. ددې خبروماناداده چې سباسهار (دمارچ په ۱۸) هرات ته اوپراتیفي ډلې استول کیږي.

مور ملګري تره کې ته مشوره ورکړه چې څه لنبکرې دې هغو ځایوته ولیږي چې بغاوت په کې راپوکښده. هغه په خپل واروویل چې داکارګران دی ځکه چې په نورو سیمو کې هم حالات خوځښدلي دي. لنډه داچې هغوی دشوروي اتحاد دهوایي اوزمکنیو ځواکونو ورګډښدوته سترګې په لاره دي.

اندروپوف: هغوی هیله لري چې مور دې په یاغیانو ګوزارونه وکړو.

کیریلینکو: پوښتنه داده چې زمور پوځیان که هلته ولیږل شي، له چاسره به جګړه کوي. که دیاغیانوخلاف (جګړه کوي) نوددوی په ډله کې خودبر مذهبي خلک دي. ددغو مسلمانانو زیاته برخه عادي پرګنې دي. په دې توګه نومور اړیو

چې ترزیاتې اندازې داولس خلاف وسله پورته کړو.

کاسیگین: افغانستان څه ډول پوځ لري، په هغه کې څومره فرقې دي؟

اوستینوف: دافغانستان پوځ لس فرقې لري چې ټول شمېر یې سلوزروتنو ته رسیږي.

اندروپوف: تاوده رارسیدلي رپوټونه وایي چې نږدې درې زره یاغیان له پاکستان نه دافغانستان لورته استول کیږي. ددوی ډېر شمېر پرانده متعصب مذهبي خلک دي.

کیریلینکو: کـه ټول اولس راپاڅي نوله ایران او پاکستان نه په راغلو ډلو سربیره چې زیات یې تروریستان اوباغیان ګډل کیږي، زمونږ پوځ به اړشي چې دافغانستان له عادي وګړوسره جګړه وکړي. دغه عادي خلک داسلام د دین عاشقان دي.

ګرومیکو: تراوسه دحکومت دپولیانو اویاغیانو اندول پوره روښانه نه دی. داسې ښکاري چې دهرات بټۍ ښه سمه ایشیږي، ځکه چې تراوسه دغلته له زرو زیات کسان وژل شوي دي، خوحالات لادغلته اوس هم پوره روښانه نه دي.

اندروپوف: ښکاره ده چې افغانستان ته ورننوتي باغیان ترهرڅه لومړی دشورش اوربلوي اوبیادافغانستان خلک خپل لوري ته راماتوي.

کاسیگین: زه خو داګڼم چې دپریکړې طرحه چې غونډې ته وړاندې شوه، باید ښه ډیره اصلاح کړی شي ترهرڅه لومړی دې دوسلو لیږل نورنه ځنډول کیږي. اپریل ته صبرنه دی په کار. همدا اوس په مارچ کې دې په بیړه داکاروشي.

داشوه لومړی خبره.

دویمه داچې له روحیاتي پلوه دې دافغانستان مشران ډاډه کړی شي، اوماوړاندیز کړی چې دغه کارونه دې وشي: تره کی ته دې خبرورکړل شي چې مور دهروزرو مکعب مترو غازبیه له ۱۵ نه ۲۵ روبلو ته لوړوو. دابه ترهرڅه لومړی هغوی ته دوسلو اونورو شیانو دبیو دپرې کولو لپاره پیسې برابرې کړي زه خوایم داوسله دې افغانستان ته وړیاورکړل شی اوپه سلوکې د ۲۵ خبری یادول بیخي په کار نه دي.

ټول په یو آواز: سمه ده.

کاسیګین: دریم داچې مور پریکړه کړې هغوی ته ۷۵ زره ټنه غنم هم ورکړو. زما په فکر په دې خبره کې دې نوی نظروشي اوپه کارده چې افغانستان ته سل زره ټنه غنم ورکړل شي. زما په عقیده دپریکړه لیک په طرحه کې دې دغو اقداماتو ته ځای ورکړل شي. په دې توګه کولی شو، افغاني مشران له روانې پلوه ډاډه کړو. په کار خوداده چې دافغانستان په سرمبارزه وکړو. آخردادی شپیته کاله یودبل څنګ ته اوسېږو. شک نه شته چې د ایرانیانو، پاکستانیانواو چینایانو خلاف مبارزه زور اخلي، خوایران له افغانستان سره مرسته کوي او ددې خبرې لپاره کافي دلایل هم لري. په تیره بیا چې ددواړو ملکونو دین هم یو دی. داخبره ټینګه په پام کې لرل په کار دي پاکستان هم ورته اقدام کولی شي. دچینایانو په هکله دویلو څه نه شته. له دې امله زه غواړم چې یو دملګرتیا ډک پریکړه لیک دې ومنل شي او دافغانستان مشرتابه ته دې دمرستې ټینګ لاس وراورد کړی شي. (دافغانستان

له خوا) د پورته دبېرته ورکړي خبره اصلاً دلته ځای نه لري، په تېره بیا د خارجي اسعارو په بڼه چې دلته لیکل شوي دي. هغوی بهرني اسعار له کومه کړل، مورږ له هغوی څخه هیڅ شی لاس ته نه شو راوړلی.

اوستینوف: هغه څه چې په پریکړه لیک کې افغانستان ته د وسلو د سپارلو په برخه کې راغلي دي، دادی عملی کیږي. موټرې د کې شوې او (هغې خواته) وړاندې دي. خوله بده مرغه زه نه پوهیږم چې تر اپریله به د دې کار بشپړولو ممکن وي او که نه؟ ماته خوګرانه ښکاري. که زمامنځ د وسلو د سپارلو په هکله هماغه خبره ښه ده چې مخکې (په پریکړه لیک کې) راغلي ده. د وسلو د بیې او پیسو په موضوع کې زه هم داوایم چې داتکی دې بیخي (له پریکړه لیک نه) وایستل شي.

کاسیګین: ټول شیان سمدلاسه بارکوئ له همدې سباوړځې نه شروع دده.

اوستینوف: د برښنه، داکاربه وکړو، اوځارنه به یې هم کووچې همداسبابارول پیل شي.

کیریلینکو: راځئ چې ملګري کاسیګین ته دنده وسپارو، د هغو وړاندیزونو اویادونو په پام کې نیولو سره چې مورږ خبرې پرې وکړې، د شوروی اتحاد دوزیرانوشورا د پریکړه لیک په مسوده کې دې لازم بدلونونه اولي. سبابه دی د دغه سند سمه اوبشپړه شوې مسوده مورږ ته وړاندې کړي.

کاسیګین: خامخا زه سبا راځم او ټول شیان سموم.

کیریلینکو: مورږ ته په کار ده چې د مارچ په میاشت کې د پوځي تجهیزاتو دبارولو په مقصد تدبیرونه ونیسو.

کاسیگین: دملګرۍ اوستینوف په قول که چېرې په مارچ کې دتولو شیانو دبارولو امکان نه وي، نوبیا کیدای شي ځینې کم ارزښته شیان اپریل ته پرېښودل شي، خوچې اندازه یې زیاته نه وي.

دغه راز زه غواړم ددې خبرې یادونه هم وکړم: هرڅه چې وي هم تره کی او هم امین له مور نه دحالاتو رېښتینې ځېره پټول غواړي. مور تراوسه پورې له جزئیاتو سره نه یوخبره چې په افغانستان کې څه تېریږي. ددې حالاتو په هکله دهغوی نظر څه دی؟ دوی خوبیخې له خوښې ډک انځور وړاندې کوي، مګر مور اوتاسې خو وینو چې په حقیقت کې هلته څه تېریږي. دوی به ښه خلک وي، خودې شیان زمور له سترګو پټول غواړي. داچې ددې خبرې دلیل څه دی، پوهېدل پرې ګران دي.

اندری اندرییویچ (ګرومیکو): زما په فکر باید ډېر ژر دسفیر موضوع غوڅه شي. عملاً داسفیر له اعتباره لویدلی یو سړی دی او هغه څه نه شي تر سره کولی چې غوښتنه ترې کیږي.

سربیره پردې زه خوداګنم چې نورښه مسلکي پوځي سلاکاران دې هم ولېږل شي چې مور ته په تفصیل سره دهغو پېښو رپوټ راکړي چې په پوځ کې تېرېږي.

همدارنګه زما په نظر په کارده (په دې باب) یوه هراړخیزه سیاسي پریکړه وشي. بلده به نه وای که ددغسې پریکړې مسوده دبهر نیو چارو او دفاع دوزارتونو، ک. ګ. ب او (دکمونیست ګوند دمرکزی کمیټې) دنړیوالو اړیکودڅانګې ملګرو تیارده کړی وای. ښکاره ده چې ایران، چین او پاکستان

دافغانستان خلاف دريدلي او په هره ممکنه وسيله به (د دغه هيواد) قانوني دولت ته خندونه پيدا کوي او دهغه کړنې به بې اعتباره کوي. له همدې کبله له ترکي او دهغه له حکومت نه زمور سياسي ملاتړ ته ارتيا لېدل کيږي، البته کارتر به هم دافغانستان د مشرتابه خلاف ودريږي.

د پوځونو داستولو په صورت کې به آيا مور له چا سره مقابل شو او څوک به دافغانستان داوسني مشرتابه خلاف آواز جګ کړي؟ هغوی ټول د محمد (ص) پيروان دي. ديوې عقيدې لرونکي دي او دهغوی عقيده او مذهبي تعصب دومره خوټيږي چې هغوی ټول کولی شي، په همدې بنسټ لاس سره يو کړي. زما په نظر په کار د دې ترې کي او امين ته مخامخ هغه خطاوې ورته ګوته کړو چې دوی کړې دي. تر اوسه په دغه هيواد کې د نارضيانو اعداموله روان دي. د پرچم د ګوندنه يواې غټ غټ مشران، بلکه ان د منځنۍ پورې لارښوونکي يې بيخي له منځه يووړل شک نشته چې سمدلاسه مور ته د سياسي سند د چمتو کولو امکان نه شته او لکه چې ومې ويل، په دې هکله بايد ملګرو ته درې ورځې وخت ورکړل شي.

اوستينوف: داټولې خبرې د کانې کړنې وې او لکه چې الکسی نيکلا يوويچ (کاسيګين) وويل، څومره چې ژر کيدای شي بايد ترسره شي.

ګروميکو: داسناد و په چمتو کولو دې پيرد وشي.

کاسيګين: زما په عقيده، بايد افغانی مشران دې ته ارنه کړو چې له مور نه د پوځونو د ورلېږلو غوښتنه وکړي. هغوی دې د خان لپاره داسې ځانګړي پوځي ټولګي جوړ کړي چې د ياغيانو د خپلو لپاره يې دارتيا په وخت کې کړ کيچنو

سیموته واستوي.

اوستینوف: زما خو دانظر دی چې که پوځونه مودغه هېواد ته ولیږل، نونه نبایي خپلې پوځي قطعې له افغاني قطعوسره ګډې کړو.

کاسیګین: مونږ ته په کاردده چې خپلې پوځي قطعې چمتو کړو، دهغوی لپاره ځانګړې نظامنامه تصویب کړو اوله ځانګړې قوماندې سره یې واستوو.

اوستینوف: مونږ د (احتمالي) پوځي عملیاتو لپاره دوه جلا لارې سنجولې دي. لومړۍ لاره داده چې مونږ په څلرویشتو ساعتوکې ۱۰۵ لمبر هوایي فرقه افغانستان ته استوو اویو پیاده موټریزه غنډ په کابل کې پلی کوو. ۶۸۰ لمبرموټریزه فرقه به دپولې خواته په حرکت راوستل کېږي، په داسې حال کې چې پنځم لمبر موټریزه فرقه له مخکې نه پولې ته څېرمه ځای پرځای شوې ده. په دې توګه مونږ به د ۷۲ ساعتو په ترڅ کې افغانستان ته دپوځونو داستولو لپاره تیار شوي یو، خولکه چې دلته ورته ګوته ونیول شوه، مونږ باید (لومړی) سیاسي پریکړه وکړو.

کیریلینکو: دملګري اوستینوف خبرې بیخي سمې دي. مونږ باید دباغیانوخلاف ودرېږو. زمونږ په سیاسي سند کې دې هم پردې موضوع دقیقه او پوره رڼا واچول شي.

ددې ترڅنګ مونږ باید پرته دکې هم نفوذ پیدا کړو اوترکومه ځایه چې دپوځونو دلیږلو خبره دده، نوداباید په هرارخیزه توګه وسنجول شي. مونږ (په خپل سر) اوافغاني مشرتابه له غوښتنې پرته عسکرنه شولیږلی. پرېږدئ چې دملګرې ترد

کې سر هم په دې موضوع خلاص وې او په کار ده چې ملګرې کاسیګین له ترډ کې سره په خبرو کې داخبره همداسې په زغرده وکړي. دغه رازدې ترې کې ته وویل شي چې تاکتیک بدلول په کاردي. له ډلیزو وژنو، ځوروونو او نورونه کار اخیستل نه دي په کار. دمذهب په وړاندې، دمذهبی کړیو اوشخصتیونو په وړاندې دچال چلند خبره، ددوی لپاره ځانګړی ارزښت لري. دادسترو سیاستونویوده موضوع دده او همدلته ده چې ترډ کې ته ښایي په ټینګه په دې اړه هرډول خپل سری غیر مجاز اعلان کړي.

له همدغې سباورځې دې داسنادو دچمتو کولو لپاره متې راونغښتل شي. سباته به له لیونید ایلیچ (بریژنف) سره هم په دې هکله سلا مشوره وکړو چې څنګه کولی شو دغه چاره په ښه توګه سرته ورسوو.

اوستینوف: مورډ (دعملیاتو) دویمه لارهم سنجولې اوکړه کړې ده. کولی شو، افغانستان ته (یوازې) دوه فرقې واستوو.

اندروپوف: مورډ باید دهغو نظریو اواصلاحاتو په پام کې نیولو سره چې ملګرو وړاندې کړه دخپل پریکړه لیک مسوده تصویب کړو دسیاسي حل خبره دې هم چټکه کړی شي، ځکه چې له پاکستان اوایران نه دباندې نو بهیر راروان دی.

پوناماریف: مورډ ته په کاردچې دکارپوهانواوسلاکارانو په توګه (۵۰۱) تنه افغانستان ته ولیږو. داملګرې باید وپوهول شي چې کوم کارونه ترسره کړي.

اندروپوف: هرات ته څرمه شلوزرو مسلکي خلکوپه بغاوت کې ګډون وکړ. له

تره کی سره خبرې لازمی دي، خوزما په خیال ښه به داوي چې داکارملګری کاسیګین وکړي.

تول: سمه ده، سمه ده. همدا ښه ده چې ملګری کاسیګین خبرې ورسره وکړي.

اندروپوف: سیاسی پریکړه دې چمتوشي، خوددې ټکي له پامه وتل نه دي په کار چې زمور پرتندي دبلو سګرټا په خامخا لګیدونکې ده، اوله دې سره سره مور باید افغانستان په هیڅ ډول له لاسه ورنه کړو.

پوناماریف: له بده مرغه مور دافغانستان په هکله په ډېر وخبرو نه پوهیږو. زما په نظر باید له تره کي سره دخبرو په وخت کې ټولې مسألې مطرح شي او په ټېره بیا په پوځ او ټول هېواد کې دحالاتو په هکله دې له هغه نه توضیحات وغوښتل شي. هغوی خوخپله سل زره کسیزه پوځ لري اوزمور دسلاکارانو په مرسته کولی شي ډېر کارونه سرته ورسوي، خوهلته کومه شل زره کسیزه یاغي ډله را پاڅېږي اوپردوی بری مومي. په لومړي سرکې دې هڅه وشي چې هرڅه افغاني پوځ خپله سرته ورسوي اوکه چېرې ریښینې اړتیا پیدا کیږي، نوبیا دې زمور لښکرې واستول شي.

کاسیګین: دوسلو دلیږلو په خبره کې خو زه هم موافق یم، خومور باید لومړی په دې باوري شو چې هغه دیاغیانو لاس ته نه ورځي، کې دهغوی پوځ تس نس شي، ورسره جوخت دغه وسله هم دیاغیانولاس ته ورځي. وروسته بیا داپوښتنه راپورته کیږي چې مور به نړیوالوعامه افکارو ته څه وایو. داهرڅه دي سم وتلل شي. یعنی که دپوځونو لیږلوخبره خامخا رامنځته کیږي نو بیا دی کافی دلایل

راتول اوهرڅه دي بشپړ روښانه کړي شي راځي يوملګري افغانستان ته ولیږو چې ځای پرځای دحالاتو پوره جاج واخلي . ښايي ملګري اوستينوف يا ملګري اګارکوف ولیږو .

اوستينوف: دافغانستان حالات مخ په خرابېدو دي. زه خولاوايم چې لا اوس هم له سياسي لارو چارو نه دکار اخيستلو فرصت پاتې دی، په تيره بياچې له ټولو ډولونو نه يې ګټه نه ده اخيستل شوې ، له بلې خوا بايد دافغانستان له پوځ نه بشپړ استفاده وشي. زه خوا وايم چې افغانستان ته زما د تللو خبره هسې يې ګټې ده. راځئ چې دحکومت کوم غړي ته دغه ډنډه وسپارو .

کاسيګين: ديميتری فيودوروويچ (اوستينوف) تاسې د تګ لپاره ډير مناسب ياست. خبره داده چې مورږ افغانستان ته ډېره وسله لېږلې اوبايد هغه دانقلابي پرګنوپه لاس کې پاتې شي. مورږ په افغانستان کې نړدې (۵۵۰) سلاکاران لرواوله هغوی سره بايد دحالاتو سمه څېړنه موجوده وي.

اوستينوف: که له مورږ څخه څوک افغانستان ته لاړ هم شي، نوشک دی چې دګوتو په شمېر څوورځوکې دې په ټولو خبرو ځان پوه کړي.

ګروميکو: زما په فکر ، له ترډکي سره دې يا الکسي نيکلاپوويچ کاسيګين اويا ديميتری فيودوروويچ اوستينوف خبرې وکړي. خودملګري کاسيګين خبرې به غوره وي.

کاسيګين: مخکې له دې چې له ترډکي سره وغږيږم، په کاردده چې داخبره له لېونيد ايليچ (برژنيف) سره شريکه کړم. زه سبا له لېونيد ايليچ سره غږيږم

اوبیابه له تره کي سره خبرې وکړم.

اندروپوف: په کاردې چې زمور له ننني پریکړونه هم لیوینډ ایلیچ په مفصله توګه خبر کړی شي.

ګرومیکو: مور باید داخبره وشپږو چې دحالاتو دنورې خرابۍ په صورت کې مور ته څه کول په کاردي دافغانستان حالات تراوسه زمور (ډېرو ملګرو) لپاره پوره روښانه نه دي. یوازې یوه خبره څرګنده ده: افغانستان غلیم ته نه شوو ورکولی، خوچې داکار څنګه ترسره کیدای شي، باید لاړې چارې ورته وسنجوو. ښایي مور ته د پوځونو دلیږلو اړتیا نه وي.

کاسیګین: مور ټول په یوه نظریو: افغانستان باید له لاسه ونه وځي. دهمدې اصل پربنسټ دې سیاسي سند تیارکړی شي. له ټولو سیاسي لارو چارو نه په استفادې سره دې دافغاني مشر تابه لنګه او ملاتړ وسي. هغه مرستې دې ترسره شي چې همدغه اوس موخبرې پرې وکړې اودیوورو ستي ګام په توګه دې له پوځونو نه دکاراخیستلو اصل په پام کې وساتل شي.

ګرومیکو: زه غواړم په دې خبره ټینګار وکړم چې مور ته په کارده، په دې تکي هراړخیز غور وکړو چې دحالاتو د لاخرابۍ په صورت کې دځه عکس العمل ښودل په کار دي. تره کي وارخطایي ښیي، خوامین لاتراوسه دحالاتو په ښه کښدو ډاډه ښکاري. لنډه داچې، لکه تاسې چې وینئ، افغاني مشران دخپل پوځ اوټول هېواد حالات په ناسمه بڼه راڅرګندوي.

پوناماریف: افغاني پوځ انقلابي کودتا بریالۍ کړه اوفکر کوم که دحکومت له

خواسمه لازښوونه ورته وشي، کولی شي، دهېواد له دریځ نه په دفاع کې ودریږي او همدا اوس هم ولاړ دی.

کیریلینکو: خبره داده چې دېرپوځي قوماندان یابندیان، یا اعدام شوي دي اودي خبرې پرپوځ ناوړه اغیزه ښندلې دده.

گرومیکو: یوه مهمه خبره دپوځ پیاوړتیا ده او دا اساسي کړی بلل کېږی، خوبیاهم وایم چې افغاني مشران دېرځه له مورنه پټوي، ښکاري نه غواړي په صداقت له مورسره وغږیږي. دادیر دردوونکی حقیقت دی.

اندروپوف: زما په نظرپه کارده چې دخپلو دې تدبیرونو په اړوند سوسیالیستی هېوادونه خبر کړو.

کیریلنیکو: ملگرو موردېرې خبرې وکړې. نظرونه پوره ښکاره شول. راځئ چې اوس نتیجه واخلو:

۱- ملگري کاسیگین ته باید دنده ورکړو چې وړاندې شوې طرحه سمه کړي اوهلته دې دسلو زروتنو غنمو دلېږلو، له ۱۵ نه ۲۵ روبلو ته دگازییې دلوړولو، دبیحې او پوردبیرته غوښتلو خبرې دله منځه وړلوتکي ځای کړي.

۲- ملگري کاسیگین دې له ملگري ترډکي سره په دې هکله وغږیږي چې هغوی دخپل هېواد حالات څنگه څېړي اوله موږنه دڅه شي دغوښتلو تمه کوي ملگري کاسیگین ته په کارده چې له ترډکي سره په خبرو کې دې په سمه بیړو کې وړاندې شوې نظریې په پام کې ونسي.

۳- دریمه خبره چې دلته پرې غوروشو، داده چې ملگرو گرومیکو،

اندرو پوف، اوستينوف او پوناماريف ته دنده سپارل کېږي چې دافغانستان په هکله زمونږ د دريځ په اړه دې دننني غونډې دبهير په پام کې نيولو سره يو سياسي سند جوړ کړي.

٤- دبهرنيو چارو دوزارت له لارې دې دپاکستان غوږ ته ورسول شي چې د دغه هېواد حکومت دې دافغانستان په کورنيو چارو کې له لاس وهنې ځان وژغوري.

٥- فکر کوم بايد دملګري اوستينوف له دې وړانديز سره موافقه وشي چې زمونږ دوسله والو پولګيو په مرسته دې له افغاني پوځ سره دهغو ستونزو په هواري کې لاس وشي چې ورسره مخامخ شوي دي.

٦- دافغانستان په پوځ او ټول دغه هېواد کې دحالاتو دروښانتيا لپاره دې هم د دفاع وزارت او هم د ک. گ. ب له لارې ښه پوځي سلاکاران واستل شي.

٧- زمونږ دپريکړه ليک په مسوده کې دې داتکي هم ځای کړی شي چې دافغانستان په کورنيو چارو کې دپاکستان، ايران، دامريکا دمتحد وايالاتو او چين دلاس وهنو په هکله د مطالبو تيارول او د دريمو هېواد له لارې يې خپرول ضروری دي.

ژژژو پوناماريف اوزاميا تين ته دنده سپارل ۸۲۷۲۷۲۷۲۷۲۷۲۷- ملګر کنيږي چې دافغانستان خلاف دپاکستان، ايران چين، امريکا اونورو هيوادو داقداماتو په هکله مطالب تيار او د مطبوعاتو له لارې خپاره کړي.

٩- داخبره دې ښه وسنجول شي چې دنورو هېوادو له خوا، دير غلګرو په توګه

دشوروي اتحاد دتورن کولو په وخت کې باید دغو تورو نوته څنګه ځواب ووېل شي.

۱۰- ددفاع وزارت ته دې دشوروي ، افغان په ګډه پوله کې د دوو فرقو دځای پرځای کولو اجازه ورکړی شي، اوبالاخره لکه چې دلتـه ووېل شول، په کاردد سوسیالیستي هیوادونه دننني غونډې دپریکړو په باب خبرورکړل شي. ملګري بل کوم نظرلري؟

تول : تاسې تول شیان په پام کې نیولي دي.

کیریلینکو: ډېرښه، زه همدا اوس هڅه کوم، له ملګري چرننکو سره خبرې وکړم او خپل وړاندیزونه هغه ته ووایم

تول: سمه ده.

کریلینکو:

ماهمدااوس دملګری چرنینکوسره خبری وکړی هغه ووېل چې خبرې موسمې جوړې کړی او هغه هڅه کوی چې په دې هکله لیونیدایلچ ته معلومات ورکړی.

« زغره وال ګاډي په الوتکو کې راولېږي »

دانقلابونو غـټه ځانګړتیـا هغه بېرحمي ده چې دهغې په ملګرتیـا تولنیز بدلونونه سرته رسیږي اونوی نظم درول کیږي . دافغانستان دا پریل انقلاب په دې قاعده کې استثنی نه و. عجیبه داده چې له زور نه کاراخیستل . دتولنیز علومو دبرخې دکارو کوونکو ، دافغاني روښانفکرانوله خواتبلیغیدل . مسلکي ادب دافغانستان دریالیزم بنسټ ایښودونکی نورمحمد تره کی له ا . ن کا سیګنس سره

په تلفوني خبرو کې چې متن يې له لنډيزز پر ته دلته راوړل کيږي ، په دې عقيده دی چې منځ ته راغلې ستونزې ، کيدای شي او بايد دشوروي وسلو په مرسته غوڅې شي.

« اشد محرم.

ځانګړې دوسيه »

کاسيګين: ملګري ترد کي ته وواياست چې دليونيد ايليچ اودسياسي بيرو دټولو غړو سلامونه ورته ورسوم.

تره کی: ډېره مننه.

کاسيګين: دملګري ترد کي روغتيا څنګه ده. ډير خوبه ستړی شوی نه دي؟

تره کی: نه، ستړی کېږم نه. نن دانقلابي شوراغونډه وه.

کاسيګين: ډيرښه. له ملګري ترد کي نه وغواړئ (داخبرې دژباړونکي په مرسته سرته رسيدلي ب. ګ) دافغانستان دحلاتو يو تصوير راکړي.

تره کی: حالات ښه نه دي، مخ په خرابېدو روان دي. دوروستۍ پوڼ نيمې مياشتې په اوږدوکې ايراني لوري خپل څلور زره پوځيان په ملکي کالوکې زمور خاورې ته رالېږلي چې دهرات ښار اوپوځي چوکۍ ته يې نفوذوکړ. اوس ټوله اوولسمه پلي فرقه دپوځي غونډاو دهغوايي مدافعې ډيوې لواء په ګډون دهغوی په لاس کې دي اوپرله پسې زمور په سرتېرو ډزې کوي. په ښارکې اخ وډب روان دی.

کاسيګين: دفرقې دمنسوبينو شمېر څودی؟

تره کی: شمېر یې ترپنځو زرو تنو رسیږي . ټول مهمات او جبه خانه دهغوی په ټس کې دی. خپلو ملګرو ته چې له هغوی سره په جګړه اخته دي، له کندهار په الوتکه کې حوارد او مهمات لیږدوو .

کاسیګین: هلته ستاسې د پلویانو شمېر څودی؟

تره کی: ۵۰۰ تنه . هغوی دفرقې د قوماندان په مشری په هوایي ډګر کې ځای پرځای دي. دهغوی مرستې ته مو له کابله په الوتکو کې او پراتیفي ډلې وروامستولې . نن سهار هغوی هوایي ډګر ته وزو سدلي دي.

کاسیګین: ایا دفرقې افسرانو هم خیانت کړی؟ که کومه برخه یې د فرقې له قوماندان سره په هوایي ډګر کې دي ؟

تره کی: یوه وړه ډله له مور سره ده خو نور ټول غلیم ته وراوښتي دي.

کاسیګین: ایا دهرات دکارګرو ،ښاري کسب ګرو اومامورینو په منځ کې ملګري لرئ؟ ایا کوم څوک لاستاسې ملاتړ کوي که نه؟

تره کی: خلک زمور فعال ملاتړ نه کوي. هغوی تقریباً ټول د شیعه ګانو دمذهبي شعارونو تر اغېزې لاندې راغلي دي. دهغوی تبلیغات پردې بسټ بنادي چې: «په ملحدانو باور مه کوئ، په مور پسې راځئ».

کاسیګین: هرات څومره نفوس لري؟

تره کی: له ۲۰۰ نه تر ۲۵۰ زرو تنو پورې هغوی دوخت د تقاضا له مخې عمل کوي. هغوی ته چې کومې خواته لارښوونه کیږي، هماغې لوري ته ځي. اوس دې هغوی د غلیم ترځنګه ولاړدي.

کاسیګین: او کارګران هلته ډېر دي که نه؟

تره کی: ډېر لږدي، ټول ټال یو یا دوه زره تنه.

کاسیګین: ستاسی په عقیده دهرات د پیښو لرلیدځه دی؟

تره کی: زمور په عقیده نن مازیګر یا سبا سهار به هرات سقوط وکړي او بشپړ به د غلیم لاس ته ورسي.

کاسیګین: وړاندې به څه کیږي؟

تره کی: شک نه شته چې غلیم به نږدې پوځي تولګي جوړ وي او مخ په وړاندې به یرغل پیل کوي

کاسیګین: دهغوی دماتولو لپاره کافي ځواک نه لرئ؟

تره کی: که چیرې مودر لودلی...

کاسیګین: په دې موضوع کې ستاسې وړاندیزونه څه دي؟

تره کی: مور غواړو چې تاسې له مور سره د سړو اووسلوله لارې عملي او تخنیکي مرسته وکړئ.

کاسیګین: دا ډېر د ستونزمنه لانجه ده.

تره کی: له دې پرته به غلیم د کندهار او ورپسې د کابل خواته راوړاندې شي هغوی به نیم ایران دهرات د فرقې تر بیرغ لاندې په ځان پسې را روان کړي. پاکستان ته تښتیدلي افغانان به هم راستانه شي. ایران او پاکستان زمور خلاف په ګډه منسوبه کار کوي. له همدې امله که تاسې په هرات یو ریښتینی ګوزار وکړئ، نو د انقلاب د ژغورلو امکان شته دی.

کاسیګین: له دې خبرې نه سمدستي ټوله نړۍ خبرېږي. یا غیان د بیسیم دستګاوې لري او سمدلاسه به خبرورکړي.

تره کی: هیله کوم چې له مورږ سره مرسته وکړئ.

کاسیګین: مورږ مجبور یوپه دې اړوند (په خپل منځ کې) سلامشوره وکړو.

تره کی: ترهغې چې تاسې مشورې کوئ، هرات به یې نیولی وي او هله به نوهم دشوروي اتحاد اوهم دافغانستان لپاره نورې سترې ستونزې رامنځته شي.

کاسیګین: اوس نود پاکستان اوپه جلاتوګه دایران په هکله خپل وړاندیزونه راته ووایاست. آیا تاسې د ایران له مترقی عناصرو سره اړیکي نه لرئ. آیا نه شی کولی هغوی ته ووایئ چې ستاسې ګډغلیم امریکاده. ایرانیان امریکا یانو ته سخت په غوسه دي اوله دې خبرې نه تبلیغاتې ګټه اخیستل کیدای شي.

تره کی: مورږ همدانن دایران پرحکومت ،دهرات په چاروکې دلاس وهنو له امله اعتراض وکړ او درادیوله لارې موخپورکړ.

کاسیګین: ایا نه غواړئ پرپاکستان ورته اعتراض وکړئ؟

تره کی: سبا ،بل سبابه پرپاکستان هم ورته اعتراض وکړو.

کاسیګین: ایا تاسې پرخپل پوځ ډاډه یاست. دغه ډاډ څومره باوري دی،آیا په هرات باندې دګوزارکولو لپاره ځواک نه شئ ټولولی؟

تره کی: زمورږ په نظر پوځ ډاډمن دی، خوله نورو ښارونو د پوځونو ایستل اوهرات ته لیږل یې ممکن نه دي، ځکه چې داکار په نورو ښارونو کې زمورږ دریځ کمزورې کوی.

کاسیګین: کـه مورږپه بیړه نوې الوتکې اووسله درکړو ، تاسې ،دنویو پوځي تولګیو دجوړولو وس نه لرئ ؟

تره کی: ددې کارلپاره ډېر وخت په کار دی اوهرات به سقوط وکړي.

کاسیګین: ستاسې په عقیده که هرات سقوط وکړي ،نوپاکستان به هم په خپله توله پوله کې په ورته اقداماتو لاس پورې کړي ؟

تره کی: ددې خبرې امکانات ډېرزیات دي.له دې پېښې وروسته به دپاکستانیانو جرأت زیات شي. امریکایان په دې برخه کې له هغوی سره مرسته کوي.دهرات له سقوط وروسته به پاکستانیان هم خپل عسکرپه ملکی کالو کې راولیږي او دښارونو نیول به پیل شي او ایرانیان به هم خپلې لاس وهنې چټکې کړي. په هرات کې بری له مبارزې سره د تړلو نوروتولو لانجوکونجې ګډې کیږي.

کاسیګین: دنړیوال سیاست په ډګرکې تاسو له مورږنه دکومو اقداماتو یا اعلامیو تمه لرئ ؟ تاسې له تبلیغاتي پلوه په دې برخه کې کومه طرحه یاوړاندیز لرئ ؟

تره کی: په کار دی چې تبلیغاتي او عملي مرسته سودبل په څنګ کې ترسره شي.زما په نظرکه تاسې په خپلو تانکونو او الوتکو افغاني نښانونه ولګوئ، هیڅوک به پرې پوه نه شي. ستاسې لښکرې دکوشک او کابل له لارکولی شي، پرمخ لاړې شي.

کاسیګین: لومړی خوباید سړی کابل ته ورسیږي.

تره کی: کوشک خوهرات ته ډېر لږدی او کابل ته لښکرې دالوتکو په وسیله

رالېږل کیدای شي. زمور په عقیده که تاسي کابل ته پوځ راولېږئ اوهغوی بیاله کابله دهرات پرلور وخوځېږي ،هیڅوک به خبر نه شي، فکر به کېږي چې داحکومتي عسکر دي.

کاسیګین: زه نه غواړم تاسې خوابدی کړم، خوددې خبرې پټول ممکن نه دي، ټوله نړۍ به دوه ساعته وروسته ترې خبره وي.

چیغې به وهل کیږي چې شوروي اتحاد پرافغانستان یرغل پیل کړی دی.

ملګری تره کی! داراته ووایاست که مور په الوتکوکې کابل ته دتانکونو په ګډون وسله درورو، ایا تاسې به تانکستان پیدا کړای شئ که نه؟

تره کی : ډیر کم شمېر.

کاسیګین : نوڅومره ؟

تره کی: شمېرې راته پوره معلوم نه دی.

کاسیګین: که په الوتکوکې په بیړه سره تانکونه ، اړتیا ورمهمات او هاوانونه درولیږو ، ددغې وسلې د کارولو لپاره به فني پرسونل وموميئ که نه ؟

تره کی: دې پوښتنې ته زه ځواب نه شم ویلی، دې ته شوروی پوځي سلاکاران ځواب ویلی شي.

کاسیګین: (ستاسې له خبرونه) داسې نتیجه اخیتسل کیدې شي چې په افغانستان کې ښه چمتو پوځي کادرونه نه شته اویا ډېر لږ دي په سلګونو افغاني افسرانو په شوروي اتحاد کې زده کړې کړې، هغوی ټول په کومه سوړه ننوتي دي؟

تره کی: دهغوی زیات شمېر مرتجع مسلمانان یا اخوانیان دي. مور پرهغوی تکیه نه شو کولای .باورنه پرې لرو.

کاسیګین: دکابل نفوس څومره دی؟

تره کی: نږدې یومیلیون .

کاسیګین: که چېرې له هوایي لارې په بیړه وسله درورسوو ، آیا نه شی، کولای نور پنځوس زره عسکرراپیدا کړئ ؟څومره عسکرپیدا کولی شئ ؟

تره کی: مور کولای شو ، یوازې دځوانانو له منځه یو شمیر کسان را پیداکړو ،

خودهغوی روزنه ډیر وخت نیسي.

کاسیګین: او محصلین جلبیدای نه شي؟

تره کی: له محصلینو او دلیسو دیوو لسمو او دولسمو ټولګیو له زده کوونکو نه یوڅه جوړبدای شي.

کاسیګین: ایا دکارګړي طبقې له منځه څوک نه شئ غوره کولی.

تره کی: دافغانستان کارګره طبقه ډېر لږ شمېر لري.

کاسیګین: اونادار بزرګران څنګه ؟

تره کی: دښونځیو دپاسنیو ټولګیو په شاګردانو ،محصلینو اویوکم شمیر کارګروحساب کیدای شي، خودهغوی روزل اوږده کیسه ده، خوکه اړشو نوبیا به هرڅه ته لاس اچوو.

کاسیګین: مور پریکړه کړې چې پوځي مهمات په بیړه درولیږو، ستاسې هلکو پتړې اوالوتکې به دترمیم لپاره ومنو اوداټول په وړیاتوګه. دغه راز موو پتییله سل زره ټنه غنم درولیږو اودهرو زرومکعب متروګاز بیه له ۲۱ ډالرونه ۸۲ و۳۷ ډالروته لوړه کړو.

تره کی: داخوښه خبره ده ،خوراځئ دهرات په هکله وغږږو.

کاسیګین: ښه ده ایا نه یوازې دکابل، بلکه دنورو ښارونو له مترقی عناصرو څخه چې تاسې پرې تکیه کولی شئ یوڅونوې فرقې نه شئ جوړولی. مور به دارتیا وړوسله درکړی وای.

تره کی: افسران نه لرو. ایران خپل پوځیان په ملکي کالوکې رالیږي. پاکستان هم خپل افسران اوسړي په افغاني جاموکې رالیږي، شوروی اتحاد ولې نه شي کولی تاجکان ،ازبکان او ترکمنان په ملکي کالوکې راولیږئ هیڅوک به هغوی ونه پیژني.

کاسیګین: دهرات په هکله نورڅه ویلی شئ؟

تره کی: غواړو چې تاسې دتانکونو دچلولولپاره ازبکان، ترکمنان اوتاجکان راولیږئ. دغه ټول ملیتونه زمورږپه خاوره کې هم شته. دافغانانوجامې دې واغوندي. افغاني نښانونه دې ووهي، هیڅوک به یې ونه پېژني زمورږ په نظردایودیراسان کاردی. دایران او پاکستان تجربه ښیي چې داکارپه اسانۍ سره کیدلی شي. هغوی زمورږ سرمشق دی.

کاسیګین: بې شکه تاسې دې ستونزې ته په ساده ستر ګه ګورئ، دایو ه ستونزمنه نړیواله مسأله ده. خوله دې سره سره مورږ به بیا سره جرګه شو او هله به تاسې ته ځواب درکړو. زما په عقیده تاسې باید دنویو قطعود جوړولو هڅې پیل کړي وای. له بله ځایه په راغلیو خلکو تکیه کول په کارنه دی. دایران په انقلاب کې موولیدل چې خلکو څه ډول امریکاییان اوټول هغه کسان ایسته وغورځول چې ځانونه یې دایران دمدافعانو په جاموکې نغښتي وو.

راځئ داسې پریکړه به وکړو: مورږ مشوره کوو اوبیابه تاسې ته ځواب ووایو، اوتاسې په خپل وار له خپلوپوځیانو اوزمورږله سلاکارانو سره جرګه شئ، په افغانستان کې داسې وګړي نشته چې له تاسې څخه ملاتړ وکړي او دسرپه بیه ستاسولپاره وجنګیږي. همدا ځواکونه باید وسله وال کړای شي.

تره کی: زغره وال ګادۍ راته په الوتکه کې راولیږئ.

کاسیګن: تاسې یې دچلولولپاره وګړي لرئ؟

تره کی: د ۳۰- ۳۵ ګادولپاره چلوونکي پیدا کیدای شي.

کاسیګین: په هغوی ډاډه یاست؟ ایاله ګادۍ سره یوځای به غلیم ته ورنه شی

.زمور چلوونکی خوپه ژبه نه پوهیږي.

تره کی: تاسې ګادۍ له هغه چا سره راولیږی چې زمور په ژبه پوهیږی منظورمی ازبکان او تاجکان دی .

کاسیګین: ماله تاسې نه دهمدغسې یوه ځواب تمه درلوده. مور سره ملګري یو. مبارزه موشریکه ده. یوله بله شرم کول نه دي په کار تولوشیانو ته باید له همدې زاویې وکتل شي.

مور به بیا تلفون درته کوو. خپل نظربه درته وایو.

تره کی: زمور درناوی اودزړه له کومې هیلې ملګري بریژنیف او ټولې سیاسي بیوروته ورسوئ.

کاسیګین: مننه . تاسې هم خپلو ټولوملګروته زمور سلامونه ورسوئ ،اوتاسې ته دستونزوپه غوڅولو کې متین عزم، په ځان باور او هوسایي غواړم. په مخه موښه »

« د پوځونو دلیږلو لپاره دلیل نه شته »

دیکشنبې په ورځ ا. ن کاسیګین له ن . م. تره کي سره دخپلو تلفونی خبرو اوله کابله نن سهار درارسیدونکو ټلګرامونوپه هکله دسیاسي بیورو غږوته معلومات ورکړل. خبرواترو دوام ومونډ.

« اشد محرم

یونقل »

کیریلینکو: دهرات اووه لسمه فرقه نه زره منسوبین لری ،ټول یې هسې لاس

ترزني ناست اویادحکومت مخالفینو ته وراوښتي دي ؟

کاسیګین: زمور دمعلوماتو له مخې تراوسه یوازې یوتو پچې اویوپیاده غوند اوهغه هم ټول نه ، له مخالفینوسره یوځای شوی او پاتې یې دحکومت ننګه کوی.

اوستینوف: ترکومه ځایه چې دتاجکو خبره ده (باید ووایم) چې مور له هغوی نه جوړې ځانګړې قطعې نه لرو ، ان دا اوس ګرانه ده ووایو چې ددوی څه شمېر دتانګ په قطعو کې خدمت کوی.

کاسیګین : دهوایی مدافعې کنډک چې په هرات کې پروت و ، هم له مخالفینو سره یو ځای شوی دی.

استینوف : له امین سره چې مې خبرې کولې ، هغه هم هرات ته د پوځونود لېږلو او دغلیم دماتولو غوښتنه لرله.

کاسیګین : ملګری تره کی وایی چې دهرات فرقه سمه نیمه دغلیم ترڅنګ ولاړه ده او داسې ښکاری چې پاتې نیمه به هم دحکومت ملاتړ ونه کړی.

اوستینوف : امین ماته وویل چې افغانی انقلاب له غټو خنډونو سره مخ شوی او ژغورنه یې اوس یوازې دشوروی اتحاد په لاس کې ده.

خبره څه ده او ولې داسې پیښه شوی ؟ اصل موضوع داده چې دافغانستان مشرانو داسلام دین نقش ته کم ارزښت ورکړی و . سرتیری چې غوڅ اکثریت یې دیوې کمې کتلې په استثنی ، صادق مؤمنان دی ، داسلام تر بیرغ لاندې دریدلی دی. له دې امله هغوی له مور نه دهرات دیاغیانو دیرغل په ماتولو کې دمرستې غوښتنه کوی. ډیادونې وړده چې امین داسې زړه نازړه وویل چې پر خپله اردو

ډاډه دی. ده هم لکه د ملګری تره کی غوندې د مرستې لپاره لاس اوږد کړ.

کیریلینکو: یعنې دا چې هغوی پر خپل پوځ پوره ډاډ نه لری. هغوی په یوې پریکړې پورې زړه تړلی او هغه دا چې زمور تانکونه او زغره وال ګاډی ورشی.

کاسیګین: شک نشته چې مور باید مرستې په هکله د پریکړې له کولو مخکې، ددې کار عواقب په جدی توګه وسنجوو. دا بیخی جلا خبره ده.

اندروپوف: ملګرو ما ددې ټولو مسألو ژور جاج واخیست او دې نتیجې ته ورسیدم چې مور باید په ډیر سخت جدیت سره دا پوښتنه حل کړو چې دځه په خاطر افغانستان ته عسکر لیږو؟ د لږ غوندې ښکاره ده چې اوس اوس افغانستان بیخی چمتونه دی چې موجودې لانجې په سوسیالیستی طریقه حل کړی. هلته د مذهب بشپړه واکمنې ده. کلیوال وګړی له سره تر پښو په بیسوادۍ کې ډوب دی. اقتصاد بیخی وروسته پاتې دی او داسې نور. مور د انقلابی اوضاع په هکله دلینین په تیورۍ پوهیږو. په افغانستان کې د کومې اوضاع په باب خبرې کیږی، هلته اصلاً د غسې شرایط نه شته. له دې امله، زما په نظر د افغانستان د انقلاب یوازې زمور د تورې په زور ساتل کیدای شی او دا کار زمور لپاره اصلاً د منلو وړ نه دی. مور دا خطر نه شو زغملی.

کاسیګین: په دې کې څه وایئ که مور خپل سفیر ملګری د ینوګرادوف ته لارښوونه وکړو چې د ایران صدراعظم بازرګان ته ورشی او د افغانستان په کورنیو چارو کی دلاس وهنې له امله خبرداری ورکړی.

ګرومیکو: زه د ملګری اندروپوف له دې وړاندیز سره بیخی موافق یم چې باید

افغانستان ته د پوځونو دلیږلو خبره دې له سره وایستل شي. دهغوی خپل پوځ ډاډمن نه دی. له دې امله زمور لښکري چې افغانستان ته ننوځي، له یرغلګرو پرته به بل څه نه وی. هغوی به دچا خلاف جګړه کوی؟ ښکاره ده چې دافغان اولس خلاف او په لومړی ګام کې باید په همدې اولس ډزې پیل شی. ملګری اندروپوف بیخی پر ځای وویل چې دافغانستان حالات دانقلاب لپاره پاخه شوی نه دی او هغه څه چې مور په څو وروستیو کلو کې په دومره زیار تر لاسه کړی، یعنې دنړیوال تشنج کمښت او داسې نور، له خاورو سره به برابر شي، او البته په دې عمل سره به مو چین ته هم ښه ډالۍ برابره کړې وی.

ټول ناپیلی هیواد ونه به زمور خلاف ودریږی. لنډه دا چې داسې یو اقدام به ډیر جدی عواقب ولری. له کارترسره دلیونید ایلیچ کتنه به لغوه او دمارچ په پای کې دژسکاردستن دراتګ موضوع به تر پوښتنې لاندې راشی. پوښتنه دا ده چې زمور ګټه به څه وی؟ افغانستان له خپل ننني حکومت سره، له خپل وروسته پاتې اقتصاد سره او په نړیوال ډګر کې له خپل کم ارزښته نقش سره! له بلې خوا باید داهم له پامه ونه غورځول شی چې له حقوقی پلوه هم زمور دا عمل د توجیه ورنه دی. دملګرو ملتو دمنشور له مخې یو هیواد هغه وخت کولی شی (له بل هیوادنه) دمرستې غوښتنه وکړی او مور هم هله کولای شوای، خپل عسکر ورولیږو. چې له بهرنه پرې یرغل شوی وی. افغانستان له هیڅ بهرنی تیری سره مخامخ نه دی. دا دهغوی کورنی لانجه ده. دانقلابی ډلو ترمنځ اخ وډب، دخلکو دیوې ډلې جګړه له بلې سره. پردې ټولو سربیره باید یادونه وکړو چې افغانان په

رسمی توګه له مورِ نه د پوځونو دورلیږلو غوښتنه نه کوی.

لنډه دا چې مورِ له داسې یوې پیښې سره مخامخ یو: دهیواد مشر توب دخپلو جدی خطا وو له امله سپک شوی او دخپل اولس ملاتړ یې له لاسه ورکړی دی.

کیریلینکو : پرون په افغانستان کې یو ډول حالات وو او مورِ غوره ګڼله، کیدای شی دیو شمېر پوځونو له لیږلو سره موافقه وشی. نن شرایط بدل شوی او زمورِ خبرو، چې بیخی پرځای هم دی، بله بڼه غوره کړه او هغه داچې: مورِ ټول په دې نظر یو چې د پوځونو د لیږلو لپاره هیڅ دلیل وجود نه لری.

اندروپوف: پرون چې مو دا لانجه څېړله، لا افغانانو د عسکرو دورلیږلو خبره نه کوله. نن هلته شرایط بدل شوی دی. په هرات کې یو خنډنه، بلکه ټوله فرقه مخالفینوته وراوښتې ده. دامین له ننني خبرو ښکاری چې خلک د تره کی د حکومت ملاتړ نه کوی. په داسې یوه حالت کې آیا زمورِ عسکر مرسته کولی شی؟ چې خبره دې ځای ته ورسیږی نو بیا ټانکونه او زغره وال ګاډی هم څوک نه شی ژغورلی. زما په نظر تره کی ته باید مخامخ ووایو چې مورِ د هغه د ټولو اقداماتو ملاتړ کوو، هغه مرستې به ورکړو چې پرون اونن مو موافقه پرې وکړه، خونه شو کولی د پوځونو دورلیږلو وړاندیزومنو.

کاسیګین : په دې کې څه وایاست که هغه راوغواړو او ورته ووایو چې خپلې مرستې زیاتوو او پوځونه ځکه نه شو درلیږلی چې هغوی به مجبور شی ستاسو دیاغی عسکرو خلاف نه، ستاسې داولس خلاف وجنګېږی. د دې کار منفی عواقب ډیر زیات دی. درجن درجن هېوادونه به سمدلاسه زمورِ خلاف آواز پورته

کړی، او په دې کارکې زمور هیڅ ګټه نه شته.

اندروپوف : ملګری تره کی ته باید مخامخ وویل شی چې مور په هره بله وسیله، دعسکرو له درلیږلو پرته ستاسې ملاتړ کوو.

کاسیګین : باید هغه ځان ته راوبلو او ورته ووایو چې په هر ډول ستاسې ملاتړ کوو، خو عسکرنه شو درلیږلی.

کیریلینکو : دافغانستان مشرانو دحالاتو دښه کولو لپاره هیڅ ونه کړل. هغوی سل زره کسیز پوځ لری. دغه مشرتابه څه کړی دی؟ عملا هیڅ. او مور خو ملګری یو، افغانستان ته موټینګ لاس ورکړی دی.

ټول: پرځای خبره مو وکړه.

کیریلینکو : مور هغوی ته هرڅه ورکړل. نتیجه یې څه راوخته! هیڅ ګټه یې ورنه کړه. همدوی وو چې د بیګناه خلکو چاغاری کول یې پیل کړل او بیا دځان دسپینولو لپاره مور ته وایی چې ګواکې دلنین په وخت کنې مور هم خلک اعدامول. وګورئ، دغه دی مارکسیستان!

له پرونه راهیسې اوضاع بدله شوې ده. پرون مو لکه چې وویل، دپوځی مرستې دورکولو په هکله ګډنظر درلود، خو وروسته مو دا موضوع په دقت وڅېړله، بیلابیلې خواوې مو سره پرتله کړې، له پوځی مرستې پرته مو نورې لارې چارې ومومندلې. فکر کوم ښه به وی که لیونید ایلیچ ته زمور د دې پریکړې خبر ورکړو چې غواړو ملګری تره کی مسکو ته راوغواړو او ټول هغه څه ورته سپین سپین ووایو چې دلته مو موافقه پرې وکړه. څه وایاست که مور ریښتیا هم

پاکستان او ایران، خمینی او بازرگان ته ځانګړی لیکونه واستوو ؟

چرننکو: کـه مـوږ عـسکر ورولیږو او پر افغـان اولس لاس بری ومومـو، خـو خامخا به د تیری کوونکی تور راباندې ولګیږی. له دې خبرې نه تیښته نه شته.

اندروپوف: خامخا دې ملګری تره کی راوغوښتل شی.

کاسیګین: زما په نظر باید له لیونید ایلیچ سره له سلا - مشورې وروسته، همدانن، همدا اوس دې کابل ته الوتکه ولیږل شی.

کیریلینکو: ملګری کاسیګین دې له ملګری تره کی سره خبرې وکړی. که چیرې هغه نه غواړی په تاشکند کې پاتې شی او مسکوته راځی، نو بیا خو راځئ سلا-مشوره وکړو، کیدای شی لیونید ایلیچ یې حضورته ومنی.

ګرومیکو: زما په نظر غوره به وی که د سیاسی سندجوړول له ملګری تره کی سره ترخبرو وروسته پیل شی.

اندروپوف: زه وایم سمدلاسه دی دباغیانو سره د پاکستان دملاتړ په هکله یوه مقاله ولیکل شی.

اوستینوف: زما په نظر پکاردە مرستی په هماغـه ډول ترسره شی چې پرون مومو افقه پری وکړه.

تول: سمه ده.

اوستینوف: یوازې د عکسرو دلیږلو خبره دې تری وایستل شی.

کـاسـیګین: لنډه دا چې د عکسـرو له ورلیـږلو پرته، افـغـانسـتـان ته له خپلو مرستو څخه، بل شی نه کمـوو. هغوی به خپله اړشی، دهبواد درهبری له

مسألو سره په مسؤولیت چلندوکړی، او که دهغوی پرځای مورږ هرڅه ترسره کړو، انقلاب وساتو، نو دهغوی کارڅه شی دی؟ هیڅ. مورږ په هرات کې ۲٤ سلاکاران لرو، هغوی باید له هغه ځایه وایستل شی.

زامیاتین: ترکومه ځایه چې په دې هکله د تبلیغاتو خبره ده، مورږ دافغانستان په هکله مقاله تیاره کړې ده. بله مقاله، پاکستان او افغانی یاغیانو ته دچین دمرستې په هکله ده. همدانن باید مقالې مطبوعاتو ته ولیږل شی.

ټول سمه خبره ده.

چرننکو: ملګرو رائځ چې مشخص یې کړو. ملګری ترهکی دچاله خوا باید راوبلل شی؟

کیریلینکو: دا کار دې ملګری ا.ن. کا سیګین وکړی. هغه دې تره کی ته تلفون وکړی ورته دې ووایی چې بلل شوی یې. زړه دې مسکو ته راځې، که تاشکند ته.

«دغې جګړې ته ورګډېدل زمورږ له شان سره برابر نه وو»

دمارچ په ۱۹ د دوشنبې په ورځ بریژنف مسکو ته څېرمه له خپل استراحت ځایه، دمرکزی کمیټې ودانۍ ته راورسید. له دوو ورځو غور او له کابل سره له پیچلو خبرو وروسته دسیاسی بیرو دغړیو نظر، دافغانستان دحالاتو په وړاندې داحتمالی عکس العمل په اړوند دوه ځله بدل شو. داسې بدل شو چې یو دریځ دبل دریځ کټ مټ مخالف و. عمومی منشی د دې ټولو خبرو جاج واخیست.

«اشد محرم

یونقل»

بریژنف : ملګرو ، په افغانستان کې د پینبنو له هماغه پیله ، زه په جریان کې یم. د پرونۍ ورځې د پینبنو په هکله له امین سره د ملګرو ګرومیکو ا.ا. او اوستینوف د.ف. د خبرو په اړوند او په همدې ارتباط له ملګری تره کی سره د ملګری کاسیګین ا.ن. د مرکې په هکله معلومات راکړی شوی دی.

د څانګړو وسایلو ، په تېره بیا پوځی مهماتو او وسلو د سپارلو او دغه راز د سیاسی او سازمان ورکوونکیو اقداماتو په ګډون د یو شمیر هڅو اړوند اسناد مې لاسلیک کړل. په دې ډله کې ملګری کاسیګین ا.ن. ته د نده وسپارل شوه چې له ملګری تره کی سره خبرې وکړی. د افغانستان د پینبنو په اړه دې زمور مطبوعات او د ډله ییز ارتباط وسایل په لازمه بڼه عیار کړای شی. لنډه دا چې د شوروی اتحاد د کمونیست ګوند د مرکزی کمیتې د پریکړه لیک په مسوده کې ځای شوی ټکی چې د شنبې په ورځ وټاکل شول او ټول هغه اقدامات چې د شنبې او یکشنبې په ورځ نیول شوی ، زما په نظر بیخی سم بریښی. په افغانستان کې د موجودې لانجې په غوڅولو کې زمور د عکسرو د ګډون خبره هم را اوچته شوه. زما په نظر ، د سیاسی بیرو غوږیو سمه پریکړه وکړه چې په دې جګړه کې ګډون اوس زمور له شان سره سم نه دی.

په کار ده د ملګری تره کی او ټولو افغانی ملګرو غوږونو ته ورسول شی چې

مورِ له هغوی سره په هیواد کې د ټولو اقداماتو دبریالیتوب لپاره دخپل وس په اندازه مرستې کوو، خو افغانستان ته زمورِ د عسکرو تلل به نه یوازې مورِ، بلکه ترهرڅه دمخه هغوی ته زیان ورسوی. له همدې امله مورِ ته په کار ده، لومړی دملګرو ګرومیکو ا.ا. ، اوستینوف د.ف. ، اندروپوف ی. و. او کاسیګین ا.ن. څرګندونې واورو او له همدې سره به دافغانستان دکړکیچ په هکله مورِ د پریکړو پراو پای ته ورسو.

ګرومیکو : مورِ باید همدا نن دافغانستان دحالاتو په هکله جدی مسأله وڅیړو. مورِ په دغه هیواد کې د حالاتو د پرمختګ بهیر په غور تعقیب کړی، دخپلو سفارتونو کارکوونکو ته مو په دې اړه لارښونې کړی او داسې نور. مورِ په ډیره منظمه او زما په عقیده په پرله پسې توګه، کړی ورځ په افغانستان کې دخپلو استازیو له لارې بشپړ معلومات ترلاسه کړی دی.

نن ورځ زمورِ په وړاندې څه پراته دی؟ دافغانستان په یو شمیر ولایتونو، په تیره بیا هرات کې یاغیانو پاڅون کړی دی. دوی له کومه را پیدا شول؟ هغوی د پاکستان او ایران له خاورې استول کیږی. دا ټول دملګری تره کی دحکومت دښمن عناصر دی. دهغوی د پټولو لپاره یې هغوی ته افغانی کالی وراغوستی. دسلګونو زرو په شمیر په هرات کې راټول شول، دابغاوت یې پیل کړ او مورِ ته ناڅاپه دهرات د پیښو په هکله داطلاعاتو بهیر را پیل شو. دغلته یود دولتی فرقه ځای پرځای وه چې دنده یې دعامه نظم ساتل وو، خو له دې کبله چې د دولتی پوځونو یوه برخه له یاغیانو سره یو ځای شوه، ډزې پیل شوې، دسردرونو زیان

ورسیده، له زروزیات کسان ووژل شول. ما دافغانستان دحالاتو د ټولو اړخونو په اړوند دصدراعظم له مرستیال او دبهرنیو چارو له وزیر امین سره خبرې وکړې. باید اعتراف وکړم چې دهغه خبرې تر ډیرې اندازې پرځان دویسا څرګندوی وی. مور دامین دهمدې خبرو تراغیزې لاندې وو، خو وروسته بیا دامین (ډاډمن) حالت هم ګډوډ شو او پخپله یې داوینا پیل کړه چې دهرات فرقه ټوله له یاغیانو سره یوځای شوې ده. دهرات د پیښو په هماغه اوج کې دیمیتری فیودرویچ (اوستینوف) له امین سره غږبدلی و. امین له ده نه غوښتی وو چې شوروی اتحاد دې خپلې لښکرې افغانستان ته راولیږی بیخې لکه په جنګی فلمونو کې. افغانی مشران څرمره جدی مسألې په څه ساده ګۍ مطرح کوي. له دې وروسته ملګری کاسیګین ا.ن. له ملګری تره کی سره وغږېد. هغه ورته ویلی وو چې دافغانستان اوضاع کړکیچن ده او هغه هم هرات ته دپوځ دلیږلو غوښتنه لرله. دافغانستان پوله له افغانستان او ایران سره خلاصه ده. زمور سلاکارانو په خپلووخت کې یو شمیر وړاندیزونه کړی وو، خو دوی ورته غوږ ونه نیوه.

نن موږ خبر ترلاسه کړ چې دهرات وضعه هومره نا آرامه نه ده: دوه غنډونه لا اوس هم دحکومت په څنګ کې ولاړ دی. دا چې حقیقت چېرته دی، زه نه پوهیږم، خو داسې خبرونه مور ته رارسیدلی دی.

سړی کولی شی په پوره باور سره ووایی چې په افغانستان کې دننه او دهغه په ګاونډیو هیوادوکې، ددې ټولو خبرو اصلی مزی دامریکا په لاس کې دی. چین، ایران او پاکستان هم پوره ونډه لری.

یوځه هڅوونکی خبر گوتې هم رارسیږی، لکه دا چې وایی پرون په کابل کې د حکومت په ملاتړ پراخه مظاهره وشوه، خوله دې سره سره دچارو واګې د حکومت له لاسه وتلې دی.

البته مورږ نه شو کولای، د افغانستان په هکله د مسألو له حله ځان خلاص کړو، خو زما په فکر باید خپله لار او خپل سیاست ولرو او د ټولو ځانګړنو په پام کې ساتلو سره، باید پرخپله لار روان شو. که چیرې د عسکرو د استولو په څېر خطرناک ګام اوچت کړو، نو زیان به یې تر ګټو ډېر زیات وی. مورږ تر اوسه نه پوهیږو چې افغانی پوځ څه درېځ لری. خو که هغه زمورږ دورتګ ملاتړ ونه کړی، یا بیطرفه پاتې شی، نو بیا خو داسې ښکاری لکه مورږ چې افغانستان نیولی وی. په دې توګه به د نړیوال سیاست په ډګر کې، له تصوره پورته ستونزې راته جوړې شی. زمورږ دغه ګام به ټولې هغه برباوې له منځه یوسی، چې څومره په سختی موتر لاسه کړې دی، لکه: د څپ څپاندی (تشنج) کمښت. د سالت-۲ ټرون به له خاورو سره برابر شی او په دې هکله ټرون به اصلاً له منځه لاړ شی. په داسې حال کې چې د ټرون په اوسنی وخت کې زمورږ تر ټولو ستر سیاسی اقدام ګڼل کیږی. د لیونید ایلیچ کتنه به له کارتر سره تر سره نه شی او د ژنکار دستن د راتګ موضوع به هم شکمنه شی. له لویدیځو هیوادو، په تیره بیاد المان له اتحادی جمهوریت سره به زمورږ اړیکی خړپړې شی.

په دې توګه، د افغانستان له نازکو حالاتو سره سره، مورږ نه شو کولی د لښکرو له ورلیږلو سره موافقه وکړو. په عین حال کې، مورږ بیخی نه پوهیږو افغانستان

ولې د پاکستان دومره خیال ساتی، په داسې حال کې چې دغه هیواد د افغانستان خلاف بنکاره تیری پیل کړی دی. پرون (په دې هکله) د افغانستان د حکومت اعلامیه خپره شوه، خو دومره ټُنده نه وه.

مور افغانستان ته ډیرې مرستې ورکوو. د اچې افغانی مشران به په راتلونکی کې څه دریځ ونیسی، اټکل یې ګران دی. هلته د حالا تو عادی کول هم چندان اسان نه بریښی، خو د اهم بې اساسه بنکاری چې سړی ووایی، هلته هرڅه له لاسه ووتل. زما په فکر که افغانی مشران په ځان کې ځواک ومومی، خپل هڅې سره هماهنګې کړی، نو حالات د دوی په ګټه بدلون مومدلی شی.

کاسپیګین: پرون مجبور شوم له ملګری تره کی سره دوه ځله خبرې وکړم. هغه وایی چې هرڅه د نړیدو په حال کې دی او عسکر باید ورولیږل شی، هرات چې هره بنه غوره کړی، هغسې حالت به په ټول افغانستان کې راشی. هغه وویل چې که هرات یې له لاسه ووځی، نور نو څه نه ورته پاتې کیږی. د هغه په وینا، پاکستان غټې ډلې چې افغانی کالی یې اغوستی دی، ورلیږی. د هغوی په حساب، د غسې ځلور زره کسان تر اوسه (هیواد ته) ورننوتی دی. د هرات په هوایی ډګر کې ۵۰۰ تنه شته. ما تري پوښتنه وکړه: په هرات کې څوک ستاسو پلوی شته که نه؟ ملګری تره کی په ځواب کې وایی چې نړدې ټول اوسیدونکی د مذهبیانو تر اغیزې لاندې دی. هغه وویل چې له ۲۰۰ - ۲۵۰ تنو پورې هلته د دغو پیښو لارښوونه په غاړه لری. ما پوښتنه وکړه: آیا هلته کارګران شته؟ هغه ځواب راکوی چې ټول ټال نړدې دوه زره تنه. زه پوښتنه کوم: ستاسو په نظر د هرات د پیښو د پرمختګ

لرلیدشه دی؟ هغه رټ ځواب راکوی چې هرات به سبا سقوط وکړی، خو لاتراوسه مقاومت کوی.

هغوی غواړی نوې قطعې جوړې او هرات ته یې واستوی. دملګری ترډکی په عقیده، ټول تښتیدلی ناراضیان به سره یوشی دکابل په لوربه بریدپیل کړی اوهله به دده دحکومت وروستۍ ورځ راورسیږی دهمدی له امله هغه دعسکرو دوراستولو غوښتنه کوی. ما ورته وویل: اوس درته ځواب نه شم ویلی. موږ به داموضوع په غور وځېړو، فکر به پرې وکړو او بیا به ځواب درته وواى.

لکه چې وینئ له ملګری ترډکی سره خبرو څه جوړوونکې پایله نه لرله. هغه دهرات دسقوط خبره کوله او دعسکرو دورلیږلو غوښتنه یې درلوده. ما ترې پوښتنه وکړه: ستاسې په نظر موږ باید څه وکړو چې سیاسی اقدام له پوځی هڅو سره پیوند شی؟ ترډکی ماته وایی: تاسو په خپلو الوتکو او ټانکونو افغانی نښانونه ووهئ او بیا یې له سرحده پر هرات ورمخکې کړئ. ما ورته وویل دابه دافغانستان خلاف دشوروی اتحاد مخامخ برغل وي ماترې وپوښتل ایاتاسوله افغانانوله مینځه سرتیرې، په تېره بیا دټانکواو جنګی ګاډو چلوونکی موندلی شئ؟ هغه وویل: کولای شی خوپه لږشمیر ماورته دخپلو هوا ځیزو مرستو، دنورو سلاکارانو او کار پوهانو داستولو په هکله خبرې وکړې.

البته موږ ته دیو متحد دولت په توګه دافغانستان ساتل په کار دی. په عین حال کې باید پاکستان هم له پامه ونه غورځوو او دافغانستان په چارو کې دلاس وهنو له امله باید ورته اخطار ورکړو. دایران په وړاندې هم باید ورته چلند وشی.

زمونږ پیغام باید هم خپلمنی او هم بازرگان ته واستول شی. مونږ باید ورته سند دایران په هکله هم خپور کړو. که له پاکستان او ایران سره پوله ټرلې وای، نو دا به ښه و.

زما په نظر داسې یوه اقدام تر سره کول، لکه افغانستان ته دیوه ښه سفیر استول هم ګټور دی. دملګری تره کی له خبرو داسې برینښیده چې هغه حتی نه پوهیږی، حکومت یې پرچا ډډه ولګوی. هلته دستر سیاسی کار تر سره کولو ته اړتیا ده، او یوازې په دې صورت کې کولی شو، افغانستان دخپل متحد په توګه وساتو.

بریژنف: پاکستان او ایران ته پیغامونه همدا نن باید واستول شی.

اوستینوف: پرون سهار مې له امین سره خبرې کولې. له لیونید ایلیچ سره تر مخکینی مشورې وروسته مې هغه ته دهغو مرستو خبره وکړه چې مونږ یې ورسره کوو او په راتلونکی کې به یې هم وکړو. امین وایی: شوروی اتحاد زمونږ ښه او لومړنی دوست دی. وروسته هغه له پاکستان او ایران نه په ګیلو خوله پرانیستله چې ددوی خاورې ته ډیر ورانکاری ورلیږی او دغه ورانکاری دچینایی سلاکارانو له خوا دهغوی په خاورکې روزل کیږی، په چینایی وسلو سمبالیږی او بیا دپولې له لارې افغانستان ته ورننوځی. په افغانستان کې دفیوډالانو له خوا سخت مخالفت موجود دی. وروسته هغه دهرات خبره راواوچته کړه او لکه د تره کی غوندې یې دتانکونو دوراستولو غوښتنه وکړه. ما ورته د وسلې دلیږلو په توګه، له افغانستان سره دمرستې خبره وکړه. هغه وویل دا مرسته ښه ده، خو اوس مهمه،

د عسکرو لیږل دی.

بریژنف: دهغوی خپل پوځ تس-نس کیدونکی دی او موږ باید څه ددوی پرځای دجګړې پیټی پرخپلو اوږدو واخلو!

اوستینوف: موږ دافغانستان په پوځ کې ګډ شسپر سلاکاران لرو. ژبارونکی هم شته. ما امین ته ووېل چې موږ نور ژبارونکی هم وراستولی شو.

که ریښتیا خبرو شی نو په افغانستان کې اصلاً هیڅ اطلاع نه شته. کابل له هرات سره هیڅ مخابراتی اړیکی نه لری. په دغه ښار کې دبریښنا د تولید یوه کوچنۍ دستګاه فعاله ده، باغی او حکومت ته خاین پوځیان دغرونو لور ته په شاځی.

نن دهرات حالات لږ څه ښه شول. ښار آرام دی. البته نخښکی ډسابل باید وروامستول شی. دیر به ورولیږو. موږ به د ترکستان په پوځی حوزه کې دوه نورې فرقې او دمنځنۍ آسیا په پوځی حوزه کې، یوه فرقه جوړه کړو. دړې ځنده کولی شی، ددریو ساعتو په ترڅ کې افغانستان ته ځان ورسوی. زه دا خبرې ددې لپاره کوم چې خپل چمتووالی څرګند کړم. زه هم دنورو ملګرو په څیر افغانستان نه د پوځونو له لیږلو سره مخالف یم. له ناسې نه دافغانستان پولې نه څرمه دغندیونو او فرقو په ګډون د ناکتیکی ټرینانو دسرته رسولو اجازه غواړم. دبادولو وروسته چې افغانی مشرتوب دیرې مسألې خرابې حل کوی اوله دې املې زموږ سلاکاران په دغسې شرایطو کې کارکول ګران بولی.

اندروپوف: لومړې خبره چې باید مطرح شی، دحالاتو نازکوالی دی، خو سره

له دې حالات دومره هم له ناهیلی نه ډک نه دی. دافغانستان دحالاتو اصلی ستنه چیرې ده؟ خبره په مشرتابه کې ده. مشران هغه ځواکونه چې له دوی نه ملاتړ کوی او دوی کولی شی پر هغوی اتکاء وکړی، نه پیژنی. مثلاً نن په کابل او هرات کې پورې درندې مظاهرې وشوې، خو مشرانو له دغو ډله ییزو اقداماتونه لازمه ګټه اوچته نه کړای شوه. توضیحی کارونه، نه یوازې، د پوځ په منځ کې، بلکه په ټول هېواد کې خراب پرمخ بیول کیږی. هغوی خپل سیاسی مخالفین اعداموی. دراډیو غږ نه اوریدل کیږی، ځکه چې لیږدوونکې دستګاه یې ډیره کمزورې ده. مورږ باید له هغوی سره دګرځندو رادیویی مرکزونو مرسته هم وکړو.

امین عملاً ټول واک په خپل لاس کې راټول کړی و، خو ایله همدا پرون یې د دولتی امنیت دنوی رئیس او د بل لوی درستیز تاکل منظور کړل. په دې توګه د مشرتابه سیاسی بنسټ تریوې اندازې پراخ شو.

زمورږ له لورې هلته سلاکاران شته چې مشریې دګوندی چارو سرمشاور ملګری ویسیولوف دی. زما په نظر، دی دومره تکړه سړی نه دی او دچاروله عهدی څخه په اسانۍ نه شی وتلی. څه وایاست که هلته د مرکزی کمیټې دکارکوونکو له ډلې نه کوم ملګری ولیږو. هلته مشاورین ډیر دی. ک. ګ. ب هم هلته ډیر مشاورین لری.

زما په فکر، د عسکرو د لیږلو په هکله پریکړه نه ده په کار. د عسکرو لیږل به دامانا ولری چې سړی داولس خلاف ودریږی، اولس د خپلې او اولس په ګوډیو وولی. مورږ ته به د تیری کوونکی په ستر ګه وکتل شی او ټولې زمورږ لپاره د منلو

ورنه دی.

پوناماریوف: په شوروی اتحاد کې ۴۶۰ افغانی افسران زده کړې کوی. دا تقریباً پاخه افسری کادرونه دی او کیدای شی سمدلاسه یې افغانستان ته ستانه کړو.

اگارکوف: افغانانو د ۱۶۰ افسرانو دژر فارغولو غوښتنه کړې ده.

اوستینوف: له ملگری ترهکی سره باید خبرې وشی چې دا خلک هلته ږوا ستوو او له هغوی نه دې هلته دافسرانو په توگه کار واخیستل شی.

دکاپیتانوف: ترکومه ځایه چې زمور دگوندی مشاور ملگری ویسیولوف خبره ده، نو دا یو ښه تکړه سړی دی. هغه دمرکزی کمیټې کارکوونکی و. څه موده یې دباشقردستان دولایتی گوندی کمیټې دوویم منشی دنده هم پرغاړه درلوده. دی ځوان او له ځواکه ډک ملگری دی.

پوناماریوف: ملگری ترهکی او امین د «پرچم» دگوند دغړو په وړاندې غټې تیرو تنې وکړې. دې گوندله غړونه یې دیر ملگری هسې خوشې په خوشې له تیغه تیر کړل.

اوستینوف: زمور گوندی سلاکاران پوره لیاقت نه لری. دهغوی شمیر هم لږ دی، فکر کوم پنځه تنه دی خو په وړاندې یې ستر کار پروت دی.

کاپیتانوف: ریښتیا د چې هلته دملگری ویسیولوف په مشری نول تال پنځه سلاکاران لږو، خو مور لگیا یو څو نور ملگری هم غورد او هلته واستوو.

بریژنف: زما به فکر مور باید هغه اقدامات منظور کړو چې دی خو ورځو په

لرکې وتاکل شول.

ټول: ښځې سمه ده.

بریژنف: په کارده اړوندو ملګرو ته دنده وسپارو چې دغه اقدامات په جدیت سره اجرا کړي او که دافغانستان په هکله نوې پوښتنې رامنځته کیږي، نو هغه دې سمدلاسه سیاسي بیورو ته وړاندې کړي.

ټول: سمه ده.

بریژنف: په دې توګه نو پریکړه کوو:

ملګري ترډکي دې سبا دمارچ په شلمه شوروي اتحاد ته راوبلل شي. خبرې اتري به کاسیګین، ګرومیکو او اوستینوف پرمخ بوځي او وروسته به یې زه هم ومنم.

ټول: دا به ډیره ښه کار وي.

«خلک به تاسوونه بخښي»

دمارچ په شلمه ترډکي مسکو ته راورسید او همدلته یې دهغو غوټو دحلاصولو زبار پیل کړ چې افغانستان ورسره مخامخ شوی و. هغه د شوروی اتحاد له خوا افغانستان ته دغیر پوځي مرستو دلیږلو ژمنې. البته په غور واوزیدې، خو هغه سمدلاسه پوځي تخنیک، وسلو، مهماتو او تر ټولو زیات شوروي مستشارو ته اړتیا درلوده. دا ډول دغوښتنو کولې شول، افغاني انقلاب حتمي نیمګړتیاوې کندې ته دغورځیدو پاتې وو.

ترډکي دشوروی مشرانو له ډلې نه لومړی له ا.ن. کاسیګین، ا.ا. ګرومیکو،

د.ف. اوستینوف او ب ن. پوناماریوف سره کتنې وکړې.

«اشد محرم

مخصوصه دوسیه»

کاسیگین: ستاسې سورو مورته دنده سپارلې. پولې غځه موضوعګانې چې تاسو دهغو په باب دنظر راکړه ورکړه ضرور ښولې، له تاسو سره وخېږو. لکه چې تاسوته معلومه ده زما ډګر له شپږونه تر شپږنیمو بجو پورې له لیونید ایلیچ برېژنف سره دستاسې کتنه په پام کې نیول شوې ده.

مورږ په لومړي سر کې فکر کاوه چې لومړی به تاسوته دخبرو وار درکوو، خو څرنګه چې ستاسې له خوا یوه مهمه موضوع دبحث لپاره وړاندې شوې ده، نوځکه غواړم لومړی خپلې نظریې درته وواياو وروسته به په پوره پاملرنه ستاسو خبرو ته ونیو واورو.

زه خو دمخه غواړم په دې ټکي ټینګار وکړم چې دشوروی اتحاد او دافغانستان دموکراتیک جمهوریت ترمنځ دوستۍ څه دفرصت غوښتنې او موقتي ملحوظاتو له مخې نه ده، بلکه دابوده تلپاتې دوستۍ ده. مورږ دهغو غلیمانو په وړاندې چې همدا اوس ستاسو مخې ته درېدلی او دغه راز دهغو دښمنو ځواکونو په وړاندې چې نه غواړي په راتلونکې کې ورسره مخامخ شئ، دمبارزې په غرض له تاسو سره مرستې کړې او له دې وروسته به یې هم وکړو.

مورږ ستاسو په هیواد کې دحالاتو جاج په دقت سره اخیستې او دداسې مرستو

د درکولو لارې چارې مولتولی چې په ډیره ښه بڼه زمونږ د دوستۍ اوله نورو هیوادو سره ستاسو دا ړیکو غوښتنو ته ځواب ووایی. ستاسو په هیواد کې رامنځته شوې ستونزې، کیدای شی په بیلابیلو ډولونو له منځه لاړې شی، خو تر ټولو غوره یې هغه لاره ده چې په خلکو کې ستاسو د حکومت اعتبار وساتل شی. له ګاونډیو هیوادو سره دافغانستان اړیکی خړپړې نه کړی او په نړیوال ډګر کې ستاسې دهیواد دریځ ته په کې زیان ونه رسیږی. باید اجازه ورنه کړو، داسې وبرینښی چې ګواکی تاسې خپلې ستونزې خپله نه شئ هوارولی او د مرستې لپاره مو بهرنی پوځونه راوبلل. غواړم دویتنام مثال ذکر کړم. ویتنامی اولس د امریکا د متحدو ایالتونو په وړاندې بری وموند او اوس د چینایی تیری کوونکو په وړاندې ولاړدی، خو هیڅوک نه شی کولای پر ویتنامیانو باندې، له بهرنیو عسکرونه د کار اخیستلو تور ولګوی. ویتنامیان د خپلو متو په زور په میړانه دیرغلګرو په وړاندې د خپلې خاورې دفاع کوی. زمونږ په عقیده ستاسو په هیواد کې هم کافی ځواک شته چې د انقلاب ضد یرغلونو ته ځواب ووایی، خو یوازې په کار دده، هغوی په ریښتونی توګه یو موټی کړای شی، نوی پوځی ټولګی منځ ته راوړل شی. ما په تلفون کې په دې هکله له تاسو سره خبرې وکړې. د دې تکی په پام کې نیولو سره چې د نویو پوځیانو روزنه یو څه وخت غواړی، د نویو پوځی قطعو جوړول ښه همدغه شیبه پیل شی. د غه اوس هم تاسو پرحالاتو د برلاسی له پاره کافی وس لرئ. یوازې په کار ده چې ټول کارونه سم پرمخ یووړل شی. د هرات بیلګه په ډاګه کې وینئ. داسې په نظر درتلل چې ګواکی هر څه ونړیدل، چې ګواکی غلیم

هلته د تل لپاره پښې ټینګې کړې، چې ګواکې ښار د انقلاب ضد په ټاتوبی بدل شوی دی، خو چې تاسو کله په ریښتیا سره دې کارته متې راونغښتې، نو پر خالاتو د کنترول وس مو وموندە. همدا اوس مور خبر واخیست چې د سهار په یوولسو بجو پوځی چونې چې داووه لسمې پلې فرقې یاغی برخه په کې ځای پرځای وه، دهوایی بمباریو اوله کندهار نه دورغلیو ټانکونو د ګوزارونو په نتیجه کې، ستاسو د کوماندو قطعې له خوا ونیول شوه، حکومت ته وفادار پوځونه خپلې سویلی لانورې پراخوی.

په اوسنی پراوکې، مور خپله دنده ګڼو چې تاسو د هر ډول احتمالی نړیوالو سختیو په وړاندې وساتو. مور به تاسو ته په هره ممکنه وسیله مرستې درکړو: وسلې او مهمات درکوو. دهیواد اقتصادی او پوځی چارو په لارښوونه کې د مرستې لپاره به سړی درلیږو، ستاسی پوځیانو ته د پرمختللی جنګی تخنیک اووسلې د زده کړې لپاره به کارپوهان دراستوو خو ستاسې خاورې ته زمور دلښکرو لیږل به سمدلاسه نړیوالې ټولنې ته ټکان ورکړی او بې له ځنډه به هر ارخیزې منفی نتیجې رامنځته کړی. په واقعیت کې به دا نه یوازې له امپریالیستی هیوادو، بلکه له خپل اولس سره شخړه شی. زمور او ستاسو ګډ دښمنان له خدایه غواړی چې شوروی عسکر افغانستان په خاوره کې ولیدل شی. له همدې څخه به هغوی ستاسې خاورې ته دوسله والو باندونو درالیږلو له پاره دلیلې ګټه واخلی. غواړو یو ځل بیا په ټینګار ووایو چې د عسکرو د استولو موضوع مور سخې هرارخیزه وڅېړله، د دې اقدام ټولې خواوې مو په دقت سره

وسنجولي او دي پايلي ته ورسيدو چي د عسکرو په درليږلو سره به ستاسو دهيواد وضعه نه يوازې ښه نه شي ،بلکه نوره به هم خرابه شي. د دې خبرې هيرول هم نه دي په کار چې زمور عسکر به اړوی ، نه يوازې له بهرنی يرغلګر ، بلکه ستاسو داولس له کومې برخې سره هم په جګړه لاس پورې کړی او خلک چا ته د داسې شيانو عفوه نه کوی. سربيره پردې ، همدا چې زمور د سرتيرې پښه له پولی درواوړی ، نو د چينايانو او نورو يرغلګرو مخ به سپين شي.

مور دې نتيجې ته ورسيدو چې اوس اوس له تاسو سره تر ټولو د ګټورې مرستې ډيره غوره لار ، ستاسو پرګاونديو هموادو ، زمور له خوا د سياسي فشار واردول او تاسو ته د سترو او هر اړخيزو مرستو د بهير روانول دی. له دې لارې به مور د بريې ښې نتيجې ترلاسه کړو ، نسبت دې ته چې خپل عسکر دروليږو. ټينګ باور لرو چې ستاسو او زمور له خوا د سياسي اقداماتو له لارې کولی شو ، غليم له پښو غورځوو. مـا په تلفون کې له ... سره په دې موضوع خبرې کړې وې چې افغانستان ته په کار ده له ايران ، پاکستان او هند سره ښه اړيکې ټينګې کړی ، چې هغوی ، ستاسو په کورنيو چارو کې دلاس وهنې له هر ډول پلمې نه بې برخې پاتې شي . ګرکومه خاپه چې په مور او ستاسو اړيکو کې پيدا کوی ، نو مور همدا نن د پاکستان او ايران مشرانو نه دوه ... سره چې به جدي سره په کې ، له هغوی نه د افغانستان په چارو کې د نه لاس وهنې غوښتنه شوې ده. مور دا اقدامات په خپله بې له دې چې تاسو په کې راګډ کړو ، سرته رسوو. دا وو هغه ملاحظات چې غوسل مي د ملګرو سره شريکې يې درنه عرض کړه.

ن.م. تره کی : دهغې موضوع په وراندې چې غونډتل مې مطرح یې کړه، دشوروی مشر تابه د دریځ په هکله له هر اړخیز وځرګندونو څخه د زړه له کومې مننه کوم. زه هم ستاسو دیو دوست په توګه اوبې له مسامحه کاری خپل نظر وراندې کوم. په افغانستان کې هم عقیده داده چې منځ نه راغلې ستونزې باید په سیاسی وسیلو غوڅې شی او پوځی اقدام باید یوازی مرستندویه بسه ولری او بس په سیاسی ډګر کې مو یو شمیر اقدامات وکړل او قانع شولو چې داولس اکثریت له مور سره دی. دهرات د پیښو له املې زما له راډیویی وینا وروسته یوازې په یوه ورځ کې د هیواد په ځینو ښارونو کې ۱۰۲ مظاهرې وشوې چې ګډون کوونکو یې دخمینی او دهغه دګوډاګیانو پرضد شعارونه له ځانه سره وړل. دې خبرې مور باوری کړو چې زمور کورنی دښمن دومره هم پیاوړی نه دی. دې خبرې هم پرمور ښه اغیزه وښندله چې دپوځ یاغی شوې برخې دادی خپلې وسلې په زمکه اینبی دی.

زه هم په خپل وار غواړم تینګار وکړم چې زمور ددو هیوادو ترمنځ اړیکی عادی بین الدولتی اړیکوته هیڅ ورته نه دی. دهغې بنسټ پر طبقاتی دریځ، ګډې ایدیالوژی او ګډ سیاست ولاړ دی، زمور په هیواد کې هم لکه ستاسو، واک په کارګرې طبقې او بزګرانو پورې اړه لری چې هغوی یې دا شرافت او فیوډالانو له منګولو نه راخلاص کړی دی. زمور انقلاب، زمور طبقاتی دښمنان لیونی کړی دی. زمور انقلابی بدلونونو، که دفیوډالانو او ملاکانو له لوړه دبزګرانو خلاصول. بې زمکو بزګرانو ته دزمکو وېش او نورو، دافغانستان په خلکو کې

زمونږ د خلکو اعتبار لوړ کړ او د پاکستان او ایران په ټولنو کې یې مثبتې اغیزې وکړې. د دې خبرو د دغو هیوادو مرتجعین وبیرول او ځکه نو هغوی زمونږ د هیواد خلاف ورانوونکې هڅې چټکې کړې. له تورونو ډک تبلیغات یې پیاوړي کړل او زمونږ حاوري ته یې د ورانکارو باندونو په رالیږلو پیل وکړ. هغوی خپل تبلیغات له دغه ځایه پیل کړل چې مونږ یې په الحاد او له اسلام نه په مخ گرځولو تورن کړو. ... یې ... پر مونږ د نورو رنگارنگ تورونو لګول پیل کړل. پاکستانی تبلیغ ... د ښځو د آزادۍ او په ټولنه کې هغې ته دوړ مقام د ورکولو په هکله زمونږ ... ت وغندل. کله چې مو د ځمکو اصلاحات پیل کړل. نو د پاکستان حاکمې ډلې د دې خبرې په درک سره چې داکارونه پر پاکستانی اولس انقلابی اغیزه ښندي. زمونږ پر خلاف یې په سبوتاژ او ورانوونکو عملونو لاس پورې کړ. پاکستانی واکمن له دې خبرې نه سخت وډار یدل چې په ټول دغه هیواد کې د مظاهرو لړۍ پیل شوې چې شعارونه یې داوو: «ژوندی دې وی دافغانستان د موکراتیک جمهوریت!» «ژوندی دې وی تره کی!»

* نه یوازې له انقلاب ور ... له هیواده د تښتیدلیو اخوانیانو راستنیدل پیل شوی، بلکه د لې ډلې یوځی قطعې چې افغانی یونیفورم یې اغوستی وی زمونږ حاورې ته راننوځی چې دلته په ورانکاریو او سبوتاژ لاس پورې کوی شوروی ... نه ... نه سفر او زمونږ د هیوادو ترمنځ د ډیر معتبر سندتر لاسلیک وروسته امریکایی امپریالیستانو او نورو مرتجعو ځواکونو دافغانستان د یموکراتیک ... لاس پورې کړ. هغوی ... شول چې افغانستان ... په ...

توګه دلویدیځ له منګولو وتلی دی. دامریکې، پاکستان او ایران دډله ییز ارتباط وسایل زمور خلاف له ناروا وو ډک مطالب خپروی چې مور ته په کې سپکاوی کیږی. دامپریالیستانو او نورو مرتجعینو دافغانی ضد هڅو اصلی علت له شوروی اتحاد سره دافغانستان نږدې دوستی دد.

نن له پاکستان، ایران او هند سره دافغانستان دارېکو دښه کولو خبره هم ډاډه شوه، خو زما په عقیده دا ډیر ګران کار دی، ځکه نه ایران او نه هم په تیره بیا پاکستان له مور سره د دوستۍ غوښتونکی دی.

کاسیګین: دادی همدا اوس دضیاء الحق اعلامیه راورسیده چې په کې ویل شوی، دافغانستان پیښې ددغه هیواد کورنی لانجه ده او پاکستان نه عواړی په هغو کې لاس ووهی. په دې اعلامیه کې ویل شوی چې پاکستان یوازې دبشړی ملحوظاتو له مخې ۳۵ زره افغانی کډوالو ته مرستې ورکوی او هغه هم یوازې تر هغه وخته چې دهغوی فعالیت له افغانستان سره د پاکستان اړیکو ته زیان نه رسوی.

تره کی: هغوی هسې دهیومانیزم نوم اخلی، خو په اصل کې زمور خلاف دوراڼکارو دروزنې لپاره کمپونه جوړوی.

کاسیګین: فکر مه کوئ چې مور دومره ساده یو چې دضیاء الحق هره خبره زره ته پرې باسو، خو که نور نه وی نو اعلامیه خپره شوی او هغه ادپاکستان پراړوند یو ډول مسؤولیت وراچوی.

پوناماریوف: ښکاری دا چې دضیاء الحق داو ښاغلی ریاګان په ورځپاڼه کې

دخپرې شوې مقالې په وړاندې یو عکس العمل دی.

کاسیګین: ښکاره ده چې پاکستانیان وارخطا شول. هغوی پوه شول چې نه یوازې تاسې، بلکه موږ هم پرې فشار راوړو.

ترډکی: «پراودا» بیخې په موقع سره دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت خلاف ددسیسو دغندنې مقاله خپره کړه. دې مقالې زموږ پرګاونډیانو ژوره اغیزه وکړه. زه، البته له تاسو سره په دې کې موافق یم چې په کار دی دسیاسی فشار له وسایلو ګټه واخیستل شی او دا چې جګړه ډیر خطرناک کار دی. بې ځایه به وی که د پاکستانیانو، ایرانیانو، امریکایانو او چینایانو له خوا زموږ دهیواد خلاف د وړاندوونکو اعمالو اصلی دلایل په تفصیل بیان کړم. زه یوازې غواړم تأکید وکړم چې موږ ستاسو دوستانو او یو به اودا چې له هیڅا سره به داسې تودې اړیکې ونه لرو، لکه له تاسو سره. موږ له لینن زده کړې او زده کوو یې. موږ دلنین په دې لارښوونه ښه پوهیږو چې دګاونډیو هیوادو سره دا ډول اړیکو جوړول څه ډول په کار دی. موږ له ګاونډیو هیوادو ډاډیکو دښه کولو غوښتونکی یو خو امریکائیان زموږ دلارې خنډ کیږی. امریکائیان تشنج ته لمن وهی او دمترقی هیوادو په وړاندې په وړانکاریو اخته دی. هغوی دغسې عملونه په تیروخت کې دځوان شوروی دولت په وړاندې کړی او اوس یې دکیوبا، حبشې، موزمبیق او جنوبی یمن خلاف ترسره کوی. موږ ددغسې دسیسو په وړاندې مقاومت کوو او هرارخیزه هڅه کوو چې دوسلې په زور حکومت ونه کړو، بلکه دزیار ایستونکو په ګټه ددیموکراتیکو انقلابی بدلونونو له لارې دخلکو په زړونو کې ځای وموموـ. ددغو مقصدونو لپاره

موتر اوسه دادی دوه سوه ملیارده افغانی لګبدلی دی. خلک اوس پوهیدلی چې دوست یې څوک او دښمن یې کوم دی؟ له هغې وروسته چې مذهبیان زمور په وړاندې دخپلو پخوانیو تبلیغاتو په نه اغیزمنتوب باور ی شول، حبل باکتیک یې بدل کړ او اوس چیغې وهي چې افغانستان دشوروی په سیوري سره شوی، چې افغانستان یو کمونیست پلوه دولت جوړ شوی، حې افغانستان له لس زره شورویان راغلی او هغوی ګواکې دتولوشیانو لارښوونه پر عمارد لری.

خپلې خبرې لنډوم: غواړم ووایم چې زمور اصلي اندیښنه له ایران او پاکستان نه دورانکارو دراتګ احتمال جوړوی. که څه هم البته پاکستانی او ایرانی مشرانو څه ستاسو لیکونه به ډیر ګټور واقع شی او دهغوی عقلونه به سره ورولی.

کاسیګین: دادی یو بل خبر. ایرانی واکمنو امر کړی چې تول بهرنی کارګران دې دا پریل تر ۲۱ او بهرنی کارپوهان دې دجون تر ۲۱ له دغه هیواده ووځی. دایرانی حکومت په وینا کې راغلی دی چې تر کومه دبهرنیو کارپوهانو خبره ده چې دایران داقتصاد لپاره زیات ارزښت لری، نو دهغوی دوتلو خبره به به هره ځانګړې برخه کې په جلا توګه څیرل کیږی.

تره کی: دا یادونه ترهر څه لومړی دامریکائیانو لپاره ده. مور ته داسې اطلاعات رارسیدلی چې ایرانی حکومت غواړی هغه امریکایی کارپوهان چې هیواد ته ورستانه کړی چې دهلیکوپترو دمونتاژ په کار لګیاوو.

کاسیګین: مور هم دا اوریدلی، خو په ایران کې زمور دکارپوهانو شمیر تر امریکائیانو زیات دی. که زمور دکارپوهانو دراستنولو خبره رابورته شی نو

دایران دفلز ویلی کولو ستره فابریکه به له کاره ولویږی او نورې مهمې کارخانې به هم په تپه ودرپږی، هو ریښتیا په ایران کې څومره افغانان مزدوری کوی؟

تره کی: له دوه سوه زرو نه یې شمېر کم نه دی. هغوی ۵-٦ کال مخکې دداود دواکمنۍ په وخت کې او ان تر هغه مخکې هلته تللی وو. که دهغوی دشړلو خبره ریښتیا شی نو بیا به دمزدورانو ترنامه لاندې دورانکارو رالیږل هم پیل شی، ځکه دظاهری بڼې له مخې دافغان او ایرانی توپیر کول ډیر ګران دی. غواړم دافغانستان دپوځی اړتیاوو خبره یاده کړم. موږ دزغره والو هلیکوپټرو، دنورو زغره والو ګاډو او محاربوی ماشینونو او دغه راز دعصری مخابراتی وسایلو دترلاسه کولو غوښتنه کوو. که چیرې ددغوشیانو دکارولولپاره پرسونل هم پیدا شوی وای نو دا به له موږ سره غټه مرسته وای.

اوستینوف: فکر کوم مقصد مو می-۲٤ ډوله هلیکوپټرې دی چې دګولیو ضد زغره لری. شپږ دغسې هلیکوپټرې به دجون - جولای په لړکې او شپږ نور به یې د روان کال په څلورمه ربع کې درکړل شی. کیدای شی ددغوشیانو دتهیه کولو موده رالنډه کړای شی.

تره کی: موږ دغسې هلیکوپټروته سخته اړتیا لرو او ښه به دا وای که هغه موله پیلوټانو سره یوځای راکړی وای.

کاسیګین: موږ په هوایی ډګرونو کې دناستو هلکوپټرو دسمبالتیا لپاره کار پوهان درکولی شو، خو دالوتکو لپاره عمله نه شو درکولی، موږ په دې موضوع مخکې له تاسو سره غږیدلی یو.

اوستینوف : تاسوته دخپلو پیلوټانو روزل په کار دی. دلته افغانی افسران زده کړه کوی او مور کولی شو، هغوی په مستعله توګه فارغ کړو.

تره کی : کیدای شی له هانوی یا له کومه بله ځایه مثلاً له کیوبا نه پیلوټان راوغواړو ؟

کاسیګین : لکه مخکې مې چې وویل، مور ویتنام ته ډیرې مرستې ورکړی او لا ورکوو یې، خو هغوی هیڅکله له مور نه د پیلوټانو غوښتنه نه ده کړی. هغوی خپله ویل چې یوازې تخنیکی کارپوهانو ته اړتیا لری خو پروازی عمله له خپلو وګړونه جوړولی شی. له مور سره څلور سوه افغانی افسران زده کړه کوی چې لیست یې له تاسو سره شته. دا اړتیا وړکسان په کې غوره کړئ. مور د هغوی روزنه او فراغت چټکولی شو.

تره کی : مور غواړو چې دهلیکوپترو سپارلو خبره ډیره چټکه شی، مور هغوته ډیره اړتیا لرو.

کاسیګین : مور به یوځل بیا ستاسو په غوښتنه غور وکړو او که امکان یې درلود نو دا کار به چټک کړو.

اوستینوف : خو تاسو ته په کار ده چې په عین حال کې د دغو هلیکوپترو د چلولو لپاره د پیلوټانو غم هم وخورئ.

تره کی : البته مور به دا کار وکړو، که مور هغه نه درلودل، نو بیا یې په نورو هیوادو کې لټوو. نړۍ سترده ده. که تاسې له دې خبرې سره موافقه نه کوئ، نو بیا به مور دلته د زده کړې په حال کې افغانی افسرانو له مینځه پیلوټان غوره کړو، خو

زمور ډاډمن کسان په کار دی، اما د هغو افغانی افسرانو په منځ کې چې پخوا د زده کړو لپاره شوری اتحاد ته رالیږل شوی، زیات شمیر یې اخوانیان او ما ډیستان دی.

کاسیګین: البته تاسې ته په کار دي چې دلته د زده کړې په حال کې افغاني افسران ښه وڅیړئ. اخوانیان، کولی شو اصلاً بیرته درو شړو او هغه شمیر چې تاسو باور پرې لرئ په مستعجله توګه فارغ کړو.

اوستینوف: سږ کال ۱۹۰ افغاني افسران خپلې زده کړې دلته پای ته رسوي. په دې لړکې ۱۶ د الوتکو او ۱۳ د هلیکوپټر وپیلوټان دي. موږ به په افغانستان کې د پوځی لوی سلاکار جنرال ګاریلوف له لارې تاسو ته د مسلک په تفکیک د دغو فارغانو لستونه دروسپارو. تاسو خپله کولی شئ د اړتیاوړ کسان د ځان لپاره غوره کړی؟

تره کی: سمه ده. موږ به دا کار وکړو. خو ستونزه دا ده چې موږ په انقلابي ضد ډلو پورې تړلي کسان په نامه نه پیژنو. یواځې دومره راته معلومه ده چې د داود په وخت کې اخوانیان او د «شعلۀ جاوید» په نامه د چین پلوې ډلې غړي شوروی اتحاد ته د زده کړو لپاره رالیږل کیدل. موږ به هڅه وکړو چې هغوی تفکیک شي.

کاسیګین: داسې ښکاري چې تاسو زموږ د هغې پریکړې له مخې چې پرون مانښام مو کابل ته خبر درکړی و، له موږ نه د پوځي تخنیک ټمه لرئ که څنګه؟ په دغه پریکړه کې دسترو پوځي مرستو، د سلوزرو ټنو غنمو د سپارلو، د افغاني ګاز دهرو زور مکعب مترو له ۲۴ نه ۳۷ ډالرو ته د بیې د لوړولو خبرې راغلي دي.

آیا تاسو له دغه سند سره آشنا یاستئ ؟

تره کی: نه خیر. لکه چې د دې فرصت چاونه مونده چې د هغې په باره کې معلومات راکړي.

کاسیګین: کیدای شي دا سند، مسکو ته ستاسو له الوتنې نه لږ مخکې دررسیدلی وي. د روان کال په مارچ کې به نوره وسله هم په وړیا توګه درکړو، لکه: ۳۳ محاربوي ماشینونه. له یوه نه تر پنځو مي - ۲۵ ډول هلیکوپټرې، ۸ مي - ۸ ت ډوله هلیکوپټرونه او دغه راز (۵۰) عرادې زغره وال ګاډي، (۶۰) عرادې پ.ب ډوله ګاډي، (۲۵) عرادې د کشف زغره والې موټرې، (۵۰) عرادې د هوایی مدافعې ګرځنده دستګاوې او د «ستریلا» په نامه د هوایي مدافعې سیستم. د مارچ په ۱۸ نیټه مو مي - ۸ ډوله څلور هلیکوپټرې درلیږلې او د مارچ په ۲۱ به څلور نورې هلیکوپټرې هم درکړل شي. دا ټول شیان مورږ وړیا درکوو.

تره کی: له داسې سترو مرستونه مو د زړه له کومې مننه کوم. په کابل کې به ځان له دغه سند سره مفصل اشنا کړم. غواړم اوس زیاته کړم چې سل زره ټنه غنم زمورږ لپاره بس نه دي. سږنی منی مورږ پوره حاصل نه شو تر لاسه کولی، ځکه زمکه والو چې د زمکې د مصادرې خبره اوریدلې وه نو اصلاً یې هغه ونه کرلې او په ځینو ځایو کې یې اصلاً کروندې له منځه یووړې.

کاسیګین: ین: سل زره ټنه غنم به هله در سپارل کیږي چې ولیدل شي په پوله کې هغه څنګه تسلیموئ او څه ډول یې د هیواد (بیلابیلو برخو) ته رسوئ. تاسو

به د غنمو له حمل او نقل سره ستونزې ولرئ. ځکه مور ته خپلو ترانسپورتي کارپوهانو ویلي چې ستاسو له کوتلونوڅخه د میاشتې یوازې ۱۵ زره منه غنم تیریدلی شي. تر هغو چې تاسو دا سل زره ټنه غنم «هضموئ» مور به په دې خبره غور وکړو چې وړاندې څه کولی شو.

تره کی: مخکې پاکستان ژمنه کړې وه چې ۲۰۰ زره ټنه غنم به پرمور پلوري، خو وروسته له خپلې دې ژمنې په شا شو. ترکیې هم د ۷۰ زرو ټنو غنمو د پلورلو خپله خبره بیرته واخیسته. مور اوس لږ تر لږه (۳۰۰) زرو ټنو نورو غنمو ته اړتیا لرو.

کاسیګین: که تاسو له پاکستان نه د غنمو پیره ود لوته چمتو وئ، نو یعنې چې پیسې لرئ. مور کولی شو ستاسو لپاره له امریکایانو غنم واخلو ادبیا یې تاسو ته درولیږو. مثلاً ۲۰۰ زره ټنه غنم به ۲۵ ملیونه روبله (څلویښت ملیونه ډالره) تمام شي.

تره کی: د دومره پیسو برابرول به زمور لپاره ګرانه خبره وي.

کاسیګین: هومره چې کولی شئ تیارې کړئ، مور به د هغې مطابق تاسو ته غنم واخلو.

تره کی: که لازمې پیسې پیدا نه کړای شو، نو بیاله تاسو نه د غنمو د مرستې هیله کوو. مور د غه راز ستاسو د پورونو او د هغو د ګټو د بیاورکړې ځنډول غواړو. مور خپله پوځي بودجه په دې امید سنجولې چې تاسو به د دغو پورونو ورکړه ځنډوئ.

کاسیګین: مورږ په خپلو وړیا مرستو سره ستاسو له پوځی بودجې سره د پام وړ مرسته وکړه. مورږ به د خپلو پورونو د بیرته راکړې د ځنډولو خبره هم وشیږو. مورږ به دا خبره وشیږو او بیا به خبر درکړو چې په دې برخه کې کولی شو څه وکړو.

تره کی: مورږ دغه راز په ټوله نړۍ کې د تبلیغاتو د کولو لپاره یو غښتلی رادیو ستیشن ته اړتیا لرو. زمورږ رادیو ډیره کمزورې ده. په داسې حال کې چې د کوم ملاله تورونو ډکه وینا د سترګو په رپ کې د لویدیځ د ډله ائیز ارتباط د وسایلو له لارې په ټوله نړۍ کې انګازې کوی، زمورږ د رادیو غږ تقریباً هیڅ نه اوریدل کیږی.

پوناماریوف: مورږ د خپل لوړې د افغانستان دیموکراتیک جمهوریت د بریا وو په تبلیغ کې ستره ونډه لرو او د هغه غلیمان په ټینګه ځپو «پراودا» د مقالې په هکله خو مخکې خبرې وشوې، په ننني ګڼه کې ستاسو وینا چاپ شوې ده. دا به د رادیو له لارې ایران، پاکستان او نورو هیوادو ته هم خپره شی. په دې توګه مورږ ستاسو د رادیو کمزورتیا په خپلو اقداماتو سره جبیره کوو.

تره کی: ستاسو تبلیغاتی ملاتړ زمورږ لپاره خورا ارزښت لری، خو بیا هم مورږ غواړو، نړیوال زمورږ خپل غږ هم واوری. له دې امله هیله کوم له مورږ سره د زړو کیلو واټو په توان د یوې نوې رادیو یې دستګاه په جوړولو کې لاس وکړئ.

کاسیګین: مورږ به دا خبره هم وشیږو. له خپلو کارپوهانو سره به سلا - مشوره وکړو، خو تر کومه ځایه چې ما ته معلومه ده، د یوې نوې رادیو یې دستګاه جوړول ډیر وخت نیسی.

پوناماریوف: مورِ به د ګوندی سلاکارانو په ډله کې د تبلیغاتی چارو مشاورین هم د رولیږو. تاسو کولی شئ هغوی ته د سوسیالیستی هیواد و له لارې د تبلیغاتی ملاتړ د جلبولو په برخه کې خپلې نظریې او وړاندیزونه و وایاست.

اوستینوف: د نورو جنګی وسلو او تخنیک له لیږلو سره جوخت، افغانستان ته د نورو پوځی کارپوهانو او سلاکارانو د لیږلو خبره هم را او چتیږی.

تره کی: که ستاسو په نظر د غسې اړتیا وجود ولری، نو مورِ هم د هغوی منلو ته چمتو یو. ایا تاسو اجازه راکوئ چې مورِ د نورو هیواد و پیلوټان او ټانکستان راوغواړو؟

کاسیګین: کله چې مورِ د پوځی کارپوهانو خبره کوو، مقصد مو هغه پوځی تخنیکران وی چې دوسلې په کار اچولو کې مرسته کوی. زه هیڅ نه پوهیږم ولې سمدلاسه د پیلوټانو او ټانکستانو خبره راولاړیږی. دا پوښتنه زمورِ لپاره بیخی ناڅاپی ده. زه فکر کوم چې سوسیالیستی هیواد ونه به له دې کار سره موافقه ونه کړی. پرټانکونو د پردو خلکو کښیناستل او ستاسو پر اولس ډزې کول، یوه حساسه سیاسی مسأله ده.

تره کی: مورِ به وګورو، له هغو افغانانو څخه چې مخکې دلته دزده کړو لپاره رالیږل شوی وو، څومره ګټه اخیستلی شو. کیدای شی له تاسو نه د هغو کسانو دروزنې غوښتنه وکړو چې مورِ یې په خپله غوره کوو؟

اوستینوف: البته چې مورِ یې دزده کړې لپار د منلو ته چمتو یو.

کاسیګین: د دې غونډې خبرې چې رالنډې کړو نو ویلی شو چې ستاسو لپاره،

زمور له خوا ډیوې قوی راډیویی دستگاه خبره پر مور پاتې ده. دغه راز د پوځی تخنیک دسپارلو د چتکتیا خبره هم مطرح ده. تاسو به لکه چې مور پوه شو، هڅه وکړئ، دهغو افغانانو له ډلې نه چې دلته یې پوځی زده کړې کړی، دهلیکوپټرو پیلوټان دځان لپاره غوره کړئ. کله تاسې نورې غوښتنې لرلې نو کولای شئ دشوروی سفیر اولوی پوځی سلاکار له لارې یې راولیږئ. مور به هغه په غور سره څیړو او وړ چلند به کوو.

مور دغه راز دامپریالیستانو او دارتجاع ددسایسو په وړاندې دافغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت دننګې لپاره دسیاسی اقداماتو پر سر موافقه وکړه. مور به له خپل لوری پر هغوی دسیاسی اغیز دښندلو کارته دوام ورکوو. زمور مطبوعات به هم دافغانستان له ډیموکراتیک جمهوریت څخه پرله پسې ملاتړ کوی.

زمور په نظر مهمه ده چې تاسو په خپل هیواد کې درژیم دتولنیز تکیه ځای پراختیا ته پاملرنه وکړئ. خلک خپلې خواته رامات کړئ. اجازه ورنه کړئ چې دحکومت او خلکو ترمنځ دپردیتوب (احساس) منځ ته راشی. او بالاخره وروستی خبره. دا خبره د څیړنې لپاره نه بلکه یوه هیله ده او هغه دا چې تاسو باید دخپلو کادرونو په وړاندې په احتیاط اوزړه سوی سره چلند وکړئ. په کار ده چې دکادرونو څارنه او مراقبت وشی او له هغوی سره انفرادی چلند وشی. هر سړی باید مخکې له دې چې په کومه دنده ګمارل کیږی، ښه وپیژندل شی.

تره کی: ستاسو مقصد له افسرانو او جنرالانو څخه دی؟

کاسیګین : هم افسران، هم جنرالان او هم سیاسی شخصیتون. یوځل بیا وایم چې دا موضوع مې د څېړنې لپاره نه ده مطرح کړې، بلکه خپلې نظریې درته څرګندوو.

تره کی : مور په مجموع کې له خپلو کادرونو سره په زړه سوا ندې چلند کوو، خو دهرات پیښو وښودله چې زمور چاپیریال ته اخوانیانو نفوذ کړی دی او هغه څوک چې له هغو سره دی مور ورته کومه دنده نه سپارو.

کاسیګین : مور نه غواړو له تاسونه ګیله وکړو، یوازې یادونه کوو چې په کادری سیاست کې تیروتنې ډیر ترخه عواقب لری. مور دا کار په خپله تجربه کړی. دی. دستالین په وخت کې، تاسو ته معلومه ده، زمور ډېر افسران په زندانونو کې پراته وو او کله چې جګړه ونښته، ستالین ارشوهغوی جبهې ته واستوی. دغو خلکو له خپله ځانه پوره اتلولی وښوده. ډیریې په ستړو قوماندانانو بدل شول. مور نه غواړو ستاسو په کورنیو چارو کې لاس ووهو، خو دا یادونه کوو چې له کادرونو سره زړه سوی چلند غوره کار دی.

تره کی : تر کومه چې زه ستاسو له خبرونه پوه شوم، تاسو له مور سره مرستې کوئ او وبه یې کړئ، خو د تیری په وړاندې زمور د ننګې ضمانت نه شئ کولی.

کاسیګین : مور له تاسو سره مسأله له دې ارخه هیڅ څېړلې نه ده. مور داوسنی پرا و په هکله وغږیدو، وموویل چې په اوسنی وخت کې تر ټولو اغیزمنه لار په سیاسی وسایلو سره ستاسو دهیواد ساتنه ده. تاسو ته نه ښایی، زمور خبرې داسې درک کړئ چې ګواکې مور تاسو بیخی د تقدیر لاس ته ورسپارو.

تره کی: دري ډوله ملاتړ وجود لري: سیاسی، اقتصادی او پوځی. دوه ډوله مرستې تاسو کوئ، خو که زمور پرخاوره له بهرنه تیری وشو، نو بیا به تاسو څنګه کوئ؟

کاسیګین: که چیرې ستاسو پر خاوره وسله وال تیری مطرح وی، نو دا به جلا حالت وی. اوس اوس زمور ټوله هڅه دا ده چې دغسې یو تیری ونه شی، او زما په فکر مور دغه مقصد ته رسیدلی شو.

تره کی: زه دا خبره ځکه کوم چې چین په جدیت سره پاکستانیان زمور خلاف لمسوی.

کاسیګین: کله چې د تیری خبره رامنځته شی، هلته نو حالات بیخی بیل رنګ غوره کوی. چینایان دویتنام په برخه کې په دې خبره قانع شول او اوس هغه دچا خبره هسې خپلې منګولې مښی. ترکومه ځایه چې دافغانستان خبره ده، مور هڅه کړې چې هغه له بهرنی تیری نه وساتو. ما مخکې وویل چې په دې اړوند مو د پاکستان جمهور رئیس، خمینی او دایران صدر اعظم ته لیکونه استولی دی.

تره کی: زموذ دسیاسی بیرو غړی، مسکوته زما په سفر خبر دی. کابل ته له ستنیدو وروسته اړیم چې هغوی ته د خپلو کتنو د نتیجو په هکله معلومات ورکړم. آیا کولی شم هغوی ته ووایم چې شوروی اتحاد به دافغانستان له دیموکراتیک جمهوریت سره یوازې سیاسی او څه نورې مرستې وکړی؟

کاسیګین: هو، سیاسی ملاتړ او دوسلو او نورو شیانو دسپارلو له لارې نورې ډیرې مرستې. دا زمور دسیاسی بیورو پریکړه ده. په دې هکله به ل. ای. بریژنف

له تاسو سره په خبرو کې چې لس دقیقې وروسته پیل کیږی، معلومات درکړی، فکر کوم تاسو به افغانستان ته، زمونږ په مرستو ډاډه او په خپلو کړنو باوری ستانه شئ.

تره کی: له شوې کتنې نه ډیره خوښی، کوي د پراخو مرستو له املې چې په سختو ورځو کې له افغانستان سره کیږی، دزړه له کومی مننه څرګندوی.

«له پوځ نه هیڅ شی مه سپموئ ...»

دمارچ دشملی ورځې د په ماښام بریژنف له تره کی سره وکتل. له هغوی دواړو پرته په «ستاروی پلوشچاد» (زاړه ډګر) کې دعمومی منشی په مجلل دفتر کې ا.ن. کاسیګین، ا.ا. ګرومیکو، د.ف. اوستینوف او ب.ب. پوناماریوف هم حاضر وو.

له اوږدو مقدمو پرته بریژنف سمدلاسه اصلی موضوع ته ورننوت. هغه وویل: دافغانستان حکومت ته په کار ده، دهرات له پیښو وروسته، دمنځ ته راغلی حالت داصلاح لپاره زیاتې هلې ځلې وکړی. خوداهم کافی نه ده. نه یوازې دهغه خطر دله منځه وړلو لپاره باید ځانګړی ګامونه پورته شی، چې دهیواد نوی حکومت ورسره مخامخ دی، بلکه دانقلاب دبریاوو دتینګښت چاره هم باید پر مخ یووړله شی.

بریژنف په تکرار سره، دحکومت دټولنیز بنسټ پر پراختیا ټینګار وکړ، زیاته یې کورچې دواکمن ګوند یووالی باید وساتل شی او فرقه یی شخړوته ښویدل نه

دی په کار. بریژنف چې د محفل یو ازینی ویناوال و، خپلې خبرې اوږدې کړې او دافغانستان د حکومت د کمزورې تبلیغاتی کار یادونه یې وکړه. عمومی منشی د احتمالی پوښتنې د مخنیوی لپاره، دافغانستان خاورې ته د شوروی لښکرو د ورننویستلو د مسألې څېړنې ته د پای ټکی کیښوده: د قواوو د لیږلو او یا په ډاګه د هغو له لیږلونه د انکار یادونې ته اړتیا نه شته.

بریژنف د پوځی سلاکارانو او کارپوهانو د فعالیت له څېړنې وروسته، دافغانستان د دولتی پولو د ټرلو خبره رااوچته کړه. له ایران او پاکستان په زرګونو وسله وال باندې یتان خاورې ته راننوځی، وسله او مهمات راننویستل کیږی، خو پوله لکه چې پرانیستې وه، هغسې پرانیستې ده. هغه وویل: مونږ په شوروی اتحاد کې د غسې یو شی ته اجازه نه شو ورکولی او البته ټوله هڅه د دې لپاره په کار ده چې پوځ د انقلابی واکمنی ترځنګ ټینګ و د ږیږی. د دې لپاره د هیڅ شی سپمول نه دی په کار. د اچې په رامنځته شویو حالاتو کې څه ډول چلند په کار دی، تاسو پرې ښه پوهیږئ، یوازې دیوه ټکی یا دول لازم ګڼم. مهمه دا ده چې قوماندانان باید پرخپل د ریځ باندې د ډاډ احساس ولری. له هغه پوځ نه د ډیر څه تمه کول خوشی عبث دی چې قوماندانان یې ژر ژر بدلیږی، را بدلیږی. دا خبره په تیره بیا هغه وخت ډیره د پاملرنې وړ ګرځی چې د قوماندانانو په ګوښه کولو پسې، بندیانول هم را روان وی.

ډیر قوماندانان چې په دې پوه شی، څه ډول یې ملګری بندیان او تری تم کیږی، په خپل را تلونکی باندې باور له لاسه ورکوی. د دې ټولو خبرو مانادانه د

چې ګڼې دهغه چا په نسبت دې له ترټولونکو اقداماتو څخه کار نه اخیستل کیږي چې له انقلابي واکمنۍ سره په خیانت یې کافي شواهد موجود وي، خودا توره ډیره تېره ده او ګټه اخیستل تر ډیر او لا ډیر احتیاط غواړي. »

له تره کي سره د بریژنف په خبرو کې د هرات د مارچ د میاشتې پېښې چې د افغانستان له انقلابي واکمنو څخه یې وارپار خطا کړې و، تر ډیرې اندازې برجسته شوې. د مارچ په ۱۵ پیل شوی دولتي ضد پاڅون په مسکو کې د پاملرنې اصلي ټکی و. دا ځل تره کي او د هغه پلویان، د شوروی پوځونو له مرستې پرته، چې په تیره بیا د مارچ د میاشتې په دغو شپو ورځو کې یې د هغو د بللو سخته هڅه کوله، بریالی شول چې حالات ارام او ترکنترول لاندې راولي.

په دغه حال کې د هرات پېښو شوروی مشران د یو شمیر جدي اقداماتو کولو ته اړکړل. تر ډیرې اندازې دا خبره له دې امله چې ټکه شوه چې د پاڅون په هماغه لومړیو ورځو زمور یو پوځي سلاکار او دوه کارپوهان چې په دغه ښار کې یې کار کاوه، ووژل شول. دوه ورځې وروسته د شوروی اتحاد د دفاع وزیر مارشال د. اوستینوف امر وکړ د الوتکو له لارې، افغانستان ته د لیږلو لپاره د ډهوایي ډیسانت فرقه تیارسي کړی شي. دوه موتوریزه غنډونه د ډ له بشپړ پرسونل سره د کوشک په سیمه کې ځای پرځای کړای شي او د منځنۍ اسیا له پوځي حوزې نه د ډ یوه موتوریزه فرقه د ترمز ښار ته ولیږدول شي. د مارچ په اتلسمه د مارشال اوستینوف په امر د ترکستان د پوځي حوزې په چوکاټ کې دوه نورې فرقې جوړې شوې. د اپریل په میاشت کې دغو فرقو پوځي تمرینات ترسره کړل او له هغه وروسته

راتول شوی پرسونل بیرته خپلو خپلو ځایونو ته ستون کړی شو. داتول کارونه ددې لپاره ترسره کېدل چې وښودل شي، شوروی اتحاد په ګاونډی افغانستان کې دحالاتو دقیقه څارنه کوی او هره شیبه چمتو دی، دخپل مخکینی لاسلیک شوی ترون له مخې عمل وکړی.

د پیښو نیټه لیک (کرونولوژی)

دمارچ په ۲۳ نیټه تر سختو جګړو وروسته، مخالفو ډلو دقلعه نو او غورماچ اولسوالۍ ونیولې چې ایله څو ورځې وروسته بیرته دحکومت له خوا آزادې شوې. جلال آباد ته څېرمه په غرنیو سیمو کې دیاغیانو فعالیتونو زور واخیست. دمارچ په ۲۵ حکومتی عسکر اړشول چې دبالامرغاب بند خوشی کړی. داسعدآباد چارچاپیر سختې جګړې روانې وې. په همدې ورځ وسله والو ډلو له پاکستان سره په پوله کې دپراته ولایت - پکتیا دځائیو پر اولسوالۍ دبری هڅه وکړه.

دمارچ په دیرشمه یاغیانو دمیمنې دجنوب لویدیځ په پنځوس کیلومتری کې دقیصار په سیمه کې خپل جنګی فعالیت چټک کړ. د اسعدآباد دشمال لویدیځ په پنځه ویشت کیلو متری کې داسمار او مانوګی پر دولتی پوځی چوکیو، دفیوډالانو وسله والو بانډونو څوځوځله یرغلونه وکړل.

«ورانکاری، سبوتاژ او مقاومت»

له افغانستان نه دشوروی سفارت داستخباراتو او زمور دسلاکارانو له لارې رارسیدلی او پراتیفی اطلاعات دتحلیل کوونکو له خوا په غور څېړل کیدل. دهمدې اطلاعاتو پر بنسټ دبهرنیو چارو او دفاع وزیرانو، د. ک. ګ. ب. رئیس

اودشوروی اتحاد دکمونیست گوند دمرکزی کمیټې دنړیوالو اړیکو دځانګې دمشرله خوا «شوروی اتحاد دکمونیست گوند د مرکزی کمیټې یادداشتونه» په نامه سندونه، چې دګوتو په شمېر کسانو لپاره وو، چمتو کیدل او دسیاسی بیورو غړیو ته استول کیدل. په هغو کی نه یوازی دافغانستان دحالاتو په ګډون دموجودی وضعی، علتونه او دلایل تشریح کیدل، بلکه دهیواد دسیاسی مشرتابه لپاره یې مشخصې لارښوونې هم لرلې. دغسې یو یادداشت د ا. ګرومیکو، ی. اندروپوف، د. اوستینوف او ب. پوناماریوف له خوا د ۱۹۷۹ کال د اپریل په لومړی نیټه تیار شوی و. یوولس ورځې وروسته سیاسی بیورو دیادداشت له متن سره موافقت وښود او تردیرې اندازې یې دهمدې پر بنسټ دافغانستان دحالاتو په باب خپله راتلونکې کړنلاره وټاکله.

«اشد محرم

ځانګړې دوسیه»

دشوروی اتحاد دکمونیست گوند مرکزی کمټه

د روان کال دمارچ اتلسمې نیټې د (پ ۱۴۷\پ) ګڼه لارښوونې له مخې دافغانستان په دیموکراتیک جمهوریت کې دحالاتو دورستنۍ خړپړتیا دعواملو او دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت مشرتابه ته دخپلو دریځونو دپیاوړتیا او پرحالاتو دکنترول دټینګولو لپاره، زمور دراتلونکو احتمالی مرستو په هکله وړاندیزونه ستاسو حضور ته تقدیمیږی.

د تیرکال د اپریل انقلاب په یوه وروسته پاتې فیوډالی هیواد کې منځ ته راغی چې د اقتصاد ډیره ابتدایی بڼه او محدود کورنی منابع لري. له پخوانی رژیم نه ښې ډیرې تولنیزې، اقتصادی او سیاسی لانجې ورپاتې شوې دی.

د طبقاتی جګړې په تودیدو سره دجبهې په یوه لوری کې دزیارایستونکو د ګټو نماینده - د افغانستان دخلکو دیموکراتیک ګوند او په بله خوا کې هغه ځواکونه ودرېدل چې دزمکه والو او فیوډالانو، د کمپرا دورې پانګوالی او د ډیرو ارتجاعی روحانی کړیو نماینده ګی کوی.

افغانی ارتجاعی قوتونه دوګړو له عامې بیسوادی، پیچلو ملی او قومی اړیکو، مذهبی تعصب او افراطی ناسیونالیزم نه ماهرانه ګټه اخلی.

ورانکاری، سبوتاژ او مقاومت چې د نسکورو شویو زیښناکګرو طبقو له خوا کیږی، د اقتصادی ستونزو د لازیاتوالی، د صنعتی او کرنیزو تولیداتو د کمښت، د کاری فعالیت د سطحې د ټیټوالی، د بیودلوړوالی او دولتی بودجې ته د عوایدو د راتګ د کمښت سبب ګرځی.

د ارتجاعی ځواکونو هلې ځلې چې په روان پراو کې یې په «اخوان المسلمین» تکیه شویو اسلامی مشرانو له خوا لارښوونه کیږی، د نوې واکمنې په وړاندې د دښمنانه ګډ دریځ پر بنسټ د بیلتون غوښتونکو او د ناسیونالیستی ډلو او د غه راز د «شعلهء جاوید» د ماویستی ډلې له فعالو انقلابی ضد هڅو سره غوټه کیږی.

ارتجاعی ځواکونو چې د اپریل انقلاب له چټک او تړه یره حده ناڅاپی بری نه

وروسته، اوس په خپلې ورځپاڼې بری موندلی، یوبل ته یې سره دیووالی لاس ورکړ. هغوی دمبارزې بڼه هم بدله کړه. له پټو ورانوونکو هڅونه یې ښکاره وسله والو یرغلونوته لاس واچاوه. هغوی نه یوازې دهیواد دننه دخپلو ډلو په سمبالې بریالی شول، بلکه له بهرنیو امپریالیستی او مذهبی کړیو سره یې هم هراړخیز پ اړیکی تینګې کړی دی چې پراخ تبلیغاتی او دغه راز د پیسو او وسلو مرستې ورسره کوی. دانقلاب ددښمنانو تاکتیک دادی چې دجګړې جبهې پراخې شی او حکومت اړشی، خپلې ګوزارېزې قواوې دهیواد پر بیلابیلو سیمو وویشی.

ارتجاع تر ښکاره کمونیستی ضد او شوروی ضد افراطی شعارونو لاندې عمل کوی او وایی چې مقصد یې په هیواد کې ددیموکراتیک انقلابی نظام ړنګول او د «آزاد اسلامی جمهوریت» جوړول دی.

دافغانستان دخلکو دیموکراتیک ګوند په مرام کې دزیارایستونکو پرګنو په ګټه دپراخو سیاسی، اقتصادی او ټولنیزو بدلونونو دپلی کیدو اټکل شوی دی، خو دا طرحې یوازې اوس اوس دعمل کیدو په حال کې دی او دخلکو اساسی برخې لاتر اوسه دنوی نظام په برتری نه دی پوهیدلی او دهغه په مترقی ځانګړتیا لانه دی باوری شوی. په هیواد کې دپیړیو پیړیو وروسته پاتی والی له منځه وړل، دهغو ستونزو او لانجو غوڅول چې نوې واکمنی ورسره هماغه له پیله مخامخ شوه، دوخت غوښتنه کوی او پرله پسې پلان شوی او ډیر ښه سنجول شوی چال چلند ته اړتیا لری. ددیموکراتیک افغانستان مشران عملاً مجبور دی دولتی پرسونل (اپارات) له سره جوړ کړی، دهیوادوسله وال پوځ په نوې بڼه سمبال او پیاوړی

کړی او د ګوندی او دولتی جوړښت عملی تجربې راټولې کړې.

داولسی واکمنۍ کمزورې برخه داده چې تر اوسه یې په ولایتی، ښاری او کلیوالی اداری او سیاسی ارګانونو کې د ځان لپاره تکیه ګای نه دی مونلدلی، په داسې حال کې چې له دې لارې ممکنه وه په مرکز او اطرافو کې د دولتی چارو ادارو ته زیارایستونکی راکش کړی شی.

دنوې واکمنۍ اصلی ستونزه له اسلامی روحانیت او د مخالفو قبیلو له مشرانو سره دوه اړخیزې اړیکی دی. دغه دوه عناصر په اوسنی افغانستان کی ستر ځواکمن قوتونه دی. د دغسې ستونزې د حل لاره چې دډیر دقیق او سنجول شوی چال چلند غوښتنه کوی، تر اوسه نه ده موندل شوې، او دغه دواړه ځواکونه داوسنی رژیم د خطرناکو غلیمانو په توګه پرځای پاتې دی. همدوې په انقلابی ضد فعالیتونو کې پراخه ونډه اخلی. دایران پېښو چې په ټوله مسلمانه نړۍ کې یې د اسلامی تعصب یوه څپه راخوځولې هم، په افغانستان کې د روحانیت د دولتی ضد فعالیتونو چټکوالی ته لمن وهلې ده.

دهغو ستونزو یو بل علت چې دافغانستان د دیموکراتیک جمهوریت مشران ورسره مخامخ دی، دادی چې دافغانستان د خلکو دیموکراتیک ګوند تر اوسه پورې په یوه ریښتنی پرګنیز سازمان نه دی اوښتی. مترقی کارګران او بې وزلی بزرګران په خوراسستی د هغه لیکوته جذبیږی. ګوند تراوسه په دې نه دی بریالی شوی، د افغانی ټولنې پرهغو برخو خپله اغیزه زیاته کړی چې دانقلاب خواته دراکښلو امکانات یې شته، لکه: روښانفکران، مامورین، وړه بورژوازی او

دروحانیت کوزنی پاتکی (قشرونه).

خپله په دغه گوند کې د اپریل له انقلاب وروسته انشعاب راغی اوله دې امله یې دریځ، اغیز او اعتبار راتیټ شول. دافغانستان دخلکو دیموکراتیک گوند نه یوازې دیوې کوچنۍ ډلې په توگه پاتې دی، بلکه د «خلق» او «پرچم» ددلگیو ترمنځ دکورنۍ اخ ډ ب له امله سخت کمزوری شوی هم دی. د «پرچم» د ډلې یو شمېر وتلی مشران یا خوله منځه یو وړل شول او یا هم له گوندی او دولتی دندو، له پوځی او دولتی چارو څخه گوښه کړی شول او یو شمېر نور یې دسیاسی کډوالو په توگه په بهر کې پاتې دی. اوسنۍ وضعه ان په هغو پرچمیانو هم ناوړه اغیزه ښندی چې لا تر اوسه په گوند کې پاتې دی. دغه کسان دافغانستان دخلکو دیموکراتیک گوند د مشرتابه په وړاندې دویرې، شک او بدگمانۍ احساس لری. په مرکز او ولایتونو کې داداری واحدونو پرله پسې بدلول رابدلول او دافسری کادرونو هره شیبه دې خواهاخوا کول، نوره هم دا وضعه کړکیچنه کوی.

دافغانستان غلیمان هم دننه او هم په بهر کې، په تیره بیا دپاکستان او ایران په خاورو کې چې دنوی نظام ډیر مخالفین ورتښتیدلی، فعالیت کوی. دموجودو شواهدو له مخې، دحکومتی ضد اقداماتو په لمسون کې لویدیځې استخباراتی څانگې، په تیره بیا امریکایی او چینایی جاسوسان پوره ونډه لری. هغوی له پاکستان او ایران سره دافغانستان له خلاصو پولو نه ناوړه گټه اخلی. له همدې لارې نه یوازې دورانکارو او ویرا چوونکو ډلې، بلکه غټ وسله وال باندونه هم افغانستان ته نفوذ کوی.

کورنی او بهرنی انقلاب ضد ، نه یوازې له عینی ستونزو نه ګټه اوچتوی ، بلکه هڅه کوی چې دافغانی مشرانو له تیروتنو او مرګنیو اشتباه ګانو څخه هم استفاده وکړی. ښکاره ده چې د اپریل انقلاب تربری وروسته هم دګوندی او هم دولتی چارو دسمبالنبت په وخت کې غالباً له اختناق ، غیر مجازو ترتنو نه کار اخیستل شوی او هم د بندیانو د تحقیق په وخت کې شخصی عقدې میدان ته راوتلی او له زورزیاتی نه ګټه اخیستل شوې ده.

پوځ هم دبې بنسټه ترتنو په وراندې بې تفاوته پاتې نه شو ، په داسې حال کې چې همدغه اردو د رژیم اساسی مټ دی. دې کار ترزیاتې اندازې هم دهیواد دننه او هم په بهر کې دنوی نظام دبې اعتباره کولو لپاره دانقلاب ضد هڅې اسانې کړې. د یر قوماندانان چې وینی دهغوی اندیوالان بندیان او تری تم کړی ، پرځای ویسا له لاسه ورکوی او له بندنه د ژغورنې لارې چارې لټوی. دا خبره دهرات په بیلګه کې ډېره ښه جوته شوه. په دغه ښارکې نه یوازې پراخو اولسی پرګنو ، بلکه د یرو پوځی تولګیود خپلو قوماندانانو په نوښت د پاڅون کوونکو پلوی وکړه.

له بلې خوا ، دهرات ښسبو ، په حلکو کې ، دافغانستان دخلکو دیموکراتیک ګوند له خوا د پراخ سیاسی او تبلیغی - ترویجی چارو د کمزوری سمبالنبت خبره تائید کړه. دنوی نظام د ډول ډول غلیمانو په دې ډله کې د مرتجعو ملایانو له خوا ، په سیمو کې ناوړه تبلیغات د ګوندی کارکوونکو له خوا د کیدونکو تبلیغاتو په اندول څو ځله پراخ او خوځند دی.

شوروی مشرتابه دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت لارښوونکو او په دې

ډله کې ډیرو لوړو مشرانو ته بیا بیا وړاندیزونه او مشورې ورکړی دی او شویو تېروتنو او افراط ته یې دهغو پام اړولی دی، خو افغانی مشرانو دنه تجربې او غیر کافی سیاسی انعطاف په ښودلو سره، زمور دامشورې کمې او په ځینو برخو کې هیڅ نه دی منلی.

دافغانستان د دیموکراتیک جمهوریت دمشرانو دسیاسی تجربې کموالی، دهرات دپیښو په هماغه توده هنګامه کې، هله ښه څرګند شوچې شوروی اتحاد دغه هېواد ته دپوځونو دلیږلو په اړوند دافغانستان دمشرتابه وړاندیز رد کړ او په مقابل کې یې دوی دخپګان څرګندونه وکړه. د دوی وړاندیز له دې امله رد شو چې دشوروی پوځونو دلیږلو په صورت کې به ژور او خطرناک سیاسی عواقب منځ ته راغلی وای (خو افغانی مشرانو داسې ښوده لکه چې په دې موضوع هیڅ نه پوهیږی).

ښکاره ده چې دافغانی حکومت ضد هڅې بشپړ کورنی ماهیت لری او که شوروی عسکرو دهغو په ټکولو کې برخه اخیستی وای، له یوې خوا به دشوروی اتحاد نړیوال اعتبار ته جدی تاوان رسیدلی وای او دتشنج دکموالی بهیر به ډېر شاته غورځیدلی وای او له بلې خوا به یې دتره کی دحکومت کمزورتیا په ډاګه کړې وای چې په نتیجه کې به یې انقلاب ضد عناصر د دغه هیواد دننه او بهر لانوو دحکومتی ضد فعالیتونو ته هڅېدلی وای. دا حقیقت چې دافغانستان حکومت دخپلو متیو په زور دهرات بغاوت مات کړ، باید دنوی نظام دنسبی استقرار په ښودلو سره دانقلاب ضد عناصرو دهڅو دمخنیوی سبب شی.

په دې توګه مور دا ګڼو چې هرات ته د شوروی پوځی تولګیو دلیږلو په هکله، دافغانستان د دیموکراتیک جمهوریت د مشرتابه د غوښتنې په ردولو سره، مور سمه پریکړه کړې ده. په افغانستان کې دنورو حکومتی ضد بغاوتونود کښدلو په صورت کې هم، چې ښه ډیر احتمالات یې شته، مور ته په همدغه لاره تګ په کار دی.

خو له دې سره سره، ښکاره ده چې مور به په راتلونکی کې هم د خپل وس په اندازه د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت له حکومت سره مرسته کوو چې انقلابی ضد قوتونو ته ګوزار ورکړی، په هېواد کې حالات ټینګ او آرام کړی، خپله اغیزه پراخه کړی او د سوسیالیستی بدلونونو په لار کې د پراخو پرګنو ملاتړ راخپل کړی.

د اپریل انقلاب دبری له هماغه پیله، شوروی اتحاد له نورې واکمنې سره په نږیوال ډګر کې د سیاسی ملاتړ له لارې پراخه مرسته کوی. په اقتصادی برخه کې د وسله وال پوځ په پیاوړتیا او د تکړه مسلکی کادرونو په روزنه کې ورسره هر اړخیزې مرستې کوی. د افغانستان د دیموکراتیک جمهوری حکومت په غوښتنه د بیلابیلو برخو لپاره ښه ګڼ شوروی کارپوهان او سلاکاران هلته لیږل شوی چې د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت په وړاندې د پرتو ستونزو په هواري کې ښه ګټه برخه واخلی.

د همدغو چارو په دوام او د افغانستان په هکله په دې وروستیو وختو کې د نویو پریکړو په رڼا کې لازمه بریښی چې:

۱ - دافغانستان د دیموکراتیک جمهوریت له مشر تابه سره دې دخپل پوځ دجنګی وړتیا او دهغه دسیاسی او روحی حالت دلوړتیا ، انقلابی واکمنې ته دهغه دوفاداری او سرښندنې په تأمین ، دامنیتی ارګانو او په دې ډله کې دسرحدی پوځونو دپیاوړتیا او دهغوی داغیزمنتوب په زیاتوالی کې مرسته وشی.

ددې خبرې په پام کې نیولو سره چې په افغانستان کې دوروستیو پیښو له امله دغه هیواد ته ډیره نوره وسله او جنګی تخنیک استول شوی او ځینې نورې داستولو په حال کې دی او دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت دوسله وال پوځ لپاره هم خپله په دغه هیواد کې او هم دشوروی اتحاد په پوځی تعلیمی موسسو کې دپوځی پرسونل روزنه ډیره پراخه شوې ده. په کاردە ، ډیر ټینګار په دې ټکی وشی چې له ورکړی شوې وسلې او تخنیک نه اغیزمنه ګټه اخیستل دې ډیر ژر زده کړای شی. دغه خبره په هغو مرستو پورې هم اړه پیدا کوی چې ددولتی امنیت دارګانو له لارې ترسره کیږی.

۲ - دهغو مرستو په ګډون چې په افغانستان کې ددیموکراتیک انقلابی نظام دسیاسی دریځونو له ټینګښت سره لاس کولی شی ، تروسه وسه دې دغه هیواد ته دمرستو رسولو په هکله ټولې مسألې په پوره چټکی څیړل کیږی او په دې اړوند دې چټکې پریکړې کیږی. افغانی مشرانو ته دې وویل شی چې په لومړی ګام کې داقتصاد د هغو څانګو پراختیا په کار ده چې دهیواد دتولیدی ځواکونو دپیاوړتیا ، دټولنیزو ستونزو دحل او وزګارو ته دکار دپیدا کولو سبب ګرځېدلی شی.

۳- له هرې لارې چې د افغانستان دیموکراتیک جمهوریت له مشر تابه سره خبرې اترې کیږی، باید په دې ټکی پرله پسې ټینګار وشی چې تر ګوند او حکومت لاندې دپراته سیاسی بنسټ پراختیا ځانګړی ارزښت لری.

په ځانګړې توګه په کار ده چې د افغانستان دیموکراتیک جمهوریت مشرانو ته دامفکوره تلقین شی چې دزمکو اصلاحاتو په ګډون د ټولو اقتصادی او ټولنیزو بدلونونو پرله پسې پلی کول خورا له ارزښته ډکه خبره ده. په کار ده چې په دې کار کې له پوره غورنه کار واخیستل شی. د یرې ځغاستې او افراط ته اړتیا نه شته او باید د ترسره کیدونکیو اصلاحاتو سیاسی او ایدیالوژیکی اړخ ته پوره پاملرنه وشی. دغونې په ټوګه: دبزګرانو غوښونو ته دې ورسول شی چې زمکه ورته دا پریل انقلاب له برکته ورکول کیږی او که له اولسی او دیموکراتیکی واکمنی نه دفاع ونه کړی، نو زمکه یې هم له لاسه وتلی شی. دغسې توضیحی کارونه دې د نورو ټولنیزو او اقتصادی اصلاحاتو په برخه کې هم ترسره شی.

د افغانستان دخلکو دیموکراتیک ګوند د سیاسی بنسټ د پراختیا په مقصد دې افغانی مشران په دې خبره قانع کړی شی چې په کار ده ورو ورو د واکمنی دارګانونو انتخابی والی ته مخه کړی، خو دا به هیڅکله دهیواد په دولتی او سیاسی جوړښت کې د ګوند دلارښوونکی نقش پایښت او ټینګښت ته د زیان رسولو په مانا نه وی. باید هغوی قانع کړی شی چې دخلکو د دیموکراتیکو حقوقو د ضمانت او د دولتی ارګانونو د فعالیت د چاپیریال د تاکلو لپاره د اساسی قانون تسویداو بیا تصویب یو منطقی کار دی.

٤- له افغانی مشرانو سره په خبرو اترو کې دې هغوی ته ددې خبرې روښانول همداسې دوام ولری چې د گوندی غړو دشمېر له زیاتوالی سره جوخت، د گوندی مشرتابه او صفوفو بشپړ یووالی څومره ارزښت لری. هغوی ته دې دغه راز د گوندی او دولتی مهمو پېښو په هکله دډله ییزو پریکړو ارزښت په گوته شی. دافغانستان دخلکو دیموکراتیک گوند او دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت له مشرانو سره دې د گوندی او سازمانی او دغه راز د پرگنیزو او توضیحی چارو په سمبالښت او د گوندی او دولتی کادرونو په روزنه کې عملی مرسته وشی.

٥- دافغانی مشرانو پاملرنه دې، دهېواد داسلامی روحانیت په منځ کې دفعالیت چارې ته جلب کړای شی، چې په دې توگه په هغو کې تفرقه ایجاد شی او دارتجاعی اسلامی مشرانو نفوذ دخلکو په منځ کې راتیټ شی. دا مقصد هله ترسره کیدای شی چې دتاکلو بیلگو په راوړلو سره، په هیواد کې دمذهب په ازادی ټینگار وشی اوووېل شی چې نوی واکمنان ټولو روحانینو ته نه، بلکه هغه چاته سزا ورکوی چې عملاً دانقلابی نظام خلاف دریږی.

٦- په کار ده چې دافغانستان ددیموکراتیک جمهوریت مشران هم په دې قانع کړی شی چې پر انقلابی قانونیت بنا دحقوقی معیارونو رعایت لازمه خبره ده او باید مجازاتی متود یوازې له پوره غور وروسته وکارول شی. البته ددې خبرې مانا دانه ده چې دهغو کسانو پرضد دې له مجازاتو څخه کار نه اخیستل کیږی چې دخیانت په هکله یې پوره شواهد شته اویا داچې په فعاله توگه یې په انقلابی ضد فعالیتونو کې برخه اخیستی ده. خبره داده چې دوگړو، په تېره بیا دپوځی او

گوندی کادرونو سرنوشت د تصادفی او شکمنو شاهدانو، هغه هم ددوو یا دریو تنو له خوا، له حقیقی محاکمې پرته باید ونه تاکل شی.

۷- دافغانستان د دیموکراتیک جمهوریت دمشرانو غوږونوته داږوند و مسألو په هکله زمور د نظریو او وړاندیزونو درسولو په کار کی مخامخ کتنو دارزښت په پام چی نیولو سره پکار ده چی په افغانستان کی د حالاتو د عادی کیدلو سره سم په بیلا بیلو سطحو کې، یو دبل هیوادونو ته پرله پسې سفرونه وشی.

۸- د دیپلوماتیکو او نور ځانګړو ذرایعو له لارې دې، دافغانستان په کورنیو چارو کې، دنورو هیوادو، په تېره بیا دګاونډو ملکونو دلاس وهنې خلاف اقدامات همداسې جاری وساتل شی.

۹- له افغانی دوستانو سره د دې دسیاسی او پرګنیزو چارو دسمبالتیا، په تېره بیاد رادیویی تبلیغاتو په برخه کې چې دافغانستان د پراخې بې سوادی په شرایطو کې خورا ارزښتمنه لاره ده، عملی مرستې وشی.

دافغانستان په هکله، زمور په تبلیغاتو کې دې زیاته پاملرنه دښه ګاونډیتوب اصل او پراخې متقابلې ګټورې همکاری ته واړول شی، چې زمور د دواړو هیوادو په اړیکو کې تینګ مقام لری او دادی اوس کیفی بدلون او پرمختګ کوی. د شوروی واکمنې په وخت کې د منځنۍ اسیا د جمهوریتونو دسیاسی او اقتصادی ودې په هکله دې پراخ او اغیزمن تبلیغات وشی. د دغو او نورو شوروی جمهوریتونو په مثالونو کې دې د مذهب او په دغه لړ کې د اسلامی

عقیدې د ممنوعیت په هکله د تورونو بې بنسټوالی څرګند کړای شی.

۱۰ - په پرله پسې توګه دې وروڼه سوسیالیستی هېوادونه له هغو اقداماتو نه خبرشی چې مور یې دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت له مشرانو سره دهغه هیواد حالاتو په ثبات کې کوو. په دې (تبلیغاتو کې دې) داتګی په پام کې ونیول شی چې دغه هیوادونه هم له افغانستان سره دوړ سیاسی ملاتړ او مادی مرستو کولو ته رامات شی.

ددغو ټولو په نښه شویو برخو او احتمالاً دنویو مواردو په هکله مشخص وړاندیزونه به له اړتیا سره سم (دې طرحې ته) ورزیاتیږی.

ستاسو پاملرنې ته یې وړاندې کوو.

ا. ګرومیکو، ی. اندروپوف، د. اوستینوف، ب. پونامار یوف...

د پېښنو نیټه لیک

د اپریل په دویمه دیاغیانو له ډلو سره دباد غیس، پکتیا، کونړ او تخار په ولایتونو کې جلا جلا نښتې وشوې.

د اپریل په شپږمه حکومتی لښکرو د مجاهدینو دیوې درې سوه کسیزې ډلې یرغل په اجرستان کې په شا وتمباوه.

د اپریل په ۱۳ د انقلاب ضد عناصرو یرغلونه دګردیز په شا او خوا او جلال آباد کې تاوده شول. یوه ورځ وروسته دخوست پنځه سرحدی تانې د تروریستانو تر ډزو لاندې راغلې.

د اپریل په ۱۵ نیټه حکومتی ځواکونو په ارزګان کې دیاغیانو یوه ډله

وټکوله. دنښتو په ترڅ کې له دیرشو نه زیات مجاهدین ووژل شول او دوه یې ونیول شول. دګردیز او خوست په پوځي چوپیو کې، دامنیتي ارګانونو له خوا ٤٥ افسران چې د «اخوان المسلمین» دافراطي ډلې غړي وو او دافغانستان دحکومت خلاف یې وسله وال اقدام ته تیاري نیوه، ونیول شول.

دا پریل په ۱۷ او ۱۸ په بادغیس، بدخشان، کونړ او پکتیا کې دانقلاب ضد عناصرو بریدونه زیات شول. په بادغیس کې یاغیان بریالي شول چې د کُشک کهنه ښار ونیسي، خو ځلور ورځې وروسته بیرته آزاد کړي شو. د کونړ په ولایت کې دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت یوه پوځي چوپۍ تر سختو ډزو لاندې راغله، په پکتیکا کې د ارګون په ګارنیزیون باندې یرغل وشو.

دا پریل په شلمه پوځي واحدونو او دامنیتي سازمان قطعو په ګډه، د جلال آباد په فرقه کې دبغاوت هڅه شنډه کړه. په دغه حکومتي ضد اقدام کې د کشف دکنډک، د توپچي غنډ او دانضباط د ټولې منسوبینو برخه لرله.

«ملګري امین ته قناعت ورکړئ...»

«مسکو، عاجل،

محرم.»

...ملګري امین ځان ته غوښتي وم او د ن. م. ترد کې په غوښتنه یې داهیله درلوده چې باید ۱۵ - ۲۰ جنګي هلیکوپټرې له مهماتو او شوروي عملې سره ورته ورکړو، چې د حالاتو د خرابې په صورت کې یې په سرحدي او مرکزي سیمو کې له پاکستان نه د راغلو یاغیو او تروریستي باندونو خلاف استعمال کړي.

ډاډ راکړی شو چې کابل ته دشوروی پیلوټانو راتګ او له هغو نه کار اخیستل به، دې پټ راز په توګه ساتل کیږی...

ل. ګاریلوف

د ۱۹۷۹ د اپریل ۱٤

وکتل شو:

ددې کار له اجرانه دې ډډه وشی.

ن.و. اګارکوف».

د ۱۹۷۹ کال د اپریل په ۲۱ د مرکزی کمیټې د سیاسی بیورو، د افغانستان په خاوره کې د انقلاب ضد بغاوتونو په ټکولو ګې د جنګی هلیکوپټرو د شوروی پیلوټانو ګډون غیر معقول وباله. د افغانستان په دیموکراتیک جمهوریت کې لوی پوځی سلاکار ته لاندې لارښوونې وشوې:

«اشد محرم

ځانګړې دوسیه.»

کابل، لوی پوځی سلاکار ته.

د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت صدر اعظم ح. امین ته خبر ورکړئ چې د ۱۵-۲۰ جنګی هلیکوپټرو او شوروی پیلوټانو دورلېږلو په هکله د هغه غوښتنه شوروی حکومت ته وړاندې شوه.

ورته ووایاست چې د افغانستان په دیموکراتیک جمهوریت کې د انقلاب ضد بغاوتونو په ټکولو کې د شوروی پوځی ټولګیو د مخامخ ګډون د زیانونو په هکله،

پخوا افغانی مشرانو ته توضیحات ورکړل شوی وو. دغسې یو اقدام به دافغانستان دانقلاب ددښمنانو او بهرنیو مخالفو ځواکونو له خوا، افغانستان ته دشوروی انترناسیونالستی مرستې دبدنامولو او دافغان اولس په منځ کې دحکومتی ضد او شوروی ضد تبلیغاتو په مقصد وکارول شی. په دې خبره ټینګار وکړئ چې دروان کال په مارچ او اپریل کې دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت ته په پنځو یا لسو ډولو وسلو سمبالې جنګی هلیکوپټرې سپارل شوی دی.

ح. امین ته قناعت ورکړئ چې له تاسو سره موجودې هلیکوپټرې دافغانی پیلوټانو په لاړښوونه کولی شی، دپلیو ځواکونو او جنګی الوتکو په مرسته دانقلاب ضد عناصرو د سیسې شنډې کړی.

«افغانی پوځی قوماندانی لپاره په دې برخه کې لازم هدایات طرح کړئ».

د پېښو نیټه لیک

د اپریل په ۲۲ وسله والو یاغی ډلو دګردیز-خوست واټ د وازې په سیمه کې بشپړ بندکړ.

د اپریل په ۲۴ او ۲۵ دننګرهار په ولایت کې له ورانکارو ډلو سره سختې جګړې روانې وې. دجلال آباد د جنوب ختیځ په شپیته کیلو متری کې دچنار په سیمه کې دافغانستان - پاکستان له ګډې پولې نه د (۵۰) وسله والو یاغیانو دراتیریدو خبر ترلاسه شو. دبلخ په ولایت کې دځانی دفاع هغه ډلې چې د دره ء صوف ددبرو سکرو دکانونو په ساتنه لګیاوې، ترحملې لاندې راغلې. دمزار

شریف دجنوب لویدیځ په (۷۰) کیلو متری کې د آن کپرک سیمه دیاغیانو لاس ته ورغله.

دا پریل په دویمه دهیواد په ختیځ او شمال ختیځ کې دکوچیانو له خوا دپوځی عملونو دزیاتېدو نسبي څرګندې شوې. دخوست او ګردیز په شا او خواکې څو کلی دتروریستانو تر یرغل لاندې راغلل. دهمدغو ډلو له خوا د دره ، صوف منطقه اشغال او تالا شوه. حکومتی پوځونو د زابل په ولایت کې دیاغیانو یوه ډله، درې وړې کړه.

دمی په اوومه دکونړ په ولایت کې درې ورانکارې ډلې چې له پاکستان نه دوزیرو ، ګوشتې او جنوبی اسمار سیموته ننوتې وې، له منځه یووړل شوې.

مخالفینو غوښتل دمی په نهمه په ټول هېواد کې دولتی ضد پاڅون پیل کړی، په پکتیا ، غزنی، پکتیکا ، ننګرهار ، کنړ ، بلخ ، سمنګان او دکابل په شا اوخوا کې دغسې اقدامات تر سره شول. ترټولو ستر وسله وال بغاوت پایتخت ته ورځېرمه، په ترده خپلو کې جوړ شو. له دریو سوو زیاتو مجاهدینو هڅه وکړه چې کابل ته ننوځی، خو حکومتی پوځونو هغوی وټکول او تر یوحده یې له منځه یووړل. دغزنی ښار په جنوبی څنډو کې دمخالفو وسله والو ډلو لاس ته څوکلی ورغلل، خو د ورځې تر پایه دباغیانو مقاومت مات او له ۲۵۰ نه زیات مجاهدین دحکومتی ځواکونو له خوا ونیول شول. ورته شورشونه په پلخمری او پُل علم کې هم جوړ شول. دحکومتی لښکرو دسختو اقداماتو په نتیجه کې له دریو سوو زیات یاغیان اسیر شول.

دمی په لسمه د کندهار په هوایی ګارنیزیون کې یوه توطئه کشف او شنډه شوه. امنیتی ارګانونو دډګر (۱۶) تخنیکی کارکوونکی ونیول. یوه ورځ وروسته حکومتی لښکرو دګردیز-خوست دواټ دبیا پرانیستلو لپاره عملیات پیل کړل.

دمی په ۱۳ څارندویانو او حکومتی عسکرو دسنګ چارک په اولسوالۍ کې یولوی باند محاصره کړ. دامنیتی ارګانونو کارکوونکو په پلخمری کې دمخالفینو له (۵۰) نه زیات پلویان ونیول. د دیچنای او ګردنۍ غوری په سیمو کې هم سخت جنګ روان و. دجنوبی بدخشان په مونجان کې یوه اویاکسیزه مخالفه ډله محاصره اوله منځه یووړل شوه. مخالفو وسله والو ډلو د آسمار او اسعد آباد ښارونه په هاوانونو او سپکو وسلو وویشتل. په لاندې سیمو کې دمخالفینو دتولید وخبرونه راورسیدل: دبغلان جنوب لویدیځ په غرونو کې ترزروزیات کسان، دزۍ ړکو په سیمه کې تر دووزرو کسه او دغزنی ښار دلویدیځ په دولس کیلو متری کې تر څلور سوو تنه.

دمی په ۱۴ په درۀ صوف، لغمان او دبغلان دجنوب په شپیته کیلو متری کې دیاغیانو فعالیتونه زیات شول. ددوشی او خنجان دنیولو لپاره مخالفینو شپه ډیر ځواک راټول کړی و. دبهسود او اولسوالی لکه د پخوا په څېر دوسله والو مخالفینو په لاس کې وه. په وازې، ګومل او دغه راز دخوست په لویې اولسوالۍ کې، له پاکستان سره پولې ته څېرمه په سرحدی تانو کې جګړه یز فعالیتونه چټک شول. په وازه خوا کې میشت سرحدی کندګ مخالفینو ته تسلیم شو. دمی په اوولسمه په جوزجان او لغمان کې هم جګړې تودې شوې. په دغو سیمو کې

دمخالفینو ډلې راټولې شوې وې. مخالفو وسله والو ډلو دغزنی جنوب ته دمالستان سیمه ونیوله. دا سیمه دمخالفینو په بشپړه محاصره کې وه. دغزنی او کټواز ترمنځ دسیمو په نښتو کې تر دوه سوه زیات مجاهدین له منځه یووړل شول او پاتې یې دکټواز جنوب لویدیځ ته په شاشول.

درې ورځې وروسته دکندهار په هوایی ګارنیزیون کې نور شل تنه دانقلاب ضد توطیې په تور دامنیتی ارګانونو له خوا ونیول شول. مخالفینو دجلال آباد په شمال لویدیځ کې دلویې لارې کنترول په خپل لاس کې واخیست. دمخالفینو یرغلونه په زابل، ارزګان، بامیان او غور کې زیات شول.

دمی په ۲۳ حکومتی ځواکونو دهرات ښار دجنوب لویدیځ په دیرش کیلومتری کې پراخ عملیات ترسره کړل. هلته له دووزرو زیات مخالفین راټول شوی وو. دجګړې په لړکې ۶۰ کسه له منځه لاړل او ۱۳۰ دښمنان اسیر شول. یوه ورځ وروسته په غزنی او پکتیا کې خونړۍ جګړې پیښې شوې. ۶۰ تنه له منځه یووړل شول او ۳۹ یاغیان اسیران شول، دغه راز دهرات ښار په جنوب لویدیځو برخو، د «وازې» په سیمه او بامیانو کې دانقلاب ضد مرکزونو ددرې وړی کولو عملیات روان وو. له سلو زیات کسان ووژل شول او (۸۰) مجاهدین دحکومتی قواو لاس ته ورغلل.

«ګازی بمونه نه درلیږو ...»

په افغانستان کې دپیښو پرمختګ، دمسکو دپاملرنې په مرکز کې و. دسیاسی بیورو دمی د ۲۴ په غونډه کې، دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت ته

دنورو پوځی مرستو خبره وڅېړل شوه. د شوروی اتحاد د پلان جوړولو دولتی کمیټې او بهرنیو سوداګرۍ وزارت ته لارښوونه وشوه چې د دوومیاشتو په اوږدو کې د ۱۵۰۰ موټرو دورکړې په هکله د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت غوښتنه وڅېړی. څو ساعته وروسته کابل ته دغه شفری تلګرام مخابره شو.

«اشد محرم

ځانګړې دوسیه.

کابل. شوروی سفیر ته

ن. م. ترڅو کی ته ورشئ او زمونږ پر لارښوونه داستناد له مخې ورته ووایاست چې د افغانستان دیموکراتیک جمهوریت ته دنورو پوځی مرستو دورکولو په هکله، د افغانی مشرتابه غوښتنې په غور وڅېړل شوې.

ورته ووایاست چې مسکو په افغانستان کې دارتجاعی ځواکونو د انقلاب ضد فعالیتونو دچټکتیا له امله د افغانی مشرتابه په اندیښنو پوهیږی. شوروی حکومت، د افغانستان په دیموکراتیک جمهوریت کې دحالاتو د ثبات په خاطر په راتلونکی کې هم د انترناسیونالیستی مرستو دورکولو په باب پرخپل هوډ ولاړ په پیریکړه وکړه چې د ۱۹۷۹ - ۱۹۸۱ کلونو په اوږدو کې د ۵۳ میلیونو روبلو په اندول د ځانګړیو وسایلو ورپرې مرسته وکړی. په دغو وسایلو کې (۱۴۰) توپونه او هاوانونه، (۹۰) زغره وال ګاډی (له دې ډلې ۵۰ یې په بیړې سره)، ۴۸ زره میله سپکه وسله، نږدې زر توغندی ویشتونکی او ۶۸۰ هوایی بمونه راځی. دغه راز په بیړه د ۱۹۷۹ کال په جون او جولای کې د پنځوس زرو روبلو اندول

دارو - درمل او طبی سامان آلات وراستول کیږی. دغه راز دچتکې مرستې په توګه په سږنی «می» کې سل اور بلوونکې ټانکی (اور اچوونکی بمونه) او (۱۶۰) دیوځلی استفادې بمی کستونه ورکول کیږی. دغیر زهری ګازی بمونه درکول ممکن نه دی.

تر کومه چې دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت ته له شوروی پیلوټانو سره یو ځای دهلیکوپټرو او ترانسپورتی الوتکو په درلیږلو او په کابل کې زمور دکوماندویی قطعې دپلی کولو په احتمال پورې اړه لری، باید وویل شی چې له شوروی پوځی قطعونه دګټې اخیستنې موضوع پخوا، مسکو ته دروان کال دمارچ په میاشت کې د ن. م. تره کی دسفر په ترڅ کې په هراړخیزه توګه څېړل شوې دد. داسې اقدامات به په پوره باورسره نه یوازې په کورنی سیاست، بلکه په نړیوال ډګر کې هم غټې ستونزې راپیدا کړی او له هغونه به تر هر څه لومړی، دښمن قوتونه دافغانستان دیموکرات جمهوریت دګټو او داپریل انقلاب دبریاو خلاف ناوړه ګټه واخلی، ددې لارښوونو داجرا په هکله تلګرامی خبر راکړئ.»

د پیښو نښته لیک

دمی په ۲۸ دیاغیانو خلاف په کندهار کې سخته جګړه روانه وه. په پکتیا او غزنې کې هم جګړه وه، دغزنی ګارنیزیون شپږو جزو تامونو دکوچنیو کلیو دبیا خلاصون لپاره بریالی عملیات وکړل. دګردیز - خوست لارد اوس هم دیاغیانو په لاس کې وه. دخوست پوځی قطعې دمخالفو وسله والو ډلو خلاف په درنده جګړه اخته وې.

دمی په ۲۹ نیټه دشاه ولی کوټ په اولسوالۍ کې یوه مخالفه ډله له منځه یورل شوه. خوست ته څېرمه په لژد، لندر، میدان خولې اوسیدخیلو کې سختې جګړې همداسې روانې وې. دردُ صوف دډبرو سکرو کانونه او هغو ته څېرمه کلی دپخوا په څېر دمخالفینو په لاس کې وو.

دمی په دیرشمه په کندهار او ارزګان کې جګړو دوام درلود، یاغیانو داسمار په ګارنیزیون بریدوکړ. دخوست دلویدیځ په شل کیلو متري کې یو می - ۲٤ ډوله هلیکوپتر راوغورځول شو.

دپکتیا او غزنی په غرنیو سیمو او کلو کې حکومتی پوځونو د «پاکولو» عملیات ترسره کړل. دلوګو ولایت په ګردنهُ دیوال کې دهلیکوپترو دیرغل له امله دیاغیانو دټولیدویو مرکز دړی وړی شو. دننګرهار په ولایت کې مخالفو وسله والو ډلو دخدهخیلو دسیمې دنیولو هڅه وکړه. یرغل په شا وتمبول شو.

په بامیانو کې دجنون په پنځمه یاغیانو دلویدیځ لورته په شاتګ پیل کړ. دغزنی جنوب لویدیځ ته ۵۹ لمبر پلی غنډ دمجاهدینو له ناڅاپی برید سره مخامخ شو. دغنډ دوه کنډکه دړی وړی شول. دهرات او نیمروز په ولایتونو کې دمخالفو ځواکونو دراټولیدو نښې نښانې ترلاسه شوې.

دجون په شپږمه دپکتیا حالات لا هماغسې خړپړ وو. له دغه ځایه دمنګلو او ځدرانو دیاغی قبیلو د ځواکونو دراټولېدو او فعالیدو خبرونه ترلاسه شول.

د «چ» شپېه *

ددسمبر په میاشت کې دشوروی اتحاد ددفاع دوزیر مارشال د. اوستینوف

---

* دپخوا تاکل شوی یوه پلان دپلی کولو مناسبه شپېه.

دشفاهی امر له مخې تر دیرشو زیات دایرکتیفونه (پوځی لارښوونکی اسناد) صادر شول. دهغو له مخې دمنځنۍ اسیا او ترکستان په پوځی حوزو کې نړدی جزوتامونه، قطعې او موسسې راجوړې او دپرسونل له پلوه بشپړې کړای شوې. دځلوینښتم لښکر قوماندانی راجوړه او دري موتوریزه فرقې، دیرغلیز دیسانت یودلواء، مستقل موتوریزه غنډ، یوه یوه توپچی او دهوایی مدافعی راکتنی لوا او دغه راز دبیلا بیلو پوځی مسلکونو بیلا بیلې قطعې او دلوژستیکی تأمیناتو مؤسسې سمبال کړی شوې. دنوی جوړ شوی پوځ د پرسونل دکمال لپاره داحتیاط دوړې تر پنځو سو زرو زیات افسران، واړه ضابطان او سرتیری احضار شول، داقتصادی مؤسسو له خوا دپوځ دارتیا دلیرې کولو لپاره نړدی اته زره موټرې ورکړی شوې.

ددغو دواړو پوځی حوزو لپاره په تېره نیمه پیړۍ کې داترټولو ستره سفر بری وه. دپوځ دننه او په پوځی کمیساریو (دمکلفیت په مدیریتونو کې) په ډاډ سره ویل کیدل چې دایوه عادی تفتیشی سفر بری ده. یوازې ددسمبر په ۲٤ دشوروی اتحاد ددفاع وزارت دمشرتابه په غونډه کې داخبره په ډاګه شوه چې شوروی اتحاد، افغانستان ته دپوځونو دلیږلو پریکړه کړې ده.

دا هغه وخت دی چې دځلوینښتم پوځ نوې جوړې شوې بیلابیلې قطعې ددندی داجرأ لپاره چمتو شوی دی. په دغه غونډه کې هغه جزوتامونه او قطعې مشخصې شوې چې سبا ته باید له دولتی پولې نه تیرې شی، ددفاع وزیر دلارښوونې له مخې، پوځونو باید لومړی مارش ترسره کړی وای او وروسته دافغانستان په

خاوره کې ځای پرځای شوی وای. ان له پولې نه د تیرېدو تیک وخت په ګوته شوی و. د ۱۹۷۹ د دسمبر د ۲۵ ورځې دمازدیګر دری بجې.

شوروی سفیر لا مخکې ح. امین ته خبر ورکړی وچې شوروی مشر تابه دوست افغانستان ته دمرستې پریکړه کړې ده. دهمدې اطلاع له مخې ح. امین دوسله وال پوځ ستر درستیزته لارښوونه وکړه چې له شوروی لښکر سره هر ډول مرسته وکړی. د دسمبر د ۲۵ ورځې په سهار د ځلویښتم لښکرو قوماندان تورن جنرال ی. و. توخارینوف په کندز کې د افغانستان دوسله وال پوځ دستر درستیز داوپراسیون له رئیس تورن جنرال بابا جان او د افغانستان دخلکو دیموکراتیک ګوند دمرکزی کمیټې دعمومی منشی له مشر ورور عبدالله امین سره دوه کتنې وکړې. په همدغه وخت کې د شوروی پوځ داستحکام جزوتامونو د «دوستۍ پله» پرځای چې وروسته بیا شوروی لښکرې دهغه له پاسه له افغانستان نه راووتلې، د شپیتو تنو په وزن دیوه موقتی استحکامی پله په جوړولو لاس پورې کړ. عمومی نقشه داسې وه چې شوروی لښکرې به له دوو لارو افغانستان ته ننوځی او ډیر مهم ولایتی مرکزونه به دکمربند په توګه راګیروی: یو د ترمز - کابل - غزنی له لارې او بل د کوشک - هرات - کندهار له لارې، تاکل شوې وه دهمدې کړۍ د ننه شوروی پوځونه په جلا جلا ګارنیزونو نو کې داسې ځای پرځای کړای شی چې په افغانستان کې دعادی ژوندانه شرایط برابر شی، خو د پوځونو له لیږلو.

څو شیبې مخکې په دې پلان کې ځینې اصلاحات راغلل: دهغې پلې موتوریزه فرقی قوماندان ته چې ترټولو لومړی باید د ترمز په سیمه کې له پولې څخه تیره شوی وای، امر وشو چې ځان کندوز ته ورسوی، د کوشک په سیمه کې دبلې ورته فرقې حرکت یو څه نور هم وځنډول شو.

د دسمبر د پنځه ویشتمې ورځې په دریو بجو د ۱۰۸ لمبر موتوریزه فرقې د کشف مستقل کنډک د افغانستان او شوروی له ګډې پولې نه تیر شو. د کشف قطعې له تیرېدو سره جوخت دهوایی ځواکونو ترانسپورتی الوتکو دهوایی

دیسانت د (۱۰۳) لمبر فرقې جنګی وسایل او نور پرسونل افغانستان ته په لیږدولو پیل وکړ. دغه فرقه د کابل په هوایی ډګر کې پلې کړی شوه. د پوځونو دلیږلو په پیل کې د شوروی اتحاد د دفاع وزیر مرستیال مارشال س. ل. سوکولوف او د ترکستان د پوځی حوزې قوماندان ډګر جنرال ی. پ. ماکسیموف د څلویښتم لښکر په قوماندانۍ کې حاضر وو. پوځیانو له ګمرکی کنترول پرته، دهغو لیستونوله مخې چې د جرو تامونو قوماندانانو تصدیق او لاسلیک کړی وو او استحکامی پله ته له ورتیرېدو مخکې (شوروی) سرحد دارانو ته سپارل کیدل، د افغانستان خاورې ته د ورتېرېدلو اجازه موندله. د دیسانت قطعو لستونو په هغو هوایی ډګرونو کې چې د هوایی قواو ترانسپورتی الوتکو په کې دوروستی ځل لپاره تیل اخیستل، د هوایی ډګر سرحدی کارکوونکو ته سپارل کېدل.

د ی. و. توخارینوف په وینا د سهر لومړی زیان (له یرغل) دوه ساعته وروسته پیښ شو. د رهړه داری د کمرېند د بدلون له امله مارش د شپې په تیاره کې ترسره شو. یوه غزره وال ګاډی چې غوښتل یې افغانی موټر ته لار خوشی کړی، ولویده او پر بل مخ واوښت. (۱۰) تنه ځای پرځای مړه شول. ۱۰۳ لمبر هوایی دیسانت فرقې د کوزولو په وخت کې هم غم لړلې پیښه منځ ته راغله. د مسکو په وخت د مانښام په اووه بجو او دری دیرشو دقیقو (په افغانستان کې د اوخت تورہ شپه وه) کابل ته څیرمه له غره سره د لګیدولە امله د پوځی حمل ونقل ایل-۷۶ ډوله الوتکه چې سرتیری او جنګی وسایل په کې بارول، وغورځېده. (٤٤) کوماندویان مړه شول.

د دسمبر په ۲۶ ی. و. توخارینوف له مارشال س. ل. سوکولوف سره یوځای له هوانه د (افغانستان په لور) د روانو پوځی کتارونو نندارہ وکړه. د راتلونکې ورځې ترنیمایی بګرام او کابل ته د هوایی دیسانت د فرقې او د پراشوتی دیسانت د مستقل غنډ اساسی برخې لیږدول بشپړ شول. تر دغه وخته نو د ۱۰۸ لمبر موتوریزه فرقې مخکښ جزو تامونه چې په موټری کتارونو کې په مارش خوځېدل، پایتخت ته ورسیدل.

عادی خلکو دشوروی لښکرو ورتگ ته ښه راغلاست ووایه. وروسته معلومه شوه چې ددمې په وخت کې هغوی زمور د پوځونو په وړاندې له پرتو دندو خبر شوی وو او دهغو په نسبت يې مثبت نظر ښوده. البته يې فوق العاده پېښه هم نه وه. يو شمېر هغه موټرې چې له خپل کتارنه وروسته پاتې شوې وې، تر ډزو لاندې راغلې. په تېره بيا له خارو گ نه فيض آباد ته دمستقل پلی موتوريزه غنډ د تېرولو په وخت کې يو ناوړه حالت منځ ته راغی. البته دا حالت ځکه منځ ته راغی چې دافغانستان په شمال ختيځو سيمو کې د يرشمېر پخوانيو باسمچيانو (دشوروی دحاکميت ضد دمنځنۍ آسيا دمقاومت نهفت روسانو په دغه نامه ياداوه- د. ج.) او دهغوی وارثانو ژوند کاوه.

ددسمبر له ۲۷ نه د ۲۸ تر شپې په کوشک او تخته بازار کې ځای پرځای شوې پنځم لمبر پلې فرقه دهرات خواته روانه شوه. دهمدغې فرقې ځينی جزوتامونه وروسته دهرات په جنوب او شينډنډ کې ځای پرځای شول او بيا د دغې فرقې دمسؤوليت ساحه ترکندهاره را اوړده شوه.

ددسمبر د ۲۸ تر سهاره ۱۰۸ لمبر پلې فرقه په بشپړه توگه دکابل په شمال ختيځ کې ځای پرځای شوه او د ۱۰۳ لمبر هوايی ديسانت له فرقې سره يې لاس يو کړ. په تېرو څو لسيزو کې دا لومړی ځل وچې په ژمی کې دې دسالنگ په څېر له يو سخت غاښی نه پلی فرقه تېره شی. غرنی لارې کنگل شوې وې.

تخنيکی وسايل د پورته ختو په وخت کې بندبدل او دښکته تگ په وخت کې ښوييدل. د ۲۷۰۰ مترو په اوړدوالی دسالنگ له تونل نه چې د تهويې سيستم يې

یوازې د موټرو لپاره په پام کې نیول شوی و ، د ټانکونو او نورو زغره والو ګاډو د تیرېدو په وخت کې دلوګیو د ټولیدلو له امله یو خطرناک حالت منځ ته راغی. سرتېروته دګاز ضد ماسکونه واغوستل شول. یوازې په دې ترتیب د تلفاتو مخنیوی وشو.

دهوایی دیسانت جزوتامونه په کابل کې ترپلی کیدو وروسته، له افغانی لورې سره په تفاهم کې د مهمو دولتی مؤسساتو خواته وخوځېدل، لکه: د افغانستان دخلکو دیموکراتیک ګوند د مرکزی کمیټې ودانی، د دفاع وزارت، د کورنیو چارو وزارت، د ملی امنیت وزارت او د مخابراتو وزارت. دغه تأسیسات د شوروی پوځونو په کنترول کې راغلل. دغه راز مهمې لویې لارې هم د شوروی پوځونو تر کنترول لاندې ونیول شوې لکه: کوشک-هرات، شینډنډ-ګرشک-کندهار، ترمز-کابل، کابل-جلال آباد، پلخمری-کندز-فیض آباد او دغه راز د افغان شوروی دګډې همکاری هغه مؤسسات چې مسلکی شوروی سلاکارانو او کارپوهانو په کې کار کاوه. په دې ډله کې دغه تأسیسات راتلل: په شمال کې د جرقدق او شبرغان دګاز ایستلو تأسیسات، د سروبی، نغلو، پلخمری او کابل د بریښنا فابریکې، په مزار شریف کې د کیمیاوی سرې فابریکه او د اسې نور.

د ۱۹۸۰ کابل تر نیمایی پورې، افغانستان ته د ځلویښتم لښکر د اساسی برخې انتقال بشپړ شو. د افغانستان خاورې ته پنځم او ۱۰۸ لمبر موتوریزه فرقې، دهوایی دیسانت ۱۰۳ لمبر فرقه، د یرغلیز دیسانت ۵۶ لمبر مستقله لواء، ۸۶۰ لمبر مستقل موتوریزه غنډ او ۳۴۵ لمبر پاراشوتی کوماندویی مستقل غنډ بشپړ

انتقال او ځای پرځای شول. دهمدغه کال په لومړۍ نیمایی کې د دغو پوځونو دلاتقویې لپاره پوځونو شمېر په دغه هیواد کې د سیاسی او پوځی حالت دانکشاف له مخې بدلون موندە.

د جنورۍ په میاشت کې دا پوښتنه رامنځته شوه چې افغانستان ته لیږل شوی پوځونه باید په کوم نامه یاد کړی شی؟ دغه پوځ لا هماغسې د ترکستان د پوځی حوزې برخه ګڼل کېده، خو هغوی یوازې دځلویښتم لښکر په نامه یادول هم سم نه بریښېدل، ځکه چې پر دغه لښکر سر بیره یو شمیر قطعې او جزوتامونه له مرکز څخه هم لیږل شوی وو. د شوروی اتحاد د دفاع د وزیر مارشال د. ف. اوستینوف په وړاندیز پردغو پوځونو «په افغانستان کې د شوروی محدود قطعات» نوم کیښودل شو.

«او پر لارښوونه داستناد له مخې...»

«اشد محرم

ځانګړې دوسیه.

ټولو شوروی سفیرانو ته،

(له برلین، وارسا، بوداپست، پراګ، صوفیې، هاوانا، اولانباتور او هانوی پرته) بې له ځنډه د حکومت له مشر (یادبهرنیو چارو له وزیر اویا د هغه له کفیل) سره وګورئ او د شوروی حکومت پر لارښونه داستناد له مخې ورته لاندې مراتب ابلاغ کړئ:

څرنګه چې ټولې نړۍ ته او په دې لړ کې د ... حکومت ته څرګنده ده، اوږده

موده کیږی چې له وسله وال ځواک نه کار اخیستلو په ګډون د افغانستان په کورنیو چارو کې لاس وهنه، روانه ده. ښکاره ده چې د دغو لاس وهنو مقصد، دهغه دیموکراتیک نظام رنګول دی چې د ۱۹۷۸ کال د اپریل انقلاب له بری وروسته ټینګ شو. افغان اولس او دهغوی وسله وال پوځ د دیموکراتیکو بریاو. خپلواکی او دنوی افغانستان دملی شرافت خلاف داتیری په میړانه شنډوی، خوله بهرنه تیری نه یوازې روان دی، بلکه ډیر پراخ شوی هم دی؛ له بهرنه دوسله والو باندونو او وسلو رالیږل دوام لری.

په داسې شرایطو کې دافغانی دولت مشرانو دبهرنی تیری د دفع په چاره کې دمرستې لپاره یر شوروی اتحاد غږو کړ. شوروی اتحاد، په امنیتی برخه کې دافغانستان او زمور دهیواد دګډو اړیکو په پام کې نیولو سره چې په خپل وارد ۱۹۷۸ کال د دوستی، ښه ګاونديتوب او ګډې مرستې په ټرون کې یې هم انعکاس موندلی دی، او دغه راز دنړی په دې سیمه کې دسولې دساتنې په غرض دافغانی مشرتابه دې غوښتنې ته مثبت ځواب ووایه او دهغو مسألو دحل لپاره یې، چې دافغانستان مشران یې غوښتنه کوی، پریکړه وکړه چې افغانستان ته محدود پوځی ټولګی ولیږی. په دې کار کې شوروی اتحاد دملګرو ملتو دمنشور په ۵۱ ماده استناد کوی چې دانفرادی او ډله ییزې دفاع له لارې د تیری د دفعې او دسولې د ټینګښت له پاره دهیواد ونو حق تضمینوی.

شوروی حکومت په داسې حال کې چې د ... حکومت ته، په دې هکله معلومات ورکوی، د دې خبرې کول هم ضروری ګڼی چې د دې پوځی اقدام دعواملو په

ورکېدو سره شوروی اتحاد چمتو دی، خپلې قطعې د افغانستان له خاورې نه وباسی.

شوروی اتحاد یوځل بیا ټینګار کوی چې دپخوا په څېر یې، یوازینی هیله دا ده چې افغانستان دیوه خپلواک او مستقل هیواد په توګه وویني چې دښه ګاونډیتوب دسیاست پر لارې روان دی او دملګرو ملتو دمنشور له مخې، خپلې ټولې نړیوالې ژمنې ترسره کوی. کولای شئ، ددې اعلامیې متن مقابل لورې ته ورکړئ.

«دهغې داجراء په برخه کې تلګرامی رپوټ ورکړئ.»

«اشد محرم»

ځانګړې دوسیه.

نیویارک

دشوروی اتحاد استازی ته

که څوک هڅه وکړی، دامنیت په شورا کې په افغانستان کې زمور اقدامات مطرح کړی، زیات ټینګار وکړئ چې دملګرو ملتو دامنیت شورا دغوندې په اجندا کې ددې مسألې دشاملولو مخه ونیول شي. ټینګار په دې وکړئ چې دا دافغانستان او شوروی اتحاد ترمنځ ددوه اړخیزو اړیکو خبره ده او دوی به په خپله دهغې دهواری هڅې کوی. یادونه وکړئ چې دافغانستان دډموکراتیک جمهوریت دملګرو ملتو دمنشور د ۵۱ مادې له مخې دمشروع دفعې لپاره له شوروی اتحاد نه دمرستې غوښتنه کړې او شوروی اتحاد دهغې مرستو دکولو

لپاره په نړیواله سطحه منل شوی حق لری.

که دا موضوع بیا هم دامنیت شورا دغونډې په اجنډا کې شامله شی، نو بیا دې لاندې اعلامیه چپره کړی شی: «څرنګه چې ټولې نړۍ ته او په دې لړکې دامنیت شورا دغړیو هیوادونو حکومتونو ته څرګنده ده، اوږده موده کیږی چې له بهرنه دوسله وال تیری په ګډون، دافغانستان دډیموکراتیک جمهوریت په کورنیو چارو کې لاس وهنه روانه ده. ښکاره ده چې ددغو لاس وهنو اصلی مقصد، دهغه دډیموکراتیک نظام ړنګول دی چې د ۱۹۷۸ کال دا پریل انقلاب وروسته منځ ته راغلی دی. افغان اولس او د هغوی وسله وال پوځ ددیموکراتیکو بریاو، خپلواکۍ او دنوی افغانستان دملی شرافت خلاف داتیری په میړانه شنډ دی، خولهٔ بهرنه تیری نه یوازې روان، بلکه ډېر پراخ شوی هم دی؛ له بهرنه دوسله والو باندونو او وسلو رالیږل دوام لری.

په داسې شرایطو کې دافغانی دولت مشرانو، دبهرنی تیری ددفعې په چاره کې دمرستې لپاره پر شوروی اتحاد غږ وکړ. شوروی اتحاد په امنیتی ډګر کې دافغانستان او زمور دهیواد دګډو اړیکو په پام کې نیولو سره «چې په خپل وار د ۱۹۷۸ کال ددسمبر دپنځمې نیټې ددوستۍ، ښه ګاونډیتوب او ګډې مرستې په ټرون کې یې هم انعکاس موندلی دی، او دغه راز دنړۍ په دې سیمه کې دسولې دساتنې په غرض، دافغانی مشرتابه دې غوښتنې ته مثبت ځواب ووایه او دهغو مسألو دحل لپاره یې، چې دافغانستان حکومت یې غوښتنه کوی، افغانستان ته دمحدودو پوځی ټولګیو دلیږلو پریکړه وکړه.

په دې ځای کې ددې خبرې یادول ضروری دی چې شوروی اتحاد او افغانستان دملګرو ملتو دمنشور د ۵۱ مادې له مخې دځان دانفرادی اوډله ییزې دفاع له حق نه کار اخیستی دی. لکه چې ښکاره ده، د نړۍ ډیرو هیوادونو او په دې ډله کې دملګرو ملتو دامنیت شورا غړیو دنړیوالې سولې او امنیت دتینګښت لپاره له خپل دغه روا حق نه بیا بیا کار اخیستی دی.

شوروی حکومت دغه راز ددې خبرې په ډاګه کول ضروری ګڼی چې له شوروی اتحاد نه دافغانستان ددې غوښتنې او ورسره جوخت دشوروی اتحاد ددې اقدام دمنځ ته راوړونکو سوامله، له منځه وړلو وروسته، شوروی اتحاد هو ډلری چې خپل پوځی ټولګی په بشپړه توګه دافغانستان له خاورې نه وباسی.

شوروی اتحاد یوځل بیا په ډاګ وایی چې دپخوا په څیر یې یوازینی هیله داده چې افغانستان یوه خپلواک او مستقل دولت، دښه ګاونډیتوب دسیاسیت پر لاره روان او دملګرو ملتونو دمنشور له مخې نړیوالو ژمنو ته پابندو وینی.»

که چیرې لازمه شی، هغو ویناوو ته چې مقصد یې زمور پرسیاست، زمور پردغه اقدام او د افغان - شوروی پر دوستی او ګډې مرستې سیوری غورځول وی، کلک او مدلل ځواب ورکړئ.

دخبرو اترو او څېړنو په وخت کې په پورتنی اعلامیې او دغه راز په هغو اسنادو استناد کوئ چې یا زمور او یا دنوی افغانی مشرتابه له خوا خپرې ده.

«دمرکزی کمیټې له نامه ورته ووایاست ...»

«اشد محرم

ځانګړې دوسیه

بې نوښته

شوروی سفیر

ددوستو (ګوندونو) مشرانو له استازو سره وګورئ او دشوروی اتحاد دکمونیست ګوند مرکزی کمیټې له نامه ورته لاندې مراتب ووایاست:

ګرانو ملګرو!

له هغه دود سره سم چې زمونږ دګوندونو ترمنځ وجود لري، دشوروی اتحاد دکمونیست ګوند مرکزی کمیټه غواړي، ستاسې له ګوندی مشرتابه سره دافغانستان د وروستیو پیښو په اړوند دخپلو نظریو او ارزیابیو په هکله دزړه خواله وکړي.

تاسو خبریاست چې د ۱۹۷۸ کال داپریل انقلاب نه وروسته په افغانستان کې نوی ملی مترقی نظام منځ ته راغی. په هیواد کې دمستبد پاچایی نظام دړنګولو، دانقلاب خواته دخلکو دپراخو پرګنو د راماتولو لپاره پراخې هڅې تر سره شوی. دزمکو اصلاحات ترسره شول او یوه زیاته اندازه زمکه زیارکښو بزګرانو ته ورکړل شوه. دولور ورکړه منع شوې او دخلکو په ګټه داسې نورېدلونونه منځ ته راغلی دی.

خو په افغانستان کې انقلابی اوښتون دبهرنیو غلیمانو او ارتجاعی ځواکونو

له سخت مقاومت سره مخامخ شو. پاکستان، ایران او چین په پله پسې ورانوونکو اقداماتو لاس پورې کړ، د پخوانی رژیم پاتې شویو، له خپلو زمکونه بې برخې شویو زمکه والو، د پخوانی پاچاهی نظام لاس پوڅو او داسلامی روحانیت یوې برخې هم په خپل وار د انقلابی نظام خلاف مبارزه پیل کړه.

دې اورته په تېره بیا د حفیظ الله امین تیروتنو او که بې پردې وویل شی، دهغه استبدادی اوله دکتاتوری، ډکوکړنو سخته لمن ووهله دهغه له خوا ډیر ابتدایی قانونی نور مونه ترپښولاندې شول، هغه د ټولو ناراضیانو او په تیره بیا دهغه «چا خلاف له ترټونکو او ځبونکو عملونو نه کار واخیست چې اوږده کلونه یې د پاچاهی نظام خلاف مبارزه کړې او د اپریل په انقلاب کې یې فعال ګډون درلود.

په دې وروستیو کې حفیظ الله امین د خلکو دیموکراتیک ګوند عمومی منشی او د افغانستان جمهور رئیس ن. م. تره کی له منځه یووړ او په ټګۍ سره یې د بشرپالنې او قانونیت دعوې پیل کړې. په افراطی انقلابی ویناوو یې خوله پرانیستله او داسې نور، خو عملاً یې د له ییزو وژنو ته دوام ورکړ او د انقلابی رژیم بنسټ ته یې زیان رساوه.

په دې توګه بهرنیو لاسوهنو او د خلکو ګټو او انقلاب ته دوفادارو کادرونو خلاف له اختناق نه کار اخیستلو، دهغه څه د محوه کولو خطر رامنځته کړ چې د اپریل انقلاب له برکته افغانستان په نصیب شوی و.

د حفیظ الله امین او دهغه د نږدې ملګرو د ناوړه او ناجائزه اعمالو له امله په هیواد کې د ناخوښۍ او د حفیظ الله امین د ټولو سیاستونو خلاف د اعتراض یوه

زور وره څپه راوخوځېده او ورسره جوخت دارتجاع ورانوونکو اعمالو زور واخیست اوله بهرنه درالیږلو شویو وسله والو ډلو فعالیتونه چټک شول.

له دی ټولو څخه بهرنیو ارتجاعی ځواکونو ګټه اوچته کړه. هغوی دډیره وسله والو ډلو رالیږل (په تیره بیا د پاکستان له خاورې نه) چټک کړل. بیلا بیلې وسله والې ډلې یې په پیسو اووسلو سمبال کړې او داسې نور. لنډه دا چې هغوی د تیر نظام دبیا د تینګولو او امپریالیزم پورې دافغانستان د ټرلو لپاره لاره هواروله. ددغه سیاست لوی محرکین دامریکا امپریالیزم او سی. آی. ای او دغه راز د چین مشران دی.

خو په افغانستان کې داسې ځواکونه پیدا شول چې په غوڅه توګه یې د حفیظ الله امین خلاف پاڅون وکړ. هغه یې له واکه لیرې او دهیواد او ګوندی لارښوونې نوی ارګانونه یې منځ ته راوړل. په دې ډله کې هغه شخصیتونه شامل دی چې اوږده کلونه یې د پاچاهی نظام خلاف مبارزه کوله او له تره کی سره یې یوځای د اپریل انقلاب بری ته رسولی و.

دګوند او دولت مشری ببرک کارمل په غاړه واخیسته. دهغه دوینا او د افغانستان خلکو ته د خطاب مقصد د افغانستان د ملی خپلواکی، د خلکو دیو موتې والی، د مترقی او دیموکراتیک سیاست د پلی کولو، د قانون درعایت، د تینګ قانونی نظم د راوستلو او د خلکو په وړاندې د بشر پالونکی چال چلند تأمین دی. نوی مشر توب په هیواد کې د سولې تأمین خپله دنده بولی. دا ټولې خبرې سړی ته جرأت ورکوی چې ووایی، نوی مشران به وکولای شی، د خلکو

دیموکراتیک گوند او دافغانستان مترقی دیموکراتیک جمهوریت پیاوړی کړی.

نوی گوندی او دولتی مشرتابه له شوروی اتحاد نه دسیاسی او مادی مرستو او په دې ډله کې دپوځی ملاتړ غوښتنه وکړه.

شوروی اتحاددد غسې مرستې دکولو پریکړه کړې ده. شوروی او افغانی حکومت په دې اړوند د ۱۹۷۸ کال ددسمبر دپنځمې نیټې په تړون باندې اتکا لرله چې شوروی اتحاد او افغانستان لاسلیک کړی دی. ددې تړون په څلورم فصل کې ویل شوی دی: «دواړه لوړې موافقه کوونکې خواوې به، ددوستۍ اوښه گاونډیتوب داصل پر بنسټ او دملگرو ملتو دمنشور په پام کې نیولو سره، د دواړو هېوادو دامنیت، خپلواکۍ او دخاورې دبشپړتیا د تأمین لپاره یوله بل سره سلا مشورې کوی او ددواړو غاړو په موافقه به ورگامونه اوچتوی. ددواړو لوړو موافقه کوونکو خواو ددفاعی وړتیا دپیاوړتیا په غرض به دواړه غاړې په پوځی برخه کې خپلو گډو مرستو ته دوام ورکوی.»

شوروی اتحاد افغانستان ته دځه مودې لپاره دکم شمېر پوځی ټولگیو دلیږلو په اړه افغانی حکومت ته دهوسروخوځاوه. په افغانستان کې به دهغو شته والی دبهرنیو غلیمو ځواکونو (په تیره بیا دپاکستان له لورې) دیرغلونو او دکورنی انقلاب ضد عناصرو دهڅو دمخنیوی ضمانت وکړی.

شوروی پوځی ټولگی به دحالاتو له ثبات او دهغو عواملو له ورکاوی وروسته سمدلاسه بیرته راوایستل شی چې ددغه عمل دترسره کولو اړتیا یې رامنځته کړې دد.

دشوروی اتحاد دکمونیست گوند دمرکزی کمیتې ددغې پریکړې دنیولو په وخت کې دامپریالیستی دولتونو او دهغو دډلې ییز ارتباط دوسایلوو احتمالی منفی عکس العمل په پام کې نیولی و ، خو دطبقاتی او ایدیالوژیکی غلیمانو گوابنونه باید شوروی اتحاد او ددې هیواد کمونیست گوند دې تهارنه باسی چې دافغانی مشرتابه غوښتنه ونه منی.

دشوروی اتحاد دکمونیست گوند مرکزی کمیتې ډاډ لری چې ستاسې گوند به هغه انگیزې ښې درک کړی شی چې دیموکراتیک افغانستان ته یې ددغه ډول مرستې دکولو ارتیا رامنځته کړې اوله دې اقداماتو څخه به ملاتړ وکړی.

له کمونیستی درناویو سره

دشوروی اتحاد دکمونیست گوند مرکزی کمیته

دغیر سوسیالیستی هپوادو دهغو کمونیستی اوکارگری گوندونو

لست

چې دشوروی اتحاد دکمونیست گوند دمرکزی کمیتې لیک ورته استول کیږی

- داتریش کمونیست گوند
- دالجزایر مخکښ سوسیالیستی گوند
- دارجنتاین کمونیست گوند
- دبنگله دیش کمونیست گوند
- دبلژیک کمونیست گوند
- دبولیویا کمونیست گوند

- دبرازیل کمونیست گوند
- دونزویلا کمونیست گوند
- دانگستان کمونیست گوند
- دالمان کمونیست گوند
- دیونان کمونیست گوند
- ددنمارک کمونیست گوند
- داسرائیلو کمونیست گوند
- دهندوستان کمونیست گوند
- دعراق کمونیست گوند
- دایران تودې گوند
- دآیرلند کمونیست گوند
- دهسپانیې کمونیست گوند
- دایتالیی کمونیست گوند
- دکانادا کمونیست گوند
- دفبرس کارگری مترقی گوند
- دکولمبیا کمونیست گوند
- دلبنان کمونیست گوند
- دلوکزامبورگ کمونیست گوند
- دمالتا کمونیست گوند

- دمکسیکو کمونیست گوند
- دهالند کمونیست گوند
- دناروی کمونیست گوند
- دپیرو کمونیست گوند
- دپرتگال کمونیست گوند
- دریون اون کمونیست گوند
- دسان مارینو کمونیست گوند
- دسوریې کمونیست گوند
- دامریکې دمتحدو ایالاتو کمونیست گوند
- دترکیې کمونیست گوند
- دیوروګوای کمونیست گوند
- دفلیپین کمونیست گوند
- دفنلاند کمونیست گوند
- دفرانسې کمونیست گوند
- دچیلی کمونیست گوند
- دسویس کمونیستی کارګری ګوند
- دسویډن دکمونیستانو کیڼ لاسی ګوند
- دسریلانکا کمونیست ګوند
- داکوادور کمونیست ګوند
- دجاپان کمونیست ګوند ».

«ستاسو دخبرو بنه له اعتدال نه وتلې ده، ښاغلی جمهور رئیس...

دامریکا جمهور رئیس دهغو لومړیو کسانو په ډله کې وچې افغانستان ته یې دشوروی لښکرو دورتګ په وړاندې عکس العمل وښوده. دمخامخ مزی په مرسته د ج. کارتر پیغام ددسمبر په ۲۹ مسکوته راورسید. په هماغه ورځ د ل.ا. بریژنف ځواب هم واشنګټن ته مخابره شو.

«اشد محرم

ښاغلی محترم جمهور رئیس،

ستاسو ددسمبر د ۲۹ نیټې د پیغام په ځواب کې دلاندې خبرو کول ضروری ګڼم:

دافغانستان په دیموکراتیک جمهوریت کې دروانو حالاتو دارزیابۍ په هکله ستاسو له نظر سره موافقه نه شم کولی. په مسکو کې موستاسې دسفیر له لارې، امریکایی لوری او شخصاً تاسوته په خصوصی توګه ددغه هیواد د حالاتو او دغه راز دهغو عواملو په هکله په حقایقو بنا توضیحات مخکې درکړی دی چې مورږ یې افغانستان ته دمحدودو پوځی ټولګیو دلیږلو په برخه کې، دافغانستان دحکومت غوښتنې ته په مثبت ځواب ویلو اړکړو.

ستاسو په پیغام کې، افغانستان ته دشوروی پوځونو دغوښتلو په هکله دافغانستان دحکومت دتقاضاء شته والی ته دشک په سترګه دکتلو هڅه مورږ ته څه عجیبه غوندې بریښی. مجبوریم یادونه وکړم چې دچاله خوا ددغسې غوښتنې

دشته والی یا نشتوالی منل یانه منل، د پیښو اصلی بهیرنه ټاکی، د پیښو اصلی واقعیت داسې دی:

دافغانستان حکومت د دووکلو په اوږدوکې څوځله له مورنه دغسې غوښتنه کړې ده. دیادونې وړ ده چې ورته غوښتنه ان دروان کال د دسمبر په ۲۶ هم شوې ده. په دې خبره هم شوروی اتحاد خبر دی او هم افغانی لوری چې دا غوښتنه یې کړې ده.

یوځل بیا ټینګار کوم چې افغانستان ته د شوروی محدودو پوځی ټولګیو لیږل یو مقصد لری او هغه دبهرنی تیری په له منځه وړلو او دفع کې مرسته او لاس کول دی چې له اوږدې مودې روان دی او اوس یې ډیره پراختیا موندلې ده.

ستاسو په لیک کې دا یادونه هم د منلو وړنه ده او له واقعیت سره سمون نه لری چې ګواکی شوروی اتحاد دافغانستان حکومت نسکور کړی دی. غواړم په قاطعیت سره یادونه وکړم چې په افغانی مشرتابه کې بدلون، خپله دافغانانو کار دی او یوازې د همدوی په لاس تر سره شوی دی. په دې هکله دافغانستان له حکومت نه وپوښتئ.

ستاسو په لیک کې دافغانستان د پخوانیو مشرانو د کورنیو د غړیو د برخلیک په هکله راغلې خبرې هم له حقیقت سره سر نه خوری. زمور په لاس کې موجود معلومات، تاسو ته په درسیدلو اطلاعاتو د ناسمې کرښه باسی.

دغه راز باید داخبره هم درته په ډاګه اعلان کړم چې شوروی لښکرو، دافغانی لوری خلاف هیڅ اقدام نه دی کړی او شک نه شته چې د دغسې کار د ترسره کولو

نیت هم نه لرو.

تاسو په خپل لیک کی دانیوکه هم کړې چې افغانستان ته د پوځونو له لیږلو مخکې مو باید له تاسو سره دافغانستان دحالاتو په هکله سلا مشوره کړې وای. اجازه راکړئ وپوښتم، هغه وخت چې تاسو دایران په سمندری غاړو او دفارس په خلیج کې خپل سمندری پوځ ځای پرځای کاوه او یا په داسې نور وحالاتو کې لږ ترلږه مورته یې دخبر راکولو غوښتنه کوله، تاسوله مور سره مشوره کړې وه؟

ستاسو دلیک دمتن او روحیې په پام کې نیولو سره، ضروری ګڼم یوځل بیا څرګنده کړم چې دافغانستان دحکومت غوښتنه او دشوروی اتحاد له خوا دهغې منل، دا کاملاً دشوروی اتحاد او افغانستان خپل منځی خبره ده، چې خپله، خپل دوه اړخیزې اړیکی تنظیموی او له بهرڅخه هیڅاته په دوه اړخیزو اړیکو کې دلاس وهنې اجازه نه ورکوی. دوی دواړه، دملګرو ملتو دبل هر غړی هیواد په توګه ددغه سازمان دمنشور د ۵۱ مادې له مخې چې شوروی اتحاد او دامریکې متحدو ایالتونو په خپله طرح کړې ده، دانفرادی او ډله ییزې دفاع حق لری. دغه حق دملګرو ملتو د سازمان دټولو غړو هیوادوله خوا په رسمیت پیژندل شوی دی.

شک نه شته چې ستاسې دا دعوه چې ګواکی په افغانستان کې زمور فعالیتونه سولې ته زیان رسوی، هیڅ بنسټ نه لری.

ددې ټولو خبرو په رڼا کې، ستاسو دلیک دځینو برخو غیر معتدله بڼه هم دسړی پاملرنه جلبوی. دا دڅه لپاره؟ دا به ښه نه وای چې تاسو دسولې دلوړ ارمان او په لومړی ګام کې زمور دهیوادو ترمنځ ددوه اړخیزو اړیکو په پام کې نیولو

سره، په کراری ددې خبرې جاج اخیستی وای؟

ترکومه ځایه چې ستاسو په «مشورې» پورې اړه لری، مونږ تاسوته خبر درکړی او دادی یوځل بیا اعلانوم چې کله له شوروی اتحاد نه دافغانستان دغوښتنې رامنځته کیدونکی عوامل، له منځه لاړل، نومونږ به هم سمدلاسه ددغه هیواد له خاورې نه خپل پوځی تولګی راوباسو.

او زمونږ مشوره تاسوته داده: امریکایی لوری ته په کار داده چې دافغانستان په چارو کې له بهرنه دلاسوهنو په بندبست کې خپله ونډه ادا کړی.

زه دا خبره ردوم چې ګنې دشوروی اتحاد او امریکې ترمنځ دلاتینګو او اغیزمنو اړیکو دټینګښت لپاره ټوله خواری په سین لاهو شوه، مګر داچې امریکایی لوری دهغې غوښتونکی وی. مونږ دغسې یوشی نه غواړو، فکر کوم دا خبره دامریکا دمتحدو ایالاتو په ګټه هم نه ده. زمونږ باور دادی چې دشوروی اتحاد او امریکا ترمنځ داړیکو دټرنګوالی تاکل، دوه اړخیزه خبره ده، زمونږ په عقیده، دغه اړیکی باید د جانبی عواملو او پیښو تر اغیزلاندې زیانمن نه شی.

په نړیوال او اروپایی سیاست کې دنظر له اختلافونو سره سره چې مونږ ټول پرې ښه پوهیږو، شوروی اتحاد ددې پلوی دی چې له دې وروسته دی هم ټولې چارې دهغو ترونونو او سندونو پر بنسټ ترسره شی چې دواړو غاړو دسولې، برابرې همکارۍ او نړیوال امنیت په ګټه منلی وو.

ل. ا. بریژنف

د ۱۹۷۹ کال ددسمبر ۲۹

« تروسه وسه دې ددې خبرې له رسوا کولونه ډډه وشی ... »

دنوی ۱۹۸۰ کال دجنوری په لومړیو ورځو کې، مسکو دافغانستان دبهرنیو چارو دوزیر شاه محمد دوست راتګ ته سترګې په لاره و، خو هغه په تاکلې نیټه رانغی، ځکه چې دجنوری په دریمه ببرک کارمل د افغانستان دخلکو دیموکراتیک ګوند دمرکزی کمیټې دعمومی منشی او ددولت دمشر په توګه خپل لومړنی مطبوعاتی کنفرانس جوړ کړ چې دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت دبهرنیو چارو وزیر هم برخه په کې درلوده.

په بهرکې دافغانستان دیپلماتیکو نماینده ګیو ته لارښوونه وشوه، تولو هغو بهرنیو ژورنالیستانو ته دې بې ځنډه دننوتلو ویزې ورکړی چې دغه هېواد ته دورتګ هیله لری. داپریکړه دشوروی اتحاد په غوښتنه شوې وه. د « پرانستو دروازو » سیاست ایله څو اوونۍ دوام ومونده. دهغه مخنیوی هم د مسکو په لارښوونه وشو.

داپریل دانقلاب له بری نه دکابل رژیم تر پرنګیدو پورې دافغانستان دخلکو دیموکراتیک ګوند او دافغانستان دحکومت تولې کړنې دشورویانو تر کلکې څارنې لاندې وې. ددې خبرې یو بنه مثال دملګرو ملتو دامنیت شورا دغونډې په درشل کې، په مسکو کې د ا.ا. ګرومیکو او ش.م. دوست کتنه ده. تمه وده چې دنړی وتلی هیوادونه به په دغه غونډه کې دافغانستان په اړوند دشوروی مشرانو په چال چلند سخت ګوزارونه وکړی. « ارشدمحرم »

دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت دبهرنیو چارو له وزیر ش. م. دوست سره د ا. ا. گرومیکو دخبرو اترو داصلی محتوا دغتیو غتیو ټکو یادداشتونه

گرومیکو: ... په زړه پورې ده چې اوږد دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت نوی مشران د شوروی لوری مشورې او نیکې هیلې په غور سره اوری. له دې سره سره غواړم یادونه وکړم چې دبیلابیلو مسألو په اړوند دوروستۍ پریکړې حق یوازې افغانی لوری، یوازې تاسې لرئ.

ملګری وزیر غواړم دامنیت په شورا کې دمنځ ته راغلی حالت او په راتلونکې غونډه کې ستاسو دوینا د څرنګوالی په هکله درته خپل نظر څرګند کړم.

شک نه شته چې دا نظریې دوروستۍ پریکړې بڼه نه لری، خو په هر حال، **دافغانستان او دهغه د شاوخوا پیښو په هکله زمږ دهیواد او دشوروی مشرتابه** دریځ څرګندوی.

لومړی: لویدیځو هېوادو، ترټولو لومړی دامریکې متحدوایالاتونو دشوروی **اتحاد او دنوې تولنې دجوړښت په لاره دروان انقلابی افغانستان خلاف پراخه** تبلیغاتی مبارزه پیل کړې ده. امپریالیزم پریکړه کړې چې «دزړه براس وباسی».

په دې شریرو تبلیغاتو کې دحیرانتیا کومه خبره نه شته. دحیرانتیا خبره به هله **وای چې امپریالیزم په افغانستان کې دروانو انقلابی بدلونونو په وړاندې نیک** دریځ غوره کړی وای، هله به نو مږ فکر کولی چې هه، څه خراب کار موکړی چې امپریالیزم راته لاسونه پرکوی؟! ما نادا چې دافغانستان د پیښو په هکله دلویدیځ په جوړکړی شورماشور کې کومه ناڅاپی خبره نه لیدل کیږی.

دوهم: دامنیت شورا په غونډه کې دافغانی هیئت دمشر وینا باید څه بنه ولری (لحن یې باید څه وی).

تاسې ملګری وزیر، پوره حق لرئ چې د تورن په توګه نه، بلکه د یو ځارنوال په بنه خبرې وکړئ. فکر کوم د دې کار لپاره پوره دلایل هم شته. له دې امله مهمه نه ده چې له ځانه څنګه دفاع وکړئ، بلکه غوره داده چې څنګه برید وکړئ او په څه ډول دامپریالیزم دسیسې بربنډې کړئ.

دریم: باید په ځانګړې توګه په دې ټکی ټینګار وشی چې افغانستان ته دشوروی محدود او پوځی تولګیو لیږل، له شوروی مشرانو څخه دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت دمشرتابه دبیا بیا غوښتنې په ځواب کې شوی دی. دغسې غوښتنې هم د ن.م. تره کی له خوا مسکو ته دهغه دسفر په ترڅ کې او هم د ح. امین له خوا مخکې مطرح شوی دی.

کارتر غواړی داخبره په خلکو ومنی چې شوروی اتحاد یوازې دافغانستان دنویو مشرانو له خوا دغه هېواد ته دعسکرو دلیږلو غوښتنه ترلاسه کړې ده. (تاسوته) په کارده چې دا جعلیات په غوڅه توګه رد کړئ او احتمالاً دنیټو په ذکر سره څرګنده کړئ چې دافغانستان په کورنیو چارو کې دبهرنیو ځواکونو دپرله پسې لاس وهنو له امله، هغوی اړشول چې څوځله له شوروی اتحاد نه دپوځی ملاتړ په ګډون، دمرستې غوښتنه وکړی.

دخپلې وینا په دې برخه کې دامنیت شورا غړیو ته دملګرو ملتو دمنشور یو پنځوسمه ماده او دغه راز دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت او شوروی اتحاد

ترمنځ د دوستۍ، ښه ګاونډیتوب او همکارۍ ټرون وړپه یاد کړئ.

څلورم: په کاږده، په دقیقه توګه وویل شی، چې شوروی مخدود پوځی ټولګی، افغانستان ته یوازې او یوازې دهغو بهرنیو ځواکونو دناپایه تیری کوونکو اعمالو د دفعې په کارکې دمرستې لپاره غوښتل شوی چې د پاکستان له خاورې نه، تیری کوی. په هغه هیواد کې، دامریکې، نورو لویدیځو هیوادونو او چین په زیار د کډوالو کمپونه، د ګڼ شمیر وسله والو باندونو د روزنې او افغانستان ته د صادرولو په مرکز بدل شوی دی.

پنځم: دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت دمشر تابه بدلون بیخی دافغانستان کورنۍ خبره ده او په خپله په افغانانو پورې اړه لری. هیڅوک حق نه لری، افغانانو ته په ګوته وښیی چې څه شی وکړئ او څنګه چال چلند کوئ.

دلویدیځو هېوادو استازی، په تېره بیا تاچر هڅه کوی، دافغانستان دمشر تابه بدلون او دغه هېواد ته دشوروی پوځی ټولګیو لیږل، دوه موازی اعمال وښیی. هغو وایی ګواکې دغه دوه پیښی سره تړلی دی، خو تاسو پردې خبره هم ځانګړی ټینګار وکړئ او ووایاست چې دلته کومه علنی رابطه وجود نه لری، داهسې د پیښې دوخت له پلوه یو تصادف و.

ښه به وی که تاسو دې تکی ته هم پام ولرئ چې دامریکې دمتحدو ایالتونو او دنورو لویدیځو هېوادو رسمی استازیو ان د ن. م. تره کی او ح. امین په وخت کې هم افغانستان ته زمور د دوو پوځی کنډکونو د لیږلو چیغې په ټوله نړۍ کې سرکړې وې. په دې توګه نو هغوی «له خپلو یقینی شواهدو سره» په تناقض کې راځی:

گواکی شوروی اتحاد خپل پوځونه د دسمبر له ۲۷ نه مخکې افغانستان ته لیږلی چې دافغانی مشرتابه تعویض یې رامنځته کړ.

شپږم: ښه به وی که یوځل بیا وویل شی چې شوروی محدود پوځی ټولګی به هله سمدلاسه دافغانستان له دیموکراتیک جمهوریت نه وځی چې په افغانستان کې دهغوی د حضور دلایل له منځه لاړ شی. له بهرنه وسله وال یرغلونه او تیری کوونکی لمسونونه بند شی او په افغانستان کې امنیت تامین شی.

اووم: دوتلو اسلامی مشرانو دوژنو او په افغانستان کې داسلام دین د تهدید په هکله لویدیځ شورماشور پورته کړی دی. عجیبه داده چې دا د ډول «افسوسونه» دامین داعمالو، دهغه دخپل سر یو او وژنو په هکله نه، بلکه دواک له ګدۍ نه دافغانستان دخلکو د دغه قاتل د نسکورولو له امله څرګندیږی.

دهمدې ټکی په پام کې نیولو سره دافغانی هیئت مشرته په کار ده، دببرک کارمل په مشری دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت دنوی حکومت مثبتې کړنلارې او داسلام او مسلمانانو په وړاندې دهغه د دریځ په هکله ټینګې او غوڅې خبرې وکړی.

اتم.: په کار ده چې دیو دکتاتور او دافغانستان د ټول اولس خلاف دوژنو او ډله ییز ترور له لارو چارونه دکار اخیستونکی په توګه د ح. امین څېره رسوا کړی شی. حقایق او شواهد دې راوړل شی. دهغو شمېر ډیر دی.

نهم: ګټوره اوله ارزښته ډکه خبره به وی که وویل شی چې دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت نوی مشرتابه کلک عزم کړی دی، له خپلو ګاونډیانو -

ایران او پاکستان سره دښه ګاونډیتوب عادي روابط ټینګ کړي، او دا کار دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت په داسې حال کې کوي چې پاکستان دافغان اولس په کورنیو ټارو کې له ګوتو وهلو څخه لاس نه دی اخیستی. له پاکستان نه افغانستان ته دوسله والو ډلو رالیږل هماغسې روان دی یعنې دا چې تېری لا اوس هم روان دی.

لسم: له دې امله چې امریکا، پاکستان ته دوسلو دورکولو دچټکتیار پریکړه کړې، په کار ده داسې نظریه څرګنده شي چې یو شمېر بهرنی ځواکونه، په تیره بیا امریکا، په سیمه کې د آرامۍ دراوستلونه، بلکه برعکس د کړکیچ دزیاتولو دستونزمنو حالاتو دراپیدا کېدلو غوښتونکی دی. په کار ده غوڅ اعلان وشي چې په امریکایی وسلو «ترغاښونو» د پاکستان سمبالول، دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت بې تفاوته نه شي پرېښودی، ځکه چې له دې امله به د پاکستان له خوا پر افغانستان د پوځی یرغل دایمی خطر منځ ته راشي، دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت به ارشي چې په داسې شرایطو کې هم دخپل امنیت غم وخوری.

یوولسم: د نورو اسلامی دولتونو خلاف دافغانستان د درولو هڅې بېخی ښکاره دی، په دې هکله دې وویل شي چې افغانستان ټولو اسلامی هېوادونو، ان هغه چاته چې دامنیت شورا د غونډې دجوړیدو غوښتنلیک یې لاسلیک کړی هم دی، د دوستی لاس غزوی. په کار ده ټینګار وشي چې دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت نوی مشران حاضر دی داسلام درناوی او دنا پېیلتوب د غورځنګ پرله پسې ملاتړ وکړی داهم غوره ده چې وویل شي، هیڅ ملا تر هغو چې وسله په لاس

دافغانستان دقانونی دولت خلاف ونه درپری، مجازات به نه شی.

داخبره دې زمور په خپل منځ کې وی، ملګری وزیر، مور ته اطلاعات را رسیدلی چې سعودی عربستان هڅه کوی خپل شپږ ګاونډی اسلامی هېوادونه وهڅوی چې دافغانستان له دیموکراتیک جمهوریت سره خپلی اړیکی پرې کړی.

دولسم. مهمه به وی که یادونه وشی چې دامنیت شورا درئیس په نامه تر لیږل شوی لیک لاندې چې چالاسلیک کړی دی، ددغو هېوادو حکومتونو دافغانستان له خلکو سره ددښمنی لار غوره کړې ده. افغانستان دانقلابی بدلونونو په لاره ټینګ روان دی او هیڅ داسې ځواک نه شته چې هغه له دې لارې راستون کړی. په عین وخت کې دې دا خبره هم وشی چې دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت نوی حکومت له ټولو هېوادو، ان له هغه چا سره چې دغه لیک یې لاسلیک کړی دی، دهمکاری غوښتنه کوی. دافغانستان دیموکراتیک جمهوری حکومت به په راتلونکی کې هم دنا پیلتوب په غورځنګ کې فعاله ونډه اخلی.

دوست: زه په خپل وار ملګری وزیر، دامنیت شوراې غونډه کې زما دوینا د ځرنګوالی په هکله ستاسو له درنو او ګټورو مشورو نه دزړه له کومې مننه کوم.

مانه یوازې هغه په غور واوربدې، بلکه په مفصل ډول مې دغان لپاره یادداشت هم کړې. ستاسې له خولې راوتلې هیلې به دامنیت په شورا کې زما دوینا اصلی محور وی. یوځل بیا دازادو او له ملګرتیا ډکو خبرو له امله مننه کوم.

ګرومیکو: ما یوازې هغه نظریی درته عرض کړې چې زمور په فکر کیدی شی، ستاسو دوینا په تیارولو کې ترې ګټه واخیستل شی. معلومه ده چې دوخت

دکمبود له امله هغه په لنډ تنګ شکل تیارې شوی وې، خو همدا له ملګرتیا ډک وړاندیزونه او نظریې په روښانه توګه، داړوندو مسألو په هکله دشوروی اتحاد دریځ څرګندوې ستاسو دغوښتنې له مخې مو دامریکایی پوځی اډو په هکله مطالب تیار کړی دی. دغه مطالب و. س. سافرانچوک له ځانه سره نیویارک ته وړی. نوموړی ستاسو دغوښتنې له مخې په ځانګړی ډول ستاسو دمشورتی مرستې لپاره نیویارک ته لیږل کیږی.

کله چې تاسو افغانستان ته دشوری پوځونو دننوتلو له امله ترحملې لاندې رائځ، نو کولای شئ دخپل ځان په دفاع کې له دې قانع کوونکی حقیقت څخه هم ګټه واخلئ چې دامریکې تیری کوونکی سیاست په کې رسوا کیږی: دامریکا متحدایالتونه دکیوبا دحکومت او ددغه هیواد د خلکو له ییا بیا غوښتنې سره سره دګوانتانامو په تاپوکې دخپلې پوځی اډې ساتلوته دوام ورکوی. دادیوه خپلواک هیواد په چارو کې دامریکا دمتحدو ایالتونو څرګنده لاسوهنه ده.

دیوه ملګری په توګه تاسو او ستاسو دهیئت نورو غړیو ته روحی غوړیدل او دخپل دریځ په دفاع کې په ځان ویسا او ټینګښت غواړم. په غونډه کې دګډون کوونکو دولتونو له استازیو سره ډیرې کتنې کوئ او په افغانستان کې دروانو حالاتو اصلی ماهیت ورته په زړورتیا روښانوئ. حقیقت ستاسو او زمونږ پرلور دی.

ترکومه ځایه چې د و. س. سافرانچوک او له هغه سره ستاسو دکتنو خبره ده، نبه به داوی چې له هغه سره په نیویارک کې، په تیره بیا دودانیو دننه دخبرو اترو

په وخت کې له لازم احتیاط او هوښیاری نه کار واخلی. لیدنې کتنې او دافکارو راکړه ورکړه کیدای شی وار په وار په ملګرو ملتو کې دشوروی دنماینده ګی په دفتر کې او یا هم په شوروی جنرال قونسلګری کې ترسره کړئ. ښه به وی، که داخبره دې هره خپره نه شی چې و. س. سافرانچوک له تاسو سره دمرستې لپاره نیویارک ته راغلی دی. دهغه داستولو لپاره رسمی پلمه دملګرو ملتو دعمومی اسامبلې په روانه غونډه کې دشوروی دنماینده ګی هئیت دغړی په توګه ګډون دی.

۱۹۸۰.۱.٤»

لومړنی سفر نوې دنده

په ۱۹۷۹ کال کې زه په شمالی قفقاز کې دیوې فرقې درستیزوال وم. افغانستان زما لپاره هومره ارزښت درلود، څومره چې یې د نورو خلکو لپاره لاره. له هغه ځایه را رسیدلی تلویزیونی رپوټونه، زما په نظر د نړۍ د نورو پیښو په هکله د رپوټونو یه څیر وو او کومه ځانګړې پاملرنه مې ورته نه کوله.

د تره کی، امین او نورو افغانی سیاسی شخصیتونو نومونه که څه هم بیا بیا تکراریدل، خو بیا هم زما لپاره نامأنوس وو، خو یقین لرم چې له افغانستان سره په پوله کې لوړ رتبه افسرانو او جنرالانو د آمو سیند اخواتیریدونکې پیښې له مسلکی پلوه په غور سره تعقیبولې. چې کله به مې په تلویزیون غمنم رنګې څیرې او بې غمه افغانی ماشومان ولیدل، د دسمبر د میاشتې واورو، باران او د خپلې سیمې چکړوا وختو ته به مې فکر شو او د هغوی په لمرین اسمان به مې رخه راغله.

د فرقې د درستیزوال په توګه مې کافی کارونه درلودل. تقریباً ټوله ورځ به مې په پوځی کارونو تیریده. لنډه دا چې هغه وخت اصلاً د افغانستان په فکر کې نه وم. هغه وخت لا په دې نه پوهیدم چې د افغانستان په بیړه بدلیدونکی حالات به نه یوازې زما بر خلیک تریوې اندازې تاکی، بلکه دیو ناسور ټپ په توګه به زما د سلګونو زرو هیوادوالو په یاد کې ژوندی پاتی کیږی.

د دسمبر په ۲۸ زه له نورو افسرانو او جنرالانو سره یو ځای د پوځی حوزې له قوماندانی نه د کلنی دودیزې جاج اخیستنې وروسته راستیندم. د دون پرځنډه پراته د رستوف ښارنه د خپلی د ندې ځای ته د الوتلو په وخت کې مو هغه معلومات څیړل چې تر دغه وخته یې لاس ته راوړل ممکن شوی وو. چا وویل چې تیره شپه زمور پوځونه له پولې نه د افغانستان خاورې ته ورواوښتل. داسې ښکاری چې په بهرکې زمور یو بل پوځی ټولګی د ځای پر ځای کېدو په حال کې دی. د تل په څېر دا ځل هم د پوځونو د لیږلو دلایل په مبهمه بڼه یاد شوی وو: له بهر نه د تیری په رفع کولوکې د دوست هیواد له خلکو سره مرسته او د خپلو جنوبی پولو ساتنه.

دې خبرې نه زه او نه هم نور افسران حیران کړل. یقین مودرلود چې د عسکرو د لیږلو لپاره کافی دلایل شته لنډه دا چې هغه وخت له مور سره په الوتکه کې د ناستو افسرانو له ډلې نه څوک په دې خبره پوهیده؟ نه شم ویلی چې ولی، خو سمدلاسه مې شپږم حس را ته وویل چې ګه بل څوک و نه لیږل شی، نو زه خو خامخا په د غو «محدودو ټولګیو» کې د خدمت لپاره لیږل کیدونکی یم.

۱۹۸۰ کال پیل شو. مطبوعاتو، راډیو او تلویزیون پرله پسې د شوروی پوځونو له ورتګ وروسته، په افغانستان کې د را غلیو بدلونونو کیسې کولې. هغه وخت می له ځانه پوښتل: دا به تر څه وخته وی؟ هیڅوک د دې پوښتنې په ځواب نه پوهیده. د فرقې افسران خو لاڅه کوې، ان د پوځی حوزو زیاتو قوماندانانو په افغانستان کې د محدودو شوروي ټولګیو د جوړښت او د ندو په هکله تصور او په دغه اړوند هر اړخیز او تر ټولو مهم حقیقی معلومات نه لرل. په داسې یو حالت کې موږ یوازې کولی شول په «بهرنیو راډیویی خپرونو» او آوازو تکیه وکړو. «مایکوپ» ته چې هغه وخت زما د ډندې ځای وُ د سر د لومړنیو زیانونو او زموږ د سریترو په وړاندې د وسله والو باندونو د ځناورتوب په هکله د اطلاعاتو بهیر را روان شو. دا زما لپاره بیخی د پوهیدو وړنه وه، احزتل دا ډنډ وره غږیده چې افغانان زموږ دوستان دی....

د جنوری په ۱۶ د هغو دوه ورځینو پوځی تمرینونو په تیاری بوخت وم چې سبا سهار وختی پلییدونکی وو. د مازیګر د پنځو بجو په شا او خوا کې راته د قول اردو قوماندان تلفون وکړ. هغه داسې په وچ غوندې آواز وویل چې د دفاع وزیر دامرله مخې زه په کابل کې د میشتې یوې فرقې د درستیزوال په توګه تاکل شوی یم. ماته لارښوونه وشوه چې په څلورو ورځو کې باید ځان د ترکستان پوځی حوزې ته ورسوم او وروسته د تاشکند له لارې کابل ته والوزم. «خوځیږه، بریالیتوب دې غواړم»، دا یې وویل او د تلفون غوږې کینبوده.

د قول اردو له قوماندان سره زما لنډو خبرو زه دومره حیران کړی وم چې حتی

پوښتنه مې ونه کړه، په نوې دنده زما د ټاکلو دلیل څه دی؟ پخوا به چې کوم افسر په څه دنده ګمارل کیده نو په بیلابیلو ذریعو به ورته معلومات رسیدل. ما ته هم داسې په نظر راغله چې خپل نږدې لرلید را ته روښانه بریښي.

زما دنده بدله نه وه. البته بریاوې او ناکامۍ یې هم درلودې، خوله دې سره سره مې د م.ف. فرونزې په نامه د پوځي اکاډیمۍ تر بشپړېدو وروسته د کنډک له قوماندانۍ نه د فرقې تر درستیزوالوسۍ پورې لار وهلې وه. ښایي له دې امله چې دومره اوږده لارمې په داسې کم وخت کې ووهله، یو وخت آوازه شوه چې زه ګنې هسې ساده افسر نه بلکه د دفاع د وزیر د یوه مرستیال وراره یم. هر څه چې وو خو مادې ته زړۀ ښه کړی و چې یوه ورځ به مې غواړی او راته وایی به چې د فرقې قوماندانۍ دې مبارک شه. ما ته ان خبر رارسیدلی و چې داسې پریکړه شوې ده، یوازې د فرمان صادر یدل پاتې دی. په دې خبره هک حیران شوم چې اوس داو سنۍ څوکۍ معادله څوکۍ او هغه هم خدای خبر په کوم ځای کې راکړی شوې ده. دا ولې؟ که ریښتیا ووایم، دې خبرې په مابده اغیزه کړې وه.

د شپې چې کورته راغلم، ښځې ته مې د نوې دندې خبر ورکړ. نه پوهیدم څه وخت به راستنیږم: میاشت وروسته که شپږ میاشتې. ویل شوی وو کورنۍ به له ځان سره نه بیایي او داخبره د هر افسر پر ښځه یو ډول اغیزه ښندی. له هماغه پیله، د افغانستان په هکله خبرو اترو، هلته له تګ نه ډیر خوند درلود. چمتو والی مې پیل کړ. درې ورځې وروسته هر څه تیار وو. ټول کالی مې یو بکس شو. له دوستانو سره مې مخه ښه هم ونه کړه او ناڅاپه روان شوم.

پرتاشکند د حقیقی ژمی وزرخور و. په هوایی ډګر کې ترکوزیدو درې ساعته وروسته د ترکستان د پوځي حوزې د قوماندان ډګر جنرال یوري پا ولوویچ ماکسیموف په دفترکې حاضر وم. هغه به سره سینه او کراری، په افغانستان کې زما د اتلونکی دندې هکله خبرې سل کړې. له خبرو یې ښکاره چې متین، روښانفکره او د پوره عقل خاوند سړی دی. دا لومړی ځل و چې دا سې لوی قوماندان مې پرنورو افسرانو مهربان، غمخور او ځیرک اندازې صمیمي لیده، زما په نظر د اد هغه چالپاره چې نامعلومې خواته روان دی له ارزښته ډکه خبره وه د پوځي حوزې په قوماندانۍ کې مې د یوې ورځې په نرخ کې هڅه وکړه خپله نوې فرقه ښه وپیژنم او د افغانستان په دیموکراتیک جمهوریت کې د حالاتو تاج واخلم. د هیڅ شي په پوهیدو بریالی نه شوم، خو یوه خبره راته روښانه شوه: په افغانستان کې بلاستونزې دي او هلته خدمت کول له شوروي نه ډیر توپیر لري. د حوزې په دهلیزونو او دفترونو کې له ما سره داسې خبرې کیدې لکه چې دا مو وروستۍ کتنه وي، که څه هم چا ښکاره اعتراف نه کاوه خو دا احساسیده چې ډیر ژر به د سړاو جنګي تخنیک زیانونه پیل شي. یعنې دا چې مخې ته جګړه پرته ده.

ما ټول هغه څه چې په افغانستان پورې یې اړه موندله، بې اختیاره د مرګ او ژوندانه تر منځ یومنځنی شي، یو منځنی مفهوم ګانه. کابل ته له الوتنې په مخکې شیبه مې په ښارکې د چکر وهلو پریکړه وکړه په کوڅوکی سرګردان سرشوم، د کورونو نندارې مې وکړې او د نیمو شپو له لارویو سره مې خبرې وکړې. هغه سخته زلزله را په یاد شوه چې څو کاله مخکې یې دا ښار لرزولی و. هغه وخت

پوځیانو تر ټولو د مخه د کنډوالو په راسپرلو لاس پورې کړی و. هڅه مې وکړه، ځان په دغسې یوه منظر کې تصور کړم، خو ونه شوه:

زما دفکر مارغه دافغانستان دپاسه الوتنه کوله.

تاشکند - کابل

سبا سهار زه په کابل کې وم. د جګړې د ګرته لومړی الوتنه تل په یاد کې ژوندی وی. هغه پوځی هوایی ډګر چې وروسته وروسته یې د جنګ ځپلی افغانستان او زمور د هیواد ترمنځ د هوایی پله د جوړولو اصلی بار پراوړو ولوید، تاشکند ته خبرمه پروت دی. زمور موټر د الوتکې د ځغاستې پرلیکه ودرید. دلته نور نردې شل افسران هم الوتنې ته د چمتوالوتکې تر څنګ ولاړ وو. تقریباً ټولو یا ټمانچه او یا ماشینګن درلوده، یوازی زما په ګډون څو تنه نوی د خپلو دندو لورته تلل او څکه نو بې وسلې وو. د ډګر په په کالو کې د چا رتبی نه معلومیدې، خو زه د ډګروالی په کالیو کې په بالا پوش کې نغښتی او له ګردې عسکری خولی سره له موټره کوز شوم. سمدلاسه مې خپل نامناسب حالت ته پام شو او ترکومه چې ممکن وه په پټه مې ګرده عسکری خولی لیرې او د ډګرخولی پر سر کړه. که دا خلک په دې پوه شوی وای چې زما لوی بکس کې لاجشنی یونیفورم هم شته نو....

هیچا پاسپورت او ویزه نه لرل. افغانستان ته ټول د یوه لست له مخې تلل. په هغه اړی ګړی کې چې په لومړی سر کې موجود و، همدا د یرینه کار و. څکه سر خو دا چې په الوتکه کې پر دې څوک نه و او بل دا چې د هوایی سانځې په وخت کې د

همدې لست له مخې چې یو نقل یې په زمکه کې پاتې کیده، بې له ځنډه کیدای شول، د وژل شویو هویت مشخص کړای شي. ان اوس هم د هیواد دننه د هوا له لارې له یوه ځایه بل ته د پوځي تولګیو د لیږدولو په وخت کې همدغه ډول په پام کې نیول کیږي. د لست له مخې، افغانستان ته د لیږلو طریقه تقریباً د (۱۹۸۰ کال) تر اپریله پر ځای وه، خو وروسته بیا پوځیانو، له شوروی پولې نه د تیریدو په وخت کې تول نړیوال منل شوی نورمونه په نظر کې نیول.

دا لومړی ځل و چې په ایل - ۱۸ ډوله طبی الوتکه کې مې سفر کاوه. په هغې کې د ځوکیو پر ځای عادی طبی تذکرې ایښې وې. تقریباً تول غلی ناست وو. یو نیم غړ به هم دا نجونو په شورماشور کې ورک شو، ځینو یود سترګه خوب هم وکړ، یو نیم ساعت وروسته زمور الوتکه په بګرام کې کوزه شوه. وروسته راته معلومه شوه چې دلته د کابل د شمال په شپیته کیلومتری کې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د هوایی ځواکونو تر تولو لویه اډه پرته ده. د ځلویښتم لښکر پیلوټانو هم وروسته له دې هوایی ډګرنه اساسی ګټه اخیستله.

زمور الوتکې باید په بګرام کې له یوه ساعت زیات ځنډنه وای کړی. دالوتکې په خوله کې چې لا مور تري بهر نه وو راوتلی، جګړې زمور هرکلی وکړ، هوایی ډګرته بیخی ځیرمه دسپکو اوډرنو ماشینګنو د پر له پسې ډزو آوازونو انګازې کولې. هیڅوک نه وو چې د ډزو علت تري وپوښتو. ما دې خوا اخوا دیو امن ځای لټون پیل کړ چې د احتمالی یرغل په وخت کې ورته پناه یوسو، خو ډیر نږدې ودانی له مور نه سو کیلومتر لیرې پرتې وې. ډزې به کله غلې شوې او کله به په

نوی زور له سره ونښتې، دلاسی ښونو د چاوډلو آوازونه پورته شول. د دې ګونګ سرنوشت او بې دفاع حالت سخت ځورولم. مور پاتې څو تنو چې باید الوتنې ته مو دوام ورکړی وای، اوس یوازې څلور ټانچی او یو ماشینګن درلودل.

لږ وروسته د الوتکې پیلوټان چې د الوتنې د اجازې غوښتلو ته تللی وو. راستانه شوی. ویې ویل چې نن کابل ته د الوتلو اجازه نه شته. شپه باید همدلته تیره کړو. د الوتکې کشاف وویل: تیره شپه همدې ځای ته ځیرمه دښمنانو د یوې مخابراتی دستګاه د ټولو کارکوونکونه سرونه پرې کړی دی. ما د دې لپاره چې له لومړنیو انتباهاتونه مې ځان خلاص کړی وی د تیارې په خپریدو سره په هوایی ډګر کې د قدم وهلو نیت وکړ، خو ونه شوه: درې سوه متره لاله الوتکې نه نه وم لیرې شوی چې یوه لوحه مې تر ستر ګو شوه: وړاندې تګ منع دی. ما ینونه ښځ دی! راستون شوم او د الوتکې له قوماندان نه مې وپوښتل چې شپه به چیرته تیر وو؟ زړه مو نه غوښتل شا و خوا پرتې کومې شوروی قطعې ته لاړ شو. له بلې خوا چیرته مو هغه لټولې وای. دغه راز کیدای شوای سبا هره شپه د الوتلو امر وشی. یو ښایسته دنګ افسر، په سرد تذکرو خواته اشاره وکړه، ویې ویل: ښه به وی د ننه په الوتکه کې، خو مخکې له مخکې خپله غاړه خلاصوم چې بالاپوش د یخنۍ چاره نه شی کولی.

ریښتیا هم الوتکه په لږ وخت کې سړه شوه. پیلوټانو د ځان لپاره بالښتونه او کمپلې پیدا کړې. ما همداسې په بلاپوښ، موزو او خولۍ کې ځان وغور ځاوه او هڅه مې وکړه چې سترګې مې پټې شی، خو له سره نه مې دا فکر نه واته چې سبا ته

به څه کیږی.

نږدې دوه ساعت وروسته پریشانی یووړم، خو ناڅاپه مې د چاچیغې تر غوږ شوې. چې یو پاڅوی، بل پاڅوی او زما نوم اخلی. معلومه شوه چې کله زموږ د فرقې قوماندان د الوتنې له ځنډیدو خبر شوی و نو په ما پسې یې له کابله زغره وال ګاډی راستولی و.

ما د ستر ګو له کنج نه ساعت ته وکتل او نږدې وو چې ښکنځل وکړم: زغره وال ګاډی، بې بدرګې و د شپې په غرونو کې، له دې نه (د غلیم د ډزو لپاره) بل ښه هدف شته. امر مې وکړ د فرقې قوماندان ته خبر ورکړی چې سبا په الوتکه کې ځان ورورسوم.

له دې وروسته خوب له ستر ګو کډه وکړه. له بلې خوا د هوایی ډګر له شاو خوا نه له یو لنډ ځنډ وروسته ډزې له سره پیل شوې. زه ښه پوهیدم چې له رالیږل شوی تورن سره د نه تګ له املې که ډارن راته و نه وایی نو بې هوډه خوبه مې خامخا بولی، خو اوس هم دا ګڼم چې ما سم کار کړی و. د بلاخولې ته ځان ورکول، د څه لپاره؟ وروسته مې هم په افغانستان کې د پنځه نیمو کلو په لړ کې هیڅکله داسې نا سنجولی او عاجل تصمیم ونه نیوه چې زما مادونانو او خپله ماته په کې د مرګ خطر وی.

په افغانستان کې لومړی شپه په ما بې خوبه تیره شوه. یخنی پرله پسې یرغل کاوه او د ډزو آوازونه کله د هوایی ډګر له یوې څنډې او کله له بلې غوږ ته رارسیدل. د سبا تر راختو زما په نظر یود پیړی تیره شوه د شپې مې له بګرامه

راتاو شوی غرونه نه وولیدلی. سهار چې له الوتکې ووتلم، د هغو عظمت ته گوته په غاښ پاتې شوم. دراختونکی لمر په زرینو وړانگوکې د هغو نندارې زړه راښکونکې وه. دا له افغانستان څخه زما تر ټولو ژوره او تلپاتې خاطره ده: د دواورو برستن، غرونه، بیساري پاکه هوا، سکون او د سباوون خاموشي، د تیرې شپې اندیښنو او د بې خوبۍ احساس په خپله کډه وکړه. زړه مې غوښتل ژوره ساه و باسم او له دې هر څه سره سره له ژوندۍ خوند واخلم.

وروسته څو ځله بگرام ته لاړم، خو دهغې ورځې احساس بیا هیڅکله راستون نه شو. ښایی لومړنی خاطري مې ځکه د اوږدې مودې لپاره په ذهن کې حک شوې چې د طبیعت ښکلا را نه عقل وړی و. څو ورځې ورسته ما همدا غرونه څیړل، خو د یوې وسیلې په توگه: هغه مې د دې لپاره په کار وچې عسکر او پوځی وسایل په کې ونغاړم او تر وسه وسه یې پټ کړم، څو کې یې لاندې کړم او د دښمنانو د ډزو مخه ونیسم.

... د الوتکې قوماندان راغی، ویې ویل چې په پای کې یې مورږ ته د الوتلو اجازه راکړه. ډیره مودې انجن همداسې چالان و، خو الوتکه له ځایه نه شوه خو ځبدلای. ځکه بیگانۍ یخنۍ د هغې ټایرونه په زمکه پورې کلک نښلولی وو. په داسې حال کې چې پر ځانو خندل، بیرته له الوتکې راکوز شو او له پیلوټانو سره مو له ټایرونو نه د کنگل په جلاکولو کې مرسته وکړه. الله څلویښت دقیقې وروسته هوا نه پورته شو.

د انضباط ټولې قوماندان رما مخې ته راغلې و. مخامخ د څلویښتو لښکرو

قرارگاه ته لاړو. په لاره مې په شوق سره دنا اشنا ښار ننداره کوله. دواړو غاړو ته خړخړ یو پوړیز کورونه ودان وو او کله کله به کومه ښکلې مانۍ یا کور په نظر راغلل. هرې خواته تود بازار پرانیستی و. ډیرو خپل شیان سم په مځکه غورولی وو او په ختیځو حرکاتو یې خلک پیرودلو ته رابلل.

ماشومان په نظر راغلل چې ډیرو یې بې جرابو کلوشې په پښو کړې وې، لکه چې هغوی دا احساس نه کاوه چې په واورو کې ګرځی.

په لومړی سرکې راته ښکاره شوه چې په ښارکې اصلاً ترافیکی قواعد نه شته. دوه ځلې نردی وو ټکرو کړو: یوځل له یوه ټیوټا موټر سره چې شپږتنه په کې ناست وو او بل ځل له یوې لارۍ سره چې په یوبل پورې نښتی نردې پنځوس بزګران په کې سپاره وو. پرکابل له تیریدو وروسته دامین مانۍ ته ورسیدو. د دسمبر دجګړو په ترڅ کې دې مجللې درې پوړیزې ودانۍ ته ښه زیات زیان رسیدلی و. ترهغو چې زمور سرتېرو دامانۍ او ورسره جوخت یوه دوه پوړیزه سراچه چې وروسته په کې د تلفون سوچبورډ ځای پرځای کړای شو، ترمیمول، د پوځ قرارګاه په موټرو او حکومتی مانۍ ته څېرمه دیوې مصنوعی غونډۍ په لمن کې په پرانیستل شویو خیمو کې ځای پرځای شوه. که دصحرایی ژوندانه ستونزې په پام کې ونه نیول شی، نو دا زمور لپاره ډیر مناسب ځای و. د افغانستان د دفاع وزارت همدلته د دارالامان په مانۍ کې د موټر په مزل پنځه دقیقې لرې موقعیت درلود.

د محمود د پوځی قطعاتو د قوماندانۍ د محافظې سسټم له یوې برخې نه بلې

ته پیاوړی کیده. په لومړی سرکې له زغره والو ګادونه جوړو څوپوستو دادنه د په غاړه درلوده، خو دځلویښتم پوځ پرقرارګاه ددښمنانو دلومړینو یرغلونو په وخت کې چې دمارچ په میاشت کې وشول، څرګنده شوه چې قوماندانی او مخابراتی وسایل پوره په امن کی نه دی.

په ډیروشیانو بیا یوځلی کتنه وشوه. په یو پراخ ډګر کې چار چاپېر له لیرې کنترولیدونکی ماینونه وکرل شول او په منځ کې مو کوچنی کوچنی خوښې سمبال پوځی چونې راجوړې کړې. دځارنې لپاره موځانګړی سیستم جوړ کړ. له قرارګاه نه څو ساتونکی کمربندونه راتاوشوی وو. یو لوی بهرنی کمربند وچې دمحدودو پوځی قطعاتو تولې قوماندانی یې په غیرکې رانیولې وه او نور دنننی کمربندونه وو چې هرې ودانۍ ته نږدې په پام کې نیول شوی وو.

دمحدودو پوځی قطعو قوماندانی ته دننوتلو په وخت کې به دپیژندنې پانې په غورکتل کیدې. مخکې له دې چې دځلویښتم لښکر دقوماندان تورن جنرال یوری ولادیمیروویچ تورخارینوف دفتر ته چې په یوه واګون کې ځای پرځای شوی و، ننوځم، له راسره ملګری افسرنه مې وپوښتل چې چیرته کولی شم ډیره وخریم.

له قوماندان سره زما خبرو له پنځلسو دقیقو نه زیات وخت ونه نیوه او هغه دخبرو له هغه چوکاټه ونه وت چې معمولاً دنوی راغلی افسر لپاره په پام کې نیول کیږی. هغه به کله کله بلې خواته پام اړاوه: یا به یې په تلفون کې خبرې کولې او یا به یې دچا توضیحات اوریدل، په لنډو جملو به یې سمدلاسه لارښوونې کولې. د تورخارینوف دفتر له بیلابیلو نقشو نه تر مورګو پوښلی و. هغه هم پردیوال

ځړيدې او هم پر ميزو نوخپرې وې. د قوماندان ستړګې پرسيدلې وې او داسې
بريښيده چې ډير لږ خوب کوي.

د جنرال توخارينوف ځيره دسړي ژړ په ياد پاتې کېده. دی چې په ځوانۍ کې يې
دنګه او نرۍ ونه درلوده، په پنځوس کلنۍ کې بيخې کړوپ شوی و. هغه وخت
چې زما پيژندګلوی ورسره وشوه، دی ډېر خوار او ظاهراً دون کيشوت ته ورته و.

له قوماندان سره زما لومړنۍ خبرې ناڅاپه غوڅې شوې. هغه له مانه پوښتنې
شروع کړې چې ولې د انضباط ټولی قوماندان چې هوايی ډګر ته زما مخې ته
راغلی و، دومره ډير شراب څکي. زه په دې خبرو حيران غوندې شوم او غوښتل
مې اعتراض وکړم، ځکه چې ما لا په خپله فرقه کې يوه دقيقه هم نه ده تيره کړې،
خوبيا مې فکر وکړ، قوماندان هم تريوې اندازې حق وايي. وروسته چې به کله
داخبرې رايادې شوې نو په خيال کې به مې له جنرال تورخارينوف نه مننه وکړه چې
زه يې په هماغه پيل کې «زمکې ته راکوز کړم»

کله چې د موټر خواته بيرته راستنيدم نو خپل دلارې ملګرې ته مې لاندې
باندې وکتل. د دې تورن لا په خيال کې هم نه ګرځيدل چې زه يې له ګناهونو نه
وختې خبر شوی يم. يوه اوونۍ وروسته ما د انضباط د ټولې دغه قوماندان بيرته
شوروی ته راوشاړه.

جنرال تورخارينوف، افغانستان ته د شوروی پوځونو د ليږلو تروخته
د ترکستان د پوځي حوزې د قوماندان د لومړي مرستيال په توګه دنده ترسره کوله.
په سوله ييز وخت کې څلويښتم لښکر يوازې د کاغذ پرمخ د اوپراسيون او سفربرۍ

په پلانونو کې موجود و. تاکل شوې وه که دغه لښکر عملاً منځ ته راځی نو قوماندانی به یې د ده (د پوځی حوزې د قوماندان د لومړی مرستیال) په غاړه وی. په نظر کې وه چې اداری پرسونل به یې هم د پوځی حوزې د قرارګاه له افسرانونه غوره کیږی.

جنرال تورخارینوف د څلویښتم لښکر د تشکل په سخت پراوکې، چې افسرانو ایله اوس د حقیقی جګړې له شرایطو سره اشنایی پیدا کوله، د هغه قوماندانی په غاړه لرله. هغه مجبور و د پوځ د لارښوونې پیچلی میکانیزم له هیڅ نه راجوړی او دقیق فعالیت ته یې اړم کړی.

توخارینوف د جون ترمیاشتې په افغانستان کې پاتې شو. دا نو هغه وخت دی چې مورسم په جګړه ورګډ شوی یو او ماهم څوځو ځله په هغو کې برخه اخیستې ده. د مارچ په میاشت کې مې لومړی «جګړه ییز فعالیت» د همده په امر ترسه کړی و. په میدان ښار کې مو د وسله والو ډلو له لاسه ورځ بده وه. دا ښار د کابل د جنوب په اووه (ښایی اویا وی؟) کیلو متری کې پروت دی. له دغه ځایه تل د څلویښتم لښکر قرارګاه او د ښار جنوب لویدیځې څنډې تر اور لاندې راتلې. توخارینوف د قوماندانی پرځوکی، په یو وخت کې د څو عملیاتو لارښوونه کوله او د هر قوماندان کړه وړه یې ډیر سخت څارل. کله کله به د اسې جزئیاتو ته هم ورننوت چې د قوماندان لپاره اصلاً په کار نه دی. مثلاً میدان ښار ته لانه یو ننوتی او د عسکرو د ځای پر ځای کیدو په هماغه توده شیبه کې غږ کیده: «تاسو مخابرې ته ورشئ، قوماندان صاحب مو غواړی» هغه په عادی توضیحاتو هیڅ نه راضی کیده:

– هله ژرشه د نقشې له مخې راته ووایه: د توپچی مخکنی لیکه چیرې ده؟ لومړنی ټولی چیرته ځای پرځای کوئ، دوهم؟...

په کار وه چې ټول کوردینات ورته وویل شی. په لومړی سرکې موددد داقیمومیت ښه نه ایسیده، خو چې بیا وروسته ورسره بلد شو، نو افسرانو به له مخکې دده لپاره بشپړ توضیحات راټولول.

جنرال توخارینوف په داسې کولو سره سمه لار نیولې وه. پرته له دې به زمور دسرزیانونه په هماغه لومړی سرکې څوځله زیات وای.

د ۱۰۸ فرقې قرارګاه چې زه په کې مقرر شوی وم، د څلویښتم لښکر د قرارګاه په مقابله څنډه کې وه. په شوروی کې مې عادت کړی وچې هره قرارګاه، په تیره بیا د فرقې، باید وځلیږی. خودلته مونږ څو زړو خیمو او موټرو پرته چې د غره په لمن کې په ډیره نامناسبه بڼه خواره واره ولاړ وو، نور څه نه لرل.

قوماندان له خپلو څو مرستیالانو سره په لاري موټرو پورې تړلو واګونونو کې ژوند کاوه. په هغو کې ځانګړې دستګاوې لګیدلې وې. نور افسران په کیږدیو کې اوسیدل. په دغسې یوه کیږدۍ کې ماهم واړول. کله چې مې وپوښتل کوم کټ وزګار دی: ماته یې په دې خاطر چې نوی راغلی یم، په دویم پور کې ځای ییل کړ. بیخی دکهنه ګیانو او نوکیانو قاعده ټینګه وه. مجبور شوم نظم ټینګ کړم: یو ډګرمن (زما پرځای) وزګار کټ ته ولږدیده. لرګی نه وو، ځکه موبخاری په تیلوتودوله. ځان ته په هنداره کې له کتلو څخه ډاریدو، چې څنګه به له خوب څخه جګ شو، سمدلاسه به مو دبیګانی لوګی په پاکولو لاس پورې کاوه.

په لومړیو درې څلورو میاشتو کې مو اساسي خواړه کانسروه وه. که چیرې به کتار روغ رمټ راورسید (معمولاً داسې کتارونه تر یوې نیمې اوونۍ په لاره کې پاتې کیدل) او مور ته به یې له ترمز غوښه راوړې وه، نو په مور به اختر جوړ شو. په ځینو خیمو کې دلوړ رتبه افسرانو، وړو صاحب منصبانو او سرتیرو لپاره میزونه هم اینښودل شوي وو. په یوه دیګ کې دتولو لپاره پخلی کیده او دتولو خواړه یو ډول وو.

زمور دفرقې قوماندان ډګروال والیري ایوانوویچ میرونوف و، مور دسوورف دحربی پوهنتون ددوړې تولګیوال وو. یوبل مولـه پخوانه پیژندل اویو دبل په نیمه خبره پوهیدو. کله چې مو په کابل کې سره ولیدل، نو ښه شیبه یوبل ته ورغاړې وتو.

دهمده له خولې نه مې په عمومی ټکو کې، افغانستان ته دپوځونو دلیږلو څرنګوالی اوریدلی و. ګواکې یوکال ددې لپاره تیاری روان و. څوځله دترکستان دپوځی حوزې پرسونل ته دتیارسئ او دکوشک پنځمې او دترمز ۱۰۸ لمبر فرقې ته د لومړی درجې احضاراتو امر شوی و. ددغې حوزې په درستیزوالی پورې مربوطو تأمیناتی قطعو لکه توپچی، استحکام، مخابرې او کشف دجګړې دوخت په شرایطو کې ژوند او کار کاوه. یوه ډیره ستره پوځی حوزه په خوځیدو راوستل شوې وه. وار په وار داحتیاط له دورې نه زرګونه کسان بیا احضاریدل. له بلې خوا سرتیری له ځانګړی وخت نه زیات په قطعو کې ساتل کیدل او دا دهغوی داعتراض سبب ګرځیده. وروسته بیا ترخیص ورکول کیده. بیا به یو ناڅاپه همدا

کار له سره پیل شو. څوځله همداسې وشول.

دنوامبر په میاشت کې بیا د تیارسئ امر شوی و. قطعې له معمول نه اوږده موده همداسی تیارسئ پاتې کیدې. د دسمبر په ۲۵ شپه (چې سبایې ۲۶ و) له پولې نه د تیریدو امر وشو. د قواو له لیږلو څو ورځې مخکې له څو افسرانو سره په ډیره پټه توګه ځانګړی تمرینات ترسره شول. له سیمې سره د بلد تیاله پاره د فرقې د قطعو قوماندانانو په هلیکوپټرو کې د شپې له تیارې نه په ګټې اخیستو سره، له پولې هاخوا د افغانستان خاوره او هغه لارې څېړلې چې باید لښکرې پرې تیرې شی. په خپله اصلی عملیات په بېړه را پیل شول: ۱۰۸ او پنځم لمبر فرقې د ترمز او کوشک له لورې او ۱۰۳ لمبر کوماندویی فرقه د هوا له لارې سوق شول.

د ۱۹۷۹ کال د دسمبر تر پایه افغانستان ته د نننو تو سر تیرو زیاته برخه د احتیاط له دورې نه راټوله شوې وه. د غسې ضد او نقیضې پریکړې زما په نظر څو دلیله درلودل: افغانستان ته د لیږلو لپاره د مکلیفیت د دورې سر تیرو، ورو ضابطانو او افسرانو زیات شمېر په کار و، خو د ترکستان پوځی حوزې لا له پخوا نه په دې برخه کې زیات کمبود درلود. د شوروی اتحاد د دفاع وزارت ته یوځل بیا وخت ورکړ شو چې په افغانستان کی زمور د شته والی موده دوروستی ځل لپاره په دقیقه توګه وټاکی. که چیرې همغه له پیله مسلکی افسران او سر تیری افغانستان ته لیږل شوی وای، نو هغوی به سمدلاسه د پوځی خدمت د ترسره کولو د مقرراتو د تطبیق غوښتنه کوله لکه: مادی امتیازات، په پوځی خدمت کی د جګړې د دورې دوخت د محاسبې او نور، خو حکومت د دغو شیانو له

ورکړي نه عاجز و.

داحتیاط ددوري سرتیرو او افسرانو په افغانستان کې خپله ښه پوځي وړتیا وښودله، ټول دپاخه عمر خلک او دکډوالو بچو خاوندان وو. داحتیاط ددوري پوځیان، دمکلفیت ددوري په اندول تجربه لرونکی وو او ډیر ښه پوهیدل چې هلته دتمرینا تو لپاره نه دی تللی، بلکه اوضاع ښه نازکه ده، موږ باوري وو چې ددغې دوري هیڅ سرتیری به دپهرې په وخت کې نه ویده کیږي او خپله قطعه به نه خوشی کوی.

پرځلوینښتم لښکر دمخالفینو گوزارونه دوخت له مخې یوځه شاته وغورځیدل او لومړنی یرغلونه د ۱۹۸۰ کال دپسرلی په پیل کې شروع شول. افغانانو زموږ دلومړیو قطارونو تودهرکلی وکړ. شوروی تاجکو او ازبکو هره خوا سیمې له وگړو سره خبرې کولې. هغوی چې څومره کولی شول، داخبره روښانوله چې افغانستان ته دجگړې لپاره نه دی راغلی. په دې خبرو به باور هم کیده، خو کله چې خلک پوه شول، موږ داوږدې مودې له پاره بستره هواره کړې ده، دخلکو چال چلند له موږ سره بیخی بدل شو.

داحتیاط ددوري دسرتیرو وروستیو ډلو، په موټرو دیرغلونو، کلابندیو او ډزو خوند ولیده. دفبروري په پیل کی دښمنانو دگزمې یوموټر چې له کابل نه بهر دیوې لارې څارنه یې کوله، په ډزو سوری سوری کړ. په موټر کې ناست لس سرتیری، چلوونکی اویو افسر چې دځواوونیو لپاره داحتیاط له دوري نه جلب شوی و، ووژل شول.

احتیاط والا کورته په شوق ستنیدل. ددوی وروستی ټولګی دوه میاشتې وروسته له افغانستانه ووت. دا په دغه هیواد کې زمور د حضور تر ټولو آرامه دوره وه.

لومړنۍ جګړې

د ۱۹۸۰ کال جنوری په څلویښتم لښکر نسبتاً ارامه تیره شوه. د کال له پیله دافغانستان ټول عمده ښارونه، چې زمور پوځي چوکۍ په کې اباد شوي وې او لویې لارې لکه: ترمز - سالنګ - کابل، جلال آباد، ګردیز او کوشک - هرات، شیندند - کندهار (په لویدیځ کې) د شوروی لښکرو تر کنترول لاندې راغلې.

خو دمیاشتې تر پای اوضاع په خړیدو شوه. د دې خبرې یو علت شوروی ضد تبلیغاتوو، چې په مهارت سره دافغانستان په ټولو خلکو کې ترسره کیدل. په هر کلی او ښارګوټی کې خلک زمور خلاف لمسول کیدل. کابل هم د مخالفینو لپاره په ټرلې سیمه بدل نه شو. سره له دې چې انقلابی حکومت دلته واکمن و. سربیره پر دې په کابل کې شوروی ضد احساسات لازیات پیاوړی و.

د «ملحدانو» خلاف تبلیغات په بې ساری توګه اغیزمن وو. ان د جنوری په دریمه لسیزه کې شوروی پوځونه ترلو مړنیو بریدونو لاندی راغلل، که څه هم هغه نه ډیر منظم اونه ډیر پیاوړی وو.

هغه خوب چې افغانی مشر تابه لیدلو او دغه راز د خلکو له خوا د انقلاب د ملاتړ او د شورویانو د حضور په مرسته د هغه د پاینښت هیلې هسې سراب راوختلې.

د ۱۹۷۹ کابل په پای کې مور داسې یوه هیواد ته چې زمور د غوښې اکثریت

لپاره نااشناوو ، ولیږل شو. ډیر وخت په کار و چې مور مثلاً ددوی له ملی ځانګړنو سره بلد شو. داسې ګڼل کېده چې افغانستان له لویدیځ او شمال پرته د پښتنو وطن دی چې په ټوله دغه خاورکې د کوچیتوب ژوند تیروی. پښتانه د افغانستان د ۱۷ یا ۱۹ میلیونو وګړو اصلی برخه جوړوی. خوشک لرم چې له چا سره دې په دې هکله دقیق ارقام موجود وی، ځکه وروستی سر شمېرنه دلته نږدې سل کاله مخکې ترسره شوې او دنوې ترسره کیدل او س بیخی شونی نه دی.

پښتانه قبایل په دوو برخو د افغانستان دویشونکې غرنی سلسلې - هندوکش جوړ ته هسې دی، دوی د دغه هیواد په حالاتو تل ژوره اغیزه لرلې ده. همدا پښتانه وو چې د مقاومت غورځنګ یې پیل اووسله والې ډلې یې سمبال کړې. زمور د محاسبې له مخې هر دریم مجاهد چې د څلو پښتم لښکر خلاف جنګیدلې، پښتون و. پښتنو د خپل خوځند ژوندانه له برکته چې دوی ته ې د ډیروشیانو دلیدلو، اوریدلو او پوهیدلو وس ورکاوه، د نورو وګړو مثلاً د افغانی ازبکو او ترکمنو په تناسب، د هیواد د حالاتو د ناڅاپی بدلون په وړاندې ډیر چمتو والی درلود.

وسله والې نښتې د جنوری په وروستیو ورځو کې پیل شوې او له یوې اوونۍ نه یې بلې ته زور اخیست. زمور ځنګ ته یوازې حکومت او سیمه ییز واکمن یعنې د ببرک کارمل له خوا تاکل شوی خلک ولاړ وو.

د مخالفینو فشار، خبره دې ځای ته ورسوله چې د فبروری په شلمه په کابل کې عمومی پاڅون جوړ شو. دستر ګو په رپ کې په کابل او شاوخوا کې زمور ټولې

پرتې چونې دسیمې دوګړو له خوا کلابند کړای شوې. په تیره بیا دشپې حالات ډیر خرابیدل. د پینبنو ترټولو سخته ورځ د فبروري ۲۳ وه. پرکابل راګرځیدلې شوروی قشلې او پوستې دمخالفینو تر پرله پسې ډزولاندې وې. دسالنګ دلویې لارې په ګډون ټولې اطرافی لارې بندې شوې او دخوړو رسول په تپه ودریدل. دننه په پایتخت کې موټرې په بل مخ اړول کیدې، اور ورته اچول کیده او دمور چلو جوړیدل روان وو. له دغو اغتشا شونو نه دشوروی پوځونو دحضور په وړاندې دسیمې دخلکو کرکه نبه څرګندیده.

حالات له دې امله نورهم خرابیدل چې (څلویښتم) لښکر په سلو کې داتیا پرسونل په لرلو سره چې د احتیاط له دورې نه جلب شوی وو، نه شول کولی فعالو اقداماتو ته لاس واچوی، دجنورۍ په پای کې دهغوی ځای مسلکی پوځیانو ته ورکول شروع شول. دننه په خپل هیواد او په بهر کې دشوروی پوځونو په منځ کې نبه تکړه مسلکی کادرونه غوره او سمدلاسه افغانستان ته لیږل کیدل. دکشف په ګډون دځلویښتم لښکر یوشمیر ځانګې چې موقتاً د ترکستان دپوځی حوزیې له افسرانونه راجوړې شوې وې، غیر فعالې وې. دجاسوسانو شبکه همدا اوس دجوړیدو په حال کې وه، نو ځکه ددې پر ځای چې غوښ حقایق او معلومات په لاس کې وی، مجبور وو دافغانستان دحکومت له خوا په تیارو شویو ګونګو او مبهمو معلوماتو بسنه وکړو.

دفبروري د ۲۰ - ۲۳ پینبنې نه یوازې زمور لپاره ناڅاپی وې، بلکه مور یې اړکړ وچې له هغو نه دځان لپاره مشخصې نتیجې هم واخلو. دغو پینبنو تر ټولو

لومړی داخبره په ډاګه کړه چې محدود پوځی قطعات په «دوستانه چاپیریال» کې نه بلکې دهغې پرضد محیط کې پراته دی. په جنوري او فبروري کې زمور دسرتیرو مرګ دځلویښتم لښکر مشر توب اړکړ چې دقطعو امنیت دحقیقی جګړې له شرایطو سره سم سمبال او تأمین کړی.

دې مسألې په لومړی سرکې په هغو کسانو پورې اړه پیداکوله چې له قشلونه بهر دافغانستان د لویو لارو په ساتنه بوخت وو. ددغو لارو په اوږدو کې دکشف څو ډلوته دنده وسپارل شوه چې دپوځی علومو دټولو قواعدو په پام کې نیولو سره زمور دپوستو دځای پرځای کولو لپاره ډیر مناسب ځایونه غوره کړی. په ځانګړی ډول دهمدې لپاره دکویښوف په نامه دپوځی اکاډیمۍ غوره جنرالان او افسران او دغه راز ډیر ماهر پوځی انجنیران له مسکونه راوغوښتل شول. څو تنو راغلو ډګروالانو دپوهاندۍ رتبې درلودې. له دوی سره اوږه په اوږه دهغو قطعو افسران په کار بوخت شول چې د لارو بیلا بیلې برخې یې دمسؤولیت په ساحه کې وې. دیوې ډلې مشري زما په غاړه وه. مور له کابله تر سالنګه او له هغه ځایه دشوروی اتحاد په لور نوره سل کیلو متره لار ووهله. دختیځ لوری لپاره دلارې همدا برخه اساسی ګڼل کیده.

دکابل له څنډونه مو له بیلابیلو برخو دلارې څیړنه پیل کړه، ځکه چې دلارې په همدې برخه کې څوځو ځله په قطارونو ډزې شوې وې. په کار وه چې پوستې ښې سمبال کړی شی. دمخابره چی افسر داعتراض غږ جګیږی: مخابره دلته کارنه شی کولی. هغه تره دغږیزه څیړمخه نیسی. دتوپچی افسران وایی: پوسته په

شیله کې پرته ده، اړیه شو چې په ړندو سترګو ډزې وکړو. دیوې اوونۍ په ترڅ کې مودخپلې لارې په اوږدو کې تولې لوړې اوژورې وکتلې او دکارپوهانو په مشوره مو دپوستې دجوړولو او ددرانده ماشینګنې دغای پرځای کولو لپاره مناسب ځایونه غوره کړل.

دځلویښتم لښکر قوماندان جنرال توخارینوف زمور رپوټ په غور ولوست او تائید یې کړ. په یوه میاشت کې دمحافظ سیستم جوړیدل پای ته ورسیدل. له تیرونه مو پوره قوی تأسیسات جوړ کړل. دسرتیرو لپاره کوچنی کاغوشونه داسی جوړ کړل چې ان دتوپ دګولۍ دمخامخ لګیدو په وختکی هم څوک زیان من نه شی او خپله کاغوش ته په کې هم کوم زیان ونه رسیږی. په ځینو ځایونو کې دځان لپاره دکوچنیو حمامونو په ودانولو بریالی شولو. که دصحرایی پخلنځی دجوړولو امکانات به نه وو، نو خواړه به مولې بل ځایه . (پوستو) ته وروړل.

په ټرو، کې دمور چلو جوړول ډیر ګران کار و. دهرډلګی یا تولی دمسؤولیت په ساحه کې دپرتې لارې دامنیت دساتنې لپاره مو داسې لارې چارې وموندلې چې سرتیرو ته په کې له مورچلونه دبهرو تلو اړتیا نه پیدا کیدله. مور هغه دچا خبره په غرونو کې ورننوتلو او دبنیادم دونې په اندازه مو په کې خندقونه وویستل. په دې خندقونو کې دځغاستې په وخت کې سرتیری بې له دې چې دښمن یې ولیدلی شی، له پوستې نه مورچل ته رسیدلی شول. له ترمزه تر کابله د «ژوندانه په لاره» اصلی توپچی ځواک ۸۲ ملی متری هاوانونه وو چې «پطنوس» ورته ویل کیږی او په ساده ګۍ سره په لاسونو کې له یوه ځایه بل ته وړل کیدای شول. په کومو ځایونو

کې چې د ټرو کیندل ممکن نه وو ، نو مورچلې به له ډبرونه داسې جوړیدې چې له چت نه یې هرې خواته ډډزولار خلاصه وی. د جګړې په وخت کې به سرتیرو خپلو هاوانونو ته ځان رساوه او څارونکو به ورته دقیق کوردینات په ګوته کول. غالباً به سیمه له مخکې نه په ډزو سورې سورې کېده او یو - دوه دقیقې وروسته به د (هاوانونو) ډزې پیل کیدې. دلارې لیرې پرتې ځنډې په اوږده واټن ویشتونکو توپونو ساتل کیدې.

البته وروسته وروسته د جګړې په لړ کې (په دې نقشه کې) لازمې سمونې راغلې. دراتلونکی کال په ترڅ کې مو خپلې خطاوې درک کړې، خو د ټولو شیانو له سره جوړول شونی نه وو. دښمنانو خپله غیر معموله یرغلیزه طریقه درلوده. هغوی به زیاتره له هغه لورې یرغل کاوه چې لږ به ورته پام ساتل کیده. دوخت په تیریدو سره مو دنورو ټانکونو، زغره والو ګاډو او وګړو په مرسته ځینې پوستې پیاوړې کړې او هغه پوستې مو بیخې له منځه یووړې چې د سرتیرو د سرساتنه په کې ممکنه نه بریښیده خوبیای هم دلارې د ساتنې اساسی سیستم له ځینو بدلونو سره سره د ټولو نهو کلو په لړ کې ډاډمن کارکاوه.

حالات له یوې ورځې نه بلې ته خرابیدل. د جنورۍ په پای کې د زمکنیو پوځونو لوی قوماندان سترجنرال پاولوفسکی کابل ته راغی. هغه د ۱۹۷۹ کال له جولای نه تر دسمبره پورې څو واره کابل ته تللی او راغلی و او هروار چې به مسکو ته ستنیده، نو افغانستان ته د عسکرو له لیږلو سره به یې مخالفت کاوه. جنرال پاولوفسکی اوله هغه سره ملګری، کابل ته په ملکی کالیو کې راغلی وو او دغه

دود په افغانستان کې زمور د حضور تر پایه په پام کې نیول کیده. همدا پاولوفسکی وچې لومړی ځل یې مور ته (په ډاګه کړه) چې د ځلویښتم لښکر مخی ته په افغانستان کې جنګیدل پراته دی. هماغه وخت د جګړې لپاره چمتو والی پیل شو: د احتیاط د دورې سرتیرو او دوسلو زړو ډولو خپل ځایونه نویو ته پریښودل. افغانستان ته ننوتلو فرقونه د ت-۵۵ ډوله تانکونو پرځای ت-۶۲ او ت-٦٤ ډوله تانکونه او دغه راز نوې سپکه وسله را روانه شوه. په دوی کې ا. گ . س-۱۷ ډوله توغندی ویشتونکی هم راتلل چې وروسته تر دې د شوروی اتحاد په کورنیو شخړو کې پراخه ګټه اخیستنه پیل شوه. دا لا هغه وخت دی چې مور نه پوهیږو، چیرته باید په جګړه کې ونښلو، خو دا مو احساسول چې جګړې به ډیر ژر پیل کیږی.

د پاولوفسکی له راتګ یوه میاشت وروسته د فبروری په پای کې د فرقې درستیز والی ته رسماً امر وشو چې د فرقې د مسؤولیت په ساحه کې د پلان شویو جګړه ییزو عملیاتو د سرته رسولو لپاره چمتووالی ونیسی.

مخالفینو په یوه لنډه موده کې د حیرانتیا وړ ستر کارونه ترسه کړل. تقریباً ټول افغانستان نه یوازې د «ببرک کارمل درژیم»، بلکه په هیواد کې د میشتو شوروی سرتیرو خلاف ودریدل. د ۱۹۸۰ کال په پیل کې له شوروی یانو سره داوږه پر اوږه کارکوونکو افغانانو له منځه د جاسوسی د اسې پیاوړې شبکه جوړه شوې وه چې اوږده کلونه یې بې ځنډه کار کاوه. مخالفینو د جګړو په ټولو کلونو کې زمور د پلانونو په هکله ډیر معلومات لرل، ځکه چې مور د افغانانو له شته والی پرته

هیڅ پریکړه نه کوله. موږ پوهیدو چې که ددوی لاس ته هر سند ورغی، سبا یې خامخا دښمنانو ته سپاری، خو موږ له دې کاره، ناچاره وو. په مقابل کې مو هڅه کوله (دوی ته) داطلاعاتو دورکولو شمیر ترمخکنې اندازې راټیټ کړو. بله چاره نه وه: پرته له دې به دافغانستان دټولو ستونزو پړه پر موږ راپریوتی وای.

دبېرک کارمل درژیم او زموږ دلښکرو لپاره لوی خطر هغو مخصوصو بانډونو پیدا کاوه چې له پاکستانه رالیږل کیدل. دهغوی له خپل هیواد نه ددفاع په ترڅ کې، دخپلو هغو هیوادوالو په بیرحمانه وژلو سره، چې یوازې د نظر له پلوه دانقلابی رژیم اویا شوریانو پلویان ګڼل کیدل، خپل هیواد ته له ځانه سره وینې هم راوړلې، نو ځکه په غټو ښارونو کې دپوځی چوپړو، لویو لارو او دبګرام او شینډنډ دهوایی اډو دساتنې ټرځنګ موږ اړ شو چې دافغان-پاکستان پوله هم تریوې اندازې وټړو. دا اسان کار نه و: ددغو هیوادوتر منځ حقیقی پوله نه وه اونه شته. «دډیورنډ فرضی کرښه» چې په غرنیو سیمو کې تېره شوې او د پښتنو کوچیانو دبې خنډه تګ راتګ سیمې یې سره ویشلی، د پولې په نامه یادیږی. ډیر ځله دیوې قبیلې دوې برخې په دغو هیوادوکې یوله بل جلا کړای شوې دی. سره له دې چې پاکستان له ختیځ، جنوب او یو څه هم له جنوب لویدیځ لوری دافغانستان خاوره احاطه کړې ده، خو دشوروی پوځیانو دحضور په وخت کې له جلال آباد نه د پولې خواته عملاً یوې لارې فعالیت لاره چې هغه د تورخم لاره وه.

دمارچ په پیل کې دجنرال پاولوفسکی له راتګ نه نږدې یوه میاشت وروسته، دجلال آباد ختیځ ته د کونړ په ولایت کې دجګړې لپاره د تیاری په هکله مو

دخولیښتم لښکر د قوماندانۍ لارښوونه ترلاسه کړه، د دې عملیاتو موخه دا وه چې موږ باید د جلال آباد له شمال څخه لوری د افغانستان - پاکستان د ګډې پولې په اوږدو کې د یوه پیاده غنډ په ملګرتیا د کوچنۍ ښارګوټۍ اسعدآباد پرلور دهغه ځای د یوازینۍ سړک پرسرتېر شو. په دغه ښار کې پرته چوپۍ او دغه سړک له کلا بندۍ نه خلاص او دوسله والو مخالفو باندې د ونو خلاف جګړییز عملیات وکړو.

د جګړییزو عملیاتو په سیمه کې یو هوایی ډګر - د جلال آباد په ښار کې - پروت و، چې یوازې د ان ۲۶ ډوله الوتکو په څېر کوچنۍ الوتکې په کې کښیناستلی شوې. موږ اړ وو چې ښه ډیر د سون مواد، مهمات او نور شیان له ځانه سره ولیږدوو. په قطارونو کې د هغو رسولو ځکه امکان نه لاره چې د دې کار لپاره ډیر ځواک او ساتونکو ته اړتیا وه.

د غې جګړې ته کلک تیاری پیل شو او زیاته تکیه په هغو شیانو کیده چې موږ ته یې په پوځي ښوونځیو او اکاډیمیو کې رازده کړی وو. د جاسوسۍ شبکې هم فعالیت پیل کړ. تر دغه وخته موږ هم د افغانانو په منځ کې خپل سړی پیدا کړی وو خونه شم ویلی چې د جاسوسۍ کومه پراخه شبکه موګنۍ تر د غو شیبو را منځته کړې وه. هوایی اکتشافاتو له موږ سره پوره مرسته وکړه: له هوا څخه په اخیستلو شویو عکسونو کې د هغې لارې پر سر پراته خنډونه روښانه بریښیدل چې موږ پرې باید تېر شوی وای، خوله څو ورځو وروسته چې جګړه ښه توده شوې وه، روښانه شوه چې د شوروی پوځي پوهې تولې خبرې او په کتابونو او اصولنامو کې ځای شوی مواد او په دې ډله کې «په غرونو کې د جګړه ییزو عملیاتو د سرته رسولو»

فصل یوازې په لویدیځه برخه یا اروپا یی سیمو کې په دردخوری. دلته په افغانستان کې مورډیر شیان په تگ - تگ کې زده کړل. له تجربو او تیروتنو سره ورو ورو پرمخ روان وو.

دبیلگی په توگه: دپلی نظام په جوړولو کې یوه برخه ده چې دحرکت دتأمینوونکې ډلې په نامه یادیږی. دا عمدتاً داستحکام چیانو ډله ده چې دتانکستانو او یا پلی ځواک په ملاتړ دځانگړیو وسایلو په مرسته مخې ته ځی، لارې گودرې پاکوی او دغلیم کوچنی کوچنی ډلې له منځه وړی. نور اساسی ځواک په هغوی پسې ترشا روان وی. دافغانستان په ځانگړتیاو او ددښمنانو په تاکتیک دنه پوهیدلو له امله مورډ دقطار په سر کې یولوی بې زغروگاډی روان کړی و، ټول شیان مو دعلم له مخې ترتیب کړی وو، مگر له یوه شی پرته: مورډ په دې نه پوهیدو چې دښمنان په لوی لاس دلارې په تنگه برخه کې خندونه جوړوی، کله چې مورډ دغه لومړنی خندته وروسیدو، دښمنانو دغه گاډی وویشت اوله کاره یې وغورځاوه. مورډ دخپلې تخنیکی وسیلې له لاسه په تنگه لارکې ایسارشو. دهغه څنگ ته دتیریدو هیڅ لارنه وه. مجبور شو درې ته ورکیوزو.

داهم راته معلومه نه وه چې مجاهدین کولی شی، دپنځوسو مترو په اوږدو، په لاره دهسک شوی غره یوه برخه داسې وچوی چې تابه ویل (لاره نه وه) او دا همداسې دغره ادامه ده. دتیریدو لاره ورکه شوه او شک نه شته چې ټول قطار پرځای ودریده. دلته نو دښمنانو له پاسه په پرله پسې ډزولاس پورې کړ: یو شورماشور پیل شو. له ټولونه واور-پار خطا شو او دسرزیان منځ ته راغی. په

لومړی سرکې تقریباً مورچل نه پوهیدو چې په داسې یو حالت کې څه کول په کار دی، له دغو ترخو تجربو وروسته به بیا مورچه له ځانه سره ځانګړې چاودوونکی ګولۍ وړلې چې دهغو په مرسته په ورانو شویو ترڅوکې ځان ته له سره لارجوړه کړو.

له دغولومړنیو عملیاتو نه موډا زده کړه چې دغرونو په لمنو کې، پرهرې غرنۍ لارې تیریدل، له پاسه ددواړو غاړو حفاظت ته اړتیا لري. قوماندانانو ځان ته داسې ځانګړی روزل شوی ډلګی اوحتی ټولی راجوړل کړل چې دنده یې دترڅو له پاسه له قطارنه مخکې تګ و. سربیره پردې هلیکوپترو اوبم غورځوونکو الوتکو هم له قطار سره مرسته کوله او سمې به زمورچ پر سر روانې وې، خو داهر څه وروسته وسنجول شول.

دلومړنیو نښتو په وخت کې لامورچ هوایی ځواکونه (اړتیا په وخت کې) مخابرې له لارې مرستې ته رابلل. دمرستندویې هوایی قوې زیاته برخه هلیکوپترې اوبم غورځوونکې الوتکې وې. هوای ځواک پیاوړې وسیله ده خو (سمه) لارښوونه ورته په کاردده. له هر قطار سره دهوایی ځواکونو لارښود نښه ویشتونکی هم تلل، خو هغو (ددښمن) دډزو منبع نه لیدلی شوه او نه ترې خبروو. له دې امله په پیل کې مورچ مجبور وو، هوایی ځواکونه پریوه ټاکلې سیمه ګوزار ته راوبولو، یا هرڅه پیلوټ ته ورپرپردو چې که غلیم یې لیده نو دبمونو ګوزارونه پرې وکړی. کله کله به هوایی ګوزارونه زمورچ دعسکرو پرسرهم لګیدل، ځکه له ډیرې لورې ارتفاع نه دخپلو او پردو بیلونه ګرانه وه. دوه داسې پیښې زما دستر ګو په وړاندې وشوې، خو له ډیرو تلفاتو پرته تیرې شوې. هوایی ګوزارونه اصلاً دجنګی

وسایلو پرسروشوی اویا څنگ ته ولگیدل.

پسرلنیو جگړو محدودو پوځی قطعوته ډیره تجربه ورپه برخه کړه. مورږ په ډیروشیانو بیا نظر وکړ. دحرکت لپاره دسرتیرو له چمتو والی او سمبالښت نه نیولې، له هوایی ځواکونو او توپچی قواو سره ترهمکاری او دهغو تر لاربښوونې پورې (ډیر شیان مو) له سره په نوی ډول ترتیب کړل. که به مو دلوا اتلس توپونه دلارې په اوږدوو کې ځای پرځای کړل، نوسمدلاسه به له دې ستونزې سره مخامخ شو چې افسران هدف نه شی لیدلی، یوازې له کومې لورې نه دهغه لیدل ممکن وو. له همدې امله مو په افغانستان کې سمدلاسه د توپچی قواوو لپاره دنښه ویشتنې دسمونکو روزنه پیل کړه. دغه ډله او دغه راز دهوایی ګوزارونو لاربښوونکی، زمورږ لپاره هغه دچا خبره دزرو په بیه وو او څکه خو هغوی تل دساتونکو ډلو تر سیوری لاندې خپل کار کاوه او دهغوی امنیت له هر قوماندان نه ښه نیول کیده.

تقریباً په همدغه وخت کې توخارینوف ماته دکابل په شاوخوا کې دجګړیزو عملیاتو دسرته رسولو امر وکړ. دخیرآباد له سیمې نه پرله پسې ډزې کیدې او دکشف مسوولینو رپوټ ورکړی وچې د (څلویښتم) لښکر پر قرارګاه دیوه زورور یرغل لپاره تیاری هم نیول کیږی.

توخارینوف زه وروغوښتم او په خپله یې راته په خریطه کې دغه سیمه راوښوده. دغرونو پرسر مخامخ له کابله ترهغه ځایه تقریباً اوود کیلومتره لاړ ده، خو سړک یې له کابله څه دپاسه شل کیلومتره اوږدو.

دعملیاتو لپاره یې دوه پیاده غنډونه او لازمه مرسته - یعنې هوایی او توپچی

ځواک راته بیل کړل چې دارتیا په وخت کې مې ترې د مرستې غوښتنه کولی شوه، ددې مانا داوه چې پیلوټان په هوایی ډګر کې چمتو ناست وو، خو چې کله به یې مرستې ته ارتیا پیدا شوه نو ډیر ناوخته به رارسیدل.

په هغو ورځو کې د «لارې په اوږدو کې دیرغلیزو عملیاتو» اصطلاح دهرچا دژبې پرسر وه. یوه یا دوو کندکونو دبیلابیلو لارو پر سرګزمې کولې. دلارو شااوخواته پرتې سیمې به یې پاکولې او دمخالفینو وسله تونونه به یې یا نیول او یا به یې له منځه وړل، له دې کار وروسته به بیرته راستنیدل. دغسې یوه دنده مورږ ته هم راوسپارل شوه. غلیم مو عملاً هیڅ نه پیژانده. ځکه چې دکشف ځواکونو په دی هکله ډیر لږ معلومات راکړی وو. یوازې دومره معلومه وه چې په خیر آباد کې «یو څوک شته» اوباید داسیمه «پاکه کړی شی»، په بله وینا که مورږ دتصادف له مخې په مجاهدینو ور برابر شو نو باید له منځه یې یوسو.

دغه عملیات مې دفرقې ددرستیزوال په توګه ترسره کړل. په هغو کې روسلان اوشف «*» هم ګډون لاره. په همدې وخت کې مې دوارخطا یې ناوړه احساس پر وجود خپور شوی و. مورږ دیوې غرنۍ څوکې خواته ورنږدې شو چې هاخوا ترې یوکلی پروت و او مورږ ګومان کاوه چې هدلته دښمنان پټ دی. ترغاښې پورې لا درې کیلو مترہ نور نه وو ورلنډ شوی چې قطار مو ودراوه، دکشف او امنیت ډلې مو پلې او مخې ته کړې. په ځانګړی موټر کې دساتونکو له یوې کوچنۍ ډلې سره ماهم حرکت وکړ. باید ځای پرځای دکلی دنیولو لاره چاره سنجول شوې وای. غاښې ته له رسیدو سره سم زمورږ پر موټر ناڅاپی برید وشو. تقریباً ټولو، چې

---

*داینګوشیتیا اوسنی جمهور رئیس (د. ج.)

وروسته یې کیسې وکړې، په هغه شیبه کې یودول احساس لاره. لومړی ډزه سړی روحاً په بشپړه توګه له پښو غورځوی او دا په داسې حال کې چې ته په زړه کې دې ته چمتو یې چې هره شیبه ډډزو د پیل احتمال شته دی، سربیره پردې ته په خپلو پښو دخطر پر لور ګام اوچتوې (خو سره له دې هم) لومړنی ډز دسړی دننه، دسړی په شعور کې یو هیبت راخوځوی.

زه ښه پوهیدم چې دمخابرې ښه وسایل راسره شته او خواته مې پوځ هم پروت دی. توپونو ددښمنانو د مورچلو خواته خولې پرانستې وې او رابلل شوې هلیکوپټرې درارسیدو په حال کې وې، خوله دې سره سره پوره لس دقیقې هسې وچ کلک پاتې وم اونه مې شو کولای چاته کومه لارښونه یا امر وکړم. نه پوهیدم څه وکړم. هلته پر زغره وال ګاډی دګولیو باران دی او شرنګاې خیژی اوله هر ترنګ سره سړی فکر کوی چې دابله خامخا زغره پرې کوی او دننه به تري تیریږی. همدلته ده چې دسړی خوله بې اختیاره دزغره وال ګاډی جوړوونکو ته په کنځلو خلاصیږی چې ولې یې زغره یو څه پنډه نه جوړوله. دغه راز دې زړه غواړی دمخابرې جوړوونکو ته (کنځلې وکړې). کله چې ما په مخابره کې دتهلیو او کنډکونو پاتې قوماندانان راوغوښتل، نو دنورو ورته پښو په څیر هیڅا ځواب رانه کړ.

ډډزو باران داسې ناڅاپه ودریدچې زه په لومړی سر کې پوه نه شوم چې ولې. داسې ښکاریده او وروسته تائید هم شوه چې دښمنانو ځان ایستلی و. یوازې یوې کوچنۍ ساتونکې ډلې ډزوته ډوام ورکاوه. [illegible] نو لاوختی خپلې پښې

سپکې کړې وې، ځکه چې موږ ې له کابل دوتلو په وخت کې ښه لیدلی وو، په ما کې چې لږه ساه وغږیده نو له زغره وال ګاډی نه راکوز شوم. سړی خپله داسې احساس کاوه چې دښمنان په شاشوی دی. په داسې یوحالت کې چې کله له کوچنوتې غاښې وروا وښتو او کلی ته ورکوز شو، هیڅوک مو ونه موندل کلی تش و.

دهغو جګړه ییز عملیاتو په لړ کې چې ما په کې مخامخ ونډه لرله، هڅه موکوله، دلارو دکلا بندی اوغاښې ته په څیرمه لارو کې دپوستو په اچولو سره دقطار امنیت تأمین کړو، خو په هر ګام کې مو احساسوله چې دمکلفیت ددوړې سرتیرې خولاڅه کوې چې زیاتو افسرانو په غرونو کې دجګړو کافی تجربه نه لرله. په یوه سیمه کې لارې دوو زرو مترو په لوړو ووالی تیره شوې وه. موږ یوکیلومتر له لارې پورته، دکشف یوه ډله افراز کړه چې کولی یې شول دې لارې ته راغزیدونکی ټول ګوډرونه وویني. هغوی دغه ځای ته په ورپورته کیدو ډیر وخت تیر کړ، ان تر شپږو ساعتو پورې. دغره ټولې لمنې مومخکې له مخکې په توپو ویشتلې او دکشف ډله موتر هغو چې خپل ځای ته نه وورسیدلې، ددوزو په مرسته وساتله، هلیکوپترونه هم دکشف ډلې دجګیدو تر وخته دهغو پرسر ګرځیدل.

هغوی په خیر سره غره ته جګ شول، خو هلته یې له یوې نیمې ورځې زیات طاقت ونه کړای شو. بې تجربه والی خپل کار وکړ. هغوی ته ویل شوی وو چې دشپې له خوا هلته ډیر سارې وی، نو یوازې ژمنی تودې جامې یې له ځانه سره یوړی. په داسې حال کې چې سور لمر بې رحمی کوله، غره ته دټولو شیانو خیژول

گران وو. ځکه نو د کشف ډلې له پنځو سو دقیقو مزل وروسته، په داسې حال کې چې په خولو کې ښه ډوب شوی وو، خپل ډیر شیان او په دې ډله کې تاوده کالی د تیرو په منځ کې پټ کړل. کله چې څو کې ته پورته شول، هوا سړه وه، خو دوی رپوټ ورکاوه چې د تحمل وړده ناڅاپه په غره کې باران پیل شو. په لمنه کې باران نه و. سړی پوهیږی چې د دریو زرو مترو په ارتفاع کې باران یعنې څه؟ له هغه وروسته سمدلاسه زمکه یخ وهی. سهار مجبور شو د دغې ډلې د تلف کیدو او یخ وهلو د مخنیوی لپاره سملاسی تدابیر ونیسو. شپه، پر هغوی ډیره سخته تیره شوې وه. دورځې لږ راښکاره شو او ورسره جوخت د دغې ډلې زړه هم ولګیده.

لږ وروسته د دغې ډلې خواړه او اوبه پای ته ورسیدل. هغوی اړ شول، واوره په اورویلی کړی. هلیکوپتر هم د ډیرې لوړتیا له امله نه هلته کیناستلی او نه په ځوړنده توګه دریدلی شو. هغه څه چې به ورته له هوا نه غورځول کیدل، د پوستې هاخوا دې خوا به پریوتل او سر تیروته په لاس نه ورتلل. ډیر وخت وځوریدو خو وروسته هغوی خپله د کوزیدو اجازه وغوښته. د یوه تن روغتیایی حالت خراب شو: دارتفاع اختلاف او داکسیجن کموالی یې پر زړه ناوړه اغیزه کړې وه. دوه تنه والګی نیولی وو او وروسته ډاکټرانو د هغو د سږو د پرسوب تشخیص وکړ. لنډه داچې هغوی مو راکښته کړل او که دقیقه ووایم، هغوی خپله راکوز شول. مخې ته مو سړی ورولیږل، خو لکه چې په نازکو حالاتو کې تل پیښیږی، په لاره کې سړه وړاندې وروسته شوی وو.

هغه یوه نیمه اوونۍ چې د جګړه ییزو عملیاتو د سر ته رسولو لپاره مورږ ته تاکل

شوې وه، چندان بریالی نه وه. مور یوازې لږ شمیر وسله او مهمات کشف او لاس ته راوړل، خو په کار وه چې د تل په څیر مود ستر و بریاو رپوټ ورکړی وای. څرنګه چې عملیات کابل ته څیرمه روان وو، ما توخارینوف ته هره ورځ په مخابره کې رپوټ ورکاوه، د دغو ټولو لسو ورځو په لړ کې او بیا وروسته د جاج اخیستنې په وخت کې د عملیاتو د پایلو له امله، د قوماندان ناخوښی له وړایه بریښیده. مور ته له دې امله چې د سون ډیر مواد او غرونه مهمات مو لګولی وو، ګوته نیول کیده. ریښتیا هم خبره همداسې وه: په لومړی سر کې چې به څرګنده شوه، ډزې له کومه ځایه کیږی، نو د دښمنانو دیوه ډز په بدل کې به له هرې خوا پر هماغه ځای دبیلابیلو وسلو دګولیو باران جوړشو، خو پایله به هیڅ وه. مور نه شو کولی، داستخبارا تو له رپوټونو سره سره د مهماتو ستړې زیرمې کشف کړو، هغو اصلاً وجود نه درلود.

یوازینی مثبته پایله دا راووته چې دښمنان له خیر آباده په شا شول او ورسره جوخت د څلویښتم لښکر پر قرارګاه ډزې هم د څه مودې لپاره بندې شوې، خو مور یوازې غلچکی ډلې د کابل له شاوخوا نه وشړلې او له دې نه زیات موځه تر لاسه نه کړای شول. له دغو عملیاتو درې میاشتې وروسته چې مور ته د دریو تنوود سر په بیه تمام شول (یو بریدمن په ګولی ولګید او دوه سرتیرې په ماین والوتل) پر پایتخت یرغلونه له سره ونښتل. په لومړیو کلو کې د لاس ته راغلیو بریاونه ساتنه د دې سبب کیده چې مور به څوځو ځله په هماغه یوځای کې د عملیاتو سر ته رسولو ته اړکیدو. د سیمې افغانی مشران، سره له دې چې شوروی پلوه وو، نه یې

غوښتل چې مورد دې اغیزمن عملیات ترسره کړو. یوازې دګوتو په شمیر دغسې مشرانو هڅه کوله په «پاکو شویو اولسوالیو» کې خپل ځان تینګ کړي او واک وچلوي. ښکاره ده چې هغوی پوهیدل، داجګړه به ژر یا وروسته پای ته رسیږي او له هغوی پرته به بل څوک دغواب ویلو پاتې نه وي.

داتیایم کال سور دوبی

د ۱۰۸ موتوریزه فرقې لپاره په افغانستان کې لومړی دوبی دومره سخت و چې دسیمې معموله (٤٠) درجې تودوخه یې په انډول په دوهم ځای کې راتله. که په لومړیو میاشتو کې مورد یوازې په افغانستان کې دخپلو پاتې کیدو دمودې په هکله تخمینونه کول، نو دمې په میاشت کې هرڅه بیخي روښانه شول. دهمدغې میاشتې په وروستیو ورځو کې دځلویښتم لښکر قوماندان ته په محدودو پوځي قطعاتو کې دافسرانو دخدمت د شرایطو په هکله دشوروی اتحاد دډفاع وزیر امر راورسید. ددغه امر په یوه ماده کې راغلي وو چې افسران به دوه کاله وروسته بدلیږي. اوس نو دلمرغوندې روښانه شوه چې مورد کال - یونیم کال یا یوې میاشتې لپاره نه یو راغلي: ځلویښتم لښکر به په افغانستان کې داوږدې مودې تیرولو ته اړشي. همداسې هم وشول.

دپلان له مخې دجګړه ییزو عملیاتو دسرته رسولو ترڅنګ مورد پوځ دځای پرځای کولو کارته هم ملاوتړله او په لومړي ګام کې مو دپوځي چوپړو په جوړولو لاس پورې کړ. ډیرو افسرانو لا دپخوا په ځیر په هغو خیمو او موټرو کې ژوند کاوه چې په ژمي کې ځای پرځای شوي وو. دافغانستان ددفاع وزارت په ملکیت کې

پراته تأسیسات هم په چټکۍ سره د محدودو پوځي قطعاتو دارتیا دلیرې کولو لپاره چمتو کیدل. شوروی پوځي کارپوهانو دبګرام او شیندنډ هوایی ډګرونو په څیر له تأسیساتو څخه بهر بیخي وتل نه چې ډیر ژر هغه د څلویښتم لښکر د پیلوټانو داستفادې لپاره (چمتو کړی شی).

داتیا یم کال په دوبی کې مخالفینو په سترو ښارونو، په تیره بیا پایتخت کې زمور پرقطعاتو دهغوی په عقیده د قاطع ګوزار کولو پریکړه وکړه چې مور له افغانستان نه وتلوته اړکړی. دغه وخت زمور دفرقې اساسی ځواک: یو توپچی، دری موتوریزه غندونه او یو دکشف کندک په کابل کې و. ټولې قطعې مو دښار په څنډ کې پرتې وې، نو ځکه دسرتیرو او افسرانو ژوند ډیر سخت و. دکوماندو قطعاتو حالت هم همداسې و. وروسته د ۱۰۳ لمبر هوایی کوماندویی فرقې کندکونه په ولایتونو وویشل شول. هغوی معمولاً تر ټولو لیرې پرتو سیمو ته چې د «تینګې اولسی واکمنۍ» دملاتړ لپاره په کې شوروی سرتیری ته اړتیا لیدل کیده (استول کیدل). او څومره چې به د دغو سرتیرو شمېر ډیرو هومره به دواکمنو لپاره په زړه پورې وه.

نبردی هره ورځ زمور پوستې او مورچلې تر سختو ډزو او یرغلونو لاندې راتلې. په کونړ کې پسرلنیو عملیاتو تریوې اندازې دځلویښتم لښکر امنیت، هغه هم دیوې نیمې میاشتې لپاره تأمین کړ. له هغه وروسته ورانکارۍ له سره پیل شوې. چې هری یوې یې تر ټولو بدې پایلې لرلې، دمی په پای کې ۱۸۱ لمبر غنډ چې دفرقې له نورو جزوتامونو سره د کابل په شمال لویدیځه څنډه کې پروت و، تر ډزو

لاندې ونیول شو. دسر تیرو خیمې په هوار ډاګ کې هسکې وې او له پوې عادی غونډې نه دورغوی په څیر لیدل کیدای شوې. سربیره پر دې څنګ ته مو پوځی پولیګون پروت و چې دټانک یوې افغاني لواء تړې کار اخیست. دحکومتی پوځ دټولو قطعو په څیر، دلته هم ډیرو کموکسانو شوروی عکسروته په ښه ستر ګه کتل، خو دا چې دهغوی له ډلې نه چا پر مورډزې وکړې، تراوسه پورې ښکاره نه ده، اوس هم ګرانه ده وویل شی چې په کومو وسلو پرمورډزې وشوې، ځکه هغه وخت دښمنانو درنده وسله، په تیره بیا توپونه نه لرل. دهغوی معمولی درنه وسله هاوانونه وو. پرغنډ برید ډیر ښه سنجول شوی و. ډزې په رښا ورځ او دځلیدونکی لمر په روښنایی کې پیل شوې، چې ګرانه وه، دهغو ځای تشخیص کړای شی.

که دشپې له خوا دګولی دالوزولو او ډډزو دشیبې معلومول کیدای شی، نو دورځې له خوا دا کار عملاً ناممکن دی. ډډزو په پایله کې دغنډ دمهماتو نړدې ټولې ډیپوګانې او دخورو زیرمې هواته پورته شوې او نړدې وو چې «پوځی جنډه» یې هم له لاسه ورکړې وای. یو افسر او پنځه عسکر ووژل شول. هغوی ټانکونو ته ورمنډې کړې چې داور له لمبونه ځانونه وژغوری، خو نجات یې ونه مونده.

څرنګه چې زمورډفرقې په سلو کې اتیا جزوتامونه دسالنګ پر لویه لاره، له کابله تر دوشۍ خواره–واره پراته وو او دا دوه سوه کیلومتره لاره کیږی، مورډ اصلاً دمانور د سرته رسولو لپاره وزګاره قطعه نه لرله. یوازې په دې مو بسنه کوله چې دخطر سرچینې به موتړکولې.

په ټول دوښی کې زمورډ فرقې په عمومی توګه دکابل په څنډو او هغه ته په

څیرمه سیمو کې کوچنی کوچنی عملیات سرته رسول. مثلاً مور (سالنگ نه د کابل او جلال آباد له لارې د کونړ په لور د خپلې استوګنې دایمی ځای ته د تګ په وخت کې د ٦٦ لمبر موتوریزه مستقلې لوأ امنیت نیولی و.

د تګ د غه لاره ډیره خطرناکه وه او نږدې هره ورځ کوچنی متقابلې ډزې او کله کله له دښمنانو سره جګړې پیښیدې، خو له دې سره سره لوأ په خیر سره خپل ځای ته ورسیده او د پاکستان پر لور د لویې لارې امنیت یې ونیو او د هغې په شا او خوا کې یې پوځی عملیات پیل کړل. باید وویل چې د افغانستان په سطحه ښکلی او شنه ښار جلال آباد کې شوروی کارپوهانو له جګړې نه مخکې ډیر کارونه سرته رسولی وو. د سیند له پاسه د نغلو او سروبی د بریښنا بندونه جوړ او داوبو رسولو یو بیساری کانال فعال و.

په کابل کې د امنیت د ساتنې لپاره ډیر ځواک بیل شوی و. ۱۰۸ لمبر فرقې له کوماندویانو سره دا بار نیم په خپلو اوږو واخیست. په کابل کې د تهولو شوروی موسسو د امنیت ساتل چې شمېرې هغه وخت تر دیرشو اوښته او په دې ډله کې د شوروی سفارت او د سوداګرۍ نماینده ګی کار کوونکی هم راتلل، زمور فرقې ته سپارل شوی و. د افغانستان حکومتی ودانی، د خلکو دیموکراتیک ګوند د مرکزی کمیټې مانۍ او د ببرک کارمل دفتر چې په یوه ځای کې واقع وو، د کوماندیانو له خوا ساتل کیدل. سره له دې چې د امنیت بهرنی کمربند له افغانی پوځیانو نه جوړ و، خو په نازکو حالاتو کې اصلی تکیه په شوروی عسکرو کیده. په دې ډله کې د ک. ګ. ب. هغه افسران هم شامل دی چې لومړی یې د ببرک کارمل او وروسته د نجیب الله د ساتونکو (باډی ګارډانو) دنده په غاړه لرله. په

افغانستان کې زمور د حضور په ټولو نهو کلونو کې دامن په مانې کې د پاراشوټي کوماندویانو یو غنډګای پر ځای وچې نه یوازې یې د حکومت ساتنه کوله، بلکه هماغلته اوسیده هم.

مور اورده موده د مرکزي راډیو تلویزیون ودانۍ او دغه راز د کابل پرسیند دولس پلونه هم ساتل. دغه سیند د کابل له منځه تیریږي او ښار په دوو برخو ویشي. مور نه شول کولی د پلونو ورانولو ته اجازه ورکړو، نو ځکه مو د هر پله د ساتنې لپاره یو ډلګی او په بحراني حالاتو کې ان یو ټولی مؤظف کاوه. یو کنډک د څلویښتم لښکر د قرارګاه ساتنې ته مأمور و، دغه راز قطعي مجبورې وې د خپل ځان امنیت هم تینګ کړی.

د ۱۹۸۰ کال په منی کې چې نور نو محدودو پوځي ټولګیو د افغانستان په شرایطو کې د فعالیت پوره تجربه تر لاسه کړې وه، پریکړه وشوه چې د څلویښتم لښکر او دغه راز د هغو د فرقو، غنډونو او کنډکونو ترکیب مشخص کړای شي. په دې ترڅ مثلاً دې پایلې ته ورسیدو چې د ټانکونو غنډونه په افغانستان کې په درد نه خوري او په کار وه چې د هغو ځای موتر زیزه قطعې ونیسي. ټانکستانو نه شوکولی، له خپلو واسطونه په غرونو کې بشپړه او اغیزمنه ګټه واخلي. ټانکونه په شنو ورشوګانو او دوریجو په کروندو کې هسې ښخېدل.

له معمول سره سم، دغه وسایل د تأسیساتو د ساتنې لپاره او دغه راز د کوچنیو عملیاتو په وخت کې په داسې یوه ساحه کې کارېدل چې ټانکونو ته په کې د تاویدو راتاویدو لاره موجوده وی.

د جګړه ییزو عملیاتو د سرته رسولو لپاره د ټانک هغه کنډکونه بس وو چې هرې موتوریزې قطعې په خپل ترکیب کې درلودل. په افغانستان کې له (۹۰) ټانکونونه د جوړو بسته بسته غنډونو ساتل هم بې مانا کارو او هم ګران تمامیده.

د جون په میاشت کې زمور د پوځیانو لومړنۍ ډلې له کابل لاړې. شوروی اتحاد ته بیرته د دوو فرقو د ټانک غندونه، د توپچی یوه مستقله لوا او د توغندیو یوه لوا چې په ترکیب کې یې تر شپیته کیلومترو واټن ویشتونکی «لونا» ډوله توغندی شامل وو، ستانه کړی شول. د محدودو پوځی تولګیو په منځ کې د تاکتیکی توغندیو د دومره ډیر شمیر شته والی ددې خبرې یو بل ښکاره دلیل دی چې افغانستان ته زمور د پوځونو دلیږلو پریکړه له لازم چمتو والی پرته شوې وه.

د هوایی ضد توغندیو راوتل له غم لړلې پیښې سره ملګری شول، پر هغو دښمنانو یرغل و نه کړ خو د ستیندلو لپاره د ناکافی چمتو والی او د غه راز د لوا د مشر تا به او دهغو افسرانو د واقعاً جنایتکارانه او له خپلو ورسپارل شویو د ندو سره د بې مسؤولیته چال چلند له امله د غه پیښه رامنځته شوه چې د ترکستان پوځی حوزې او د څلویښتم لښکر قوماندانی خاص قطعې د وتلو په کارکې د مرستو لپاره رالیږلی وو.

دهوایی ضد توغندیو لوا د شپې له خوا د سالنګ په غاښی تیریدله. د د غه غاښی تونل د نړۍ په ډیرو اوږدو تونلونو کې راځی. د دې لپاره چې کومه پیښه رامنځته نه شی او تونل بیخی ړنګ نه شی، مور په هماغه پیل کې هغه تر سختې څارنې لاندې نیولی و او له هغه نه د تیریدو لپاره مو ډیر مقررات وضع کړی وو. مثلاً د افغانستان حکومتی پوځونو اجازه نه لرله، له شوروی پوځونو سره یوځای هغه ته ورننوځی. دا کار په وار سره سر ته رسیده. له د غه کلک بندیز سره سره دهوایی مدافعې توغندیو قطار په افغانی پوځی ګاډو پسې سمدلاسه تونل ته ورننوت. له بندیز سره سره افغانی موټرې و دریدې او ورسره جوخت زمور موټرې

هم تم شوي. افغاني چلوونکو چې خپله ستونزه حل کړه، نو وړاندې تګ يې پيل کړ، خو دشوروی قطار دلومړی موټر چلوونکی دستړيا له امله خوب وړی و. هغوی ته چا دسالنګ په غاښونو نه مخکې داستراحت فرصت نه و ورکړی. لومړی موټر ځای پرځای ولاړ و او شاته قطار هم له ځايه نه خوځيده. طبيعي ده چې هيڅا دموټر انجن نه مړ کاوه، خوکله چې عقلونه سر ته راغلل او دمرستې لپاره منډې پيل شوې، نور ناوخته شوی و. دتونل له منځه ټول سرتيری په کش کولو راوايستل شول خو شپاړس تنه چې دموټر په لوګيو مسموم شوی وو، ونه ژغورل شول اوله منځه لاړل. شل تنه نورهم دکوما په حالت کې وو، خو ژوندی پاتې شول.

ددوبی په سر کې امر وشو چې ۱۰۸ موتوريزه فرقه دې بګرام ته کډه وکړی. دځلوينښتم لښکرو قوماندانی په نظر، زمور فرقې بايد ترهر څه لومړی دافغانستان ترټولو ستره هوايی اډه ساتلې وای. له بګرام نه دکابل پر شمالی سيمو، چاريکار او هغه ځای شاوخوا په «شنو سيمو» کې دحالاتو په پرمختګ اغيزه ښندل، خورا اسان کار و. په دې سيمو کې داوبو پريمانی او دلويې لارې نږدې والی، ددښمنانو او هغو کسانو پاملرنه را اړوله چې ځانه ته يې ګټې لټولې. سربيره پردې، څنګ ته مو دپنجشير دره او دېو ډير تکړه اوغښتيلی قوماندان احمدشاه مسعود قرارګاه پرته وه. پريکړه وشوه چې دغه تر ټولو کړکيچنه سيمه د ۱۰۸ لمبر فرقې په مسؤوليت کې شامله کړی.

خوله بده مرغه دغه ډيره سمه منسوبه، هغسې چې ښايی پلې نه شود. په داسې حال کې چې دسپتامبر په پای کې مو دساده لرګينو قاغوشونو دجوړولو کار پای

ته ورساوه او سمدلاسه مونوی ځای ته کډه وکړه، زمونږ لپاره دومره په زړه پورې نه وه، بګرام ته یوازې دفرقې قرارګاه او څو تأمیناتي کندکونه ولیږدبدل، خو اصلي ځواکونه مو لاهماغسې په کابل کې پاتې وو. ددې لپاره چې سیمه سمه کنترول شي او پوځي بریالي عملیات په کې ترسره شي، نو لږ تر لږه دوو جنګي غندونو ته اړتیا وه، خو مونږ لا یو نه درلود. په بګرام کې دټانک یوازینۍ ځای پرځای شوې قطعه هم په پیل کې بیرته (شوروي ته) ستنه شوې وه، خو پرځای یې هیڅوک نه وو رااستول شوی. دغسې یونامناسب حالت زمونږ دحضور تر پایه په افغانستان کې حاکم و.

د ۱۹۸۰ کال دمسکو دالمپیا دلوبو په درشل کې دځلوینښتم لښکر په ستروګارنیزیونو، دفرقو او مستقلو غندونو په قرارګاوو کې او هغه هم په لومړی ګام کې په کابل کې، ګرځنده تلویزیونی خپروونکې دستګاوې ولګول شوې. دغو دستګاه وو تلویزیونی څپې له مصنوعی سپوږمی نه اخیستلې او بیا یې نړۍ سیمو ته له سره خپرولې. په لومړی سرکې دغه دستګاوې زمونږ په موټرو کې لګیدلی وی او تصویر یې د دریو کیلومترو پورې خپرولی شو وروسته بیا اخذی پیاوړی دستګاوی. راوړل شوې چې تر لسو کیلو مترو یې دبیا خپرولو وس لاره. ترکومه ځایه چې ماته معلومه ده په اوړی کې دځلوینښتم لښکر دپرسونل دبوختتیا لپاره چې اوس یې شمېر سلوزرو تنوته رسیده، یوه ځانګړې مصنوعی سپوږمی هم مدارته توغول شوې وه. مونږ د دغه تخنیک په مرسته کوا رنګه تصویر ترلاسه کړو، خو د تلویزیون نندارې ته ډیر لږ وزګاریدو.

دمنی له پیل کیدو سره د دښمنانو هڅې هم ګړندی شوې. هغوی پوهیدل چې څه موده وروسته غرنی لارې په واورو بندیږی او هغه وخت به مجبور وی، یوازې پرپوستو انفرادی یرغلونه او د نظامی قطعو پر قرارګاوو ډزې وکړی. معمولاً دښمنانو په ژمی کې ستر عملیات نه کول، ځکه چې دمانور قدرت یې له لاسه ورکاوه. هر کال همدا کار تکراریده. مور غوښتل که نه، خپله طبیعت په جګړه کې دلږې ساه ایستلو فرصت راکاوه. هم شوروی عسکرو او هم مجاهدینو له دغه فرصت نه د تیرو کارونو د جاج اخیستلو، پرپښو د بیا درېدلو او د دوښیو سختو جګړو په وخت کې دلګیدلو مهما تو د بیا اکمال لپاره ګټه اخیستله.

په منی کې زه د ګارد د پنځم لښکر موتوریزه فرقې د قوماندان په توګه وټاکل شوم، چې افغانستان ته له لیږلو مخکې په کوشک کې ځای پرځای وه. له جګړې وروسته خپل پخوانی ځای ته ورستنه شوه او اوس هم همدلته ځای پرځای ده. تقریباً ټوله فرقه د ۱۹۸۰ کال په منی کې په شینډنډ کې پرته وه. یوازې یوغنډ له خپلو نورو قطعونه لیرې په هرات کې پروت و، هرات د افغانستان د ډیر ښکلی او د زرکلن تاریخ لرونکی ښار دی. د اسیمه زمور لپاره له دې امله هم ارزښتمنه وه چې هلته د لویدیځ افغانستان تر ټولو ستره او د دې هېواد دویمه هوایی اډه پرته وه.

په نوې دنده د ټاکلو پریکړه، د وروستیو وختو خلاف، مثلاً کله یې چې نه یوازې د تلفون په وسیله د کورنیو چارو وزیر د لومړی مرستیال په توګه له ټاکنې نه خبر کړم، په مخامخ کتنه کې کیده. د ترکستان د پوځی حوزې قوماندان د ګرجنرال یوری پاولوویچ ماکسیموف ژر ژر افغانستان ته راته او هرځل مخامخ د

(بیلابیلو) فرقو معاینې ته روانیده. هغه ډیر افسران له نږدې پیژندل او دا رتیا په وخت کې به یې د بیلابیلو ستونزو په حل کې مرسته ورسره کوله. یوه ورځ ماهم له هغه نه د یو لنډ رخصت د اخیستلو غوښتنه وکړه. هغه وخت دا ډیره سخته غوښتنه وه. زما په نظر د رخصتۍ لپاره معقول دلیل موجود و: زما دویم زوی اندری په سارا توف کې زیږیدلی و. د اخبره ما ته تاشکند ته له تګ مخکې شوې وه، هغه وخت چې زه او یو بل افسر د خپلو جګړه ییزو پلانونو د لاسلیک او تصدیق لپاره تللو. د غه پلانونه باید د نورو ترڅنګ، خپله لوی قوماندان هم لاسلیک کړی وای. مخکې له دې چې هغه ته ورشم، له نورو هغو کسانو نه مې پوښتنه وکړه چې دده عادتونه ورته معلومه وو: اجازه به راکړی که نه؟ ټولو د نفی په علامه خپل سرونه وخوځول. وروسته له هغه چې قوماندان زمور له خوا راوړل شوی ټول سندونه لاسلیک کړل، ماله ځان سره وویل: «زامن خوهره ورځ نه زیږی!» زړه مې غټ کړ او سارا توف ته د تګ لپاره مې د رخصتۍ غوښتنه ترې وکړه. هغه موافقه وکړه او پنځه ورځې رخصتي یې راکړه. له قرارګاه نه مخامخ هوایی ډګر ته اوله هغه ځایه سارا توف ته لاړم خپل زوی مې ولید او بیرته افغانستان ته ستون شوم.

داسې میاشت نه وه چې جنرال اکسیموف دې ځلوینټم لښکر ته نه وی راغلی. دامین دمانۍ په درېیم پور کې ده ځان ته دفتر درلود چې د مخابرې داسې عصری وسایل په کې وو چې د ده ته یې نه یوازې د محدود و قطعو د لارښوونې بلکه (د ننه په شوروی کې) د ټولې پوځی حوزې دا دارې امکان ورکاوه.

د اکتوبر په پای کې چې ماکسیموف بیا کابل ته راغلی و، یوه ورځ یې ځان ته وروبلم. هغه وویل چې د ترکستان د پوځی حوزې نظامی شورا د فرقې د قوماندان

په توګه زما دتاکلو خبرو څېړله. دهغه له خبرو څرګنده شوه چې هغه مخکې «مایکوپ» ته هم تلفون کړی او هلته یې له نورو افسرانو نه په پخوانۍ دنده زما دکار دځرنګوالی پوښتنه هم کړې ده. ما د دغسې یو شی تمه نه لرله او په نوې دنده دتاکلو خبر زما لپاره هم ناڅاپی او هم په زړه پورې و. ما له قوماندان نه مننه وکړه او چې بګرام ته ستون شوم نو دخپلې فرقې قوماندان ته مې ددې نویو پرمختګونو خبر ورکړ. دوه ورځې وروسته اسناد تیار او مسکوته واستول شول.

له دغو خبرونه یوه میاشت تیره شوه او نړدې وو چې زما له یاده ووځی، خو ددسمبر په پیل کې لوی قوماندان په تلفون کې راته توده مبارکی وویله، زیاته یې کړه چې دفرقې دقوماندان په توګه زما دتاکلو سند ددفاع وزیر امضاء کړی دی. څو دقیقې وروسته دځلوینښتم لښکر نوی قوماندان تورن جنرال بوریس تکاچ هم راته مبارکی وویله. مخکنی قوماندان توخارینوف بیرته تاشکند ته په پخوانۍ څوکۍ دکارکولو لپاره ستون شوی و. تکاچ امر وکړ چې همدا سبا بایدد لښکر له درستیزوال جنرال والنتین پانکراتوف سره یوځای شینډنډته دنوی دندی داشغال لپاره لاړشم.

شینډنډ ته الوتنې له یونیم ساعت زیات وخت ونیوه. هلته وختی خبر رسیدلی وچې نوی قوماندان پر لاره دی. له جګړې نه وزګارو قطعو زما انتظار ایسته. په یوه کوچنوتی تعلیمی ډګر کې (کله ممکنه وی ددوو لرګنیو قاغوشونو ترمنځ فاصله په دې نامه ونومول شی) د ۱۰۳ فرقې توپچی غنډ او کوماندو یی کنډک په نظام ولاړ وو.

ماته دجنرال یوری واسیلوویچ شاتالین څوکۍ راسپارل شوې وه. دغه سړی

وروسته د کورنیو چارو وزارت د پوځونولوی قوماندان په توګه وټاکل شو. هغه ډیره موده ان افغانستان ته له استولو ډیر مخکې د پنځمې موتورېزه فرقې قوماندانی په غاړه لرله. څلور ورځې مور دواړو (دهلیکوپتر په مرسته) هغه ځایونه چې د فرقې جزوتامونه په کې ځای پرځای شوی وو، وکتل او ان په هرات کې مو تقریباً ټولې پوستې معاینه کړې.

هغه زده له افسرانو او دهوای اډې له افغانی مشر تابه سره معرفی کړم. دا یوه خبره زما په نظر د یادولو ړ ده: جنرال شاتالین سهار وختی کوشک ته د خپل کور پر لور والوته. د فرقې له قرارګاه نه تر هوایی ډګر د موټر په مزل پنځه دقیقې لار لانه وه. کله چې مور هلته ورسیدو، د موزیک باندو، د قوماندان مرستیالانو او د جزوتامونو قوماندانانو زمور انتظار ایسته. کله چې مومخه ښه وکړه او هر ډول په زړه پورې او تودې خبرې و شوې، د موزیک باندو د «پرشچانیی سلاویانکی»* سندره وغږوله. دهلیکوپتر انجنونه چالان وو. بس دومره پاتې وه چې جنرال شاتالین وروخیژی او ورپه ځان پسې وتړی. د غه وخت ناڅاپه دهلیکوپتر یوټایر وچاوده. ټول لږ وار خطا غوندې شول، دا ځکه چې، لومړی خو داسې پیښې هره ورځ نه رامنځته کیږی او بله دا چې شاتالین ته په مخکې دهغو سیمو له پاسه یوساعت الوتل پراته وو چې ډزې په کې روانې وې، دا له هراته راچاپیره شوې «شنه کړی» وه. د کومې ناوړه پیښې د مخنیوی په مقصد مو د مرستې لپاره دوه نور هلیکوپتره هم ورسره ولیږل.

پنځمه فرقه د ژوند د شرایطو له پلوه له نورونه په ښه حالت کې وه. قرارګاه مو له قطعاتو نه یو کیلومتر فاصله لرله، نوځکه هلته په پښو ورتللی شو. د فرقې ټولې

*د خدای پامانی ځانګړی سندره ده.

اداري په شپږو يو پوړيزو بلاکونو کې ځای پرځای شوې وې هر بلاک څلور کوټې، يوه يوه بخاری، تښتی او دغان مينځلو تشناب درلودل. دا چونې وروسته وروسته پراخه شوه. دافسرانو له پاره خورنځی او څو نور بلاکونه هم منځته راغلل. دمخابرې کنډک هم همدلته ځای پرځای شو.

لور کوه

د (نوې) دندې ترمنلو وروسته مې غوښتل، يوځل بياتولې قطعې معاينه کړم خو په دې کار بريالی نه شوم. زمور فرقه دغه وخت دلور کوه په نامه دفراه په يوه غرنی سيمه کې په جګړو اخته وه. دعمليا تو قوماندې دجنرال ی. و. شاتالين په غاړه وه، خو شينډنډ ته زما له راتګه يوه اوونۍ مخکې يې دغه ځای خوشې کړی او دجګړه ييزو عملياتو لارښوونه يې خپل لومړی مرستيال ته په غاړه وراچولې وه.

په لورکوه کې زمور فرقه له څلورو اوونيو زياته تم شوه او دا زمور لپاره ډيره مودې وه. دسرزيانونه هم منځ ته راغلل. دنوې دندې دپيل په دريمه ورځ دفراه شاوخوا سيمو ته والوتم، په کار وه چې هرځه ځای پرځای وخيړل شی او دعمليا تو راتلونکې وټاکل شی.

دا يوه په زړه پورې اوغير معمول غوندې سيمه وه. په بيخی هواره او شاړه زمکه کې دشپږو کيلومترو په واټن هرې خواته ډبرينې غونډۍ داسمان لورته هسکې وې. ترټولو جګه څوکه دسمندر له سطحې نه تر دريو زرو مترو زياته لوړه پرته وه.

زمور او دافغانی کشف قطعو درپوټونو له مخې ددغې سيمې په زړه کې

دوسلو، مهماتو او خورو ښه لویه زیرمه ځای پرځای شوې وه. دښمنانو د دغې سیمې په یوه نه ایلیدونکې لوړه کې، یو کمپ جوړ کړی و او له هغه ځایه به یې تل په هغه لویه لاره پرله پسې بریدونه کول چې زمور او افغانی قطارونه به پرې د کندهار خواته روان وو. دغه راز به یې له دغه ځایه داویایمې مستقلې موتوریزه لواء پر قرارگاه هم بریدونه کول.

دفرقې د قوماندې مرکز په هغو څو مخصوصو موټرو کې ځای پرځای شو چې په زمکو کې ښخ شوی او دستر او اخفا په جالیو پوښل شوی وو. دفرقې د قوماندان ټول مرستیالان چې د توپچی، مخابرې، هوایی، کشف دندو مسؤولیتونه یې لرل هم همدلته دیره وو. دغه عملیات مو دافغانستان له یوې پلې لواء سره چې د پرسونل شمېر یې له (۱۱۵) تنو څخه نه زیاتیده، په ګډه سرته رسول. د دوی دایمی سوق الجیش همدا دفراه ولایت و، کله کله چې به دګډو عملیاتو دسرته رسولو اړتیا پیدا شوه، نو افغانی پوځیان هم زمور قوماندانې ته رابلل کیدل.

دوه ورځې مې دهغو افسرانو نظریې واوریدې چې په لور کود کې یې زیاته موده تېره کړې وه او هر څه ورته ټکی په ټکی معلوم وو. د دې خبرو اترو بهیر ډیر جدی و. مور هم زړه نازړه وو. زمور افسرانو ویل چې دجګړې اوږدول او دغې سیمې ته ورننوتل یوعبث کار دی. هغوی وړاندیز کاوه چې راځئ مور خپله، درې ته تولې ورغلې لارې په ماینونو کې کړو او په دې توګه دښمنان دننه ایسار کړو او هر ورځ پرې د توپچی ډزو ته دوام ورکړو او په دې توګه ورته د «ډالیو» لیږل پرله پسې توګه جاری وساتو.

افغانی (پوځیانو) بل نظر درلود. دهغوی قوماندان ویل، په زوره باید درې ته

ورننوځو او دغه زیرمې له منځه یوسو. مانو دغه وخت له ځانه سره پریکړه کړې وه، خو بیا مې هم دځان دپوهولو لپاره وپوښتل: «څوک به مخکې (درې ته) ننوځي؟» معلومه شوه چې شورویان باید په سرکې روان شي. لکه چې دافغانی قطعې دقوماندان سیاسی مرستیال ویل، افغانان پوره ځواک نه لري، خو ډیره هڅه به کوي چې له مورږ سره مرسته وکړي.

شک نه شته چې دلور کوه زیرمې باید له منځه ورل شوې وای، خو هرځل چې مورږ هڅه کړې، یوازې څومتره درې ته ورننوځو، ددښمنانو دسخت او داسې زړور مقاومت سره مخامخ کیدو چې سړی یې اصلاً په علت نه پوهیده. داسې معلومیده چې په کمپ کې یو ډیر مهم شی شته چې ساتل او دفاع یې بیخی فرض وه، کمپ پخوا جوړ شوی او دیوې اوږدې مودې لپاره په پام کې نیول شوی و: دمهماتو او خوړو سترو زیرمو دښمنانو ته دځومیاشتو مقاومت وس ورکاوه.

مخکې له دې چې درې ته ورننوځو، په کاروه چې تولې لارې له ماینوپاکې کړو، خو دا سیمې ددښمن داور په ساحه کې پرتې وې. دسرله زیان پرته، ددغه کارترسره کول شونی نه وو. دلوړو څوکو دنیولو لپاره مو پر غرنیو لارو خپل کماندویان هم نه شول لیږلی، ځکه چې په هر ګام کې دغلیم دډزوله دیوال سره مخامخ کیدل.

په لور کوه کې مو دهواله لارې هم کوماندویان نه شول پلی کولی، ځکه چې ددې کار لپاره مو کافی ځواک نه لاره. کافی توپچی ځواک موهم نه لاره چې دکوماندویانو له پلی کیدو مخکې تولې غرنۍ ترې وولی او په دې توګه له مقابلې خوا ددډزو کولو امکانات له منځه یوسی. هغه وخت مورږ دکوماندویانو دپلی کولو

لپاره پوره شمیر هلیکوپترونه او ددغو هلیکوپترو دملاتړ لپاره نور هوایی ځواک هم نه درلود. بله لویه ستونزه داوه چې مورږ نه شوای کولی، کوماندویانو ته، په تیره بیا دریم ته دورکوزیدو په وخت کې لاربښوونه وکړو. دکوماندویانو سره دمخابراتی رابطې غوښتل دهغوی دپوښاه کیدو مانالرله. مورږ لادغه وخت له هوانه دبیا مخابرې دستګاوې نه درلودې، چې وروسته بیا په هرو عملیاتو کې په هوا کې ځورندې درول کیدې، (نوځکه) که هغه جګړه ییز عملیات ترسره شوی وای، نوله تلفاتو پرته یې زمورږ لپاره بله پایله نه درلوده.

ددې ټکو په پام کې نیولو سره مې پریکړه وکړه چې داعملیات دې نه ترسره کیږی او یوازې په هغو اقداماتو دې بسنه وشی چې دفرقې او پراسیون افسرانو یې وړاندیز کړی و. مورږ په دقت سره، دریم ته ټولې ننوتلې لارې په ماینو ډکې کړې او بیا موله یوې مخې دتوپونو دګولیو اورول پیل کړل. دلور کوه دغرنیو ترو او لویې لارې ترمنځ موداسې غښتلی موانع منځ ته راوړل چې ددښمنانو خنډکیدلی. دې ټولو کارونو پنځه ورځې ونیولې او وروسته زمورږ قطعات بیرته خپلو قشلوته ستانه شول. زمورږ عملیاتو ټاکل شوې نتیجه ورنه کړه، ځکه چې مورږ نه غوښتل تلفات منځ ته راشی. مورږ په دې پوهیدو چې څه موده وروسته دې ځای ته بیا راستنیدونکی یو، همداسې هم پیښه شوه.

څو میاشتې وروسته دلور کوه کمپ یوځل بیا فعال شو. دښمنانو په دې سیمه کې یوځل بیا پرلویې لارې بریدونه پیل کړل او دخپل کنترول سیمه یې په منظم ډول پراخوله، مورږ پوره وسه وکړه چې دښمنان نه یوازې دننه په دره کې ایسار پاتې شی. بلکه له دغه ځایه وتښتی. (مورږ غوښتل) هغوی په دې پوه شی چې لور کوه

یې نور له لاسه وتلی، هغه تل زمور دډزو لاندې دی او نورنه شی کولای، هلته آزاد ژوند او فعالیت وکړی. پرغرنی سیمه باندې پرله پسې هوایی بمباری او دلیرې واټن ویشتونکو توپونو ډزې روانې وې او په لارو کې ایښودل شوی ماینونه وخته ناوخته «تازه کیدل». خوله دې سره سره مور ته خبر راورسید چې لور کوه لکه دپخوا په څیر دمخالفینو دقوماندې دواحد مرکز په توګه کارول کیږی. په دغه ښه ساتل کیدونکی پیاوړی کمپ کې دجګړه مارو ډلو د مشرانو جرګو - مرکو (لکه دپخوا په څیر) دوام درلود. ترټولو مهمه خبره داده چې زمور په پوستو، دپهرې په سیمو، دافغانی اردو اوځلویښتم لښکر په قرارګاوو دغلیم دیڑغل په وخت کې دسرزیانونه رامنځته شول. دپنځمې فرقې قوماندانی اړشوه چې غوښ اقدامات وکړی اودننه په دره کې پټ شوی مجاهدین خنثی کړی. په بله ژبه، مور باید هغوی له منځه وړی وای او داسې کار مو کړی وای چې په راتلونکی کې اصلاً دلور کوه نوم بیا په خوله وانخلی.

ددغې غرنی سیمې دنیولو لپاره په جګړو کې، له بده مرغه زمور دسرد زیانونو مخنیوی شونی نه شو. دسردروند زیان افغانی پلی ۲۱ لمبر لواء ته ورورسید چې په فراه کې ددغې غرنی سیمې په څلویښت کیلو متری کې پرته وه او دلور کوه په عملیاتو کې یې له مور سره ګډون درلود. که څه هم مور هڅه کوله، دخپلو تلفاتو شمېر کم کړو، ځکه پوهیدو چې لور کوه دافغانانو په کارده او نه دځلویښتم لښکر، خوبیا هم دسرزیانونه رامنځته شول. زمور د استحکام چیانو، پلو او کوماندو یی ځواکونو په منځ کې چې هڅه یې کوله، دلور وځوکو په نیولو سره ځان ددرې مرکزته ورورسوی، دمرۍوبلو شمېر زیات و. دلور کوه په جګړه کې مور نه

یوازې دپنځمې فرقې سرتیری او افسران، بلکه پوځی سلاکاران هم له لاسه ورکړل. دیوه پوځی سلاکار، دهوایی ځواکونو دیو پیلوټ برید جنرال و، دخاخالوف مرګ مورِ نه یوازې دخپلو عملیاتو چټکولو ته اړ کړو، بلکه وموپیتیله چې له خپل وروستی وس نه کارواخلو.

جنرال خاخالوف دهوایی ځواکونو دلوی قوماندان هوایی مارشال پ. س کوتاخوف په امر دلته راغلی وچې په دغه غرنی سیمه کې دبم غورځوونکو سو-۲۵ ډوله الوتکو دکارونې داغیزمنتوب جاج واخلی. په لومړی سرکې ددغه امر له عملی کولونه دسرغړاوی لپاره جدی اقدامات پیل شول، ځکه دکوتاخوف دنقشې له مخې، پلی ټولګی مجبور وو، له هرې هوایی بمباری وروسته ځان دلور کوه مرکز ته ورنږدې کړی او په خپلو سترګو ووینی چې ایا بم غورځوونکو الوتکو خپل هدف ویشتلی او که نه؟ دپنځمې فرقې او دټول ځلوینښتم لښکر دمشرتابه داخبره نه خوښیده، ځکه چې پوهیدل، دغسې پلټنه څه عواقب لری او مورِ دسر دزیانونو ترخه تجربه هم درلوده. تراوسه هم لازه په دې عقیده یم چې دغسې کارونه باید په پولیګونو کې شوی وای، خو بیاهم که دجګړې په ډګر کې مخامخ ددغسې پلټنې اړتیا لیدل کیدای، لکه چې کوتاخوف په پام کې لرله، نوبیا کیدای شول چې په غرنی سیمه کې نه، بلکه دهوارډاګ په جګړه ییزو عملیاتو کې هغه سرته رسیدلی وای چې هم سړی په هلیکوپترو کې ورتلای شی او یا دهمدغو الوتکو یا توپونو په ملاتړ کوماندویان سیمې ته (دپلټنې لپاره) استول کیدای شی. دلور کوه په عملیاتو کې دکوتاخوف نقشه نه یوازې بې لرلیده، بلکه هماغه له پیله شنډه وه. له بده مرغه هغه خپله په دې خبره نه پوهیده او

د مرستندویانو له ډلې نه یې هیڅا هغه ته په خپل وخت د دې خبرې د کولو جرأت ونه کړ.

جنرال خاخالوف څو ورځې په لور کوه کې و. لکه چې ومې ویل د دې منځ ته مورِ د هغه دالوتنې مخه نیوله، خو کله چې زه لاړم او د عملیاتو مشرې زما مرستیال په غاړه واخیسته او دده له بیا بیا غوښتنې سره سره هغه په خپل سر د دې منځ ته والوت، خاخالوف له هغه ځایه بیرته راستون نه شو. د هغه هلیکوپتر دښمنانو وویشت چې د هغوی د کمپ څنګ ته ورغورځید. له دې پیښې وروسته مورِ اړ شو چې خپل عملیات پیاوړی کړو او د غرولە څوکو او د دوو درولە لارې د غرنۍ سیمې مرکز ته ځان ورورسوو. په بیړه د غه پیل شوی عملیات اساساً د دې لپاره کیدل چې که نور نه وی نو د جنرال اوله هغه سره په یوه هلیکوپتر کې د سپرو پیلوټانو مړی لاس ته راوړو او هغوی د توهین کولو لپاره پرې نه ږدو. کله چې د دې زړه ته ورسیدو او د غه پیاوړی مرکز مو ونیوه نو د هغوی د کمپ څنګ ته موویشتل شوی هلیکوپتر او په هغه کې دافسرانو مړی ومونډل. دا یوه زړه بورنوونکی صحنه وه. د جنرال مړی چې عسکری دریشی یې په غاړه وه او د نورو پیلوټانو مړی، د دښمنانو له خوا سخت سپک شوی وو. له هغوی نه یې ستر ګې ویستلې او غوږونه پرې کړی وو...

د غو عملیاتو نړدې یوه اوونۍ وخت ونیو، د هغو په لړ کې اته تنه ووژل شول. د غه کمپ چې یونیم کال یې پر مورِ خوب حرام کړی و، هغه د چا خبره د انجنیرۍ د وروستی مهارت په کارولو سره جوړ شوی و. د ټرو په منځ کې یو غټ ګدام، بتونی تأسیسات او پټنځایونه جوړ کړی شوی وو. هلته د زرګونو ټنو خوړو، د سون

موادو اومهماتو دخوندی کولو امکان و. دښمنانو چې نه یوازې شوروی قطارونه، بلکه عادی افغانان یې هم لوټول، په لویه لارکې ټول چور کړی مالونه همدغه ځای ته لیږدول. دښمنانو دغنیمت مالونه په کومه ځانګړې بڼه نه جلا کول: هلته هم فرانسوی لوښی او هم له کیمیاوی سرې ډک کانټینر او داسې نور ډیر شیان لاس ته راغلل. ښکاره ده چې داکمپ موله ستمې وران کړ. غښتلی تاسیسات مو په بمبونو والوزول او سیمه مویو ځل بیا له مایننونو ډکه کړه او بیا ترې لاړو. زمور دا عملیات همدلته ختم شول. دیادونې وړ ده چې ډیره موده وروسته لور کوه یوځل بیا زمور پاملرنه ځانته جلب کړه. د ۱۹۸۵ کال په پای کې دلته له سره فعالو شویو باندونو یوځل بیا د (جګړو) کیسې تازه کړې. ددښمنانو دبیا سرجګولو له امله مور یوځل بیا پر دغې سیمې پرله پسې درندې بمباری او هوایی یرغلونه وکړل چې وروسته بیا لور کود زمور لپاره کوم خطرنه ګڼل کیده.

هرات

دپنځمې فرقې قوماندانی دافغانستان په لویدیځو ولایتونو کې دحالاتو دپرمختګ له امله ډیره اندیښمنه وه. دښمنانو دکندهار خواته دغزیدلې لارې دنیولو لپاره غټې هڅې پیل کړې وې. مور په خپل وارهڅه کوله، دې مقصد ته درسیدو لپاره، دهغوی دلارې خنډ شو.

دپنځمې فرقې دجګړه ییزو عملیاتو پر څرنګوالی، دې خبرې هم اغیزه لرله چې دهغې دمسؤولیت په ساحه کې دافغانستان دریم ستر ښار - هرات پروت و.

دهرات حالات تریوې اندازې دکابل حالاتو ته ورته وو، یوازینې توپیر یې داو چې دپایتخت پیښو دهیواد برخلیک تاکه او دهرات واقعاتو په څو ولایتونو کې

د پیښو پر مختګ ټاکه.

په هرات کې د مجاهدینو داسې عادي ډلو فعالیت درلود چې غالباً یوله بل سره لاس او ګریوان وې. د پاملرنې وړ ده چې په همدې هرات کې زمور د فرقې مشر تابه او پوځي سلاکارانو په ګډه دلومړی ځل لپاره له دوو (مجاهدو) ډلو سره تماس پیدا کړ چې مشرانو یې له حکومتي ارګانو سره د همکاري ژمنه وکړه. عملاً، هغوی د انقلابي حکومت لوري ته د راوښتلو سره وخوځاوه نه شم ویلی چې د اګنې دشمیر له پلوه کومې غټې ډلې وې مهمه خبره دا وه چې دلومړی ځل لپاره د مخالفینو قوماندانانو نه یوازې له شوروي پوځیانو، بلکه له افغاني حکومت سره دګډو مرستو پریکړه وکړه.

دې لومړنیو تماسونو ډیر وخت اوزیار وغوښت. زمور هر قوماندان، ان د هغو ډلګیو په سطحه چې له اساسي ځواکونو نه لیرې پراته وو، د نده درلوده، د خپل مسؤولیت د ساحې حالات په ټولو جزئیاتو سره ځان ته معلوم کړي. افسرانو دشا او خوا جګړه مارو شمیر، د هغوی ګوندي تعلق او د قوماندانانو نومونه پیژندل.

په تیره بیا مور ته دا په زړه پورې وه چې د افغانستان د حکومت او شوروي لښکرو په وړاندې بیلابیلې ډلې څه نظر لري. د هغو د نظر یو تنوع کله کله غوښ رول لوباوه. ځینو مجاهدو قوماندانانو غوښتل له شوروي پوځیانو سره تماس ونیسي، خو د افغانستان له حکومتي استازو سره یې هر ډول اړیکه رد وله. داسې برېښیده چې د دښمنانو ګڼله چې له شوروي انو سره رابطه هغوی ته ډیر ګټه رسولی شي.

سربیره پردې له شوروی پوځی قوماندانی سره تماس، تریو حده دا ضمانت هم برابرا وه چې مثلاً دایا هغه ډله به په نړدې راتلونکی وخت کې له منځه نه وړل کیږی. دفرقې له قوماندانی سره تماس د درو درملو او خوړو دلاس ته وروړلو بنه سرچینه هم ګنډل کیده. ځینی وختونه مورږ یو یا څو مجاهد قوماندانان حمایه کول، خو حکومت داسې کارونه نه تر سره کول.

مورږ دهرباند اعمال په دقت څارل. ددښمنانو تقریباً په هره ډله کې دځلویښتم لښکر دکشف دډستګاه له لارې زمورږ سړی موجود وو. سره له دې چې دکشف دادارې افسران رسماً زمورږ دفرقې پرسونل نه ګنډل کیده، خو فعالیتونه به یې تل د (سیمې) دغټ پوځی قوماندان له ګټو سره برابر وو.

دپنځمې موتوریزه فرقې قوماندانی ته دخپل مسؤولیت په سیمه کې دمخالفینو دفعالې ډلې په هکله پوره معلومات وو. مورږ غوښتل چې دهرات په ختیځه سیمه کې دحاکمې مجاهدې ډلې له مشرانو سره چې د شوروی پوځیانو دتګ راتګ لویه لاره یې خواته غزیدلې وه، تاوده اړیکی ټینګی کړو، خو ددې مشرله شوروی پوځیانو سره له هر ډول تماس څخه ډډه وکړه.

کله چې پر هرات دراګرځیدلې «شنې سیمې» حالاتو زمورږ لپاره خطرناکه بڼه غوره کړه، مورږ هڅې پیل کړې چې په دغه سیمه کې هره فعاله ډله ځان ته ر ب ه کړو. وروسته مو غوښتل داجیر شوی قوماندان له لارې، دمخالفس ر مورږ مشرانو سره اړیکی پیدا کړو.

دجاسوسانو له لارې مو هغه ته لومړی دکشف دادارې له افسر سره چې زمورږ په سیمه میشت و، دلیدو کتو وړاندیز وکړ. دفرقې قوماندانی چې دهغه په زړه

نازړه والی پوه شوه ، بې له دې چې ځواب ته يې انتظار وباسی ، هغوی ته يې په کمه اندازه دخوړو او دا رو درملو په ورکړه پيل وکړ. طبيعی ده چې نه هغه وخت او نه هم وروسته د دښمنو ډلو د مشرانو دبيا بيا غوښتنو او کله کله اخطارونو سره سره له شوروی پوځيانو نه هغوی يو کارتوس يا يو ميل وسله لاس ته نه ده ورورې (؟ د . ج)

له يوې نيمې مياشتې اوږدو خبرو وروسته دغه قوماندان له ليدو کتو سره موافقه وکړه. کتنه هرات ته څيرمه ترسره شوه. په دې سره سلا شول چې دښمنان به زمور ساتونکې پوستې ته رائی چې مستقل ډلگی په کې ځای پرځای وو او د سيمې د کنترول وس يې لاړه.

د کتنو سطحې د دې خبرې په پام کې نيولو سره چې د بانډونو مشران زمور له خوا سپارل شوې دندې څنگه سرته رسوی ، ورو ورو لوړيدې. که دښمنانو له مور سره ټگی نه کوله ، نو خبرې په لوړه سطحه سرته رسيدې. د دغو خبرو سطحه له يوې اوونۍ نه بلې ته لوړيده. د يوې دښمنې ډلې له مشر سره د کتلو لپاره ، يوه ورځ خپله د کشف د اداري مشر ورغی ، دا نو ترټولو هغه لوړه کچه وه چې د فرقې قوماندانۍ له مجاهدينو سره په کې تماس معقول باله.

د نورو ډلو د مشرانو د راجلبولو کار له ستونزو سره مخکې روان و. دا کار هماغه له پيله زمور هدف و او دغه ټوله لوبه د همدې موخې د لاس ته راوړلو لپاره پيل شوې وه. ستونزه داوه چې خبرې دوخت له پلوه ډيرې اوږدې وې ، هره روغه جوړه له باور نه ډکو زيارونو نتيجه وه.

د بيلگې په ډول: کله چې زه په ۱۹۸۵ کال کې د دويم ځل لپاره افغانستان ته

ستون شوم (شورویانو) نوی په دې پیل کړی وچې دلویدیځ افغانستان او دهرات دشاوخوا له یوه ډیر قوی قوماندان سره اړیکی ټینګی شی. دکشف او استخباراتو دغسې کارونه په ټول افغانستان او دکابل په شاوخوا کې، زمور دافسرانوله خوا روان وو. ډیر ځله دغو کارونو ستړې پایلې هم لرلې دی.

دځو دلیلونو له امله، دپنځمې فرقې قوماندانی، دهرات په شاوخوا کې دمیشتو جګړه مارو ډلو فعالیت ته ځانګړې پاملرنه اړوله. یودلیل داهم وچې دښارله منځه زمور لپاره یو ارزښتمن سړک تیریده. د «شنې سیمې» په شاوخوا او ان دهرات ښار په مرکز کې دکړو وړو دیوالونو له منځه په قطارونو یرغل او دهغو تالاترغې کول کوم ستونزمن کارنه و. له بده مرغه دغسې پیښې منځ ته هم راغلې دی.

داخبره هم دځانګړی ارزښت لرونکې ده چې هرات دځو اساسی لویو لارو پر سر پروت و. له «شمال نه جنوب ته» غزیدلې دغسې یوه لار شوروی پوځیانو دموټرې قطارونو دتیرولو لپاره کاروله، بله لویه لار چې څه دپاسه شپیته کیلو متره وړاندې پرته وه، دایران خواته غزیدلې وه. افغانستان ته زمور دپوځونو له وړتګ وروسته، دښمنانوله دې ویرې چې مور به ګنې له دغې لارې هم ګټه اخیستل پیل کوو، په بیړه یې هغه له ماینونو ډکه کړه. بله لار چې دختیځ په لور دچغچران خواته غزیدلې وه، د هیواد دمرکز له لیرې پرتو غرنیو سیمو سره نښلوالله. هراتی یاغی ډلو له دغې لارې نه چې دجنوب له خوا دهندوکش دغره په لړی او د شمال له خوا دافغان - شوروی پولې په غیږ کې نیولې دی، د سړو او وسلو دلیږدولو لپاره کار اخیست. سربیره پردې هرات دافغانستان مهم فرهنګی او مذهبی مرکز او

دډیرو وتلیو افغانی شخصیتونو تاتوبی ګټل کیږی.

ان که زمور زړه هم غوښتلای چې له دغه ښاره په څنګ تیر شو، داکار شونی نه و، ځکه چې څنګ ته بله لار نه وه.

زمور دفرقې دمسؤولیت په ساحه کې دشیندنډ هوایی اډه هم پرته وه. هغه له ایران نه افغانستان ته دتولو رالیږل شویو ډلو لپاره مهم هدف ګټل کیده، هغوی دځلوینښتم لښکر، دهوایی ځواکونو ددې اډې دږنګولو په اندازه پربل هیڅ شی د برید کولو دومره شوق نه درلود.

دهوایی اډې دساتلو او امنیت مسؤولیت دحکومتی ځواکونو په غاړه و. تریوې اندازې دپنځمې موتوریزه فرقې ځینی جزوتامونه هم دغه کارته ګماریدل. دوه ځله، کله چې د (ساتونکو) دهوښیارۍ اندازه کمه شوې او دهوایی ډګر دساتنې کارته لږه پاملرنه اړول شوې وه، دښمنانو خپل هدف لاس ته وروړی و. په افغانستان کې زما ددویم او درییم ماموریت په وخت کې په دغه هوایی اډه کې سترې ورانکاری سرته ورسیدې. معلومه نه ده چې ولې، خو یرغل پر هغو تم ځایونو کیده چې دحکومتی ځواکونو الوتکې په کې ولاړې وې. خبره دې ځای ته ورسیده چې په لویدیځ افغانستان کې، دافغانستان هوایی ځواک، اصلاً په هوا کې پاتې نه شو: هغه ټول دزمکې پر مخ له منځه یووړل شو.

لومړی ورانکاری د ۱۹۸۵ کال په پیل کې وشوه. هغه په ډیر مهارت سرته رسیدلې وه. دشپې له خوا په بیلابیلو تمځایونو کې په یوه وخت کې دحکومتی پوځونو یوولس ایل-۲۸ ډوله الوتکې وچول شوې. دا زړې الوتکې او دشوروی بم غورځوونکو الوتکو لومړی ډولونه وو. له خپل پاخه عمر سره سره دغو الوتکو

ډیرې ښې ځانګړتیاوې هم درلودې. له هغو نه شاوخوا ته داور لمبې خپرې شوې او دلته میشت (افغانی) هوایی غنډ عملاً تر ستې پورې په ایرو بدل شو.

ترکومه چې مورږ ته معلومه شوه، دا ورانکاری دومره د دښمنانو دلاس محصول نه وه، څومره چې په کې د هوایی اډې (افغانی) مشرانو لاس لاره.

له ورانکاروانو سره مبارزې مورږ ډیر ستړی کولو. دا هغه ورانکارې ډلې وې چې په لومړی ګام کې له ایران نه راتللې. مورږنه یوازې د ایران په خاوره کې د دښمنانو دروزنې د کمپونو له شمېر نه خبروو، بلکه د هغوی موقعیت هم پوره راته معلوم و. د هغو شمېر دومره ډیر نه و. په افغانستان کې شوروی پوځی قوماندانان تل په دې پوهیدل چې کله اوله کومه کمپه ورانکاره ډله راخوځیدلې، دنده یې څه ده او څومره کسان پر لاره دی؟

له بده مرغه د غه اطلاعات مورږ ته په لازمه چټکۍ نه بلکه ناوخته رارسیدل. معمولاً له کمپ نه د مجاهدینو د راخوځیدو په څلورمه ورځ، د هغو خبر مورږ ته رارسیده، خو دا ډیره اوږده موده ده او د هغې په لړ کې اطلاع خپل ارزښت له لاسه ورکاوه، ځکه چې ورانکارې ډلې نه یوازې په د غه موده کې جګړه کولی شوه، بلکه دا امکان یې هم درلوده چې د خپلې دندې له ترسره کولو وروسته، بیرته ستنه شي.

« پر کټ ولې روجایی هواره نه ده؟ »

د ۱۹۸۱ کال په دوبی کې د شوروی اتحاد د دفاع وزارت مشرتابه، افغانستان ته د څو ورځو لپاره د ځینو پوځی حوزو د قوماندانانو د استولو پریکړه وکړه. دا په تیره بیا هغه پوځی حوزې وې چې دایمی سوق الجیش یې په غرنیو سیمو کې واقع

و. د ترکستان د پوځی حوزې پر قوماندان سربیره چې تقریباً هیڅکله یې څلویښتم لښکر یوازې نه پریښوده، (کابل ته) دمنځنۍ اسیا د پوځی حوزې قوماندان ستر جنرال د. ف. یازوف، د کارپات د پوځی حوزې قوماندان ډګر جنرال و. ا. بیلیکوف او له قفقاز هاخوا پوځی حوزې قوماندان ډګر جنرال و. ف. کولیشوف هم راغلل. نه پوهیږم چې ولې، خوله دوی سره د مسکو د پوځی حوزې قوماندان ستر جنرال پ. ګ. لوشیف هم راغلی و.

له قوماندانانو سره یوځای د حوزو دلارښوونې اساسی برخې یعنې د کشف، توپچی او هوایی چارو مسؤولین هم کابل ته راورسیدل. په کابل کې هغوی د (څلویښتم) لښکر په سطحه د حالاتو تجاج واخیست او وروسته بیلابیلو عسکری قشلو ته وخوځیدل. هرچا له یو ځانګړی شی سره مینه ښودله: چا د هیواد په لویدیځ کې له ځانګړیو غرنیو او صحرایی سیمو، چا په شمال ختیځ کې د غرنۍ سیمې او د هغې ځانګړی اقلیم او چا د نه تحمل کیدونکی تود وخې او رطوبت په څیړنه لاس پورې کړ، خو شیندنډ هیچا له پامه ونه غورځاوه.

نه غواړم افغانستان ته د دغو راغلو کسانو په مسافرت بشپړه رڼا واچوم. زما په نظر افغانستان ته د پوځی لویو یاوړو قوماندانانو استول، د دې له پاره چې مخامخ د جګړې له تجربو نه زده کړه وکړی، ښه خبره وه، خو له بده مرغه زمور له جنګی تجربې نه هغه وخت چا ګټه وانه خیستله او چې د افغانستان جګړه پای ته ورسیده، بیا خو اصلاً چا پاملرنه ورته ونه کړه.

زمور لپاره د خپګان ځای دی چې د غه راتوله شوې تجربه د هیچا په کار نه شوه. دا پریکړې که هرڅومره سمې او بشپړې وې، خو په عملی ډګر کې، هغسې چې

لازمه وه، نه پلی کیدې. افغانستان ته د دغو راغلیو قوماندانانو له ډلې نه، له یوې کوچنۍ استثنی پرته، نورو یوازې د قطعو د سوق الجیش، د سرتیرو د خوراک او داسې نورو اړخونو سره مینه نښودله. شک نه شته چې دا مهمې خبرې دی او ان په جګړه کې هم باید کم ارزښت ورنه کړل شی، خو زمور لپاره ترټولو غوره موضوع د جګړې له پاره تیاری او د جګړه ییزو عملیاتو ترسره کول وو او دا هم مهمه نه وه چې جګړه کنډک، که غنډ یا فرقې پیل کړې ده.

د څلویښتم لښکر میلمنو افسرانو په افغانستان کې د حالاتو په وړاندې خپل دریځ نه پټاوه. دا یوه سیمه ییزه جګړه وه چې خاصې ځانګړتیاوې یې لرلې او شک دی چې د هغې تجربه د مثلاً د کارپات د پوځی حوزې پرسونل ته ګټوره واقع شی.

که له اوپراتیفی - ستراتیژیکی نظره دې ستونزې ته وکتل شی، نو د غسې قضاوت سم بریښی. د کورنیو پوځی حوزو له خوا د افغانی جګړې د تجربې کارولو ډیر لږ احتمال درلود. فرقه یا بیلابیل جزوتامونه خو لا پریږده، ان په مجموع کې د څلویښتم لښکر د ټولو عملیاتو اندازه د پوځی حوزو له عملیاتو سره چې د جګړې په شرایطو کې د جلا جلا جبهو بڼه غوره کوی، اصلاً د پرتلې وړ نه بریښی، خو بیا هم هره جګړه، ان ډیره پراخه هم د تاکتیکی عملیاتو په ګډون له څو جوړوونکو برخو څخه عبارت وی. افغانستان ته راغلیو افسرانو او جنرالانو ته په کار وه چې له دې خبرو سره ځان اشنا کړی.

زمور ځینو قوماندانو بیخی د اخبره هېره کړې وه چې جګړه څه ته وایی او ځینو خو بیخې برخه نه وه په کې اخیستې. د (راغلیو) قوماندانانو له ډلې څخه یوازې یازوف، بیلیکوف او لوشیف په ستره هیوادنۍ (دویمه نړیواله) جګړه کې برخه

درلوده، خو دهغوی تجربې هم اوس بیخی زړې شوې وې، او دهغوی مرستیالانو اصلاً په کومه جګړه کې ګډون نه وکړی، له دې امله افغانستان ته دهغوی راتګ به (دهغوی لپاره) ډیر ګټوروای.

له دې سره سره ټوله اوونۍ په افغانستان کې په دې خبرو تیره شوه چې ایا دسرتیرو بسترې سمې جوړې دی او که نه او ایا دمیز ترڅنګ څپلکې هم پرتې دی او که څنګه؟ که کله به دڅو ساعتو لپاره مخامخ د جګړې ډګرته هم لاړل نو بیا به یې داسې وړې وړې نیوکې کولې لکه داچې: ولې دعملیاتو دلارښوونکی اومثلاً دکنډک یا توپچی لوا ء دقوماندان ترمنځ دلوډسپیکر په وسیله رابطه نه شته.

دوی داسې ګڼله چې داګنې ډی شوروی دی اولګیا دی کوم پوځی تمرین یاښوونیز عملیات کوی. هلته خو د قوماندان مخې ته ښکلی میزونه ایښی وی. په لارو کې تازه شنیلی شیندل شوی او دسرتیرو بڼه بڼه رڼه او په زړه پوری وی. په افغانستان کې خو خبره بیخی بله وه.

په لومړیو وختو کې چې جګړو ایله نوی زور اخیست، دڅلویښتم لښکر دځینو افسرانو زړه غوښتل هغسې عمل وکړی چې په کتابونو کې یې لوستی وو. ځینې (پخوانۍ) انګیرنې او عادتونه هم لاپاتې وو، خو دافغانستان شرایطو مورې اړکړې وچې ډیر ژر له دغه شی نه ډډه وکړو او باوری شو چې ځان ښودنه له زیان پرته بله کومه پایله نه لری. له همدې امله مې دیو شمیر راغلیو قوماندانانو دپښتنو د اوریدو حوصله نه لرله. هغوی له دې خبرو سره هیڅ مینه نه ښودله چې مثلاً خواړه یادسون مواد او جنګی مهمات څنګه جبهو ته رسول کیږی، خو دا زمورې لپاره ډیره عمده خبره وه ځکه چې مورې مجبور وو دخپلو محاربو قطعو درښیمه برخه

دقطارونو دامنیت ساتلوته وگمارو. په پوځی اصولنامو کې په دې هکله یوټکی هم نه دی راغلی. یوازې دومره ویل شوی دی: ښه دی وساتل شي، خو دا چې داکار څنګه ترسره شی، باید له تجربو موزده کړی وای.

(په اصولنامو کې) مثلاً دپلو قطعو اوتوپچی یا هوایی ځواکونو ترمنځ دهمکاری دځرنګوالی او اندازې په هکله هم بشپړ معلومات نه وو راغلی، خو دجګړې په ډګر کې باید څنګه داکار ترسره شی؟ چاچې جګړه لیدلې وه، مور ته به یې ویل (داخبره مې اوس هم په یاد ده خو هغه وخت مې چندان باور نه پرې راته) چې دکنډک قوماندان باید دتوپچی جزوتام له قوماندان سره دورور په شان اړیکی ولری. هغوی باید یوځای ډوډی وخوری او په یوه حمام کې سره ولامبی. دافغانستان پیښو داخبره یوځل بیا تأئید او دکانې کړنه کړه.

زمور تجربې ته هیڅا پام ونه کړ، هغه یې په پښه ووهله او دپلی کیدو لپاره یې امکان ورنه کړ. فکر کوم داسې ګڼل کیده چې دافغانستان دجګړې په هکله خاموشی ترهرڅه غوره ده، خو زما په فکر، دجګړې دنښلولو علتونه باید پر ارزښتمنې جنګی تجربې ناړوه اغیزه ونه ښندی.

دوسلو عصری کیدل

دهغو پوځی حوزو له قوماندانانو پرته چې دجګړې ډګرترې ډیر لیرې پروت و، افغانستان ته دمرکزی عمومی (پوځی) ادارو مشران ژر ژر راتلل. عموماً دغو افسرانو حقیقی او غوره کارونه سرته رسول. مثلاً دزغره والو ګاډو دلویې اداري رئیس ډګر جنرال پوتاپوف بیا بیا افغانستان ته راغلی دی. ترهغو چې زه هلته وم، نومورې وروستې ځل د ۱۹۸۲ کال د مې په میاشت کې دځلویښتم لښکر

معاینې ته راغلی و. دهغه په هیئت کې به تل دټانکونو پیاوړی جوړوونکی او دسترو پوځی فابریکو رئیسان شامل وو، هغوی دې پوښتنو ته ځواب لټاوه چې پرماین دټانک دورختلو په وخت کې څنګه دهغه دعملې ژوند ژغورلی کیدای شی. په پای کې دټانکونو او زغره والو ګادډو دلاندینیو برخو دزغرې د دوه ځله پنډوالی طرحه منځ ته راغله. سربیره پردې، دننه په ټانک کې داسې اضافی او عاریتی برخه په پام کې ونیول شوه چې دتوغندی دلګیدوله املې یې دټانک دورانیدو دمخنیوی امکانات برابرول. داصلی زغرې له پاسه بله زغره داسې ونښلول شوه چې دتوغندی دلګیدو په وخت کې یې دمحرکه غازقوت کمزوری کاوه او پر اصلی زغره داساسی او وروستی ګوزار شدت یې راټیټاوه.

افغانستان ته دنورو عمومی ادارو مشران هم ددې لپاره راتلل چې دخپل تخنیک دعصری کولو لارې چارې وموميی اوپه دې توګه دسر دزیان اندازه راټیټه کړی. دساری په توګه د ګ. ر. ا. و د اداري افسران، د پلوځواکونو دتوغندیو او توپچی برخې دمشرتابه غړی، دهوایی ځواکونو استازی او نور څلویښتم لښکرته راغلی دی. هوایی مارشال کوتاخوف څو واره راغی. سو-۲۵ ډوله یرغلیزې الوتکې چې هغه وخت نوې ډګرته راوتلې وې، دهمدغه سړی دلاس محصول دی. دسو-۲۵ ډوله الوتکو یوازینی ډله دشیندنډ په هوایی ډګر کې ولاړه وه او دتولید وونکې فابریکې کارکوونکو، انجنیرانو، کارګرانو او تأمیناتی پرسونل دغه الوتکې ځیرلې او دجګړه ییزو عملیاتو په وخت کې یې دهغو ځارنه کوله.

کله کله به مو دحل لارې په خپله موندلې. مثلاً: دجګړې په هماغه پیل کې تخمیناً د ۱۹۸۰ کال په مارچ کې زمونږ په غوښتنه دترانسپورتی می-۸ ډوله

هلیکوپترو په وروستۍ برخه کې او دروازې ته نږدې ا. گ. س-۱۷ ډوله درندې ماشینګنې او توغندی ویشتونکی ځای پرځای شول. ددې کار پایلې حیرانوونکې وې.

ځینو ماهرانو ځینی داسې عجیب شیان جوړول چې د جګړې په شرایطو کې دهغو له اغیزې نه ستر ګي پټول ممکن نه دی. دنمونې په ډول: په ځینو زغره والو ګاډو کې هاوانونه ځای پرځای کړی شول. په لومړی سرکې (۱۲۰) ملی متری هاوانونه نصب شول خو پایله یې هیڅ وه، ځکه ډیر درانده وو. وروسته ۸۲ ملی متری هاوانونه سم دګاډی پرسر ولډنګ کړای شول او ګټه اخیستل ترې پیل شول. څرنګه چې جګړه له مارش وروسته پیل کیده او توپچی ته دچمتووالی لپاره، لاپوره وخت نه پاتې کیده، نو په داسې حال کې کیدای شول چې سړی زغره وال ګاډی و دروی او دهاوان خوله ډزوته چمتو کړی.

دمحاربوی ماشین او دغره وال ګاډی دقُلې پر سر ا. گ. س-۱۷ ډوله توغندی ویشتونکی ځای پرځای شول. نښه ویشتونکی له لږ ترین وروسته کولی شول، دخپلې جنګی وسیلې دتوپ یادرانده ماشینګن ترځنګ ددغه هاوان مستقل چلول هم زده کړی. که دقُلې څرخیدل په پام کې ونیول شی نو نښه ویشتونکی ددزو لپاره پراخ امکانات او یود ناپایه ساحه پیدا کوله. وروسته د «واسیلیوک» په نامه هاوانونه هم پیدا شول چې پرتایرونو سپاره او توپونو ته خورا ورته وو. له عادی هاوانونو سره دهغوی اساسی توپیر په دې کې و چې هغوی پرله پسې ډزې کولی شوې. دغه ډول وسله هم دزغره والو ګاډو له پاسه ځای پرځای کیدله، خو زمور بدمرغی په دې کې وه چې دغه ډول «اختراع ګانو» ډیر دوام نه کاوه.

هغوهاوانونو او درندو ماشینګنو چې مورد ګادډو پرسرځای پرځای کول، له متحرک حالت نه ددومره زیاتو ډزو وس نه درلود. دغه وسلې ډیر ژر دخوځیدو او جمپونو له امله ورانیدې اوله کاره غورځیدې، له دې کبله دوسلې دکارونې موده کله کله دري ځله راتپیتیده. استحکام چیانو هم په تیره بیا دماینونو دکشف اوخنثی کولو په وخت کې عجیبه عجیبه طریقې کارولې. تقریباً داتیایمې لسیزې ترنیمایی پورې دښمنانو له هر هغه څه نه چې په لاس ورتلل دماینونو دجوړولو لپاره کار اخیست، مثلاً: یو عادی لګن به یې له چاودیدونکو موادو او کانډونه ډک کړو چې دچاودنې په وخت کې تري هرې خوا ته ډیرې توتې خپرې شی. له دې نه یو پیاوړی ماین جوړیده چې ډیر ځله له لیرې نه هم اداره کیدای شو، دغسې ماینونه معمولاً دلارې په تنګو برخو کې ایښودل کیدل. دښمنان پوهیدل چې هرجنګی ګادډی مخابره اوهره مخابره انتن لري، نو ځکه هغوی له ماین نه راوتلی سیمان لومړی په زمکه کې پټ بیول، بیابه یې دسړک پرغاړه دولاړې ونې له پاسه دسړک هغې غاړې ته تیر کړل او هلته به یې له بټرۍ سره وصل کړل. دلومړی ګادډی انتن چې به په دې سیم ولګیده نو دبریښنا دشارتې له امله به داسې چاودنه وشوه چې نه یوازې دګادډی پسرلی له منځه تلله، بلکه لاره هم بشپړه دنورو ګادډو پرمخ بندیدله. په همدغه وخت کې به پر بند شوی قطار ډډزو باران هم پیل کیده. وروسته به چې کله دلارو تنګو برخوته رسیدو نوله ټولو ګادډونه به موآنتونه کوزکړل او هغه نرۍ نرۍ سیمان به مو په غور سره لټول. داستحکام چیانوداسې لارې چارې وموندلې چې د پرسونل دژوند دژغورلو سبب کیدلې. د روسی سرتیرۍ داختراع کولو وړتیا دافغانستان په جګړه کې هم زموږ دردونوته دوا

شود.

دهرات « پاکول »

د ۱۹۸۰ کال له نیمایی نه مورِ مجبور شو چې دهرات ښار « پاک » کړو. دا په لومړی ګام کې له دې امله چې ښار نه یوازې دچارچاپیر شنې سیمې، بلکه د ټول لویدیځ افغانستان دمخالف غورځنګ په مرکز بدل شوی و. مورِ غوښتل او که نه خو مجبور وو، دښار پاکولو ته وخت په وخت اقدام وکړو. داریښتیاهم تصفیوی عملیات وو او حقیقي جګړه ورته نه شي ویل کیدای. دهغو د ترسره کولو ترتیب داسې و.

دجګړه ییزو عملیاتو د پلان کولو له لار، مورِ هڅه کوله دښمنان مجبور کړو چې خپل ښه ډیر ځواک دهرات چارچاپیر « شنې سیمې » ته راولي. هغوی له مخامخ جګړونه ویریدل او هڅه یې کوله تروسه وسه داکارونه کړي. هرکله چې دښمنانو زمورِ له خواد کومو پوځي عملیاتو د سرته رسیدلو خبر اوریدلی، نو په بیړه یې خپلې پښې د خطرله سیمونه سپکې کړې دي. مجاهدین یا خپلو هغو احتیاطي مرکزونو ته په شاکیدل چې چیرته لیرې په غرونو کې یې جوړ کړي وو او زمورِ چندان پاملرنه یې ځانته نه اړوله او یا به په کومه « شنه سیمه » مثلاً دهرات په شاوخوا کې پتیدل.

دجګړه ییزو عملیاتو په دویم پراوکې، د ځلویښتم لښکر جزوتامونو « تصفیوی » عملیات سرته ورسول. د عملیاتو لپاره د تیاری په وخت کې د کشف افسرانو څخه جاسوسانو په مرسته په « شنه سیمه » او دننه په ښار کې د دښمنانو د ځواکونو په هکله دقیق معلومات راټولول. د « تصفیوی عملیاتو » ترپیله دیوې

نیمې دوه اوونیو په لړ کې مور معلومات ترلاسه کړل چې په سیمه کې پر میشتو باندونو سربیره، نورې پنځه یا شپږ وسله والې ډلې هم دې ځای ته رارسیدلی دی.

پرځای ده که ووایم چې په لومړی سرکې دجاسوسانو په خبرو پوره باورسم نهو، خو وروسته وروسته چې مو دمخابرې له لارې دمعلوماتو د ترلاسه کولو پراخه تجربه پیدا کړه، نو مور ته دډیرو دقیقو معلوماتو رارسیدل هم پیل شول، په لوړیو کلو کې مو دا امکانات ځکه نه لرل، چې دښمنانو له مخابراتي وسایلونه کار نه اخیست، په بله وینا، هغوی دغه وسایل هغه وخت نه لرل. وروسته بیا مور دهغوی مخابراتي څپې پیدا کړې. نه یوازې مو دهغو محتوی ځان ته معلوموله، بلکه دمخابرې څپه چې له کوم ځایه خپریده، نو هغه موهم معلومولی شوه، دمخابرې له لارې لاس ته راغلیو معلوماتو مورته دا وس راکاو چې معلومه کړو دښمنان چیرې دی او په نړدې راتلونکې کې دځه عمل نیت لري، دهغو مشر چیرې دی، څوک امرونه ورکوی او کوم کسان یې سرته رسوی.

د «پاکولو» په وخت کې مور دمخالفینو نه پخلا کیدوونکې برخه ددې لپاره له نورونه تجریدوله چې هم مور او هم سیمه ییزو حکومتي مقاماتو ته مزاحمت ونه کړی. دویم پراو زمور لپاره ډیر ستونزمن و، که څه هم ظاهراً داسې بریښیده چې هیڅ مشکل وجود نه لري.

نقشه تل دا وه چې مور دسترګو په رپ کې نوی شوروی ټولګي سیمې ته رارسول او هغوی هم په بیړه ښار محاصره کاوه، خو دهرات بشپړه محاصره عملاً ناممکنه وه. دښار ګردچاره «شنه سیمه» راتاو شوې وه. له دې امله مور مجبور وو، ټوله دغه سیمه په څو برخو وویشو او په هره برخه کې جلا جلا عملیات وکړو.

دغسې عملیاتو معمولاً دوه یا درې اوونۍ او کله کله یوه میاشت وخت نیوه. دځلوینښتم لښکر ځواکونو لومړی دهرات ښار، دهغه ترڅنډو پورې داسې کلابند اوه چې هیڅ اته یې دوتلو اجازه نه ورکوله. وروسته بیا حکومتی عسکرو یعنې خپله افغانانو «تصفیوی عملیات» پیل کول. بیا مورخپل دا پوځی تولګی بلې سیمې ته لیږدول، خو دهرات له منځه دتیرې شوې لویې لارې ساتونکې قطعې موله ځایه نه خوځولې، عملیات په همدې توګه پرمخ تلل.

معمولاً دافغانستان داردو اوولسم لښکر پلې فرقې هم له مورسره په عملیاتو کې برخه اخیسته. ډیر وروسته مورد دغې فرقې له خوا ددندې داجرا کولو څرنګوالی په خپلو ستر ګو ولیده. له ښارنه یې دوتلو نندارد ډیره په زړه پورې وه. مثلاً: دنده ورته سپارل کیده چې پریوه واټ تیره شي، نوځکه هغوی مجبور وو تول کورونه، زیر زمینی، بامونه، لنډه داچې ددغې ساحې تول شیان وپلټي. افغانانو معمولاً له ځانه سره دسیمه ییزو مقاماتو استازی او ان ښځې هم ددغو عملیاتو لپاره بیول، خو کله چې به دغه پلټنه پای ته ورسیده او حکومتی عسکر به دکوڅې په هغه بل سرکې راووتل، نو هرڅه چې به یې لاس ته ورغلی وو، لکه کتونه، غوتې او نور شیان له ځانه سره بارول او وړل یې. عملاً دا دهغوی لپاره قانونی «غنیمت» ګڼل کیده.

له لومړی پلټنې وروسته چې کله مورپوه شو دا کارونه څومره بد عواقب لرلې شي، نو مورپه دې ډول عملیاتو کې دحکومتی پوځونوله ګډون څخه ډډه وکړه. البته «تصفیوی عملیات» وروسته هم روان وو، خو بڼه یې لږ څه بدله شوه. مور ددغسې عملیاتو لپاره بیا وروسته دافغانستان دامنیت وزارت او ځارندوی له

کارکوونکو او گوندی غړیو څخه گټه اخیستـه. مور هغوی له خپلې سیمې څخه ښارته داسې خوشې کول چې یو به په بل پسې څارنه وکړی، نو ځکه هغوی د دغې څارنې له ویرې د څه شی د پټولو او زمور د محاصرې له کړی نه د هغو د ورلو جرأت نه کاوه. په لومړی سر کې زمور د امنسویه بریالی وه، خو وروسته بیا هرڅه هماغه پخوانی رنګ غوره کړ. هغوی چې د هیڅ ډول جزا او کنترول خطر په ځان پسې نه لیده نو دا به تر پیره شوه چې څوک ګوندی دی او څوک خادیست دی او ځکه یې نو د پخوا په څیر د خلکو د شتمنیو غلا کولو ته همداسې دوام ورکاوه. چې کله په دې پوه شو، د دغسې «انقلابی» تالان مخه نیول ګران دی او شوروی پوځونه په ښار کې د مستقلو «تصفیوی عملیاتو» د سرته رسولو اجازه هم نه لری نو وموپیتیله چې دا «پاکول» دې نور بس او عملیات دې په بله بڼه ترسره شی. د پنځمې موتوریزه فرقې قوماندانی له افغانی لوری سره خبره داسې غوټه کړه چې هغوی به د ښار له کلابندې شوې برخې نه له ښځو او ماشومانو پرته نور ټول اوسیدونکی بهر بیایی. وروسته بیا ټول نارینه وګړی په یوه پراخ اوښه ساتل کیدونکې ډګر کې راټولیدل. مثلاً په هرات کې د دې مقصد لپاره له ورزشی لوبغالی نه کار اخیستل کیده. وروسته بیا خپله افغانانو د دغې سیمې هر وګړی پلټه.

په لوبغالی کې د تقریباً هرو پنځو سو مترو په واټن زغره وال ګاډی ولاړ وو. نارینه وګړی له کومې خاصې بیړې یا ګڼې ګوڼې پرته د زغره والو ګاډو له منځه (لوبغالی) ته ننوتل. په هر ګاډی کې د حاضرینو له ستر ګو پټ یو یو جاسوس هم ناست و. هغوی خپل سیمه وال ښه پیژندل او د یوې ټاکلې بیې په بدل کې به یې

ښودل چې مثلاً کوم سړی د دښمنانو له کومې ډلې سره اړیکی لری. څنګ ته ناستو دافغانستان دامنیتی ارګانونو افسرانو به دهغوی شاهدی ثبتوله.

ډیرو دغسې جاسوسانو نه یوازې دمجاهدینو پلویان په ګوته کول، بلکه خپل شخصی دښمنان به یې هم په ګیر ورکول. هغوی هڅه کوله، له خپلو ګاونډیانو څخه دکومې عقدې له مخې غچ واخلی. دبیګناه خلکو د تورن کولو هڅې له هماغه پیله شنډې وې، ځکه چې له دښمنانو سره دمګرو کسانو نومول او ښودل (یو وارنه) بلکه درې ځله تر سره کیدل.

هغه څوک چې به دحکومت په وړاندې دسرکشۍ په تور تورن شو، دافغانستان دامنیتی ارګانونو لاس ته ورته، اوله هغوی سره به دوی مستقل کار کاوه. زمور دفرقې قوماندانې دهغوی په راتلونکی سرنوشت پسې ډیوه نه ګرځوله، خو کله چې به په هرات کې بیا «دپاکولو عملیات» پیل شول، بیا به مو هغه کسان ترستر ګو شول چې درې یا څلور میاشتې مخکې «له فلترنه تیر شوی وو» نه پوهیږم چې دافغانستان دامنیت وزارت څنګه کار کاوه، ښکاره ده چې افغانی خادیستانو دعملیاتو په ترڅ کې نیول شوی کسان بې تحقیقه او بې محکمې خوشې کول. هغوی بیرته خپلو کورونو ته ستنیدل او هرڅه له سره پیل کیدل.

دمحدودو پوځی قطعاتو پرسونل د دغسې عملیاتو په اجرأ کې کوم خاص مشکل نه درلود. خو دسرتیرو لپاره تر سوزنده لمر لاندې په ورځو - ورځو دریدل ګرانه بریښیده. دهوښیاری ساتنه یوه ورځ ممکنه ده یا دوه ورځې... دریمه ورځ به مور مجبور وو د دسپلین دبیا ټینګولو لپاره نور اقدامات وکړو. دفرقې له

جزو تامونو څخه د دغو کارونو لپاره ګټه اخیستل مورد ته دومره په زړه پورې نه وو.
د غسې عملیاتو یو بڼه ارخ درلود او هغه داچې: د سر زیانونه په کې نه پیښیدل.
کـه داسې زیانونه کله منځ ته هم راغلی، نو علت یې یوازې په بیباکې کې دی.
مثلاً: کوم سر تیری نیت کړی چې له لرمانو او نورو ورته عجایبونه لیرې د ټانک
پرسر، سره لمرته څملی. په دې وخت کې د کوم پټ شوی نښه ویشتونکی ډز هغه له
پښو غورځوی.

د تورو غرونو څنګ ته

په افغانستان کې د شوروی پوځونو دشته والی په پراوکې د افغانستان د اسې
کلی، ښار او ولایت نه و چې له پوځی پلوه زمورد او افغانی پوځونو لپاره آرام او
مصئون بلل شوی وای. د اخبره د افغانستان د دویم ستر ښار کندهار په هکله هم
صدق کوی، د غه ښار د خپل جغرافیایی موقعیت له امله تل د افغانی مشرانو او
پاچایانو لپاره غټ ارزښت درلودلی دی. پر کندهار لاس بری سړی ته د ټول جنوب
لویدیځ افغانستان د کنترول وس ورکوی. په لرغونو زمانو کې څو کاروانی لارې
هم دلته نښلیدلی او زمورد په وخت کې کندهار ته څیرمه د ښمنانو څو اصلی لارې
تیرې شوې وې. د ې ښار له د ې امله هم ځانګړی ستراتیژیک ارزښت د درلود چې
په جنوبی برخه کې، د افغانستان، پاکستان، ایران او فارس خلیج په سیمه کې
د نورو پرتو هیوادونو نښلوونکې کړی بلل کیده.

د غه سیمه غرنی نه شی بلل کدای، ځکه کندهار زیاتره په یوه هواره زمکه کې
آباد دی. د افغانستان د ټولو څنډو په دود دلته هم د ژمی له دریو میاشتو پرته،
سوزوونکې تودوخه وی.

افغانستان ته د شوروی پوځونو د ننوتلو په وخت کې د پنځمې موتوریزی فرقې له ډلې نه یو غنډ بیل کړی شو چې ورسته د مستقلې موتوریزه لوأ سطحې ته لوړ شو. هغه یې «او یایم» لمبر وټاکه او کندهار ته یې ولیږه. همدا چې او یایمه لوأ کندهار ته ورننوتله نو په داسې سختو جګړو کیوته چې له ډیرو کوچنیو ځنډونو پرته یې له دغه هیواده زمور د وتلو تر وخته دوام درلود.

د افغانستان په جنوب، په تیره بیا کندهار کې حالات یوازې له دې امله نازک نه وو چې مور له افغانی حکومتی پوځونو سره او ږه پر اوږه په دې سیمه کې له پرله پسې جګړو سره مخامخ وو. دښمنانو هم دلته د خپلې سیمې د پراخولو او پر کندهار او تولې دغې سیمې د لاس بری لپاره په خپل منځ کې پرله پسې جګړې کولې.

د ښار په جنوب ختیځه څنډه کې یو وخت امریکایانو نسبتاً لوی هوایی ډګر جوړ کړی و چې اوس په کې یوه کوچنۍ هوایی اډه ځای پر ځای وه. په همدغه ډګر کې د محدودو قطعو قاماندانۍ د کندهار او د هغه د شاوخوا د څارنې لپاره او یایمه لوأ ځای په ځای کړه. د لوأ د دغه ډول ځای پر ځای کولو اساسی ځانګړتیا په دې کې وه چې زمور جنګی ګاډو یوازې د ښار له منځه پر تیرې شوې لارې کولای شول، ځان له کندهار نه د شیندنډ، هرات او نورو لویدیځو ولایتونو خواته غزیدلې لارې ته ورسوی. بله لار اصلاً نه وه. د ښمنانو هم له همدې حالت نه ګټه او چتوله. داسې ورځ دې خواره شی چې زمور پر قطارونو به یرغل نه وی شوی. کله کله به زمور د سرتیرو او افسرانو د مرګ له امله له دغې لارې نه کار اخستل د څو ورځو لپاره ځنډیدل. مخالفینو غوښتل له ښار نه زمور د تیریدو مخه چوره کړه

کړی.

مورچه خپل وار هڅه کوله چې د کندهار ګارنیزیون ته ضروري شیان له ځنډه پرته او په پرله پسې توګه ورسیږي. په اوونۍ کې دوه یا درې ورځې ځانګړې شوې وې چې پر دغه لاره یوازې په خورو، د سون موادو، مهماتو او د لوأ په اړتیاوړ نورو شیانو بار شوروی قطار تیریدلی شو. د قطار د تیرولو لپاره مجبور وو، بشپړ پوځي عملیات تر سره کړو. مثلاً: مجبور وو د لارې محاصره ماته کړو. د هغې په اوږدو کې خپلې پوستې ځای پر ځای کړو او د لارې له شاو خوا نه دښمنان تر ممکنه حده لیرې کیدو ته اړ په دې توګه د خپل قطار امنیت تأمین کړو.

د ۱۹۸۱ کال په پسرلي کې د پلانی عملیاتو له سرته رسولو وروسته مو وکړای شول، د لارې په شا و خوا کې امنیتي سیمه خورا پراخه او دهغې په اوږدو کې خپلې ساتونکې پوستې ځای پرځای کړو. داسې ښکاریده چې اصلي خنډونه له منځه تللي او اوس ګیدای شي د کندهار له لوېې لارې نه د انتقالاتو لپاره کار واخیستل شي. خو مورچه غلیم پوره نه و پیژندلی. دښمنانو وروسته هم پر دغه لاره یرغلونه کول، خو د هغو شدت له پخوانه کم و. پر شوروی قطارونو د مخالفینو دیر غلونو مخنیوی په ځو د لیلونو شونی نه شو:

لومړی دا چې غلیمانو سیمه ښه پیژند له اوله دې امله د جګړې په وخت کې پر مورچه بر لاسی وو. هغوی په همدې غرورغو کې دنیا ته راغلی او رالوی شوی وو او ځکه نو زمورچه په انډول هغوی ته دلته جنګیدل ډیر آسان وو.

دویم دا چې د مخالفینو ډلې ډیرې خوځنده او تل په حرکت کې وې، د مانور کولو وس یې درلود او هر وخت یې کولی شول مورچه وڅاری. زمورچه پوستې ساکنې او

تل پر هماغه یو ځای ولاړ وي. لوأ د لاري د ساتلو لپاره له متحرکو ځواکونو نه د کار اخیستلو وس نه درلود، ځکه یوازې د لاري د ګز مې لپاره، له هغه څه نه چې اوس مو درلود، دري ځله زیات ځواک په کار و. دومره ځواک له کومه شوی وای؟

دښمنان د لاري په اوږدو کې د جوړو پوستو له موقعیت، د هغو د وسلو لهډول او د کار له څرنګوالی څخه خبر یدل، سره له دې چې مورږ پرله پسې په هغو کې بدلون راوست او د خپلو پوستو د اورځواک مو له یوځل نه بل ته پیاوړی کاوه. پوستو ته څیرمه سیمې مو په اوږده واټن کې په ماینو ډکې کړې وې او د شپې او ورځې په هوا کې استخباراتي الوتکې ګرځیدې چې دنده یې دلویې لاري څنګ ته دباندې ونو دفعالیت څارنه وه. دهوایی څارنې له لاري مو په بیړه زمورږ پر پوستو د دښمن د توپونو او ریاکتیف توغندیو د ویشتلو ځایونه تشخیص کول. دغه مورچلې تر پیژندنې سمدلاسه وروسته، زمورږ له خوا له منځه وړل کیدې. له دې سره سره د دښمنانو په بیړه هغه بیرته له سره ابادولې. د (مجاهدینو) قوماندانانو په اعظمي بڼه د پاکستان له خاورې څخه ګټه او چتونه چې پر مخامخ لارې یې له کندهاره سل کیلو متره واټن درلود. هغوی له بهرنه بې شمیره وسلې، مهمات او نور د یر شیان را رسول. دا په کندهار او دهغه په شاوخوا کې د څو کلونو په لړ کې د جګړو د یر دوام درییم دلیل دی: داویایم لمبر موتوریزه مستقلې لوأ قوماندانۍ تر پایه ونه کړای شو، د دښمنانو مقاومت مات او په سیمه کې د هغوی اغیزه پای ته ورسوی.

د کندهار په شاوخوا کې سختو جګړو خپل ځای دښار دننه «تصفیوی عملیاتو» ته ورکړ. په بل ډول عمل کول ممکن نه وو که مورږ پرله پسې عملیات نه

وای کړی، نو دغه ستراتیژیکه سیمه موله لاسه وتلای شوه.

زما ترقوماندانی لاندې دپنځمې موتوریزه فرقې جزوتامونه ډیرکم په کندهار کې جګړې ته لیږل کیدل. فرقې یوازې له اویایمې لوأ سره دمرستې لپاره په ځینو پیچلو عملیاتو کې برخه اخیستله. دغسې یو جګړه ییز عملیات دکندهار په شمال لویدیځه څنډه کې د ۱۹۸۱ کال دمنی په پیل کې ترسره شول. پر بښار راګرځیدلې «شنه سیمه» په تیره بیا هغه برخه چې دسړک په خوا کې تیره شوې وه، زمونږ لپاره ترټولو ستونزمن ځای ګڼل کیده. مونږ نه یوازې باید «شنه سیمه» «پاکه» کړی وای، بلکه دکندهار په شمال لویدیځ کې میشت باندونه موهم باید له منځه وړی وای. مجاهدینو دتورغره په سیمه کې چې نو مونږې لویه لارې په ډیرنامناسب ځای کې پرې کوله، سنګرنیولی و. کله کله هغوی په اوونیو - اوونیو نه کندهارته اونه هم له کندهاره زمونږ موټرو ته دتګ اجازه ورکوله او مونږ مجبور وو داویایمې لوأ دارتیا ورمواد دهواله لارې ولیږدوو.

کندهارته څیرمه پوځی عملیات یوه نیمه میاشت اوږده شول. دجګړن و. مارتیروسیان ترقوماندانی لاندې غنډودغلیم سختو حملوته ځان نیولی و. غلمیانو کله کله داسې سختې جګړه کوله، تابه ویل بهرته - له کومه ځایه چې مجاهدین راغلی دی، دبیرته ستنیدو ټولې لارې ورانې شوې دی، خو متل دی چې وایی: کودړی په کودړی ماتیږی. ډیره موده موهڅه وکړه چې هغوی له لارې څخه یو څه په شا او دسړک څنګ ته امنیتی ساحه پراخه کړو. الوتکو پر همدغو سیمو بمباری کولې. ددښمن دسخت مقاومت ماتول چې دلته دجګړې په ټول دوران کې روان و، خورا ګران کار و، خو مونږ بالاخره په هغه بریالی شو.

په همدې کندهار کې زه دلومړی ځل لپاره په ناروغۍ اخته شوم. سخت زیړی (هیپاتیت) نیولی وم. په څلویښتم لښکر کې هغه وخت داسې یوې توکې رواج موندلی و: سرتیری زیړی نیولی دی، افسران دبوتکین په ناروغۍ اخته دی او جنرالان د هیپاتیت تداوی کوی. زه هم دبوتکین په ناروغۍ اخته شوم، خو ختمه مې په هیپاتیت کړه: ځکه د ۱۹۸۲ کال په فبروري کې ماله (ډګروالۍ نه) دبریدجنرالۍ رتبې ته ترفیع وکړه.*

زه یوه نیمه میاشت په روغتون کې بستری وم. د ۱۹۸۱ کال په پای کې دزیړی ناروغۍ زمور قطعې را لاندې کړې: یوازې په پنځمه موتوریزه فرقه کې نږدې دري زره تنه یعنې هرڅلورم سرتیری په دې ناروغۍ اخته شوی و. له ما سره یوځای زما ټول مرستیالان او تقریباً د ټولو غنډونو قوماندانان په زیړی اخته شول. یوازې دفرقې درستیزوال ډګروال م. ستریلنیکوف مقاومت کاوه. هغه هم بالاخره ناروغۍ لاندې کړ، خو څه موده وروسته فرقې عملاً خپله جګړه ییزه وړتیا له لاسه ورکړه او جنګیدلی نه شوه.

هرسړی له زیړی نه دجوړیدو (نقاهت) دوره په ځانګړې توګه تیروی. زما حالت مثلاً ډیر خراب و: دوه اوونۍ مې تبه نه ټیټیدله، سرمې ګرځیده او ګومان مې کاوه چې ټول غړی مې مات دی. خوراک، څښاک می زړه ته نه کیده، ان دسګرټو څکول مې په یاد نه وو. ښایی هغه وخت مې کولی شول پرې یې ږدم!

*لیکوال غواړی دطنز په ډوله دیوې ناروغۍ دري نومونه یادکړي. دهغې نوم دسرتیری له پاره «زیړی» د ډګروال تر رتبې صاحب منصبانو له پاره «بوتکین» او دجنرالانو له پاره «هیپاتیت» و. دی لیکي چې د «بوتکین» ناروغۍ یې په «هیپاتیت» بدله شوه، ځکه همدغه وخت یې له ډګروالۍ نه دجنرالۍ رتبې ته ترفیع وکړ. (د. ج).

له کندهاره کابل ته وغوښتل شوم او له هغه ځایه مخامخ له نورو افسرانو سره یوځای دکلنیو دودیزو جاج اخیستنو لپاره تاشکند ته لاړم. غالباً دغسې غونډوته دفرقې له قوماندان نه پورته ټول افسران رابلل کیدل. دا دهغه چا لپاره چې په افغانستان کې یې دنده سرته رسوله، یوځه نامناسب غوندې کار و. وروسته بیا ددې غونډو له جوړولو نه ډډه وشوه.

دترکستان دپوځی حوزې په قرارګاه کې مو دوه ورځې تیرې کړې. بیرته دمعمول په څیر په دووجلا الوتکو کې راستانه شو. یوه کابل ته روانه وه او بله چې زه هم په کې وم، دافغانستان لویدیځ زون ته، تر شیندنډه مو په یوځل الوتنه ونه کړه، په څه دلیل یې مورږ په کندز کې چې ۲۰۱ لمبر موتوریزه فرقه په کې ځای پرځای وه، کوزکړو. ښایی زمورږ هوایی ډګرونه دهوا دخرابی له امله تړل شوی وو. په هر حال، دغه خبرې اصلاً ماته په زړه پورې نه وې. دا لومړی ځل وچې کندز ته تلم، په سبایې په شیندنډ کې کوز شوم. ټوله شپه په یو او بل اړخ باندې له اوښتو را اوښتو وروسته بالاخره ویده شوم. سهارمې لکه دتل په څیر دږیری خرییلو نیت وکړ خو په هنداره کې چې مې ځان ته وکتل نو حیران شوم، ټول مخ مې لکه کورکمان زیړ شوی و. یوه شی لږ ارام کړم او هغه داچې: که مخ مې زیړ دی مانایې داده چې زما ناروغی نوروته نه شی لیږدیدلی اوځکه نو دنورو لپاره خطرناک نه یم!

محمدنبی

کندهارته څیرمه دځلویښتم لښکر او حکومتی پوځونو په وړاندې زیاترې د «اسلامی انقلاب حرکت» وسله والو ډلو مقاومت کاوه. ددې ډلی مشری

دمحمدنبی (محمدی) په غاړه ده.

دی په ۱۹۳۷ کال کې دلوګر ولایت دبره کی په اونسوالی کې زیږیدلی او په ختیځ اندړ پښتون دی. هغه په یوه شتمنه روحانی کورنی کی سترشو په مدرسه کی یې زده کړی کړیدی او په شرعیاتو کی لوړی زده کړی لری، سنتی، مسلمان دی. په قرآن (مجید) ښه پوهیږی، ښه زبور او خبر لوڅ دی، په عربی ژبه حاکم دی.

تر ۱۹۷۳ کال پورې نبی په مدرسه کې درس ورکاوه، خو ددې ترڅنګ یې دهیواد په تولنیز او سیاسی ژوندانه کې هم ګډون کاوه او جومات کې یې موعظې کولې. دلوګر له ولایت نه پارلمان ته دوکیل په توګه غوره شو. دجمعیت العلماء دپریکړې له مخې دمولوی سپیڅلی خطاب ورکړل شو.

دظاهرشاه دسلطنت په وخت کې دپارلمان دغړی په توګه په کابل کې اوسیده او همدلته یې له وتلیو سیاسی او مذهبی شخصیتونو سره پرله پسې کتنې کولې. په همدې وخت کې د «خادمان قرآن» په نامه دمذهبی - سیاسی سازمان له مشر او د صبغت الله مجددی له پلار - ابراهیم مجددی سره اشنا شو. لږ وروست نبی دهغه مریدی ومنله او د «خادمان قرآن» او «اخوان المسلمین» دسازمانونو فعال غړی شو.

دوکیل له څوکۍ نه په ګټې اخیستنې سره نبی دهلمند په ولایت کې په ښو شرایطو سره له سلو هکتارو زیاته زمکه ترلاسه کړه.

په ۱۹۷۳ کال کې د داؤد له واکمن کیدو وروسته، نبی چې دپاچا په نسکوریدو او په پارلمان کې دخپلې څوکۍ په بایللو خوابدی شوی و، د داؤد د اصلاحاتو خلاف خوله پرانیستله او درژیم پرضد یې شعرونه وویل او په خپله حلقه

کې یې خپاره کړل »چې دهغو له امله زندان ته واچول شو، خو دنبی دشهرت او مذهبی مقام او دغه راز په ټولنه کې دهغه د دریځ له امله یې ورپسې دزندان دروازې پورې نه کړې او یوازې د پولیسو په ماموریت کې ورسره په اوږدو خبرو بسنه وشوه. له دې حقیقت نه وروسته معمولاً داسې ګڼه او چتیده چې ګڼې نبی د «ملی مصؤونیت »دارګانونو له خوا داطلاعاتو دراټولولو لپاره اجیرکړی شوی و په افغانستان کې دملی دیموکراتیک انقلاب تربری او هلته د دیموکراتیک جمهوریت له جوړیدو وروسته نبی پاکستان ته وتښتید. هلته نوموړی د «خادمان قرآن» دسازمان پربنسټ د «افغانستان داسلامی انقلاب حرکت» ګوند جوړکړ. د دغه ګوند مرام دافغانستان مسلمانانو ته دخطاب په بڼه د «څه غواړو؟» په نامه ترتیب شوی دی.

نبی دسیاسی نظر یوله پلوه سلطنت غوښتونکی شخصیت دی. همدا خبره د دې سبب شوه چې هغه د ۱۹۸۱ کال په جون کې «دافغانستان دمجاهدینو داسلامی اتحاد» په غونډه کې چې مشران یې ځانونه دپخوانی پاچا ظاهرشاه پلویان بولی، وینا وکړی.

د ۱۹۸۱ کال په دوبی کې مصر او عمان ته لاړ چې رسمی مقاماتو ومانه او دده له باندې سره د پرله پسې مادی مرستو ژمنه وشوه. دغه راز د دغو باندونو مادی اړتیا وې دهغو سیمو له خلکو نه چې د «اسلامی انقلاب حرکت» تر کنترول لاندې وې، دمالیو، عشر او نورو جزیو په ټولولو سره پوره کیدې.

سره له دې چې نبی دافغانستان دحکومت خلاف دوسله والې مبارزې څرګند پلوی و، خو دحکمتیار افراط یې نه خوښاوه. نبی په ځانګړې توګه له ماؤیستانو

او ملت پالو سره د حکمتیار په اړیکو (؟ د. ج.) نیو کې کولې. نبی او حکمتیار چې یوله بله یې کرکه سره معلومه وه هڅه کوله، ان د انقلاب ضد مشرانو د ګډې غونډې په وخت کې هم له مخامخ کتنې نه ځان وژغوری.

« د افغانستان د اسلامی انقلاب حرکت » په ډله کې ډیر مذهبی متعصبین شامل دی، د ډې سازمان د بانډونو یو ځانګړتیا سخته بیرحمی ده. ان حکمتیار د دوی د چور او تالان له امله هغوی « د اسلام بدنامووونکی » بللی دی.

دویم سر
دستر درستیز اکاډیمی

یوازې زه نه وم چې له افغانستان نه زړه شکول راته ګران وو. له یوې خوا د هغه هلیکوپتر څنګ ته په درّیدو سره چې یو - یونیم ساعت وروسته یې په کوشک کې کوزولم، راته دا احساس پیدا شو چې دلته رانه هغه افسران پاتې کیږی چې ډیرو یې له هسې ساده ملګرونه راته ډیر ارزښت درلود. په دوه نیمو کلو کې څه شی نه وو چې په ګډه مو ونه لیدل! له دې فکرنه مې یو ډول ناراحتی احساسوله چې زما لپاره خو دادی نړدې ده چې جګړه پای ته ورسیږی، او د هغوی مخې ته په میاشتو میاشتو جنګیدل پراته دی او څوک څه پوهیږی چې د هلیکوپتر خواته پر ولاړ هر یوکس به د اسباتو څه راځی.

له بلې خوا په « مایکوپ » کې خپل کورته دستنیدو لپاره سخت لیواله وم. کوچنی زوی مې، اندری، دادی بې له مالوی سړی شوی و. هغه پوره دوه نیم کلن شوی و!

دکور خواته هغه دچاخبره په خپلو وزرو والوتم، په کوشک کې ترکوزیدو سمدلاسه وروسته مې ځان په موټر کې عشق آباد ته ورساوه. دافغانستان له وحشي غرونو وروسته، زړه راښکونکو ښارونو سړی په شوق راووست. ان په دې سیمه کې دجولای دپای همیشنۍ تودوخې دشنو ورشوګانو او وښولې ښکلا او سرکشۍ نه دخوند اخیستلو مخه نه شوه نیولی.

ماته دقول اردو درستیزوال جنرال لیف چنکو ښه راغلاست ووایه، هغه راته دګراسنادار په الوتکه کې تکت واخیست او په منډه منډه مې ځان هغې ته رورساوه. همده مایکوپ ته هم تلفون کړی و او غوښتی یې وو چې زما مخې ته دې موټر راولیږی. کورته په دې توګه راورسیدم.

دستر درستیز په اکاډیمۍ کې له زده کړو مخکې توله رخصتی مې دځان په جوړولو او کالیو ټولولو کې تیره شوه. مور مسکوته دلیږدډو چمتووالی نیوه خو دهر بل افسر دکورنۍ په څیر مو دا کاربې وارخطایۍ او سړې سپې سرته رساوه. په کرایه کړی کانتینر کې مو کالی ځای پرځای کړل او غوښتل مو خپل موبل او فرنیچر، چې سړی ورته دانوم کارولی نه شی، په کې یوځه په ارزانه او اقتصادی توګه کښیږدو.

دکالیو په ټولولو ټولولو کې به مې په زړه کې تل له دې امله دخوښۍ احساس کاوه چې شکر دې افغانستان نور زما لپاره نه شته دی. په زړه کې مې ددغو (سختیو) دزغم له امله دغرور احساس هم کاوه. دغه راز له دې امله حیرانیدم چې څنګه په دغه هیواد کې دخدمت دوه نیم کلونه پرما داسې آرام تیر شول: دادی روغ رمټ او ژوندی یم او هیڅکله تپی هم نه شوم. یوازې زیړی یوځه په عذاب

کړم، خو په افغانستان کې دنورو سختیو په اندول، دا ډیره کمه بدمرغی وه.

داګست په وروستیو ورځو کې مو مسکوته کډه وکړه او څو ورځې وروسته مې په اکاډیمۍ کې لوستونه پیل شول. په دې هکله باید یو څه بشپړ ځکه وغږیږم چې هر افسر یا جنرال که به دکومې ښې راتلونکې تمه کوله، نو خامخا به یې په دې تعلیمي مؤسسه کې دزده کړو تکل هم له باده نه ایسته. دپوځي افسر لپاره تر دې معتبره اوله ښې راتلونکې نه ډکه اکاډیمۍ زمونږ په هیواد کې نه وه. یو څو دګوتو په شمار کسان همدلته ددووکلونو زده کړو په لړ کې په تاکتیکي او ستراتیژیکي فنونو بنا دفکر کولو وړتیا حاصلوی. دستر درستیز په اکاډیمۍ کې یوازې هغه افسران زده کړه کوی چې دنده یې دخورا مهمو پریکړو نیول او په راتلونکی کې دهیواد ددفاعي وړتیا تأمینول وی. په بله وینا، دلته هغه پوځي مشران روزل کیږی چې په هر ډول شرایطو کې دپوځي پوهې پر وروستیو بریاوو باندې پر تکیې، په پوره شوق او هوښیاری دقوتونو دسوق او اداري وس ولری، داکاډیمۍ هرفارغ ته دا امکان شته چې دچګړې په یوه یا څو ډګرونو کې دستر و ستراتیژیکی عملیاتو دطرحې او اداري لپاره لازمه پوهه ترلاسه کړی.

دستر درستیز په اکاډیمۍ کې ټول لوستونه دې ته متوجه دی چې څنګه دافسرانو مسلکی وړتیا لوړه شی. زمونږ درسی پروګرام ډیر پراخ و. دمضامینو حدود او اندازې هم له معمول سره توپیر درلود. مونږ مجبور وو، ډیروشیانو ته په نوی نظر وګورو، کـه څه هم دپوځونو دسوق او اداري چلونه مو پخوا لا زده وو. سربیره پردې مونږ هر یوه دعملی کار پراخه تجربه هم لرله. خو دا تجربه یوازې دغنډ یا فرقي دتاکتیکی برخې لپاره ګټوره واقع کیدای شوه. په اکاډیمۍ کې مونږ اړوو

چې یو پاتې کسی نور هم پورته شو او اوپراتیفی - ستراتیژیکی مهارتونه هم خپل کړو.

استاد ان مو ډیر لایق وو. د اکاډیمی مشری دسترجنرال میخائیل میخایلوویچ کازلوف په غاړه وه او زما په عقیده دهغه ټول خدمت د دې لپاره وچې بالاخره باید (پوځی) ښوونکی شی. زمور د درسی ډلې مشری دسترې هپوادنی جګړې دګډون کوونکی تورن جنرال باریس پاولوویچ یورکوف په غاړه وه. هغه بې ځوړې هوښیار ښوونکی وخو برخلیک یې چندان نیکمرغه نه و. یو وخت هغه هلیکوپتر چې له څو افسرانو سره یې په ګډه په کې د تمرینا تو په وخت الوتنه کوله، وغورځید، خو هغه له نیکه مرغه ژوندی پاتې شو، اما اوږده موده په روغتون کې بستری وځو چې بالاخره په پښو ودریده. ښکاره وه چې دهوایی سانحې اغیزې یې همدا اوس هم په وجود کې ځان څرګندوی. هغه د طبیبانو په لارښوونه، وروسته خپلې مورنۍ سیمې د «نوګوراد» ولایت ته تللی و.

مور په ډیره مینه لوستونه ویل. ښایی داله دې امله چې په جزوتامونو کې مور هریوه دزرګونو کسانو دبرخلیک په وړاندې مسؤولیت درلود او دلته یوازې دځان، یا هغسې چې مور یوبل ته په ټوکو ویل، دخپل صندوق چې په کې محرم اسناد خوندی وو. مور ته هم لکه دنورو زده کوونکو په څیر په لوستونو کې نومرې راکول کیدې، خو ټول پوهیدل، دهغه چا لپاره چې جګړه ییزداو دمهمو دندو دسرته رسولو تجربه لری، دا یوازې (درسی) عادت دی او بس.

هر یو د خپل عمر په پام کې نه ساتلو سره ځان دهمزولو په منځ کې ځوان احساسود. داخبره نه یوازې دسړی روحیه پیاوړی کوی، بلکه دسړی په حرکاتو او

اعمالو هم اغیزه ښندی.

موږ ډیرې ازموینې درلودې او شرم وکه کوم جنګیالی جنرال په کوم مضمون کې ناکام شوی وای. په لوستونو کې موږ ډیر زیار ایسته، ځکه چې پوهیدو، وروسته به مجبور یو داسې پریکړې وکړو چې نه یوازې ورپورې د دې یا هغې جګړې دبرې یا نه بری خبره، بلکه دزرګونو وګړو ژوند هم اړه پیدا کوی. خو فکر کوم داسې هیڅ ښوونیزه مؤسسه به نه وی چې نقل په کې رواج ونه لری. دستردرستیز اکاډیمی هم په دې لړ کې راتله. ښایی دا اوس له ملنډو ډکه خبره وبرینښی چې د پاخه عمر افسرانو او جنرالانو (د نقل کولو) کیسې وشی. خو باید ووایم چې نقلونه ټولو لیکل او ان موږ له خطرنه دبچ کیدو لپاره یوه ښه سیستم هم جوړ کړی وچې ښې نتیجې یې ورکولې.

استادان که پوهیدل نه، نو ګومان خو یې خامخا راته چې موږ دازمونو په وخت کې له «مرستندویو موادو» نه ګټه اخلو، خو بیا به یې هم داسې ښودله چې ګنې هیڅ یې نه دی لیدلی. ښایی دهغه چا د نقل کنترول چې پر اوږو یې د جنرالی ستوری سواره وی، ګران کار بریښیده، موږ کله کله له همدې حالت نه ګټه اوچتوله. شک نه شته چې دې زده کوونکو پورې پوهه درلوده، خو نقل کول د زده کړې هسې یو دود دی چې ان دستر درستیز اکاډیمی هم ترې بې برخې نه وه.

دستر درستیز په اکاډیمی کې د زده کړې دوه کاله دسترګو په رپ کې تېر شول. موږ داو پراتیفی - ستراتیژیکی عملیاتو د طرحې او اجرا لپاره کافی معلومات ترلاسه کړل. له درس څخه چې به وزګار شو نو تیاترونو، نندارتونونو او ورزشی لوبغالوته به تلو. دلومړی او دویم ټولګی ترمنځ په دوښیو رخصتیو کې په

«لادا» موټر کې چې له افغانستان نه د راستنیدو په وخت کې مې اخیستی و (له کورنۍ سره) د کریمیانا پو وزمې ته لاړم. دا لومړی ځل وچې دومره اوږده موده مې موټر چلاوه، خو د کورنۍ غړیو راته آفرین ووایه. دوه اوونۍ مو هلته استراحت او لمبا وکړه او بیرته مسکوته راستانه شو.

پر قطعاتو زمور دبیا ویشلو وخت راورسید. لازمه ده یادونه وکړم چې زمور ټولګی داکاډیمۍ په لږ شمیر ټولګیو کې وچې چوغلی، ګوتې اچول، پټ لیکونه لیکل او یوله بل نه شکایت کول په کې نه وو.

زه دهغو کسانو په ډله کې وم چې د سروزرو د مډال وړاندیز ورته شوی و، خو د خدمت لپاره مې د قطعې د غوره کولو له خپل حق نه ګټه وانه خیسته، اوله دې سره سره مې ځان ارام احساساوه. ومې پتیله، هرځای چې مې ولیږی، هلته ځم، ډاډه وم چې لیږې پرتې سیمې ته مې نه لیږی. ځکه دوه نیم کاله مې په افغانستان کې تیر کړی وو. همداسې هم وشول. زه یې د کارپات دسیمې په ایوانا-فرانکوفسک کې د قول اردو قوماندان مرستیال وټاکلم.

د (هغه ځای) د پوځی حوزې د قوماندان په غوښتنه، زه بې رخصتۍ او استراحته مخامخ د خپلې دندې خواته وخوځیدم. لومړی شپې ورځې مې له کورنۍ سره په میلمستون کې تیرې کړې. د قوماندان د مرستیال دنده تل خوځنده وه. په پنځو میاشتو کې ما د کارپات شاوخوا سیمې او د کارپات له غرونو هاخوا برخې ټولې وکتلې.

زمور لښکر بیا بیا په «رافنو» کې پراته پولیګون ته (د تمرینو) لپاره ته. په دې تعلیمي ډګر کې د هرډول جګړه ییزو مهارتونو زده کول په زړه پورې وو. زه

تل، کله له یوه او کله له بل غنډ سره هلته تلم. کله به مو تمرین، کله انداخت او کله هم موتر چلونې کولی.

زه د ۱۹۸٤ کال د جولای په پای کې ایوانا-فرانکوفسک ته داکاډیمۍ تر فراغت وروسته راغلم او په ۱۹۸۵ کال کې ماته وړاندیز وشو چې دوا ک سیمه ییزو ارګانونو ته ځان دوکیل په توګه کاندید کړم. دا لومړی ځل وچې مجبور شوم مؤسسو، کلخوزونو اوسوخوزونو ته لاړشم او دغیر پوځی خلکو په وړاندې وینا وکړم. له انتخاباتو مخکې مبارزې پیل شوې. ښکاره ده چې زه یوازینی کاندید وم. هغه وخت بل کاندید ته دانتخابولو حق نه ورکول کیده. په یاد مې دی چې عادی وګړو ماته څنګه تودهرکلی وایه. هغه وخت ټولو خلکو پوځیانو ته تود هرکلی وایه او مالګه او ډوډۍ یې ورته وړاندې کول. دانتخابوونکو خلکو په وړاندې زما وینا یونیم-دوه ساعته اوږده شوه. دقاعدې له مخې تروینا وروسته ټول د دسترخوان پرسر راټولیدل. دغه دسترخوانونه زما ن خوښیدل: تګ هم مناسب نه و او ګډون په کې زړه نه غوښته. زما تګ کولای شوای، ټول حیران کړی ځکه خلکو به ویلای چې پخوا خو (دانتخاباتو په وخت کې) ترنیمو شپو خلکو خوراک او څښاک کاوه او اوس څوک هسې دراټولیدو اجازه هم نه ورکوی. فکر کوم زما همدا دریځ دډیرو نه خوښیده.

له دې ټولو سره سره هرڅه آرام روان وو. دانتخاباتو په درشل کې د فبروري په ۲۱ مورنۍ ټوله کورنۍ په خپل موتر کې داستراحت یوې غرنۍ سیمې ته لاړو. سبا ناوخته ایوانا-فرانکوفسک ته راستانه شو. ما د تل په څیر دلښکر او پراتیفی نوکریوال ته دحالاتو دمعلومولو لپاره ټلفون وکړ. هغه راته وویل چې تراوسه څو

واړي دلوی درستیز مرستیال ستر جنرال و. ی. وارینیکوف ټلفون راته کړی دی. ما دداسې یو خبر انتظار نه درلود ماله ده سره مخکې هیڅ لیدلی نه وو، دهغو حالاتو په استثنی چې دی به دځو ساعتو لپاره شیندنډته راغی. هغه وخت ده زمونږ فرقه او په ګاونډ کې میشت افغانی غنډ معاینه کړ او بیرته ستون شوی و. بیا مو هیڅکله لیده کاته نه وو شوی. دهغه ټلفون زما لپاره له دې امله هم دحیرانتیا سبب شو چې زه دقوماندان مرستیال وم، نه دلښکر درستیزوال.

ناڅاپی ټلفون

دفبروری په ۲۳ دلومړیو کسانو په لیکه کې تر رای ورکولو وروسته دلښکر قرارګاه ته راغلم. له مانه مخکې هلته دلښکر قوماندان تورن جنرال ادوارد ارکادویچ وارابیف رارسیدلی و. له هغه سره تر خبرو وروسته مې مسکو ته ټلفون وکړ. لومړی ځل چا ځواب رانه کړ. لکه چې ډیر وختی و. دویم ځل تقریباً دلس نیمو بجو په شاوخوا کې، غوږی خپله جنرال وارینیکوف اوچته کړه. هغه له مانه وغوښتل چې سبا ته دیوې، ستونزې دغوڅولو لپاره ځان مسکوته ورورسوم. دې خبرې زه نورهم حیران کړم. دپوښتنې یا دزیاتې روښانتیا زړه مې ونه کړ: په پوځیانو کې دې خبرې ته اجازه نه شته خو حیران وم او (له ځانه مې پوښتل) دڅه لپاره؟ ولې؟ له ځان سره مې په سوچ پیل وکړ. رنګارنګ فکرونه مې په سر کې تاویدل، راتاویدل.

له ایوانا-فرانکوسک نه په الوتکه کې تګ ډیر ګران و. دا څویمه ورځ وه چې (دشوروی دملکی هوایی چلند کمپنۍ) ایروفلوت الوتکې دهوا دخرابۍ له امله په ډګر کې ولاړې وې. دکارپات دسیمې پوځی حوزې ته له ټلفون کولو وروسته

مې د نظامی الوتکو په وسیله تر مسکوه دالوتو خبره غوټه کړه. سبا ته په موټر کې دلووف ترښاره او له هغه ځایه په الوتکه کې د پایتخت پلور روان شوم.

تقریباً درې ساعته وروسته زه د جنرال وارینیکوف دسکرتر په دفتر کې وم. سمدلاسه راته وویل شول چې د هغه کوټې ته ورننوځم. وارینیکوف بې له مقدمې وویل:

– ملګری ګروموف، تاسو په افغانستان کې دنده سرته رسولې. لطفاً په نقشه کې راته وښایاست چیرې وئ او (د دغه هیواد) کوم ځایونه پیژنئ؟

ما وویل چې کابل، دهغه ختیځې، لویدیځې، شمالی او جنوبی ځنډی، د سالنګ – کابل لویه لار تر پولې پورې پیژنم. دغه راز ټولې لویدیځې سیمې او ځونور ولایتونه مې هم لیدلی دی.

ما ته معلومه شوه چې وارینیکوف زما له خبرو څخه راضی دی. وروسته هغه اصلی موضوع ته راغی، وارینیکوف ما ته وویل چې دستردرستیز د پریکړې له مخې یوه نوې دنده منځ ته راځی: د مخصوصو چارو د سرته رسولو جنرال، دی به په افغانستان کې دستردرستیز داستازو د ګډې جرګې ریاست په غاړه لری.

دستړې هیوادنی جګړې په لړ کې مورږ داسی تجربه کړی و. هغه وخت په جګړه بوختو قطعاتو کې دستردرستیز داستازو غټه ډله په کار بوخته وه. په دې ډله کې معمولاً ماهر پوځی لارښوونکی راتلل چې ښه پوره واکونه یې هم درلودل. هغو د جګړه ییزو عملیاتو په طرحه او لارښوونه کې نیغه ونډه اخیسته او د اعلی سرقوماندان او لوی درستیز د لارښوونو د پلی کیدو بهیر یې څاره، پریکړه شوه چې په افغانستان کې په ځلویښتم لښکر او د دغه هیواد په وسله وال پوځ کې

(دشوروی اتحاد ددفاع وزارت) دستردرستیز داستازی په لیږلو سره دهغې تیرې جګړې تجربه یوځل بیا داتیایمې لسیزې په نیمایی کې تکرار شی.

وارینیکوف ماته وویل، لږ انتظار وباسه چې وروسته بیا دواړه دلمۍ درستیز مارشال س. ف. اخرامییف دفترته ورغلو. اخرامییف ډیره موده په افغانستان کې دشوروی اتحاد ددفاع وزارت داوپراتیفی ډلې درستیزوال و. ددغې ډلې مشری سرګی لیونیدزویچ سوکولوف په غاړه لرله چې وروسته بیا مارشال او ددفاع وزیر شو. مارشال اخرامییف په افغانستان کې په محدودو پوځی قطعاتو کې دخدمت له وخته زه ښه پښځندلم، نو ځکه زمور خبرو ایله څو دقیقې وخت ونیوه.

اخرامییف وویل چې ډیره موده یې «دمخصوصو چارو دسرته رسونکی جنرال» په لتیه کې تیره کړه او په پای کې دټولو سلا په ماراغله زما مهارتونه، تجربې او دافغانستان، څلویښتم لښکر اود افغانی وسله وال پوځ په هکله معلومات دستردرستیز دقناعت وړدی. سرګی اخرامییف تل له نزاکته ډک سړی و او ځکه یې په نرمه ژبه له مانه وپوښتل: په نوې دنده دتاکنې په هکله زما څه رایه ده؟ ما څه ویلی شول، په داسې حال کې چې خبره له پخوانه غوټه شوې وه؟ په ځواب کې راته وویل شوی: ډیره ښه ده.

سبا ته بیرته ایوانا-فرانکوفسک ته والوتم. دارتیا وړشیان مې راټول کړل او بیرته مسکوته راستون شوم. له ماسره په ډله کې دري نور افسران هم شامل کړای شول. یوې دپوځی ښوونې او روزنې دلوی ریاست، بل یې داوپراتیفی لوی ریاست او دریم یې دستر درستیز دپوځی استخباراتو دلوی ریاست له خوا.

سفر ته مو له یوې میاشتې نه په کمه موده کې ځان چمتو کړ. په دغه موده کې مو بیلابیل سندونه په ژوره توګه مطالعه کړل لکه: په افغانستان کې زمور د پوځونو دفعالیت د ځرنګوالی په هکله د دفاع دوزیر لارښوونې او د مرکزی کمیټې د سیاسی بیورو د کمیسیون د پریکړو په ګډون بیلابیلې پریکړې. دغه راز مو په افغانستان کې د ۱۹۸۵ کال په پسرلی کې د منځ ته راغلیو حالاتو پوره جاج واخیست د مارچ په لسمه مې لوی درستیز ته خبر ورکړ چې ډله چمتو ده، څو ورځې وروسته مور تاشکند ته لاړو. هلته د ترکستان د پوځی حوزې د هوایی ځواکونو الوتکه زمور په انتظار کې وه. په هغې کې په هماغه ورځ کابل ته لاړو او هلته راته د ځلویښتم لښکر د درستیزوال برید جنرال اناتولی ایپاتوویچ سرګیف له خواهرکلی وویل شو.

... اوبیا افغانستان

زما د دویم سفر په وخت کې په افغانستان کې دندې څه بل رنګ او ځانګړتیا وې لرلې. د ځانګړو چارو د یو د جنرال پرځوکې د شوروی بیلابیلو قطعو او افغانی پوځونو ته دورتګ په وخت کې زما پرمخ دروازې تل پرانستې وې. زمور د ډلې یوه دنده، دلوی درستیز په امر داوه چې د ګډو عملیاتو په وخت کې د شوروی او افغانی پوځیانو فعالیتونه سره سمبال کړو. افغانستان ته دستنیدو په وخت کې مې د حالاتو د ډیرې څیړنې اړتیا نه لرله، خو له ما سره راغلو افسرانو: د ګروال یوری کوتوف، زما هم نومی د ګروال ګینادی ګروموف او د ګروال والیری پتریچنکو ته یوځه ګرانه وه. له دې ډلې نه یو تن پخوا افغانستان ته راغلی و او دوو نورو، دالومړی ځل وچې په ځلویښتم لښکر کې یې دنده اجرا کوله له دې

سره سره هغوی هم ډیر ژر پر حالتو برلاسی شول.

د (څلویښتم) لښکر د درستیزوالی دافسرانو درپوتونو اوریدل ژر تر سره شول او ایله څو ورځې وخت یې ونیوه. ما افغانستان او دهغه شرایط ښه پیژندل. زما لپاره په څلویښتم لښکر کې کوم نوی شی نه و موجود. ترټولو ګرانه خبره داوه چې له افغانی پوځیانو سره څنګه کار ترسره شی: ایا مور خپله دهغوی جزوتامونوته ورشو اویا دلوی پوځی سلاکار په خبرو بسنه وکړو. زما په نظر هغه وخت ترټولو ستره ستونزه همدا وه.

زمور ددلې دنده دڅلویښتم لښکر او افغانی پوځ له حالاتو نه نه یوازې ځان خبرول، بلکه تروسه وسه پرهغو اغیزه ښندل وو، خو مور دپریکړو دکولو یا دامرونو او لارښوونو دصادرولو واک نه درلود. دافغانستان په بیلابیلو سیمو کې دحالاتو له ژورې څیړنې وروسته مور باید دهغو په هکله دڅلویښتم لښکر دلوی قوماندان ترسطحې بیلابیلو قوماندانانو او دافغانستان ددفاع په وزارت کې میشت شوروی لوی پوځی سلاکارته خپل اټکلونه وړاندې کړی وای.

له دې سره یوځای زمور بله دنده دمحدودو پوځی قطعاتو، دلوی پوځی سلاکار ددفتر دکارکوونکو او دغه راز دترکستان دپوځی حوزې دقرارګاه له خوا دافغانستان په هکله دشوروی اتحاد ددفاع وزیر دټولو امرونو د پلی کیدو کلکه څارنه وه.

زمور دنوی کار ستره ستونزه په لومړی ګام کې داوه چې مور نه شول کولای په څلورو تنو دټولو قطعو له کړنو ځان پوره خبر کړو. له دې امله مور له لوی درستیز سره تر مشورې وروسته په پلان شوې بڼه دبیلابیلو سیمو حالاتو وارپه وار څیړل.

له مارشال اخرمییف پرته بل چا دډلې په کار کې دلاس وهنې وا ک نه درلود. شک نه شته چې د دغسې ازادۍ ترڅنګ موږ خپل مسؤولیت هم پیژانده. په کار وه چې دلوی درستیز په نامه زموږ ټول رپوټونه په دقیقه توګه اوله پا ک وجدان سره تیار شوی وای. مارشال اخرامییف غوښتل افغانستان ته زموږ په استولو سره زموږ دمحدودو پوځی قطعاتو او افغانی پوځ دحالت په هکله سم معلومات هغه دچاخبره له لومړی لاسه ترګوتو کړی.

دغانګړو چارو دسرته رسوونکی جنرال دنده تر زیاتې اندازې له نزاکته ډکه وه. له یوې خوا ما په افغانستان کې ډیر زیات حقوق او لایتناهی امکانات لرل، خوله بلې خوا په دې هم پوهیدم چې ددې هیواد حالات په چټکۍ سره بدلیدونکی دی. دکنډک دقوماندان یا دځلویښتم لښکر ددرستیزوال په ګډون دهرا فسر اعمال چې دا اوس سړی ته ناسم بریښی، کیدای شی دحالاتو دبدلون له امله ترټولو سم راوخیژی. سربیره پردې: دلوی درستیز داستازیو دډلې هرغړی افسر په وله وال پوځ کې اوږده کلونه په بیلابیلو څوکیو کې خدمت کړی او نبه پوهیدل چې دکوم افسر دګناهکارۍ، په تیره بیا دافغانستان دجګړې په ترڅ کې دهغه دملامتۍ په هکله مسکوته ډډیر عینی او واقعی رپوټ ورکول هم، سبا ددغه سړی په راتلونکی باندې منفی اغیزه ښندلی شی او ښایی سلامتیاته یې زیان ورسوی. له همدې امله موږ ته په کار وه چې نه یوازې په نزاکت سره چال چلند وکړو، بلکه پر خپلو تجربو باندې په تکیې سره ډیر سنجولی او پاخه ګامونه اوچت کړو.

زموږ په نظر دلوی درستیز له خوا ددې نوې جوړې شوې ډلې اساسی دنده داوه

چې دځلویښتم لښکر له قوماندانې سره دجګړه ییزو عملیاتو په طرحه، سوق او اداره کې داسې مرسته وکړی چې افغانستان ته دمحدود پوځی قطعاتو په چوکاټ کې دلیږل شویو شوروی سرتیرو او افسرانو دسرزیانونه ترممکنه حده راټیټ کړی.

« کوماندویان دې په « شنه شپول » کې زاکوز کړی شی... ».

د ۱۹۸۵ کال د اپریل په وروستیو شپو ورځو کې دجګړه ییزو عملیاتو د پلان پربنسټ د پنجشیر په دره کې د احمدشاه مسعود په مشرۍ دمجاهدینو دغټې ډلې خلاف یوه بله جګړه پیل شوه. د دې جګړې اړتیا له هغه ځایه منځته راغله چې د مسعود باندونو دغې دری ته ځیرمه پرتو شوروی قشلوته لوی ګوابښ متوجه کړی و، هغوی دجنوبی سالنګ په سیمه کې د « سالنګ پر حیاتی لاره » دموټرو د ازاد تګ - راتګ مخه نیوله. سربیره پردې داتیایمې لسیزې تر نیمایی پورې مورد دوه اړخیزو خبرو اترو نسبتاً بریالی میکانیزم منځ ته راوړی و او دمخالفو وسله والو ډلو له ځینو مشرانو سره، یوپربل دنه یرغل موافقې ته رسیدلی وو. خوله دې سره سره یو شمیر قوماندانانو، او په دې ډله کې مسعود نه یوازې خپلې ژمنې نه عملی کولې، بلکه له دغې سولې څخه یې دخپلو ډلو دلاپیاوړتیا لپاره ګټه اخیستله. مورد دغسې ډلو شته والی نه شو زغملی، نو ځکه په پنجشیر کې دسترو عملیاتو دسرته رسولو پریکړه وشوه. دغه عملیات دځلویښتم لښکر دنوی ټاکل شوی قوماندان تورن جنرال ایګور نیکلایویچ رادیونف په مشرۍ طرح او سرته رسیدل.

له تاکتیکی پلوه له مخکینیو عملیاتو نه، د پنجشیر ددغو عملیاتو توپیر دا

وچې دلومړی ځل لپاره جګړه په (غرونو کې) د ډیر شمیر کوماندویانو په پلی کولو سره پیل شوه. د کوماندویانو دنده داوه چې د مخکینیو پیښو خلاف د اځل غرونو ته د دښمن د تیښتې لارې بندې کړی. وروسته داسې په پام کې وه چې کوماندویان، هوایی ځواکونه او پلې قطعې به په ګډه د دښمن اساسی مرکز د ړې وړې کوی او په دې توګه به په پنجشیر کې د مخالفو ډلو شته والی ته د پای ټکی ږدی.

عملیات په بری سره پیل شول. کوماندویان سم په دقیق وخت په هماغو ځایونو کې پلی کړای شول چې مور سنجولی وو. د عملیاتو لارښوونه هم سمه روانه وه هره شیبه دلښکر قرارګاه ته رپوټ ورکول کیده چې د دښمن ډلې لیدل کیږی چې غرونو ته دورګرځیدلو هڅې کوی خو د کوماندویانو له متقابلو ډزو سره مخامخ دی.

د جون په پیل کې موناڅاپه داسې شفری ټلګرام ترلاسه کړ چې یولوی پوځی لارښوونکی کابل ته پرلاړه دی. دغینو اخلاقی دلایلو له امله زه دهغه د نامه له یادولونه ډډه کوم.

مارشال اخرامیف ماته په ټلفون کې مشوره راکړه چې د دغه سړی مخې ته ورشم، ځان ورته معرفی کړم او ورته ووایم چې په افغانستان کې دستر درستیز داستازیو ډله فعالیت کوی. دا کار مې همداسې ترسره کړ. د کابل هوایی ډګر ته چې د نومورې الوتکه په کې راکوزیدونکې وه، زه او په افغانستان کې شوروی لوی پوځی سلاکار ستر جنرال ګریګوری یوانوویچ سلمانوف یوځای ولاړ وو. تر دغه وخته ما هیڅکله دغه سړی نه ولیدلی، خو دومره پوهیدم چې دغه جنرال

د قوماندانۍ پراخه تجربه لري. هغه ډيره موده د شوروی دننه اوبهر د پوځی لويو ډلو مشری پر غاړه درلوده.

جنرال دالوتکې په زينو کې له رابنکته کيدو سره سم موسکی و. د هغه پر جمپر د شوروی اتحاد داتلۍ ستوری له ورايه ځليده. هغه جنرال سلمانوف ته کلک ورغاړه وت او ماته يې هم سور غوندې لاس را اوږد کړ. ما خپل ځان ورته معرفی کړ، خو داسې راته وبرينښيده چې وار له وارد پوده نه شو چې زما څه دنده ده. مور دلنبکر قرارگاه ته لاړو او څه شيبه وروسته جنرال امر وکړ چې دی د قوماندې مرکز ته ورسول شی، له کومه ځايه چې جنرال راديونف د (پنجشير) د عملياتو لارښوونه کوله. همدغه ورځ مور بګرام ته لاړو. جنرال دلنبکر د قوماندان لنډ ريپوټ واوريده او سمدلاسه يې د عملياتو په هکله پوښتنې پيل کړې.

زه له دغه جنرال او په قطعو کې د هغه د قوماندانۍ له ډول سره هيڅ مخالفت نه لرم. دی دستر هيوادنۍ جګړې ګډون کوونکی و او په پوځی قطعو کې د خدمت په موده کې ده د قوماندانۍ ځانګړی دود منځ ته راوړی و. ما ګومان کاوه چې هغه به نه يوازې د ځلوينښتم لنبکر د قوماندانۍ خبرې په غور واوری بلکه د ټولو پوځی سلاکارانو او ترټولو مخکې د تجربه لرونکی افسر - سلمانوف څرګندونو ته به غور ونيسی. ښايی له ما سره د هغه خبرې اتری هم تريو اندازې ګټورې ثابتې شوی وای. داکار ترهرڅه لومړی خپله جنرال ته لازم و. ضرور وه چې هغه په دې وپوهيږی په افغانستان کې څه تيريږی او په څه دليل حالاتو دومره پيچلې بڼه غوره کړې ده.

په ۱۹۸۵ کال کې حالاتو داسې رنګ غوره کړ چې سړی يې په يوه کلمه کې

دنه خلاصیدونکې غوښې په نامه یادولی شی. په ډیرو ولایتونو کې سختې جګړې روانې وې. خوله دې سره سره په هر ولایت کې چې به دښمن مات شو، په پورد چټکی به یې بیرته خپل ځواک له سره راټول او زیرمې به یې بیا اکمال کړې. یوه نیمه میاشت وروسته له هغه چې زموږ کنډکونه بیرته خپلو چوپیو ته ستنیدل، مجبوریدو، یوځل بیا همدغه عملیات له سره تکرار کړو.

ماګومان کاوه چې جنرال به دحالاتو نبض ځان ته معلوم کړی او دیو تجربه لرونکی پوځی لارښود په دود به داسې خارق العاده پریکړې وکړی، چې نتیجه به یې په دغه هیواد کې زموږ په ګټه دحالاتو بدلون وی. ډیر افسران په دې پوهیدل چې دجګړې په زور په افغانستان کې پاتې کیدل یوه بې لرلیده خبره ده. ځکه له ډیرو کموا ستثناګانو پرته دهغو پایله زموږ دسرتیرو او افغانانو له مرګ پرته بل څه نه راختله. بیشکه موږ مجبور وو، زموږ پر چوپیو دبیا یرغل دمخنیوی لپاره په متقابلو جګړو لاس پورې کړو، خوبیا هم زما په ګډون دډیرو سلا په دې وه چې له مخالف لوری سره دې خبرې اترې وشی. مهمه لا داچې افسران او جنرالان دهغو لومړیو کسانو په ډله کې وو چې له افغانستان نه یې دځلویښتم لښکر دبې قید او شرطه بشپړو وتلو خبره راپورته کړه.

ددې خبرې یادول ضروری ګڼم چې دافغانستان په خاوره کې زموږ له خوا ترسره شوی ټول عملیات بوازې دهغه مشرتابه غوښتنه وه چې دغه وخت یې په هیواد کې دواک واګې په لاس کې وې. موږ پوره خبروو او نجیب الله هم داخبره نه پټوله چې هغه پرله پسې دمسکو له واکمنو سره مخامخ تماس لری. هغه به معمولاً لومړی ددفاع له وزیر سره خبرې کولې او وروسته به له عمومی منشی سره غږیده،

ترکومه ځایه چې ماته معلومه ده ورپسې به یې له کریوچکوف سره خبرې کولې.
افغانی مشرانو همیشه او بیا بیا ډډیرو زیاتو شیانو غوښتنه کوله. ښکاره ده چې
مخالفینو په افغانستان کې دشوروی پوځونو دحضور په ټولو نهو کلونو کې
دواکمن رژیم شته والی ته پرله پسې گواښ مخامخ کړی و، خو زما په نظر دمسکو
او کابل ترمنځ په ټلفونی خبرو کې دغوحالاتو ته ډیر ځله هسې ډراماتیک رنګ
ورکول کیده. همدا چې به دښمن مثلاً په ننګرهار یا کونړ کې ایله خپل ځان ځرګند
کړ، نجیب الله به دارتباط دحکومتی وسیلو له لارې هیله کوله او کله کله به یې په
ټینګار غوښتل چې باید پوځی عملیات ترسره شی او په همدغه وخت کې به یې
«په مسکو کې ناستو ملګرو» ته قناعت ورکاوه چې ولایتی مرکز له ګواښ سره
مخ شوی، چې دبریښنا بندونه (هغه چې شورویانو جوړکړی) دنابودی له خطر
سره مخامخ شوی او دافغانستان اساسی لویې لارې، دځو ورځو په موده کې
بشپړې بندیدلی شی. کله کله به دغو خبرو دحالاتو له ریښتینی ښې سره هیڅ
سرنه خوړ، خو ډیرې کمې دغسې غوښتنې د (مسکو) له خوا له پامه غورځول
کیدې او دغو له وړاندې کولو وروسته به سمدلاسه د ځلویښتم لښکر قرارګاه ته
شفرونه راسر شول چې مور به یې په دې یا هغه ولایت کې دمواصلاتی لارو
دامنیت په لازیات ټینګښت ګمارلو.

خو جنرال په لومړی سرکې په افغانستان کې زمور د پوځونو دحضور ځینې
لازم جزئات، له واکمنو سره زمور د اړیکو ځانګړتیاوې او دجګړه ییزو عملیاتو
ځرنګوالی ځان ته معلوم نه کړل. له همدې املې نو سړی نه شی ویلی چې هغه دې
ګنې دحالاتو سم جاج اخیستی وی. په دې کار کې له جنرال سره هغو «همرکابو»

کسانوهم «مرسته» وکړه چې وخت ناوخته به يې ورته «بلی صاحب»، «بلی صاحب» وايه. له همدې امله دځلوينبستم لښکر په وړاندې دجنرال دراتګ په لومړيو وختو کې اينبودل شوې دندی هم سړی پورد سمې نه شی بللی.

د پنجشير ددرې عمليات دځلوينبستم لښکر پلانی عمليات وو چې د ۱۹۸۵ کال ددوبی لپارد په پام کې نيول شوی وو. دهغو د ترسره کولو پلان، د عملياتو له پيل څو اوونۍ مخکې دستر درستيز او دشوروی اتحاد ددفاع وزير مارشال سوکولوف له خوا تصديق شوی وو، خو نوی راغلی جنرال، همدا چې په بګرام کې دقوماندې مرکز ته ورسيد، له هماغو لومړيو شيبو يې د هغو دبهير بدلون ته ملا وترله. دهغه يو شمير پريکړو دافسرانو بدګمانی راوپاروله. مثلاً: هغه امر وکړ چې د ۲۰۱ لمبر موتوريزد فرقې اساسی ځواکونه دې جنوبی سالنګ ته ولیږل شی. ددې کار لپارد لږ تر لږه ددغې فرقې خپل چمتووالی او نومورې سيمې ته درسيدو تر وخته يې پرلارد دامنيت نيول په کار وو. مورد پوهيدو چې له لازم چمتووالی پرته دهر ډول اعمالو سرته رسول او دځلوينبستم لښکر په مخکينی جګړه ييز پلان کې دناڅاپی بدلونونو راوستل به، هغه هم په دومره لويه پيمانه، ترټولو لومړی زمور دسرتيرو دسرد درانده زيان سبب شی.

هغه داځل بيا امر وکړ: کوماندويان په «شنه شپول» کې راکوز کړئ. مورد چې په افغانستان کې اوږده موده اړسيدلی وو، پوهيدو چې دغسې يو اقدام نه يوازې دکوماندويانو، بلکه دهغوی دلږ دوونکو هليکوپترو د نابودۍ سبب ګرځی. مورد پلان دجوړولو او دجنګی عملياتو دسرته رسولو په وخت کې ددغسې اقداماتو له کولونه تل ډډه کوله. مورد همېشه هغه سيمه مخکې له مخکې

«چاپوله» چې کوماندویان په کې کوزیدونکی وو. په داسې حالاتو کې مو معمولاً هوایی بمباری کوله او که دا به کافی ونه بریښیدل نو بیا به مو همدغې سیمې ته توپونه وراړم کړل. «شنه شپولونه» تل دخلکو داوسیدوځایونه وو او مور په دې خبره ښه پوهیدو، خو په دې هم پوهیدو چې له همدغو ځایونو دښمنان ګټه اخلي. هغوی زمور له همدې قاعدې نه ګټه اوچتوله چې مور هیڅکله پر هغو ځایو چې عادی بزګران په کې اوسیږي ګوزارونه نه کوو (؟. د. ج) مجاهدین له همدې اصل نه په ناوړه استفادې سره په کلو کې پټیدل، خوله دې سره سره مور له دغه عمل نه دوګړو داوسیدو پر سیمو دبمباریو ډلمې په توګه کارنه اخیست. خودادی یو ناڅاپی لوی پوځی قوماندان امر کوی چې: کوماندویان په همدغه «شنه سیمه» کې کښته کړئ چې غلیم ته زمور د توریې زور معلوم شي...

مور هڅه کوله دهغه دا تیرو تنې سمې کړو، خو دا مقصد په ستونزو سره ترلاسه کیده، ان دڅلویښتم لښکر قوماندانی او خپله جنرال رادیونوف چې د پنجشیر دعملیاتو مستقیمه لارښوونه یې په لاس کې وه، د نوموړی دځینو پریکړو له بدلون نه عاجز پاتې شول. دغه وخت نوماله جنرال سره وکتل او ورته ومې ویل چې د هغه ځینی امرونه ناسم دی. زمور خبرې په دې ختمې شوې چې ماله بل ځایه دراغلی دغه جنرال په څیره کې دخوابدی نښې ولیدې. هغه له ځانه سره داګڼله چې څنګه یو ځوان جنرال جرأت کړی ستر پوځی مشر او هغه هم د شوروی اتحاد اتل ته لارښوونې وکړی. ښکاره دده چې دهغه دځان غوښتنې احساس ته ډیر زیان رسیدلی و. خوما په دې تکی پوره باور درلود چې دڅلویښتم لښکر هر افسر او په دې ډله کې زده، دافغانستان دجګړو په هکله له ده نه زیاته

تجربه لرو ، او هیڅ داسې خوابدی له هغو تلفاتو سره د پرتلنې وړنه وې چې زمور دمخکینی جوړ شوی او تصدیق شوی پلان د بدلون له امله یې د منځته راتګ احتمال و . په پای کې جنرال زمور له خبرو سره موافق شو او خپلې مخکینۍ قوماندې یې بیرته واخیستې .

وروسته بیاهم ما او هغه دوه په دوه ، هغه دچا خبره دافسر په توګه او دوونارینه وو په توګه خبرې وکړې . شک نه شته چې زما او د هغه د مقام تر منځ زمکه او آسمان توپیر و او زه په دې خبره نه پوهیدم ، له مرکز نه راغلی جنرال ډیر غوښتل چې د ستر د ستیز د استازیو فعالیت دې هم د هغه تر نظر لاندې تر سره شی . مثلاً : هغه ویل چې زه باید هغه ته د خپلو کړنو په هکله پرله پسې رپوټ ورکړم . په افغانستان کې نورو ډیرو جنګیدلو افسرانو هم کله کله له مور سره له کینې د ک چال چلند کړی دی . مور به تل د ځلوینښتم لښکر جزو تامونو ته تللو او ځینو داسې ګڼله چې ګنې مور د « جلالتمآب » لوی درسیز غوږونه او سترګې یو او تل « لورو مقاماتو ته » د ځلوینښتم لښکر د خطا وو او تیرو تنو په هکله د رپوټ ورکولو له لارې له ځلوینښتم لښکر سره د ښمنی کوو .

دې حالت پر ما چندان اغیزه نه لرله ، خو باید اعتراف وکړم چې کله کله به یې د ناخوښۍ یو ډول احساس راته پیدا کړ . په منی کې چې د پنجشیر له عملیاتو نیم کال تیر شوی و ، مور یو ځل بیا له دغه جنرال سره د خپل منځی اړیکو په ځیرنه بوخت شو . هغه (دا ځل) زده پوره درک کړم . نورد زمور تر منځ د ستر د ستیز د استازو د کړنو په هکله د مغرضانه چال چلند او قصاوت ستونزه موجوده نه وه . دغه جنرال وروسته بیا بیا افغانستان ته راغی او هر ځل یې هم تر وسه وسه د پوځ د

پیاوړ تیا او هم د جلاستونزو د هوارولو په کار کې پوره لاس کړی دی.

هوایی سانحه

۱۹۸۵ کال زما لپاره په ځانګړې توګه سخت کال و، او دا نه یوازې په دې علت چې په اوړی کې د محدودو پوځی تولګیو په پنجشیر کې سخت عملیات وکړل چې د امکان تر حده یې د سړی زیاته انرژی مصرفوله. دا کال زما د کورنی ژوندانه لپاره هم غم لړلی و.

دمی په درېمه زده د څلویښتم لښکر په قرارګاه کې وم او په خپل دفتر کې مې کار کاوه. څنګ ته په بله ودانۍ کې، د امین له مانۍ یو څه ها خوا په افغانستان کې د شوروی اتحاد د دفاع وزارت او پراتیفی ډلې کار کاوه چې مشری یې د جنرال والنتین ایوانوویچ وارینیکوف پر غاړه وه. د جشن هنګامه نښه توده و، که څه هم د هغه چا لپاره چې په افغانستان کې یې دنده سرته رسوله د «جشن» کلمه یو نسبی مفهوم دی. زمور روحیه له دې امله هم نښه وه چې د نښمنانو په دغو ورځو کې زمور لپاره هیڅ «ډالی» نه وه برابره کړې. دورځې په لومړۍ نیمایی کې مور د راتلونکې او ونۍ پلان جوړاوه او هغه قطعې مو په ګوته کولې چې باید زمور د ډلې له خوا وکتل شی. له خپلو افسرانو سره د غرمې له ډوډۍ وروسته را په یاد شول چې کوم شی مې په کوټه کې له یاده وتلی او په هغه پسې بیرته ستون شوم. په کابل کې د می په میاشت کې باور نه کیدونکې تودوخه وی، نو ځکه چې کوټې ته راغلم له ځانه سره مې وویل: راځه لږې اوبه به پرسر تیرې کړم چې د کار لپاره مې «ساه تازه شی»، خو دغې لمبا یوازې د پنځلسو دقیقو لپاره کفایت کاوه او بس. وروسته بیا ټول یو ینفورم په خولو کې لوند خیشت کیده.

ما په تشناب کې سر او ځان و چاوه او غوښتل مې ووځم چې نا ځاپه د ټلفون زنګ شو. غوږې مې پورته کړه، له هغې خوا د هوایی ځواکونو په چارو کې د جنرال وارینیکوف د مرستیال غږدی. پوښتنه کوی:

– بوریس منسی والود وویچ «ګروموف»: تاسو د کارپات د پوځی حوزې د هوایی ځواکونو قوماندان جنرال ایفګینی کراپیوین پیژنئ؟

البته چې ما هغه پیژاندی. مور دوه کاله د ستر درستیز دا کادیمۍ په یو ګروپ کې زده کړې هم وکړې بیساریې بنه انسان، ریښتینی روسی پهلوان، ماهر لوڅی پیلوټ او په خپل مسلک کې رسیدلی سړی و. د هغه هر څه تاکلې اندازه او معین حدود درلودل. لنډه دا چې کراپیوین زمور د ګروپ ساده وه. باید ووایم چې له لووف نه د افغانستان پرلور وروستی ځل همده زه بدرګه کړی وم.

– باید زړه کلک کړې، مور خبرتر لاسه کړی چې جنرال کراپیوین وژل شوی، د هغه الوتکه غورځیدلې ده.

دا خبره زما پر سر د یوه ګوزار په څیر ولګیده. ما ددې شی تصور نه شوکولی. سمدلاسه مې کړې وړې پوښتنې ذهن ته راغلې: «دا څه مانالری چې د قوماندان الوتکه غورځیدلې ده؟ هغه خو خپله الوتکه نه الوزوله څنګه کیدای شی چې وغورځیږی؟!»

– جزئیات لا پوره معلوم نه دی. مور ته یوازې همدومره ویل شوی چې د هغه الوتکه غورځیدلې ده.

خوامې سخته بده شوه او په سترګو کې مې اوښکې راغلې. د کراپیوین په څیر خلک د ګوتو په شمار دی، یو بې جوړې سړی و. له دې خبر وروسته مې حالات بدل غوندې شول او سر مې په درد پیل وکړ.

د لښکر قرارګاه ته راغلم. خپلې کوټې ته ننوتم او ناڅا په مې یو بل فکر سر ته را مې چې د بریښنا د جریان په دود یې ټکان راکړ. د مې د میاشتې د جشنونو په درشل کې مې په ټلفون له خپلې ښځې سره خبرې کړې وې. هغې راته ویلې وو چې د الوتکې تکټ یې اخیستې او دمې په دویمه مسکو ته ځي (مور ته وعده راکړل شوې وه چې د دفاع وزارت په مرکزي اپارات کې د کار له املې به په مسکو کې اپارتمان راکړل شي، (او په خبرو جنرو کې یې داهم راته وویل چې کراپیوین هم ټلفون کړی دی او له هغې نه یې غوښتی چې مسکو ته به یوځای ځي، ما په بېړه خپل هواس راټول کړل. څنګه معلومه کړم چې له کراپیوین سره په الوتکه کې نور څوک وو؟ د تلفون خوا ته مې منډه کړه. حواس چې مې لږ پر ځای شول، دلووف ښار د هوایي ځواکونو له قوماندانۍ سره مې خبرې وکړې. شک نه شته چې نوکریوال افسر په هر څه پوهیده خو ما ته یې څه ونه ویل. په یوه جمله یې ځان خلاص کړ: «څیرنې لاروانې دي».

ایوانا – فرانکو فسک ته مې ټلفون وکړ چې کورنۍ مې په کې پاتې وه. هلته هم د دې خبرې پورې سپیناوې ونه شو، مېرمن مې په کور کې نه وه. غوږې د هغې

پلار واخیسته چې له ساراتوف نه په خاصه توګه د همدې لپاره راغلی و چې زما له زامنو سره (د مور په غیاب کې) واوسیږی او یې ویل: هو، ناتا (مسکو) ته تللې ده. ماته معلومه شوه چې هغه لا په څه شی نه دی خبر، نور نو روښانه وه چې لوی غم پیښ شوی دی.

له دې وروسته مې د وارینیکوف له ډلې نه د پوځی پیلوټانو په پوښتلو لاس پورې کړ، هغوی په هر څه خبر وو خو هڅه یې کوله مادې ته چمتو کړی چې د دغه ګوزار ضربه را باندې کمه شی. په پای کې هغوی ټوله کیسه راته وکړه. د می په دریمه چې کله کراپیوین د هوایی ځواکونو له لوی قوماندان سره د غونډې لپاره مسکو ته د ان - ۲۶ ډوله اوتکې په وسیله روان و نو د هغه دوه زامن: یواندری چې د پوځی پیلوټې د عالی ښوونځی فارغ و او بل الکساندر هم له هغه سره ملګری شول. په الوتکه کې څو کسه نور هم وو. په هغو کې یوه زما میرمن وه. د ښې پیلوټ دنده د کیهان نورو والیری بیکوسکی زوی سرته رسوله. د لووف د هوایی ډګر د یسپیچر د پوځی او ملکی الوتنو کړښې سره تېر او بېر کړې وې. ټوله سپرلی هلاکه شوه.

وارینیکوف ماته الوتکه راکړه چې سباته په کې د کور په لور والوتم. د تفلیس په هوایی ډګر کې له څو ساعتو ځنډ وروسته، زیږی مازیګر په اوکراین کې راکوز شوم. د میرمنې د جسد هغه توتې چې ټولول یې ممکن وؤ په فلزی تابوت کې د همدغې ورځې په مانبام ایوانا - فرانکوفسک ته راوړل شوې وې.

د ښځې مرګ د سړی ملاماتوی. هغه هم چې ته په پردی هیواد کې دنده ولرې،

په جګړه بوخت اوسي، له هیڅ شی نه خبرونه لري، ان د تدفین د مراسمو د سمې اجرا مهارت ونه لري او دا ټولې (ستونزې) درته د سترګو په رپ کې مخې ته ودریږي او دادو مرد ستر ماتم او چې بچیان دې په تاپورې ځانونه ونښلوی... کور دې په نظر یو بل شی راشي. تش او تورتم! او دا تاشي پلار چې (دویمه نړیواله) جګړه یې له پیله تر پایه لیدلی لکه قیږ تورناست دی. میرمن مې په سارا توف کې خاورو ته وسپارله.

دمې په لسمه مسکوته لاړم او له لوی درستیز سره مې لیده کاته وشول. هغه ورځ ما او سرګی اخرامییف د افغانستان په هکله خبرې ونه کړې. هغه ماته داډ راکړ. ویې ویل چې کولای شم په شوروی کې پاتې شم. له څه سوچ وروسته مې پریکړه وکړه چې نه، افغانستان ته خامخا ځم. فکر مې وکړ چې په افغانستان کې دنده به مې پرې نه ږدی چې ددې غم لمبې راباندې یرغل راوړی، دمی په یوولسمه بیا په کابل کې وم.

زامن مې په سارا توف کې پاتې شول چې تقریباً څلور کاله یې دلته ژوند وکړ. د تقدیر لوبه داسې شوه چې زما دا دویمه ښځه - فایینا الکساندروفنا د جنرال کراپیوین نږور او دهغه دمشر زوی ساشا میرمن وه. دوی دواړو دمسکو د پولادو اولیاژوا انستیتوت په ګډه پای ته رسولی و، د ۱۹۸۵ کال په مارچ کې له دغې هوایی سانحې دوه میاشتې مخکې دهغوی دوه غبرګولې لونې دنیا ته راغلې: والبا او ایفګینیا. اوس دوه زامن او دوه لونې مور په ګډه روزو. بچیان په بیړه غټیږي اوله مینې د ک ژوند لري.

پنجشیر

هغه وخت چې زه کابل ته ورسیدم، په پنجشیر کې د احمدشاه مسعود د باند خلاف عملیات ښه تاوده شوی وو. په افغانستان کې د جګړې ییزو عملیاتو د سنجوونکو معیارونو په پام کې نیولو سره وییلی شم چې د ۱۹۸۵ کال د پنجشیر دوبنې عملیات په عمومی توګه بریالی پای ته ورسیدل.

د جګړې ییزو عملیاتو طرح او سرته رسول ګران کار دی او د مسعود خلاف عملیات زمور لپاره تر ټولو ګران کار و. د دغو عملیاتو په لړ کې د محدودو پوځی قطعاتو قوماندانی نه یوازې داچې اړوده د اطلاعاتو د راټولولو لپاره پاخه استخباراتی مبارزه پیل کړی، بلکه باید هڅه یې کړې وای چې په اعظمی اندازه د دغو اطلاعاتو د ډیرته خپریدو مخه هم ونیسی. مور همیشه له حکومتی پوځونو سره په ګډه عملیات کول، او احمدشاه هم د حکومتی پوځ په پاسینو کړیو او هم د ننه په حکومت کې خپل سړی لرل. شک نه شته چې دې حالت د عملیاتو د طرحې پر څرنګوالی اغیزه ښندله. د عملیاتو له حقیقی پلان نه یوازې کم شمېر خلک خبر ېدل. د عملیاتو د پیل تر وخته مو افغانانو ته د عملیاتو د ریښتینو اهدافو، په هغو کې د شاملو قوتونو او د غه راز د هغو سیمو په هکله چې عملیات باید په کې سرته رسیدلی وای، هیڅ نه وېل. د (افغانی قطعو) قوماندانانو د دفاع وزارت او ستر د رستیز د مشرتابه د نورو افسرانو په څېر د عملیاتو خبر معمولاً د هغو له پیله څلور یشت ساعته مخکې، او کله کله یوازې شو ساعته د مخه ترلاسه کاوه.

دغه رازداری په ځینو مواردو کې، مثلاً له افغانی پوځونو سره زموږ دګډې هڅې بهیر ته زیان رسیدلی وه. خو موږ له دې پرته بله چاره نه لرله. له دې پرته به دعملیاتو اصلی نقشه وختی دښمن ته رسیدلې وای او نتیجه به یې په څلویښتم لښکر کې دسر دزیان غیر معقول زیاتوالی راختلی.

دپنجشیر عملیات زموږ دخپلې نقشې له مخې روان و. په ناڅاپی توګه دکوماندویانو په کوزولو سره موټوله درد کلابنده او په څو جلا جلا برخو وویشله. بیا نو پلیو ټولګیو ګام په ګام ددغو سیمو تصفیه پیل کړه.

زما په نظر ددغو عملیاتو ځانګړی بریالیتوب په دې کې وچې موږ داوږدو او سختو جګړو دسرته رسولو او وړسره جوخت دسر د درانده زیان درسیدلو امکانات له منځه یوړل.

له دې سره جوخت مو دوسلو، مهماتو او جنګی نورو وسایلو ډیرې زیرمې لاس ته راوړې چې دښمن دجګړې دناڅاپی پیل کیدو له امله له پنجشیر نه دهغو دویستلو فرصت نه وموندلی. دوسلو سترې زیرمې کشف نه شوې، ځکه هرباند دځان لپاره کوچنې کوچنې او دانتقال وړ وسله تونونه درلودل چې یا به دمجاهدینو په شاوو او یا به یې په لاس کې وو. وسله یوازې هغه وخت ذخیره کیده چې دکوم لوی باند لپاره به دزیرمه کولو خبره په منځ کې وه، خو کارتوس دښمنانو تل ذخیره کول.

په پاسنی پنجشیر کې چې ددرې شمال ختیځه څنډ کیږی، زموږ سرتیرو ددوه نیم زرو مترو په ارتفاع کې داحمدشاه مسعود غرنی زندان کشف کړ. هغه نه

یوازې په غره کې جوړ شوی، بلکه داسې پټ شوی وچې هوایی بمبونو او د توپ گولیو پرې هیڅ اغیزه نه شوه کولای. په سمځو کې دننه د ځورولو لپاره جلا جلا خونې او د دغو چارو د سرته رسولو ضروری شیان لکه: اړې، انبورونه او د خلکو د ځورندولو لپاره چنگکونه ځای پرځای شوی وو. د دې شیانو هسې لیدل وحشتناک وو.

په زندان کې تر شپیتو زیات خلک وو. د دوی زیاته برخه نارینه وگړی وو لکه: حکومتی نیول شوی پوځیان او د منځنی عمر لرونکی هغه بزگران چې یا د مسعود هسې نه وو خوښ او یا یې د هغه په نزد کومه گناه کړې وه. غمه لړلې پېښه ظاهراً هغه وخت منځ ته راغله چې د زندان ساتونکو په هوا کې زمور هلیکوپټرې ولیدې، (په دې وخت کې) هغوی ټول بندیان چاڼاری کړل. خپله د دښمنان په هغو پټو غرنیولارو، چې یوازې همدوی ته معلومې وې، غرونو ته تښتیدلی وو.

له امکانه بهر

هرې جگړې د څلو ښتو لښکر قوماندانی له داسې مسایلو سره مخامخ کوله چې په غوڅولو پورې یې نه یوازې د موجودو ستونزو بریالی حل، بلکه د سرتیرو زوندانه هم اړه پیدا کوله. په دې باب باید جلا بحث وکړو.

د احمدشاه د باندنو خلاف د ۱۹۸۵ کال د وینې جگړې، په افغانستان کې د نورو د یرو پېښو شویو جگړو په څیر، په دې یره لوړه ارتفاع کې ترسره کیدې. مثلاً په پنجشیر کې د غه ارتفاع تر درې نیم زرو مترو رسیدله. مبجور وو، نه یوازې د اکسیجن د کمبود په حالت کې، بلکه د هر دول لارو گودرو له نشتوالی سره سره

عمل وکړو.

په داسې حالاتو کې د ټانکونو په ګډون ټول تخنیکي وسایل د غرونو په لمنو کې پاتې کیدل. څوکو ته یوازې سرتیرې له سپکو وسلو سره جګیدل. ډیر ځله په داسې حالاتو کې د دښمن باندې ونه له موږ سره دوسلو او جګړه ییز ځواک له پلوه بیخې برابر کیدل د غرونو په څوکو کې آن وسلې یوډول وې. موږ د کلاشینکوف له ماشینګن نه ګټه اخیسته او دهغو په لاسونو کې هم دغه وسله وده.

سربیره پردې د دښمن عینې برلاسی هم درلود: هغوی سیمه ښه پیژندله، په ساده ګۍ سره یې عمل کاوه او هم له روانی او هم فزیکي پلوه یې ښه چمتووالی درلود: ځکه دا د دوی خپل هیواد و.

په پنجشیر کې د جګړې لپاره د چمتووالي په لړ کې مو دې کارته اجازه نه شوه ورکولی چې مثلاً یو کندک، چې مخې ته یې یوه میاشتینۍ جګړه پرته ده، یوازې د دوو یا دریو ورځو مهمات، خوراکي مواد او نور ضروري شیان له ځانه سره واخلي. لړ تر لړه هغه باید له ځانه سره د یوې اوونۍ ذخیره اخیستې وای. هر افسر، سرتیرۍ او واړه ضابطان په غرونو کې پر خپلو اوږو له څلویښتونه تر شپیتو کیلو ګرامو پورې بارلیږ داوه. له دومره زیات وزن سره او هغه هم تر سوزوونکي لمر لاندې غره ته پورته کیدل خورا ګران کار دی، خو که مخې ته جګړه هم پرته وی نو... له همدې امله ځینو قوماندانانو د سرتیرو له داسې عملونه چې غرونو ته د تګ په وخت کې یې خپل درانده مهمات، سپکې زغرې او اوسپنیزه خولۍ په قاغوش کې پریښودل ستړګې پټولې. هغو له ځانه سره د ډیر مهم شیان چې د تجربې

له مخې يې شته والی حتمی و ، انتقالول. په دې ډله کې له بنکونه جوړ توشکونه ، له کارتوسو ډک جاغورونه ، اوبه او يو څولاسی بمونه راتلل. په وروستی وخت کې به ځينی وچ خواړه هم په غوټه کې ځای پرځای کيدل.

له يوه غړه نه بل ته پرله پسې اوښتل او سختو پيچومو د سرتيرو وروستی زور او به کاوه ، نوځکه هر يوه غوښتل اضافی شيان له ځانه وغورځوی. د ير ځله چې به کله قطعه څوکې ته وختله ، نو قوماندان به ناڅاپه متوجه شو چې ان ۸۲ ملی متری سپک ليږدوونکی هاوان يې هم نه دی راوړی. په غرونو کې دا ډيره مهمه وسله او يوازينی توپ دی چې تل بايد له کنډک سره وی. د هاوا ن ميل په يوه يا دوو تنو ليږدول کيږی او دوه نور کسان يې پطنوس او درې پښې وړی ، سختو سترو شويو سرتيرو معمولاً په لومړی مساعد فرصت کې له دغه درانده بار نه دځان خلاصولو لپاره دهاوان ميل درې ته غورځاوه. دهغه د مرميو غورځول څه گران کار بريښيده. نوځکه معمولاً دغه صندوقونه سرتيرو ترپايه له ځانه سره وړل. دهر کنډک له دريو هاوانونو نه دجگړې په پيل کې يو يا دوه هاوانه پاتې کيدل.

اقليمی شرايط هم تل دجگړه ييزو عملياتو پايلې تر اغيزې لاندې راولی. افغانستان چې په همدې قاعده کې راځی او مستثنی کيدلی نه شی ، د تودوخې د درجې شديد بدلون چې عادت کيدل ورسره عملاً امکان نه لری ، له اشرارونه کم دښمن نه گڼل کيده. دشپې دسړو مخه يوازې ژمينو دريشيونيولی شوه ، سهار ته به هوا لږ څه توده شوه او دوه درې ساعته وروسته به داسې گرمی شوه چې تابه ويل اوربليږی. دورځې چې به سرتيری غړه ته جگيدل نو د گرمی له لاسه به يې تول

کالی ویستلی وو او چمتو به وو چې په یوه نیکر کې پورته شی. دوی خپل ټول کالی ددې لپاره ایسته غورځول چې هر ګرام وزن یې دوجود قوه مصرفوی.

په غرونو کې دښې طبی مرستې کول هم ممکن نه دی. سره له دې چې مور تروسه وسه هڅه کوله، خو بیاهم ځینی سرتیری د تودوخې او جل وهلوله امله له منځه تلل.

معمولاً درې یا څلور شپې او ورځې په کار وې چې ټولی یا کنډک ځان ټاکلې سیمې ته ورسوی. دغه وخت سمدلاسه دهغوی دمهماتو، خوړو او تر ټولو مهم داوبو دزیرمو دبیا اکمال مسأله منځ ته راتلله. ددې کار سرته رسول خورا ګران وو. زمور هلیکوپترو کولی شول، درې نیم زره متره ارتفاع واخلی او ځان زمور دسرتیرو پوستې ته ورسوی، خو دبار د تشولو لپاره لازمه وه چې هلیکوپتر په یوه هوار شان ډاګ ګوتې کی راکوز شی او یا لږ تر لږه دځو دقیقو لپاره په هوا کې ځوړند پاتې شی، خو په دومره لوړه ارتفاع کې دهوا فشار او ورسره دومره درونده بارنه دکوزیدو او نه دځوړندیدواجازه ورکوله. دهلیکوپتر پیلوټان یوه اصطلاح لری: «دسکون وروستی حد» ددې مانا د ارتفاع هغه وروستی حد دی چې هلیکوپترته په کې دځوړندیدو اجازه شته. دمختلفو هلیکوپترو لپاره دغه ارتفاع له یونیم نه تر دوو کیلو مترو پورې توپیر مومی، په افغانستان کې زمور پیلوټانو دخپلو تخنیکی امکاناتو په چوکاټ کې هڅې کولې. دهوایی ځواکونو افسرانو ته په کار وه چې له ډیر زیات مهارت نه کار واخلی او له نیکه مرغه دمحدودو پوځی ټولګیو په منځ کې داسې کسان پیدا کیدل. هغوی دخپل پیلوټی مهارت په

شودولو سره، دهلیکوپتر مخکنی تاپیرونه دغره په کومه لوړه څوکه اویا ډبره نښلول او بیا یې په ځوړند حالت کې دسترګو په رپ کې وروړی بار په دره کې دقطعاتو لپاره ورغورځاوه. له دې وروسته هلیکوپتر نوره ارتفاع نه شوه نیولی، هغه کښته دغره دلمن پرلور په غورځیدو غورځیدو کې بیا پورته کیده او خپل زوریې بیا راتولاوه.

په غرنیو لوړو څوکو کې دجګړې په وخت کې زمور بله همیشنۍ ستونزه دتپیانو لیږدول وو. ان کله کله دډیرو قوی اوغوڅو اقداماتو له کولو سره سره دبنیادم دژوندانه ژغورل نه ممکن کیدل. که دغره په لوړه څوکه کې څوک سخت تپی شی نو دوینې دبهیر بندول ګرانیږی. غره ته دوینې وروړل اویا دهلیکوپتر په وسیله دتپی راکوزول هم شونی نه بریښی.

یوازې یوه لاره پاتې کیده: په لاس کې دتپی سرتیری یا افسر زمکې ته راکوزول. دقطعو قوماندانانو ددې کار لپاره ځانګړې او حوصله ناک سرتیری غوره کول چې دساتونکو په بدرګه به یې خپل تپی ملګری په کوچنیو کراچیولاندې زمکې ته راکوزول. دارتفاع او دسیمې (دځانګړنو) په پام کې نیولو سره له هر تپی سره له ۱۳ نه تر ۱۵ سرتیری تلل، یوازې په دې توګه ممکنه وه پتی پوځی دغره لمنې ته راکوز کړای شی چې هلته به طبی پرسونل دیره و.

داور لارښوونه

دپنجشیر ددوبنیو عملیاتو دطرحې او اجرا په وخت کې تقریباً له هماغو ستونزو سره مخامخ کیدو لکه دافغانستان په نورو سیمو کې دهغو له ډلې نه، یوه

يې دجګړې په ترڅ کې دهوايي او توپچي ځواکونو داورلاړښوونه وه.

دتوپچي دډزو په خپل وخت اصلاح زمور لپاره ډير ارزښت لاره. دجګړې دپيل په درشل کې ټول تخنيکي وسايل دغره په لمن کې پاتې کيدل او دکوماندويانو او پلېو ځواکونو يوازينۍ تکيه خپلې پښې وې اوبس، ددغو قطعو لارې توپچي ځواکونو صفا کولې. سرتيرى بايد ډاډه وى چې له دې نه مخکې خپلو ځواکونو ډزې کړى او په کمين کې ددوى د لويدو امکان نه شته. خو مهمه خبره داورسمه لاړښوونه وه. ځينې وخت مور دغينو درو، لوړو او ژورو ويشتل د توپچي قواو په وسيله په دې احتمال پلان کول چې دښمن همدلته پټ شوى دى، خو دښمن به نابېره له بل ځايه سر راويوست. په دې حالت کې په کار وه چې د توپونو خولې سمدلاسه بل لورى ته راوګرځول شى.

دپنجشير دعمليا تو په وخت کې مور دنښه ويشتونکو افسرانو ځانګړې ډلې له ځانه سره بيولې وې. له دوى سره اوږه په اوږه محاسبينو او رادار پرسونل هم خدمت کاوه چې په بيړه يې نوى معلومات برابرول، پرله پسې او بې ځنډه مخابراتى رابطه هم دبرى اصلى شرط ګڼل کيده. افسر چې به هر چيرې موقعيت درلود، بايد دا وس يې لرلى چې هره ثانيه د ډزولو مورچل سره اړيکى ټينګى کړى او يوې يا بلې خواته داور داړولو غوښتنه وکړى.

دتوپچي نښه ويشتونکى دهغې قطعې دقوماندان ترڅنګ چې دوى يې خدمت ته توظيف شوى او په کار وچې دهغه لپاره هڅې وکړى، تل چمتو ولاړو. هغوى له کنډک يا مستقل ټولى سره يوځاى د درې په اوږدو کې پرمخ تلل اويا

دغره څوکې ته هسکېدل. نښه ویشتونکو یوازې په دې توګه کولای شول خپله مخه او وړاندې تللې سرتیرې وویني او دګولیو دلګیدو څرنګوالی ځان ته څرګند کړي.

خو توپچي نه شول کولی تل خپل هدف « ترګوتو » کړي. په دې صورت کې نو هوایي ځواکونه مرستې ته رابلل کیدل. دقوماندې په مرکز کې دعملیاتو دلوی لارښوونکی ترځنګ دهوایي ځواکونو لارښوونکي ډله هم دیره کیدله. هغوی په یوه یا دوو زغره والو ګاډو یا څو موټرو کې ځای پرځای کیدل. دمخابرې قوی دستګاوو دا امکان برابر وه چې هم له ټولو هوایي ډګرونو او هم هواته له پورته شویو الوتکو سره تماس ونیول شي.

دهوایي ځواکونو لارښوونکی افسر او دهغه مرستیال له خپلې مخابراتی دستګاه سره تل دقطعو اساسی برخه ګڼل کیده او نیغ په نیغه یې دجګړې له ډګر څخه الوتکو ته لارښوونه کوله. دیادولو وړ ده چې دتوپچي او هوایي ځواکونو لارښوونکو افسرانو یوازې په تاکلې سیمه کې داهدافو دله منځه وړلو صلاحیت درلود. دغو افسرانو په هیڅ ډول حق نه درلود، خپلې الوتکې دګاونډې قطعې دمسؤولیت په سیمه کې فعالیت ته واستوی. موږ ددغو اقداماتو په کولو سره داشتباه ګانو دپیښیدلو مخه نیوله. لوړه ارتفاع، دلیدو وړ ساحې کموالی او په غرونو کې دفاصلې دناسم اټکل احتمال دغټو بدمرغیو درامنځته کیدلو سبب کیدلی شو. ځکه دناسمو ارقامو له مخې الوتکو او توپچي ددښمن پرځای، پرخپلو قطعو ګولی ورولی شوې.

احمد شاه مسعود

په پنجشیر کې دجګړو له پیل څو ورځې وروسته معلومه شوه چې دره تشه شوی ده. احمدشاه مسعود د پتو غرنیو لارو په مرسته نه یوازې خپل وسله وال سړی، بلکه عادی خلک هم له درې نه ایستلی وو.

احمدشاه دنورو مجاهدو قوماندانانو په منځ کې دلرلیدنې دوړتیا په لرلو ممتازو. په هغو ولایتونو کې چې ده ته نږدې غاړه اینبې وه او دافغانستان په شمال ختیځ کې یو جلا حکومت و، ژوندانه خپله بڼه لرله داسې تصور سړی ته پیدا کیده چې هم په کابل کې انقلابی دولت او هم اوږده روانه جګړه دهیواد ددې برخې دخلکو د پیړیو پیړیو په اوږدو کې جوړ شوی دژوندانه بڼه نه شی بدلولی. د پخوا په څیر ښوونځی جوړیدل، جوماتونه اباديدل، دفصلونو د راټولولو په وخت کې لازمې مرستې کیدلې. بزګروته کیمیاوی سره ویشل کیده او ... له احمدشاه سره زیاته مرسته دده تر کنترول لاندې په شمالی پنجشیر کې دلاجوردو او نورو ډیرو قیمتی ډبرو بې شمیره کانونو شته والی هم کړې ده. په دغو کانو کې کارونه جاری وو او دغه بې شمیره قیمتی ډبرې بهرته لیږدول کیدې. لاس ته راغلې پیسې ترهرڅه لومړی ډیرو وسلو په پیروولو لګول کیدې.

احمدشاه یوه وتلې څېره ده چې دهغه په هکله باید اوږدې خبرې وشی. احمدشاه ددوست محمد زوی، په ۱۹۵٤ کال کې دپران ولایت دپنجشیر اولسوالۍ دبازارک په کلی کې دیوه پوځی افسر په کور کې نړۍ ته راغلی دی. داحمدشاه پلار په ۱۹۷٦ کال کې ددګروالۍ په رتبه تقاعد وکړ او دځینو اطلاعاتو

له مخې اوږده موده په پاکستان کې اوسیده. په قام تاجک دی او له همدې امله یې په هیواد کې درسمی مشر کیدو احتمالات کمزوری دی.

احمدشاه په ۱۹۷۳ کال کې د کابل له یوې لیسې نه تر فارغیدو وروسته د کابل پوهنتون د انجنیرۍ په پوهنځی کې شامل شو (؟) دزده کړې په دوران کې د «اخوان المسلمین» له افراطی سازمان سره نږدې شو او حکومتی ضد فعالیتونو ته یې لاس واچاوه. کله چې دده نوم په «تورلست» کې شامل شو، پرته له دې چې د پوهنځی دویم ټولگی پای ته ورسوی، خپلې پلرنۍ سیمې - پنجشیر ته وتښتیده. همدلته نوموړی کوچنۍ وسله واله ډله جوړه کړه چې په بیلابیلو حکومتی تأسیساتو باندې دیرغل له امله یې د داود حکومت ته دسر درد پیدا کاوه. د حکومتی ضد غورځنگ تر درې وړې کیدو څو میاشتې وروسته احمدشاه پاکستان ته په هجرت مجبور شو.

دغینو اطلاعاتو له مخې همدلته راتلونکی مجاهد قوماندان له گلبدین حکمتیار سره نږدې شوی و، خوله دغې پیژندگلوی لږه موده وروسته د دواړو په منځ کې سخت اختلاف پیدا او احمدشاه مجبور شو مصر ته لاړ شی.

له دوه نیمو کلو زیات مسعود په منځنی ختیځ کې واوسید او په غالب گمان یې همدلته د پارتیزانی جگړو مهارتونه هم زده کړی دی. سربیره پردې داسې شواهد هم شته چې احمدشاه د فلسطین د آزادۍ غورځنگ له غړیو سره یوځای د اسرائیلو خلاف په جگړو کې برخه اخیستې ده.

په ۱۹۷۸ کال کې مسعود پاکستان ته ستون او «د افغانستان اسلامی

جمعیت » له مشر برهان الدین ربانی سره یې پیژندګلوی وشوه او ډیر ژر دهغه په نردې یار او مرستندوی بدل شو. په ۱۹۷۹ کال کې ربانی نومورې دیوې ډلې په مشرۍ د کابل دانقلابی رژیم خلاف دجګړې لپاره واستاوه.

دهغه دشخصی ځانګړتیا وو په ډله کې د تکبر او ځان غوښتنې یادونه کولی شو. بې شکه چې هوښیار او دنورو قوماندانانو په پرتله دجګړه ییزو عملیاتو دښې لارښوونې دمهارت لرونکی سړی دی. مسعود دیو هوډمن اوځواکمن سړی په څیر دشتو ستونزو دحل لپاره ډیره سر سختی او کلک عزم لری. دجګړې په وخت کې یې په سړه سینه دحالاتو تجاج اخیسته، دځواکونو انډول یې معلومه وه او بیا یې دچا له مرستې پرته پریکړه کوله. دزغم خاوند و او دوه پرله پسې شپې پر یو ځای نه ویده کیده. دخپلو ساتونکو له ډلې سره یوځای یې له یوه ځایه تربله ځایه څوکیلو متره لاره وهله. تل ورسره د کلاشینکوف ماشینګنې وی او په دره کې د تګ راتګ لپاره له عسکری جیپ موټر نه کار اخلی. په څو اروپایی ژبو ښه پوهیږی. ساده کالی اغوندی او هڅه کوی چې له نورو سره یې توپیرونه شی. په افغانستان کې دشوروی پوځونو دحضور په کلونو کې یې ښځه او بچیان په پاکستان کې وو. مسعود په خپل ورځنی ژوندانه کې داسلام احکام پر ځان منل، خو زمور پوځی استخباراتو ته پته لګیدلې وه چې دخپلو ډیرو نردې ملګرو په منځ کې یې دشرابو له څکلونه ډډه نه کوله.

افغانستان ته دځلویښتم لښکر له ننوتلو وروسته مسعود او پلویانو یې شفاهی تبلیغ ته زیاته پاملرنه واړوله او په خورا مهارت یې اولس دشوروی

پوځونو خلاف راوپاراوه. په پنجشیر کې داسې افسانې په مهارت سره خپریدلې چې ګڼې «دا افسانوی مجاهد» دمحمد (ص) استازی دی او خارق العاده قوت لری. دبیسوادو بزګرانو په منځ کې دغسې تبلیغاتو ښه اغیزه ښندله او ددې سبب ګرځیده چې دنویو جګړه مارو درارسیدو بهیر ورته تل جاری وی، نو یو راغلیو کسانوته تل پوځی لوستونه ورکول کیدل او دهغو په لړ کې ډیره پاملرنه دسپکې وسلې کارونې، دماین چولو، دتخریبی کارونو سرته رسولو او فزیکی چمتو والی ته اړول کیده.

د ۱۹۸۲ کال تر دوبی پورې دمعسود دوسله والو کسانو شمېر تر دوه نیمو زرو تنو ورسیده. هغوی دافغانستان لپاره په ستراتیژیکی مهمه سیمه - یعنې دپنجشیر په دره او هغې ته په ځیرمه سیمو کنترول درلود.

دسیمې له جغرافیایی ځانګړتیا وو ځخه په استفادې سره، احمدشاه وکولی شول، څو مهم اوغښتلی سنګرونه منځ ته راوړی مثلاً د درانده ماشینګنو دچلولو لپاره ځایونه، دمجاهدینو دډلو لپاره پټنځایونه او دهرې ډلې ددفاع سیمې په پام کې نیول شوې وی. مسعود په لارو کې دماینونو دښخولو لپاره ځانګړې ډله منځ ته راوړه او اساسی ځواکونه یې ددرې په خوله کې ددفاع لپاره ځای پرځای کړی وو.

احمدشاه دعادی خلکو غمخوری کوله او خلکوهم له هغه سره مینه درلوده. دافغانانو په منځ کې دغه قوماندان ترټولو زیات اعتبار درلود. له همدې امله دمحدودو قطعو قوماندانی سخته علاقه درلوده چې مسعود دهمکاری لپاره ځان

ته رامات او په دې توګه په پنجشیر او دافغانستان شمال ختیځ په نورو ولایتونو کې دخونړیو جګړو د پیښیدو مخه بنده کړی. دځلویښتم لښکر د استخباراتی مرکز هڅو په پای کې تاکلې نتیجې ورکړې. په ۱۹۸۲ کال کې مور خپل لوی مقصد ته ورسیدو: له احمدشاه سره مو داسې تینګی اړیکی پیدا کړی چې ان له افغانستان څخه دشوروی پوځونو دوتلو تروخته په خپل حال پاتې شوی.

په افغانستان کې زمور د پوځی حضور په ټولو کلونو کې له مسعود سره زمور اړیکو بریالی وده موندله، خوله دې سره سره دمحدودو پوځی ټولګیو قوماندانی دده دوسله والو باندونو فعالیت له نظره نه غورځاوه. په ۱۹۸۲ کال کې دځلویښتم لښکر داستازو او شخصاً دمسعود له خوا یو ټرون لاس لیک شو چې دهغه له مخې مسعود ژمنه کړې وه چې په جنوبی سالنګ کې به چې دده دبې رقیبه باداری سیمه وه، پر شوروی پوځی قطارونو یرغل ته اجازه نه ورکوی.

احمدشاه دخپلو دوسلو او مهماتو دکمبود له امله مجبور شو چې دغه ټرون ته غاړه کښیږدی. دپنجشیر درې دکلابندی او دغه راز په کاپیسا کې چې پنجشیریانو ته دوسلو درسولو کاروانی لارې پرې تیرې شوې وې، دجمعیت خلاف داسلامی حزب د باندونو شدید فعالیت ددې سبب شو چې احمد شاه ته د وسلو او مهماتو په رسولو کې کمی راشی. له بلې خوا د سیمه ییزو خلکو ناخوښی چې د احمدشاه د باندونو د فعالیت له امله ورته زیان رسیدلی و، هم نومورې د دغسې یوې سولې کولو ته اړ کړ.

د لاس لیک شوی ټرون له مخې مسعود خپلو وسله والو باندونو ته امر وکړ

چې د حکومتی عسکر و خلاف دې له جګړې نه لاس واخلی او خپل ټول ځواک دې د مخالفی ډلې اسلامی حزب د باندونو خلاف جګړې ته متوجه کړی.

مسعود په بدل کې له مورږ نه وغوښتل چې شوروی عسکر دې له پنجشیر څخه ووځی اوله دغې اولسوالی نه دې د افغانستان اردوته د سرتیرو له جلب نه ډډه وشی.

له شوروی پوځی قوماندانی سره داسې پوره شواهد وو چې احمد شاه د تاکتیکی د لایلوله املې دغې سولې ته غاړه ایښې ده. هغه یو وخت خپلو پلویانو ته د وینا په ترڅ کې ویلی وو: له حکومتی لوری سره مې ځکه سوله وکړه چې یوځه فرصت لاس ته راوړم، د وسلو، مهماتو او خوړو زیرمې له سره اکمال کړم، او چې څنګه مې دغه هدف تر لاسه کړ، هماغه شیبه به مبارزه بیرته له سره پیل کوم.

دیادونې وړ ده چې مسعود له حکومت سره د سولې د خبرې له یا دولوسره سره، له کابل سره د هر ډول اړیکو له ساتلو څخه ډډه کوله. د خاد د رئیس نجیب استازی چې مأمور و، له مسعود سره اړیکی ټینګې کړی، عملاً څه نه شول کولې، هغه ټولې خبرې اترې یوازې له شورویانو سره کولې.

له منځ ته راغلی ځنډ څخه احمد شاه د خپلو مقصدونو لپاره پوره ګټه او چته کړه. په آبدره، تاواخ، چمالوارده، حصارک، خاواک او پارانده کې یې د نویو مور چلو جوړولو ته دوام ورکړ. د ورانو شویو مورچلو جوړولو ته د سیمې خلک وګمارل شول. لویې مورچلې د هوایی مدافعې په وسلو لکه د ز. ګ. و. په نامه د هوایی مدافعې په غرنی دستګاه سمبالیدې. د ځینو رپوټونو له مخې له دښمنانو سره

زیاته مرسته امریکا یی، فرانسوی، چینایی او البته پاکستانی سلاکارانو او پوځی کار پوهانو کوله. په همدغه وخت کې دښمنانو د درندو او ټانک ضد وسلو په راټولولو لاس پورې کړی و.

د ۱۹۸۲ کال په دسمبر کې چې احمد شاه کومه سوله د شوروی ځواکونو له خوا د هغه د باندونو د بشپړې تباهی له ویرې کړې وه، د ۱۹۸٤ کال تر اپریله اوږده شوه. دا نو هغه وخت دی چې د څلویښتم لښکر قوماندانی له پنجشیرنه بهر د مسعود د باندونو د زیات فعال کیدو رپوټونه تر لاسه کول. د کابل - حیرتان پر لویه لاره تلونکی قطارونه د جنوبی او شمالی سالنګ په سیمه او دغه راز د بغلان په ولایت کې له غلچکیو یرغلونو سره مخامخ کیدل.

په هغه دوره کې چې پنجشیر د سولې سیمه اعلان شوې وه، د افغانستان په نورو سیمو او ولایتونو کې تعقیبیدونکې ډلې دلته د پناه اخیستلو لپاره راتلې. دا حرکات د مسعود د هغه لوی پلان یوه برخه وه چې غوښتل یې بیلابیلې اسلامی ډلې او ګوندونه سره یو کړی. مورږ پوهیدو چې که غلیم یوموټی شی او «واحده جبهه» جوړه کړی نو بیا خو به خامخا له چریکی جنګونو څخه لویو جبهه یی جنګونو ته لاس اچوی.

روغه جوړه څو میاشتې نوره هم اوږده شوه. د یادولو وړ ښکلم چې مسعود له ځینو کوچنیو مواردو پرته خپلې ژمنې بشپړې سرته رسولې. همدغه «کوچنی استثناوې» د دده د باندونو په سخت جنګی فعالیت کې منعکس کیدې او مورږ ته یې ډیرې ستونزې پیدا کولې. په داسې مواردو کې د څلویښتم لښکر قوماندانی

هغه د چاخبره په ورته او وړ اقداماتو لاس پورې کاوه. موږ دانه شول منلی چې شوروی سرتیری دی وژل کیږی او موږ دې د روغې جوړې په نامه لاس تر زنې کښینو. زموږ ځوابیه اقدام معمولاً یو لږ جګړه ییز عملیات وو چې د هغو په لړ کې د لویې لارې په اوږدو کې د شوروی عسکرو ترکنترول لاندې سیمه پراخیدله او مسعود ته د وفادارو باندونو زیرمې، کمپونه او پټځایونه هم له منځه وړل کیدل.

له مسعود سره د دومره دقیق کار د سرته رسولو له امله د محدودو پوځی قطعاتو قوماندانی له پرله پسې فشار سره مخامخ وه. له یوې خوا مسعود د لمسونو په کولو او زموږ د حوصلې په ازمویلو سره، موږ د روغې جوړې له منځه وړلوته اړکولو، د دغسې عملونو مثالونه خورا زیات دی: د دغسې یا هغې قطعې له پنجشیره د ایستلو غوښتنه، د افسرانو خلاف ګواښونه کول، پر پوستو او مورچلو یرغلونه کول، پر قشلو ډزې....

له بلې خوا په کابل کې د ک. ګ. ب. میشتو استازیو د څلویښتم لښکر قوماندانی دغو څو ګامونو اوچتولو ته هڅوله. سره له دې چې د ک. ګ. پ. استازی د افغانستان له حکومت سره د هر ډول اړیکو د ټینګولو په هکله د مسعود په سخت مخالفت هم خبر وو، مسکو ته به یې داسې یاد دښتونه لیږل:

«احمد شاه دې د افغانستان له دموکراتیک جمهوری دولت سره درسمی تماس ټینګولو ته رامات کړی شی. د لومړی ګام په توګه دې احمد شاه ته وړاندیز وشی چې په زندان کې د خپلو نږدې پلویانو د خوشې کولو په هکله دې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت مشر تا به ته نیغ په نیغه مراجعه وکړی. له احمد شاه سره

په اړیکو کې دې زیات زور د هغه له خوا په افغانستان کې د موجود رژیم د مشروعیت په مستقیمې یا غیر مستقیمې پیژندنې واچول شی».

په دې وړاندیزونو کې د څلویښتم لښکر قوماندانی اصلاً کوم نوی شی نه لیدل کیږي. سربیره پردې له احمد شاه مسعود سره د پوځیانو د اړیکو ستراتیژیک مقصدهم په پای کې د دولتی واکمنۍ لور ته د دغه قوماندان راماتول وو، خو مور پوهیدو چې په لنډ وخت کې د کابل له حکومت او شوروی محدودو قطعاتو له قوماندانی سره په همکاری د مسعود قانع کول اسان کار نه دی. د دې لپاره میاشتو ته اړتیا وه او مور کولی شول له مسعود سره د روغې جوړې له لارې دغه فرصت ترلاسه کړو.

د ک. گ. ب مامورینو له احمد شاه سره زمور د اړیکو او د هغو د راتلونکی په باب پوره معلومات لرل. هغوی په دې خبره هم ښه پوهیدل چې باید د مسعود د باندې له خوا په پنجشیر کې د جګړې د اوربلولو ته پلمه په لاس ورنه کړل شی، خو بیا هم د استخباراتو مامورینو احمد شاه مسعود ته خپلې نه منونکې او کله کله له ګواښونو ډکې غونښتنې وړاندې کولې:

«که له دغو غونښتنو نه احمد شاه سروغړوی نو سمدلاسه دې شخصاً د هغه او د هغه د ډلې تپلې ورکاوی ته اقدام وشی. له سیاسی پلوه به زمور لپاره غوره داوی چې هغه له پنجشیر نه بهر ژوندی ونیول شی (دروغې جوړې د نیټې له پای ته رسیدو مخکې). د دې کار هدف دا راختلی شی چې هغه بشپړې سیاسی، اخلاقی او پوځی تسلیمی ته اړشی (اوله هغه سره ترټاکلی روز نیز کار وروسته)

پرې خپلو ملګرو ته په خپله خوله د دې تسلیمی اعتراف وکړی شی. د انقلابی ضد سیمه ییزو کړیو په منځ او لویدیځ کې د احمد شاه د نامه د اعتبار په پام کې نیولو سره د اتکې زمور لپاره ستر تبلیغاتی ارزښت لری او کولای شی د مخالفینو د وارخطایی سبب شی.

دغه راز باید په دې ټکی هم غور وشی چې که په څه دلیل د هغه ژوندی نیول شونی نه وی، نو بیا دې خپله د احمد شاه او د هغه د نږدې اطرافیانو له منځه ورلو ته اقدام وشی.

د دغو مخصوصو اقداماتو د عملی کیدو دنده دې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د خاد ارګانونو او څلویښتم لښکر ته وپاریل شی.

غوره به وی که له احمد شاه سره د روغې جوړې د مودې تر ختمه لاندې اقدامات هم تر سره شی:

... د احمد شاه د ډلې ټپلې خلاف دې د قوی وسلې د استعمال په ګډون د یو شمیر پوځی - تخنیکی اقداماتو (عملیاتو) سرته رسول په پام کې ونیول شی ...».

که چیرې ریښتیا هم مور د غه «اقدامات» سرته رسولی وای نو عواقب یې ډیر ښکاره وو. مور به نه یوازې موجود کمزورې تماس هم درې وړی کړی وای، بلکه له ستراتیژیکی پلوه د هیواد په یوه مهمه سیمه کې به مو په خپل لاس د کړ کیچ یوه دایمی منبع هم منځ ته راوړی وای. ښکاره ده چې د خپلو هیواد و الوخلاف له جګړې څخه ناستړو په شیش محل کې ناستو د ک. ګ. ب. مامورینو غوښتل خپل

غیرت په هره توګه چې وی، په افغانستان کې هم جوت کړی، او د دې لپاره چې د هغوې پر تېریو بل نوی مډال وځړول شی، د ځلوېنبستم لښکر سرتیری او افسران مجبور وو خپل ژوند په خطر کې واچوی.

ک. گ. ب. والا وو خپل اعتبار په افغانستان کې ښکاره «په خاورو لړلی و». زما په حضور کې یې له لسو ځلونه زیات مسکوته رپوټ ورکړی چې مسعود یې له منځه یوړ، خو بیا به هغه کله دلته او کله هلته راڅرګند شو، ښکاره ده چې احمد شاه د خپل ځان په هکله د ک. گ. ب. د مامورینو رپوټونه نه لوستل.

دلته نو یوه قانونی پوښتنه رامنځته کیږی: که چیرې یو ډیر اغیزمن افغانی مخالف شخصیت دومره د کابل د انقلابی رژیم او په دغه هیواد کې د شوروی قطعو د حضور مخالف و، نو څه شی د هغه د ډلې د نهایی ماتې او یا د ده دله منځه وړلو مانع ګرځیده؟

زما په نظر دا ادعاګانې چې ګنې هغه د ځلوېنبستم لښکر د قوماندانی په پرتله ډیر هوښیار او د تدبیر خاوند و، بې بنسټه او غیر موجه دی. زمور له خوا د احمد شاه مسعود خلاف د عملیاتو په ګډون ټول اقدامات باید په افغانستا کې زمور د پوځی حضور د مسأیلو په مجموعه او په هغو ستونزو کې مطالعه شی چې محدود پوځی قطعات ورسره مخامخ وو. ایا مور د افغانستان جګړه په مجموع کې ګټلی شوه که نه؟ د سالم عقل حکم خو دادی چې د وسلې په زور د یوه بشپړ ملت لاندې کول امکان نه لری. هیڅ ځای او هیڅکله پوښتنه له دې زاویې نه ده مطرح شوې. زمور محدودې سیمه ییزې بریاوی په کار وې او هغه موتر لاسه کولې هم. د

څلویښتم لښکر قوماندانۍ د مسعود خلاف په مبارزه کې هم ځانګړی مقاصد درلودل. خو ان له احمد شاه سره زمور د سختې مقابلې په وخت کې چې بیا بیا پیښېدلی، زمور هدف د هغه د ډله منځه وړل او شخصاً دده نابودول نه وو. مور خپل پوځی عملیات داسې پلان کول چې مثلاً احمد شاه مسعود د پنجشیر په شمال یا مرکز کې مات کړو او مخالفین پرېښود بیا دریدو له چټکې وړتیا څخه محروم کړو. لکه چې ومې ویل، د غسې دندې مور تاکلې او په بری سره سر ته رسولې.

د ساده ګی خبره به وی که ووایو ځواکمن څلویښتم لښکرونه شو کړای، د احمد شاه ډلې ډرې وړې کړی. په افغانستان کې د شوروی پوځونو قوماندانۍ ټول امکانات لرل چې ان په پنجشیر او د هغه په شاو خوا کې د ۱۹۸۵ کال له دوبنیو عملیاتو نه ډیر مخکې هغه له بشپړې ماتې سره مخامخ کړی. که اړتیا وای، مور به هغه له منځه وړی هم وای. ما هیڅکله په دې خبره کې شک نه درلود او اوس یې هم نه لرم،. احمدشاه پخپله هم خپل موقعیت ښه پیژانده او همدې حالت د هغه پر سیاست اوله شوروی پوځیانو سره د هغه پراړیکو اغیزه ښندله: هغه ښه پوهیده چې د څه شی د کولو اجازه لری او د کوم شی د کولو له امله به یې غوږونه تاوېږی. د مسعود د برخلیک د نهایی تاکنی او د هغه خلاف د اقداماتو له امله به زمور د قوماندانۍ په نظر مور له یوازینۍ ستونزې سره، چې همیشه ډیره پیچلې وه، مخامخ شوی وای او هغه دا چې په څه ډول هم د شورویانو او هم د افغانانو ژوند وژغورو. مور د پوځی هدفونو د لاس ته راوړلو په هکله د فکر تر څنګ په دې باره

کې هم سوچ کاوه چې په څه شان د سرتیرو د مړینې مخه ونیسو ، له همدې امله هڅه کیده نوې او غیر معمولی طریقې په کار واچول شی. کله کله مجبوریدو دښمن وغلوو ، خبرو اترو ته یې راکاږو اوله سله والې جګړې نه یې لاس پر سر کړو. زما په نظر د محدودو پوځی ټولګیو زیاتو افسرانو او جنرالانو د دغه نظر ملاتړ کاوه. هیڅ انقلاب او په تیره بیا افغانی انقلاب په هغو قربانیونه ارزیده چې تاریخ یې په کومه حساسه شیبه کې د کیدو غوښتنه کوی. هغه وخت چې به زمور سوله ییزې هلې ځلې بې نتیجې شوې او د شوروی کار پوهانو او پوځیانو د مرګ خطر به مخامخ را ته ودریده نو مور به جګړه ییز عملیات پیل کول ، خو ان په داسې حالت کې هم ځلوینښتم لښکر له خپل لوری ډیر کم ځواک او لږ وسایل په کار اچول ، که مور به توپچی ډزو یا هوایی بمباری ته نیت وکړ نو هغه به ډیرې کمزورې وې او معمولاً به پر هغو غرینو سیمو او دروکیدلې چې بې وسلې ملکی خلک په کې نه اوسیدل (؟ د. ج.)

د پولې ترڅ

په افغانستان کې د شوروی محدودو پوځی قطعو ته څو جلاجلا دندې سپارل شوې وې. یوه دنده دا وه چې ځلوینښتم لښکر دې په داسې حال کې چې د ګاونډی هیواد په خاوره کې ځای پر ځای دی ، د شوروی اتحاد جنوبی پوله وینګه کړی. زما په نظر د شوروی - افغان ګډې پولې ته د خطر په هکله اندیښنې بې بنسټه وې. ان هغه وخت چې د افغانستان د چارو واګې د پاچیانو په لاس کې وې ، د پولې دغه برخه تر ټولو ارامه او پر امنه ګڼل کیده. کله چې وآک انقلابی حکومت ته

ولیږدیده نو بیا خو زمونږ د اندیښنې لپاره هیڅ ځای نه و. یوازې هغه وخت چې زمونږ عسکر افغانستان ته ورننوتل، زمونږ په وړاندې له دښمنانو څخه د خپلو پولو د ساتنې ستونزه هسکه شوه چې غالباً (د مجاهدینو) د غچ اخیستونکو عملیاتو په لړکې منځ ته راغلې وه. دا تیایمې سیزې له پیله د شوروی - افغان ګډه پوله زمونږ لپاره «د سور ریښتینی درد» شو. د سرحدی پوځونو لویه قوماندانۍ اړه شوه، په افغانستان کې د ننه په اصطلاح «حفاظتی ګزمې» او موقتی پوستې جوړې کړی. سربیره پردې له پولې نه لږ وړاندې په زغره والو ګاډوکې مانورکوونکو ګزموته دنده وسپارل شوه. دغه ګزمې زیاتره د غلیم له سختو یرغلونو سره مخامخ کیدلې. خو دغو اقداماتو هم زمونږ پر خاوره د یرغلونو مخه ونه نیولی شوه، او د ریاکتیف توغندیو په وسیله زمونږ د سرحدی کلیو ویشتل روان وو. نه یوازې سرتیری او افسران، بلکه عادی شوروی وګړی هم د افغانی جګړې قربانی شول.

افغانستان ته د شوروی لښکرو استولو بیخی بل هدف درلود، او مونږ ډیر ژر په دې ټکی ښه سم پوه شو. په افغانستان کې زمونږ د حضور په ټوله موده کې د څلویښتم لښکر اساسی دنده د اپریل انقلاب ساتنه وه، په بله وینا، شوروی سرتیری مجبور وو، هغه رژیم وساتی چې د مانیپو د ننه د کودتا په نتیجه کې منځ ته راغلی و. زمونږ لپاره یې توپیرنه درلود چې د نوی رژیم واک د چا په لاس کې دی: د امین، که د کارمل او یا نجیب الله. ډیر زیات ارزښت بل ټکی درلود: انقلابی واک باید دږې وړې کیدو ته پرې نه ښودل شی. هغه باید ټینګ وی اوله

دې ټولو شیانو سره سره پیاوړی هم شی. افغانستان باید د څلویښتم لښکر تر وزر لاندې له خوبولی فیودالیزم نه د روښانې راتلونکې پرلور داسې ټوپ ووهی چې د جنوب ختیځې اسیا د هیوادو لپاره کـه د سوسیالیزم نه وی نو د ملی دیموکراتیکې ټولنې د جوړیدلو یو مثال خو شی. په افغانستان کې زمور د ستراتیژیٔ عمومی تصویر په همدغو څو لنډو ټکو کې څرګندیږی.

خو هر رژیم یوازې هغه وخت ریښتینی عمل کولی شی چې تر پښو لاندې زمکه یې په لرزه نه وی، خو د اپریل انقلاب تل د خپل مرګ د کندې پر غاړه ولاړ و. د کابل نوی رژیم له هماغو لومړیو ورځو اړو چې له نا پایه جګړو سره عادت وکړی. د (افغانی) ټولنې قامی - قبیلوی جوړښت په خپله د واکمنې د سیمې پر سر، یا په بله وینا دواک لپاره د دایمی مجادلې تومنه له ځانه سره درلوده. تر یوې اندازې کیدای شی، په کال کې د انقلابی رژیم ټینګښت، پر نورو ډلګیو، د یوې ډلې، یا د یو بختور ګروپ بری وګڼل شی.

د کابل رژیم خلاف وسله واله جګړه په پرله پسې توګه روانه وه.

ګوزارنیز پوځی ټولګی

افغانستان ته د شوروی پوځونو د ورتګ له هماغو لومړیو شیبو موړ اړ شو د افغان - پاکستان ګډه پوله وترو، د دې خبرې دلیل دا و چې د څلویښتم لښکر او حکومتی ځواکونو خلاف د وسله والو باندونو جګړې یوازې د بهرنی مرستې له برکت دوام مونده.

په افغانستان کې د ۱۹۷۸ کال له پیښو وروسته، پاکستان مخالف افغانی

غورځنګ په مرکز بدل شوی و. په پیښور، کراچۍ او د افغانستان پولې ته په نورو نړۍ لویو ښارونو کې اسلامی بنسټ پالو ګوندونو خپل مرکزونه پرانیستل. مخالفو مشرانو د کډوالو له ډلې نه نوې اولانوې وسله والې ډلې جوړولې او د افغانستان خاورې ته یې صادرولې. د وسلو او مهماتو ناپایه قاچاق روان و او څومره چې په افغانستان کې زمور شته والی پسې او ږدېده، هغومره د دغو قاچاقو اندازه زیاتیدله.

په افغانستان کې په تیره بیا په ختیځو ولایاتو کې د ژوندانه د عادی کولو لپاره مور مجبور وو، اصلی کاروانی لارې چې مخالفینو تړې ګټه اخیستله وتړو.

د ۱۹۸۵ کال له پسرلی نه مور د مستقلو ګوزاریزو کنډکونو شمېر ډیرزیات کړ او له پاکستان سره د پولې په اوږدو کې مو په دې مقصد واچول چې هغه په بشپړه توګه وتړی. له اتو کنډکونو څخه دوه لواوې راجوړې شوې. یوه یې په جلال آباد کې ځای پر ځای وه او د افغانستان په ختیځه پوله کې یې د دښمنانو د کاروانو خلاف مبارزه کوله. د دویمې ګوزاریزې لوا قوماندانی د افغانستان په ختیځه پوله کې یې د دښمنانو د کاروانو خلاف مبارزه کوله. د دویمې ګوزاریزې لوا قوماندانی د افغانستان په جنوب لویدیځ کې د لښکرګاه په ښار کې ځای پر ځای کړی شوه.

له پاکستان او ایران سره د افغانستان د ټولو پولو په سلو کې شپیته برخه چې په لویدیځ، جنوب او جنوب ختیځ کې نړۍ دې د زره کیلومتره کیږی، د ګوزاریزو کنډکونو تر څارنې لاندې وه.

زما په نظر مستقل گوزاریز پوځی ټولګی د څلویښتم لښکر تر ټولو تکړه جنګی قطعې وې. هر کنډک نږدې پنځه سوه افسران، واړه ضابطان او سرتیری درلودل. هغوی ټول د ښه مهارت خاوندان اوله پوځی او فزیکی پلوه پوره چمتو کسان وو.

گوزاریز ټولګی ډیر سمبال وو. هغوی د زغره والو ګاډو په ګډون، ډیره نوې وسله درلوده. هرې لوأ د هلیکوپټر وخپله ډله لرله چې د جګړې ډګرته د نویو ځواکونو چه رسولوکې تړې کار اخیستل کیده.

د کنډکونو قوماندانانو ته تل د څلویښتم لښکر د استخباراتو د اداري او سیمه ییزو مقاماتو له خوا افغانستان ته د مخالفینو د صادریدونکو کاروانونو د حرکت او نورو اعمالو په باب پرله پسې معلومات رسیدل. خو ګوزاریزو ټولګیو زیاته اتکا په خپلو معلوماتو کوله. هغوی تر وسه وسه له سیمه ییزو چارواکو او د ولانیونو او السوالیو له عادي وګړو سره تینګې اړیکې پیدا کړې وې. په خپل لاس راټولو شویو معلوماتو د کنډکونو قوماندانانو ته د خپل مسوولیت په ساحه کې د حالاتو د پوره روښانتیاوس ورکاوه.

دکاروانونو په لاروکې د کمین نیولو لپاره چمتووالی تر دریو ورځو وخت نیوه پوځی ډله به یو ناڅاپی سیمې ته لیږل کیده. هره ډله په څو کوچنیو یو یعنې د نیولو، ویشتونکو او مدافعې په ډلګوټو ویشل کیده. د جګړې د سیمې او د چارچاپیر حالاتو په پام ګې نیولو سره ګوزاریز ټولګی یاد شپې او یا د ورځې تاکلې سیمې ته رسول کیده. د جګړې دغې سیمې ته ځان رسول تر ټولو سخت

کارو. سختی یې په دې کې وه چې باید ډلې بې له دې چې د چاورته پام شی او یا یې د احتمالی د ندی د ځای په هکله چاته پته ولګی، ځان ډیر پټ هغه ځای ته ورسوی.

د ګوزاریزو ځانګړیو کنډکونو د جوړیدو په لړیو وختو کې مور سرتیری له تخنیکی وسایلو او کله کله له ټانکونو سره یو ځای هم، ټاکلې سیمې ته استول. شک نه شته چې په دې صورت کې د عملیاتو د پټولو او یا د ناڅاپی یرغل احتمال له منځه ته. د دغسې حرکاتو نتیجه که صفر نه وه، نو بیخی کمه خو خامخاوه.

کله چې پوه شوو سرتیرو اوږد او دروند مزل د نظر وړ عملیاتو د بربادۍ سبب ګرځی، و موپیتیله چې هغوی به ټاکلی ځای ته په پښو لیږو، خو داهم زمور په طبعه چندان برابر کار نه و. له یوې خوا اتیا ... سل کیومتره پلی تګ او سخت اقلیمی شرایط د دوزخ سختیو ته ورته کار و، له بلې خوا دې کار زمور ډیر وخت ضایع کاوه. له همدې امله وروسته د دغو ځانګړیو ګوزاریزو لوأګانو لپاره د هلیکوپترو جلا ډله بیله کړای شوه چې دنده یې یوازې او یوازې د همدغو لوأګانو له خوا د ورکړل شویو امرونو سرته رسول وو. وروسته مو بیا ګوزاریز پوځی ټولګی د هلیکوترو په وسیله سیمې ته رسول.

هلیکوپتر چې به ګوزاریز ټولګی له ځانه سره جګ کړ، نو تقریباً هماغې خوا ته به یې په الوتنه پیل وکړ چې عملیات په کې په پام کې نیول شوی وو. وروسته بیا پیلوټ ناڅاپه د الوتنې لوری بدلاړ او په هواکې داسې دریده چې ګومان کیده

سرتیری تري کوږپرۍ، خو په واقع کې هیڅوک نه کوزیده او داهسې غولوونه وه. وروسته بیا هلیکوتر دو یمی، در یمې او ځلورمې تاکلې شوی نقطې ته ځان رساوه او همدغه غولوونکی حرکات یې تکرارول، په پای کې هلیکوپتر زمور د مقصد ځای ته رسیده، په بیړه یې سرتیری کوزول او د راستنیدو په وخت کې یې دوه درې ځایه نورهم د دروغ ځینی مخکښ حرکات تکرارول او بیا یې خپل ځان مرکز ته را رساوه.

د گوزاریزو ټولګیو د مرستې لپاره د زغره والو ګاډو قطار، د هغو له تګ لږ وروسته په هماغه لور خوځیده او له تاکلی ځای نه ۵۰ - ۶۰ کیلومتره لیرې یې مورچل نیوه. په دې وسیله مور دښمن د خپلو عملیاتو د ځای او مقصد په هکله لار ورکی کاوه.

مور باور درلود چې مخالفین هم قوی استخبارات لري. په دې کارکې د ولایتونو نږدې ټولو وګړو برخه اخیسته. د غرونو په لوړو ځوکو کې د ځارنې ځانګوې پوستې جوړې شوې وې. پښتنو کوچیانو هم په دقت سره د «کفارو» یعنې شورویانو ځارنه کوله او هر څه چې به یې ولیدل، په هره ممکنه وسیله لکه: داور په بلولو، د هندارو په پرکولو او ان د مخابرې په وسیله او د نورو لارو چارو په په مرسته به یې سمدلاسه رپورټ ورکاوه له دې امله د گوزاریزو ټولګی داسې کوزول چې دچاو ورته پام نه شی عملاً ناممکنه خبره وه یوازې د گوراز یرو ځانګړیو کنډکو نود سرتېرو او افسرانو دنویو چلونواودجګړه ییزو عملیاتو دنویو ډولونو په مرسته مو کولای شول. ښې نتیجې تر لاسه کړو. معمولاً زمور د هرکمښ په پایله

کې به د دښمن کاروان بشپړله منځه وړل کیده.

د څلویښتم لښکر قوماندانۍ دا خبره هیڅ نه پټوله چې مور د کاروانو خلاف پراخه مبارزه پیل کړې ده. د افغانستان مشر تا به (وخت ناوخته) د پاکستان او ایران حکومتونو ته د افغانستان په چاروکې د لاس وهنې او د دغو هیوادو په خاوره کې د ورانکارو باندونو د ملاتړ له امله احتجاجیه لیکونه سپارل. مور رسماً اعلان وکړچې دښمن ته د وسلو رسولو کاروانونه به زمور له خوا (خامخا) له منځه وړل کیږي، خو له دې سره سره تقریباً هر ورځ په بیلابیلو مهماتو لکه ریاکتیف توغندیو، د توپونو په ګولیو او نورو بار قچرې او موټرونه د افغانستان او پاکستان له ګډې پولې نه تیریدل. پر اوښانو او خرو باندې معمولاً ماینونه چې زیاتره یې د ایتالی محصول وو او سپکه وسله لیږدول کیده.

د ګوزاریزو ټولګیو تر څنګ د افغان - پاکستان د ګډې پولې د ټرلودنده، د هلیکوپټرو ځانګړې یو روزل شویو پیلوټانو هم سرته رسوله. دغو افسرانو عموماً د ورځ او کله کله د شپې له خوا ګزمې وهلې او هڅه یې کوله ځانګړې کلابندې شوې سیمې ته د کاروانونو د رسیدو مخه ونیسي. په دغو هلیکوپټرو کې به د ګوزاریزو ټولګیو له ډلې نه د تلاشۍ او نابودولو لپاره یو شمیر کسان هم سپارل وو. هلیکوپټرو چې به کله روان اوښان یا موټر ولیدل. نو پر سر به یې ورته څو څرخونه وخوړل او بیا به یو ناڅا په د هغوی مخې ته پر زمکه کیناستل. معمولاً کیدای شول، سمدلاسه معلومه شي چې په کاروان کې څه شی بار دی. که د کاروان سړو به زمور د هلیکوپټرو په لیدو سره په وارخطایۍ یوې او بلې خوا ته

ځغاسته وکړه، نو ښکاره وه چې وسله وړي، خو که د تلاشۍ سړوته به معلومه شوه چې په کاروان کې غیر پوځي او سوله ییز شیان وړل کیږي، اوښانو او یا موټرو ته به د مخکې تګ اجازه ورکول کیده.

د دوبی پیل تل د دښمنانو د کاروانو سره د مقابلې تر ټولو ګران پرا وګڼل کیده. دغه وخت په غرونو کې واوره ویلی کیده او ټولې لارې او ګودرونه پرانیستل کیدل. د ژمنی پراو په پرتله د وسلو او مهماتو د راوړلو اندازه څو ځلې زیاتیده. له دې امله (دغه وخت) د موجودو ګوزاریزو ټولګیو د مرستې لپاره مو ځانګړې سمبال شوې الوتکې هم ګمارلې. هغوی د پولې په اوږدو کې د ګزمې تر څنګ د کشف عملیات سرته رسول او لیدلی کاروانونه یې له منځه وړل.

سره له دې چې موږ د پولو د ټرلو اوله کاروانونو سره د مقابلې لپاره خورا زیات قوتونه په کار اچولی وو، خو دغه کار مو په بشپړه توګه نه شو ترسره کولای. کاروانونو په یوه یا بله بڼه د افغانستان خاورې ته نفوذ کاوه او دلته یې بیا تباه کول ګران کار و. د ۱۹۸۵ کال په پای کې مو، پولې د ټرلو لپاره له پلیو غنډونو، کنډکونو او ټولیو نه هم کار اخیستل پیل کړل.

اتو ګوزاریزو کنډکونو هر یوه د مسوولیت خپله خپله سیمه درلوده. پولې ته په نږدې ولایتونو کې د مجاهدینو جګړه ییز فعالیتونه ډیر زیات چټک وو. په تیره بیا په کندهار، لښکرګاه، غزنی او ګردیز کې ځای پر ځای شوی کنډکونه له زیاتو ستونزو سره مخامخ کیدل. په جلال آباد کې حالات ډیر خړ پړ وو او دغه کړکیچ په افغانستان کې د شوروی پوځی حضور په ټولو نهو کلونو کې په خپل

حال باقی و. د شوروی عسکرو له بشپړې وتنې ځواوونې مخکې د دغه ځای حالات په چټکی سره مخ په نازکیدو شول.

په اسعد آباد کې د میشتو جزو تامونو ژوند تر ټولو سخت و. د افغانی جګړې په ختمیدونکی پراو کې جګړه ییز فعالیتونه خپل اوج ته ورسیدل. زمور د پوځونو د وتلو په درشل کې د دغه ولایت حالت ډیر خراب شول. دغه وخت تقریباً هره ورځ زمور پر سرتیرو دریاکتیف توغندیو او هاوانونو ډزې جاری وې. هغه څه چې د ګوزاریزو ټولګیو غړیو په افغانستان کې وکړل یوازې د زړورو او قاطع افسرانو او سرتیرو ځانګړتیا ده او بس. د ګوزاریزو ټولګیو پرسونل له مسلکی پلوه په ډیرو لوړو سطحو کې و. هغوی جګړه ییز فنون ډیر ښه پیژندل او په خورا مهارت سره یې خپلې دندې سرته ورسولې.

د افغانستان د جګړې په پراوکې د ګوزاریزو ټولګیو پر سرهم ډول ډول پیښې راغلې دی. بریاوې هم وې او ماتې هم. په وسلو بار کاروانونو د پوښاه کولو تر ځنګ چې هم یې د شوروياتو او هم افغانانو د نورې وینې تویېدو احتمال کماوه، کله کله ماتې هم پیښېدلې.

د دندې ناسمې تشریح، د جګړې لپاره نیمګړی چمتو والی او په تیره بیا ټاکل شوې سیمې ته د تګ په وخت کې تیروتنو ډیر ناوړه عواقب رامنځته کول. زما په یاد دی چې دښمنانو د ځانګړو روزل شویو سرتیرو درې ډلې بشپړې له منځه یوړې، د دې خبرې دلیل څه و؟

مخکې مې وویل چې دښمنانو ښه پیاوړی استخبارات لرل او د کومې ډلې د

لیږلو خبره چې به یې ځان ته معلومه کړه، نو بیا به یې هغې ته وخت ورکاوه چې په کراره ټاکلې سیمې ته ځان ورسوی، خو له دوی مخکې به هلته دښمنانو کمین نیولی و. په داسې یو حالت کې چې کله هلیکوپټرې بیرته خپلو مرکزونو ته ستنیدلې او ټانکونو له دغه ځایه څو کیلومتره واټن درلود، د ځانګړیو ایسارو شویو ټولګیوله لاسه نور هیڅ پوره نه وو. د غو سرتیرو یوازې سپکه وسله له ځانه سره وړه. دښمنانو د ماشینګنو تر څنګ هاوانونه هم درلول او د ناڅاپي برید هغه لارې چارې چې دښمنانو ترې کار اخیست، دوی ته یې ډیر بری ورپه برخه کاوه. هغوی د سنګر ګو په رپ ګې کولای شول، د ګوزاریزو ټولګیو یوه کوچنۍ ډله ټوله له منځه یوسی.

د عملیاتو د سرته رسیدو په وخت کې له ګوزارریزو ټولګیو سره پر له پسې مخابراتي اړیکی ساتل کیدې. د دغو کنډکونو د جګړې د اصلی سیمې له پاسه څلرویشت ساعته هغه الوتکې خوځیدې چې مخابراتي څپې به یې اخذ اوله سره مخابره کولې. همدا چې د قوماندانۍ مرکز ته خبر ورسید چې ډله په جګړه کښوته، سمدلاسه به په ډګر کې چمتو ولاړو هلیکوپټرو ته د پورته کیدو امر کیده. د غلیم د ډلو دنابودولولپاره نیم ساعت یا ۳۵ دقیقو ته اړتیاوه خوهیلیکوپټروپه دغه زمانی واټن کې یوازې د جګړې سیمې ته ځان رسولی شو.

په مجموع کې د ځانګړو ګوازاریزو ټولګیو، هوایی ځواکونو او پلیو قطعو ګډو هڅو د افغانستان په خاوره کې فعالو ورانکارو ډلوته د وسلو او مهماتو د بې خنډه او آزادې رسیدنې په مخنیوی کې مهمه ونډه درلوده. داسې نیکمرغه او ونې

او میاشتې هم راتللې چې د څلوثیښتم لښکر قطعو د پولې دایا هغه برخه ټپه ټرلی شوه.

د افغان - پاکستان د ګډې پولې د ټرلو لپاره هڅو او دغه راز د پنجشیر په دره او بیا د کندهار، پکتیا، کونړ، هرات، بلخ او بدخشان په ولایتونو کې د یاغیانو خلاف جګړه ییزو عملیاتو او ورسره جوخت د دښمن پر مرکزونو د هوایی بمبار یو داغیزمنتوب زیاتیدو، د مخالفینو مشران اړکړل چې خپلې راتلونکې نقشې او پلانونه له سره جوړ او تنظیم کړی.

په پاکستان کې میشتو د مجاهدینو «روحانی پلرونو» هڅه کوله غیر ممکن کارونه سرته ورسوی لکه: د حکومتی ضد هڅو د کمیدو مخنیوی، له ګوزارونو څخه د اساسی ځواکونو بچ ساتل، د پیښې شوی زیان ډیر ژر جبران او د افغانستان په خاوره کې د ننه د نویو مرکزونو جوړول.

د مخالفینو مشرانو ورانکارو باندونو ته د وسلو رسوونکو کاروانو د بیا بیا ضایع کیدو له امله پریکړه وکړه چې له پولې نه د اړولو په وخت کې (کاروانونو) د ساتنې ځانګړی ټولګی جوړ کړی. د هغوی مهمه دنده د شوروی سرتیرو له خوا د غلچکیو یرغلونو مخنیوی او له هغو سره مقابله و.

زمور ګوازارینرو ټولګیو د پوځی لویو چونیو د امنیت د تأمینولو لپاره ستر کارونه سرته رسولی دی. هغوی د کابل په ګډون د افغانستان ډیرو لویو ښارونو د پرله پسې بریادی خطر له منځه وړی و. د ځانګړو دندو د سرته رسولو مستقلو کنډکونو د خدمت مهم رول سړی ته اوس ډیر ښه څرګندیدلی شی. د شوروی

پوځونو تر وتلو وروسته د افغانستان پوله له یوې ډاډمنی سا تنې نه بې برخی پاتی شوه بی دفاع کلی د رقیبو وسله والو باندونو د جګړو په ډګر بدل شول چې نتیجه یې د سلګونو او زر ګونو ملکی وګړو حتمی تباهی راوختله.

سید احمد ګیلانی

د پاکستان پولې ته په نږدې سیمو کې «د افغانستان ملی اسلامی محاذ» وسله والو ډلو فعالیت درلود چې مشری یې د ګیلانی په لاس کې وه.

د هغه پلار - حضرت صاحب چې دغه راز د بغداد پیر او نقیب صاحب په نامه شهرت لری، په پنځلس کلنۍ کې انګلستان ته ولیږدول شو چې هلته یې په یوه ځانګړی ښونځی کې زده کړې وکړې. وروسته نوموړی د انګلستان او المان په ځولوړو تحصیلی موسسو کې هم څه موده تیره کړه. وروسته هغه د خپلو انګریزی حامیانو په مرسته د هغه وخت د هندوستان د شمال لویدیځې صوبې (اوس همدغه سیمې د پاکستان د شمال لویدیځې صوبې په نامه یادیږی) د پښتنو قبایلو په منځ کې د یو مذهبی مشر حیثیت تر لاسه کړ. د ظاهر شاه د پلار - نادرخان له کورنۍ سره یې نږدې اړیکی ټینګی کړی. له فرصت څخه په ګټې اخیستنې سره یې جلال آباد ته څیرمه د پراخو زمکو مالکیت تر لاسه کړ. د انګریزانو په مرسته د سنی مسلمانانو د «قادریه» طریقې لوی پیر غوره شو. تل د انګریزی استخباراتو فعال همکار پاتې شوی دی.

د ګیلانی مور - مار تاریخ تر د المانی پولیسو د یو لوړ رتبه افسر لور وه او چې کله حضرت صاحب په المان کې زده کړې کولې نو ده ورسره نکاح تړلې وه. دا د

حضرت صاحب لومړی واده و.

سید (احمد) گیلانی په ۱۹۳۱ کال کې دنیا ته راغې ده ته له پلاره د پیرۍ درجه په میراث پاتې شوه دنیوی علوم یې په لویدیځ او دینی یې په عراق کې ولوستل. مصر او سعودی عرستان ته هم د دې مقصد لپاره تللی دی. په انګریزی، جرمنی، پښتو او دری ژبو روانې خبرې کولی شی. دویم واده یې د نادرشاه له یوې خپلوانې سره شوی دی.

گیلانی په ۱۹۷۳ کال کې د سلطنتی نظام تر رنګیدو پورې د ظاهر شاه غیر رسمی سلاکار و. تر اوسه هم د پخوانی پاچا په کورنۍ سره تینګ اړیکی لری.

گیلانی په افغانستان کې د اپریل انقلاب تر بری پورې چندان په مذهبی چارو کې نه واخته، خو له سلطنتی کورنۍ سره یې نږدې اړیکو او د پښتنو قبایلو له روحانی مشرانو سره پراخ تماس او دغه راز خپلې مادی شتمنۍ، له پاکستان سره د ګاونډیو ولایتونو د پښتنو قبایلو په منځ کې پوره اعتبار ورکړی و.

د جلال آباد ه شاو خوا کې یې له پلاره پراخې زمکې ورته په میراث پاتې شوې. دغه راز د قره قل پوټکو د صادراتو، په مرکز کې د «پیژو» موټرو پلورنځی او سر بیره پردې په کابل، کندز او د هیواد په نورو ښارونو کې د غیر منقول ملکیت له درکه هم ورته کافی عایدات په برخه کیدل. د انقلاب په درشل کې د گیلانی شخصی ملکیت د اوو میلیونو امریکایی ډالرو په اندول تخمین شوی و.

گیلانی او د هغه د کورنۍ غړیو د کابلی شتمنو اشرافو په دود ژوند کاوه. کله

چې په ننګرهار کې د ګیلانی شتمنی په ۱۹۷۸ کال کې ملی شوه نو هغه بیا پاکستان ته وتښتید.

« د افغانستان د ملی اسلامی محاذ » مشر د نظریو له پلوه معتدل مذهبی - سیاسی شخصیت دی. سلطنتی کورنۍ ته له ښکاره تمایل سره سره هغه د نوی دول « اسلامی دیموکراسی » او په اسلامی اصولو بنا یو حکومت او یوه جمهوری دولت د جوړولو پلوی کوی. ګیلانی د اسلامی حزب د مشر ګ. حکمتیار افراطی حرکاتو ته په کرکه کتل او هغه یې هسې « ځان ښودونکی » او نادان باله.

ګیلانی په ۱۹۷۹ کال کې افغانستان ته د شوروی پوځونو لیږل سخت وغندل او ټول مسلمان یې له موږ سره نه پخلا کیدونکې مبارزې ته راوبلل.

د ګیلانی چارچاپیر په لویدیځ کې روزل شوی شخصیتونه او دغه راز هغه پخوانی پوځی افسران او دولتی مامورین راټول شوی چې د انقلاب په کلونو کې له هیواد ، تښتیدلی او اوږده موده یې د کابل له رژیم سره په وسله واله مبارزه تېره کړې ده.

نه پخلا کیدونکی اپوزیسیون

شوروی پوځی قوماندانی په افغانستان کې د خپل حضور په ټولو نهو کلونو کې پرله پسې مبارزه کوله چې د مجاهدینو لویې او وړې ډلې ځان ته راماتې کړی، خو د اپوزیسیون زیاتې برخې له دغسې تماسونو څخه په کلکه پرهیز کاوه. د وخت په تېریدو سره (دغې ډلې) د « نه پخلا کیدونکی » لقب وګاټه.

د نه پخلا کیدونکی اپوزیسیون د هڅو لوری د مجاهدینو په وړاندې د دوو

پرتو د ندو له مخې ټاکل کیدای شی. لومړی دنده، په افغانستان کې د سیاسی بې ثباتۍ منځ ته راوړل وو. دویمه دنده د انقلابی رژیم نسکورول وو. د دې هدف لپاره نه پخلا کیدونکی اپوزیسیون بښې ډیرې هڅې کولې چې د اوږدې پارتیزانی جګړې په منظور ځواکونه راټول او لازیات کړی.

دښمنانو له شوروی عسکرو او حکومتی پوځیانو سره د جګړې په ډګر کې خپلې لویې ماتې د هیواد پر خلکو او افغانی عسکرو د ایدیالوژیکی اغیزې د پیاوړتیا په مرسته جبران کولې.

یاغیانو د حکومتی مقاماتو په پرتله یو شمېر ټولنیزې لانجې ډیرې بښې هوارولې. مثلاً د مجاهدینو تر لاس لاندې سیمو کې د نویو بښوونځیو پرانیستل. مسعود په پنجشیر کې له جومات نه د بښوونځی کار اخیستلو ته اجازه ورکړه.

دښمنانو خپلې واکمنۍ ته د قانونی بڼې دور کولو له پاره په ځینو ولایتونو کې په وازکومی جار واهه چې هغوی د دولتی مامورینو، د پوځ او ځارندوی د افسرانو له خپلوانو نه درندې جریمې اخلی. د دغې جریمې اندازه د دوواو دریو زرو افغانیو تر منځ وه.

نه پخلا کیدونکی اپوزیسیون له ورانکارو او تروریستی متودونو نه پراخه ګټه اخیستله. د ددغو اقداماتو لوی هدف د سیمې دوګړو ډا رول او د انقلاب ضد ټولنیز بنسټ پراختیا وه.

د یادولو وړ ده چې مجاهدینو دایتایمې سیزې له ینمایی نه د تروریستی کارونو د سرته رسولو په مقصد د لسو او شپاړسو کلونو ترمینځ ماشومانو او

تنکیو زلمیانو نه پراخ کار اخیستل پیل کړل. مثلاً مور ته معلومه شوې وه چې د بغلان په ولایت کې له شلو تنکیو زلمیانو نه یوه ورانکاره ډله راجوړه شوې ده. هغوی نه یوازې د ولایتی مقاماتو او شوروی افسرانو کلکه ځارنه کوله، بلکه ځینی وختونه به یې ډیر خطرناک تروریستی اعمال هم سرته رسول.

د وخت په تیریدو سره مجاهدینو د ورانکارو عملونو د سرته رسولو په مقصد د افغانی وسله والو پوځونو او ځارندوی او ان د شوروی عسکرو له یونیفورم نه هم کار اخیستل پیل کړل. دښمنانو ډیر ځله د ځلویښتم لښکرد بدنامولو په منظور زمور د پوځیانو کالی اغوستل او بیا به په لارو کې دربدل او داسې به یې ښودله چې گنې د (شوروی) ساتونکې پوستې یا گزمې غړی دی. په دغه وخت چې به هره ترانسپورتی وسیله، د دوی لاس ته ورغله تالاکیدله (؟ د. ج)

دښمنانو خپل پوره وس کاوه چې د ښارونو اوسیدونکو ته د خوړو او نورو ضروری شیانو په رسیدلو کې زیات خنډونه رامنځته شی. د حکومت له اقتصادی کړنلارې نه د خلکو د ناراضه کولو په غرض، یا غیانو ستر و ښاری مرکزونو ته تللې لارې تل بندولې او پرهغویې د غنمو، لرگیو او داسې نورو شیانو وړلو ته اجازه نه ورکوله. مثلا: د خوست لویې اولسوالی ته د شیانو په رسیدو کې د بندښت د پیدا کولو په غرض، هغوی نه یوازې سیمې ته ورغلې ټولې کورنۍ لارې، بلکه هغې خواته له پاکستان نه ورغلې لارې هم بندولې.

د نه پخلاکیدونکی اپوزیسیون د اقتصادی ورانکاری په سیاست کې غټ رول د صنعتی موسسو د عادی کار په جریان کې د خنډونو پیدا کولو رول لو باوه.

مثلاً د پروان په ولایت کې یاغیانو چې د څارندوی کالی یې اغوستی وو ، کارګران لوټول او ډارول ، د بګرام د هوایی ترمیم ځای تخنیکی کارکوونکی او انجنیران تر ټولو زیات تر فشار لاندې نیول شوی وو . سره له دې چې شوروی پوځیانو سخت امنیتی تدبیرونه نیولی وو ، د مجاهدینو د پرله پسې اقداماتو په وجه مورږ ونه کړای شول ، داسې شرایط رامنځته کړو چې د غه فابریکه په خپل پوره توان کار وکړی. د فابریکې تولیدی وړتیا له جګړې نه د مخکې وختونو په انډول په سلوکې اتیا راټیټه شوه. دغسې یو حالت د نغلو د بریښنا په فابریکه ، د ګلبهار په نساجۍ او د افغانستان په نورو تولیدی موسسو کې هم رامنځته شوی و .

د نه پخلاکیدونکی اپوزیسیون لویه هڅه دا وه چې د هیواد په دولتی موسسو او وسله وال پوځ کې خپل استخبارات ایجاد او پیاوړی کړی. دښمنانو غالباً د داوطلبو (سرتیرو) په بڼه نفوذ کاوه. چې څنګه به د پوځی ښوونې او روزنې دوره تیره شوه ، د دغو کسانو یوه برخه به له خپلو وسلو سره مخالفینو ته ورتښتیده او بله برخه به یې په پوځ او څارندوی کې د ورانکارو عملونو د سرته رسولو په منظور پاتې شوه.

مجاهدینو د څلویښتم لښکر خلاف په جګړو کې د لاس ته راغلې تجربې په مرسته د پارتیزانی جګړې د پرمخ بیولو طریقې لانورې اصلاح کولې. مثلاً هغوی د اتیایمې لسیزې په اوا سطو کې ارشول چې خپلې لویې ډلې منحل کړی او اساسی ځواکونه د کوچنیو ډلګیو په بڼه د خلکو د اوسیدو په سیمو کې ځای پرځای کړی. مورږ ته پته ولګیده چې کلیوته د باندونو له نفوذ سمدلاسه وروسته اسلامی

کمیټې یا د نه پخلاکیدونکی اپوزیسیون د واکمنې ارګانونو هم دغو ځایونو ته په لیږد یدو پیل کاوه. د دغو کمیټو مشرانو د خپل نفوذ په سیمو کې له دولت سره په مرستې تورنو کسانو او یا هغه چا خلاف چې له دښمن سره له پراخې مرستې نه یې سرغړولی و، علنی اسلامی محکمې دایر ولې.

دغه راز ایران او پاکستان ته د (پوځی) زده کړو او هم د وسلو او مهماتو د لاس ته وړولو په منظور د ډلو استول چټک شول. دښمنان د اپریل اومی په میاشتو کې بیرته افغانستان ته راستنیدل. اوږدو جګړو ښودله چې یوازې همدغو ډلو د شوروی او حکومتی عسکرو خلاف په جګړه کې تر ټولو زیاته سر سختی او فعالیت څرګند اوه.

د افغان - پاکستان له ګډې پولې نه د تیروشویو اساسی لارو د بندولو لپاره، زمور له هڅو سره جوخت، دښمنانو د وسلو د لاس ته راوړلو په منظور د لنډو لارو د پیدا کولو لټه هم پیل کړه. سربیره پردې د احتمالی خطر د مخنیوی لپاره دښمنانو د مختلفو کاروانونو په لیږلو پیل وکړ. په دغو کاروانو کې به د بیلابیلو ګوندونو غړی شاملیدل. دا د مختلفو (جهادی) تنظیمونو د همکارۍ د منځ ته راوړلو په غرض د هڅو یوه کوچنۍ لړی وه. په دې لړۍ کې د اطلاع ورکول او مخابرې واحد سیستم او دغه راز د بیلابیلو باندونو د مشرانو تر منځ د اطلاعاتو د حتمی تبادلې خبره راتلله.

دیاغیانو د وسلو او مهماتو یوه قوی سرچینه په خپله حکومتی پوځیان، تښتیدلی یا تسلیم شوی سرتیری او افسران وو. اشرارو د حکومتی پوځیانو د

خیانت په نتیجه کې نه یوازې سپکه وسله. بلکه هاوانونه، لنډتوپونه او دغه راز وسله وال ګاډی هم تر لاسه کول.

صبغت الله مجددی

د ۱۹۸۶ کال د جولای په ۱۸ د افغانستان دموکراتیک جمهوریت اختصاصی انقلابی محکمې د مخالفینو یو شمیر نامتو مشران په اعدام محکوم کړل. د هغو کسانو په ډله کې چې په څه نامعلوم علت په اعدام نه وو محکوم شوی، یو هم د «افغانستان د ملی نجات جبهې» مشر صبغت الله مجددی و. عجب تصادف: په کابل کې د اختصاصی انقلابی محکمې له پریکړې یوه اوونۍ وروسته له مرګ نه بچ شوی مجددی د «اوود ګونی اتحاد» د عالی شورا د پریکړې له مخې د یوې بلې دریې میاشتنۍ دورې لپاره د هغې رئیس وټاکل شو.

مجددی په ۱۹۲۱ کال کې زیږېدلی دی. هغه د افغانستان په یوې ډیرې اغېزمنې خاندانی سلسلې یعنې حضرتانو پورې اړه لري چې د پیغمبر (ص) اولاده ګڼل کیږي. د مجددی تېر د عربی هیوادونو په تیره د سعودی عربستان له شتمنو کورنیو سره د خپلوی د اړیکو په ګډون کلک او رنګارنګ اړیکی او دغه راز د لویدیځې اروپا او امریکا له سیاسی او تجارتی کړیو سره پراخې او ډیرې نږدې شخصی پیژندګلوی لري. له افغانستان نه بهر د مجددیانو د تېر له اتو سوو زیات غړی اوسیږي چې زیات یې د اسلامی افراطیونو په سیاسی فعالیتونو کې فعاله ونده لري.

د صبغت الله مجددی پلار محمد مسعود مجددی او نیکه فضل محمود مجددی د افغانستان په وتلو مذهبی او سیاسی شخصیتونو کې راځی. د غو سنتی اسلامی شخصیتونو د ټولو هغو هڅو په وړاندې چې اسلام د ورځې له شرایطو سره برابر کړی، مقابله کړې ده. هغو په خپلو سیاسی هڅو کې تر هر څه لمړی پرمر تجعو اسلامی روحانیونو او شتمنو روشنفکرانو تکیه لرله.

د هیواد د ټولنیز ژوندانه پر بهیر د دغه ټبر د غړیو اغیزه خورا ستره وه. مثلاً: د صبغت الله مجددی بل نیکه محمد صادق مجددی له ۱۹۲۹ کال نه تر ۱۹۵۳ کاله پورې په مصر کې د افغانستان سفیر و. نومړی د یو شمیر عربی شیخانو له کورینو سره چې اوس اوس د سعودی عربستان په مشرانو کې راځی، ښه ټینګی اړیکی پیدا کړی وو چې له ځانه یې خپلې اولادې ته د میراث په توګه پریښودل.

صبغت الله مجددی چې د کابل (دینی) مدرسه په ښونځرو پای ته ورسوله نو په ۱۹۴۷ کال کې مصر ته لاړ او هلته یې د الازهر پوهنتون د اسلامی حقوقو په پوهنځی کې شپږ کاله زده کړې وکړې او د شرعیاتو د ماسټرۍ ډیپلوم یې په ښونځرو تر لاسه کړ.

وطن ته له ستنیدو وروسته مجددی د کابل په یو شمیر لیسو او پوهنتون کې په تدریس بوخت شو. هغه په جوماتونو کې د موعظو او په ټولګیو کې د تدریس په وخت کې عادی خلک او محصلین د حاکم نظام رنګولو او په افغانستان کې د «حقیقی اسلامی نظام» جوړولو ته رابلل. په همدې وخت کې مجددی څو کتابونه او د مسلمانانو په تامه څو ویناوې تألیف کړی.

مجددی د حکومتی ضد اقداماتو او دغه راز د هغه شوروی هئیت خلاف د ناوړه قصد د لمسولو په تور چې د افغانستان په کتنه بوخت و ، په ۱۹۶۰ کال کې په څلور کاله بند محکوم شو ، خو په زندان کې یې له څو اوونیو زیات موده تیره نه کړه او ډیر ژر خوشې شو . څه موده یې په کابل کې د سعودی عربستان د سفارت د ژباړونکی دنده درلوده او په همدې نامه د شپږو میاشتو لپاره د امریکا متحدو ایالاتو ته ولیږل شو .

په ۱۹۶۴ کال کې مجددی دوه کلن مهاجرت کوی او خپلې ټولې هڅې ټولنیزو او سیاسی کارونو ته وقفوی . په همدې وخت کې هغه د شرعیاتو د یوه عالم او د ژبور خبر لوڅ په نامه چې په پنځو بهرینو ژبو هم تسلط لری ، شهرت مومی . مجددی د مهاجرت په دې دوره کې خپل یو شمېر آثار د چاپ لپاره چمتو کړل لکه : « په اسلام کې سیاست » ، « منطق او فلسفه » ، « یووالی او د ایمان اساسات » . مجددی په دې کتابونو کې « د حقیقی اسلام د بیا ژوندی کولو او هغه ته د یر غلیزې (په بله ژبه جګړه مارې ب . ګ .) ځانګړتیا دورکولو » تبلیغ کاوه .

وروسته چې کله مجددی هېواد ته راستون شو ، نو د ده په مستقیم ګډون او لارښوونه په افغانستان کې د « اخوان المسلمین » په نامه د اسلامی ارتجاعی ډلې بنسټ کېښودل شو . لږ وروسته د دغې ډلې یوه بله څانګه د « ځوانو مسلمانانو » په نامه منځ ته راغله چې په مشرتابه کې یې د ص . مجددی په وړاندیز ګ . حکمتیار ته هم ځای ورکړل شوی و .

ص . مجددی د پاچایی حکومت له خوا د کیدونکو اصلاحاتو سخت مخالف و

اوله همدې امله يې د پاچا مخالفت ته هم ملا وتړله. په ۱۹۷۱ کال کې چې کله د پاچا يې استخباراتي اداري غړيو د مجددي يو نږدې ملګرې وواژه، نو هغه لومړی پاکستان او وروسته امريکې ته و تښتيد او هلته يې د څه مودې لپاره د «اسلام پيژندنې» درس ورکاوه. د پاچايي نظام د نسکوريدو په وخت کې په لندن کې و اوله همدې ځايه يې د «غير اسلامي ماهيت» له کبله د داود په نوي رژيم نيوکې پيل کړې.

د سلطنت له ړنګيدو وروسته مجددي په پاکستان کې د «اخوان المسلمين» د معتدلو غړيو له منځه د د اسلامي روحانيونو جمعيت (؟ د. ج.) په جوړولو اقدام وکړ.

په کابل کې د اپريل تر انقلابه مجددي په هالند کې اوسيده، څو ځله ډنمارک ته لاړ چې «د سکندناوي هېوادونو د اسلامي مرکز» د جوړيدو پر سر منځ ته راغلې لانجې غوڅې کړي. په ډيرو سکندناوي هېوادو کې يې د دغه مرکز د څانګو او دغه راز د جوماتونو په جوړولو کې شخصاً ونډه اخيستې ده. د ډنمارک او هالنډ په يو شمېر پوهنتونونو کې يې د اسلام د تاريخ په هکله لکچرونه هم ورکړي دي.

مجددي له افغانستان څخه بهر سياسي فعاليت هم له پامه نه غورځاوه. د ۱۹۷۸ کال په د سمبر کې په ډاګه د افغانستان دموکراتيک جمهوريت ټول مخالف ځواکونه د افغانستان د خلکو دموکراتيک ګوند خلاف د مبارزې لپاره يووالی ته راوبلل.

د ۱۹۷۹ کال په پيل کې د ح. امين په لارښوونه د مجددي (۲۱) خپلوان په

کابل کې چاناری شول. همدا خبره د دې سبب شوه چې صبغت الله پاکستان ته ستون شی. دی لومړی «دافغانستان دملی نجات جبهې» د انقلاب ضد ډلې په مشر تابه کې شامل شو او وروسته يې دهغې مشری په غاړه واخيسته.

د ۱۹۷۹ کال په مارچ کې مجددي دافغانستان دمسلمانانو په نامه خپله خطابيه خپره کړه چې هغې کې يې خلک «د کمونيستی ملحد رژيم خلاف جهاد» ته رابللی وو. د همدغه کال په مئی کې دافغانستان دانقلاب ضد ځواکونو د يوه استازی په توګه د امريکا متحدو ايالاتو ته لاړ او هلته د امريکا دحکومت دلوړ رتبه مامورينو له خوا ومنل شو.

دافغانی انقلاب ضد ډلو په منځ کې مجددی ته «په لويديځه طريقه» دافغانی لانجې د غوځولو دپلوی خطاب کېده. دده په لاس دخپل سازمان په ليکل شوی مرام کې ويل شوی چې د «جبهې» مقصد دافغانستان دخلکو دموکراتيک ګوند دنظام دنسکورولو او په اسلامی بنسټونو او خپلو دمرکراتيکو اصولو بنا دولت دجوړولو لپاره دټولو انقلاب ضد ځواکونو يو موټی کول دی.

د ۱۹۸۱ کال په نوامبر کې دافغانستان دحکومت خلاف دمبارزې داشکالو: متوددنو او نهايی اهدافو پر سر د مجددی او حکمتيار ترمنځ چې دغه وخت يې پوره شهرت موندلی و، اختلاف پيدا شو. له همدی امله مجددی «دافغانستان د مجاهدينو اسلامی اتحاد» ډله منځ ته راوړه چې په هغې کې ګيلانی، نبی، دوست محمد او نور هم شامل شول. په ۱۹۸۵ کال کې مجددی دامريکا او پاکستان په غوښتنه «دافغانستان د مجاهدينو اسلامی اتحاد» رنګ او له خپلې ډلې سره په

«اووه گونی» اتحاد کې ورګډ شو.

ص. مجددی بیا بیا او په ډاګه د افغانستان دخلکو دموکراتیک ګوند سره د یوه ائتلافی حکومت دجوړولو خبره رد کړې او تینګار بې کړی چې د نوی افغانی حکومت غړیتوب یوازې «دخپل هبواد او اسلام ژغورونکی مسلمان» ترلاسه کولی شی.

د مجددی دتیر دغږیو او چت تولنیز اعتبار د خورا پاملرنې وړ خبره ده. صبغت الله دیارلس ورونه لری. په دې ډله کې یې شپږ خپل او پاتې یې میرنی دی چې له دوو نورو میندونه دنیا ته راغلی دی.

عزت الله مجددی چې په امریکا کې یی زده کړې سرته رسولې دی، دامریکا دحکومت مامور دی او اوږده موده له امریکا او سعودی عربستان سره د صبغت الله د نږدې کولو وسیله وه.

قدرت الله او اسدالله مجددی د طب ډاکټران دی چې په امریکا کې دایمی استوګنه لری او په افغانی انقلاب ضد فعالیتونو کې یې کومه ځانګړې ونډه نه وه اخیستې.

خلیل الله مجددی د انجنیری زده کړې کړی او اوږده موده په استرالیا کې اوسیدلی دی. وروسته بیا سعودی عربستان ته ولیږدیده او همدلته د نورو په مرسته د «اسلامی کانګرس» دسازمان دمرستو دصندوق مشر شو. دغه سازمان دافغانستان په خاوره کې دانقلاب ضد ډلو دهڅولو او لمسولوکې فعاله ونډه لرله.

حشمت الله مجددی په یوه غټ سوداګر بدل شوی او دهانکانګ له بانکونو او

موسسو سره نږدې اړیکی لری. ډیره موده په پاکستان کې اوسیده او دلته په گوندی چاروکې د صبغت الله مرستیال اوله هغه وروسته «دافغانستان دملی نجات جبهه» کې دویم سړی و. هغه چې تروروستی بری دافغانستان له حکومت سره دمبارزې پلوی و، له بهرنیو اسلامی کړیو او افغانی انقلاب ضد مرکزونو سره یې د «ملی نجات جبهې» اړیکی تینگې کړی دی.

د یوه روسی لرغونی متل له مخې، هره کورنۍ یو بدفطرته غړی لری. د مجددیانو په کورنۍ کې دغه ځانگړتیا درحمت الله مجددی په برخه وه. په ۱۹۶۰ کال کې همده سلطنتی استخباراتی مامورینو ته خبر ورکړ چې صبغت الله د شوروی هئیت خلاف د ناوړه قصد په تیارولو بوخت دی. رحمت الله ددغه خیانت له امله د خپل تېر له نفرین سره مخامخ شو. هغه وروسته دخپلې غوښتنې له مخې شوروی ته واستول شو چې همدلته د لمبا په وخت کې ډوب اومړ شو.

نعمت الله او ضابط الله مجددی «دافغانستان دملی نجات جبهې» دمشر تابه غړی وو چې په وارسره یې د «جبهې» لپاره د وسلو په پیدا کولو او ویشلو او دغه راز دکابل په حوزه کې د خپل تنظیم دفعالیتونو مسؤولیت په غاړه درلوده.

سربیره پردې په سعودی عربستان کې د صبغت الله د تره زوی او یوه خورهم اوسیږی چې د حاکمې سلطنتی کورنۍ د یوه شهزاده میرمن ده.

له خپلو زامنو سره د صبغت الله اړیکی ډول ډول دی. له نجیب الله (مجددی) سره چې د طب ډاکټر او دامریکا دایمی استوگن دی. له اسلام نه دهغه دمستند انحراف له امله عملاً اړیکی نه لری (؟ د. ج.) عصمت الله تل د پلار

دغانګړی استازی په توګه دهغه تر څنګ وی او عزیزالله د اسلامی حزب د تروریستانو په لاس وژل شوی چې د صبغت الله مجددی او د اسلامی حزب د مشر حکمتیار ترمنځ د پخوانی سختې دښمنی د لاژورتیا سبب شو.

په زړه پورې ده چې دافغانستان دانقلابی دولت د قومونو او قبایلو دچارو وزیر سلیمان لایق هم عملاً د مجددیانو د کورنۍ غړی ګڼل کیږی، ځکه چې خوریې - مهرنګار د صبغت الله مجددی میرمن وه. په دې ترتیب د صبغت الله یو شمېر زامن د سلیمان لایق خوریونه کیږی. له مجددی سره د لایق د خپلوی په لړکې مورته داخبره هم ښکاره وه چې د صبغت الله خلاف د لایق د بیابیا پوچوخبرو په وجه، نوموړی د مجددی د تېر غلیم بلل شوی و. د ټولو انقلابونو منطق، په تیره بیا که هغه د ختیځ په کوم هېواد کې منځ ته راغلی وی، دادی چې وروربه د ورور او پلار به دزوی خلاف وسله اوچتوی.

یوه ورځ له ماسره په شخصی ملاقات کې د سلیمان لایق له خولې داخبره راووتله چې د مجددی تېر په هکله دهند په ارشیف کې دانګلستان د «انټلجنس سرویس» اسناد شته چې ښیی، ددې کورنۍ کوم غړی په څه پیمانه له انګریزی استخباراتو سره اړیکی لرل. لایق شکایت وکړ چې د دغو اسنادو د لاس ته راوړلو لپاره دده له هڅو سره ببرک کارمل سخت مخالفت کاوه ځکه چې ډاربده په دې صورت کې به له انګریزی استخباراتو سره دانقلابی حکومت د یو شمېر غړیو او دهغو د نږدې اطرافیانو پخوانی اړیکی بر بنډې شی.

په مجموع کې د مجددی تېر د یر غړی او په دې ډله کې صبغت الله په بیلابیلو

کلونو کې د خپلې کورنۍ د سیاسي، تجارتي او مالي اړیکو او دغه راز د مذهبي اعتبار له برکته عملاً د مجاهدینو د ټولو مشرانو لارښوونکی او مذهبي پیران ګڼل کیدل او خپله صبغت الله د نه پخلاکیدونکی اپوزیسیون تر ټولو اغیزمنه څیره وه. مجددی د هیواد په ختیځ او جنوب ختیځ کې د میشتو پښتنو قبایلو په منځ کې او دغه راز د سمنګان او بغلان په ولایاتو کې زیات پلویان لرل. «د ملی نجات جبهې» دوسله والو غړیو شمیر په منځنۍ ډول تر لسو زرو تنو اوښته چې د هغوله منځ څخه پنځوس ډلې راجوړې شوې وې.

خبره باید نوره غوڅه شي په ۱۹۸۵ کال کې شوروی مشران له افغانستان نه د ځلوېښتم لښکر دایستلو د احتمال څېړلو ته اړشول. د اکال د ډیرو سختو جګړو شاهد و. له یوې خوا د اپوزیسیون اوله بلې خوا د شوروی او افغانی عسکرو مقابلې خپل اوج ته ورسیدې. تقریباً هره ورځ مورته نوی او لانوی تلفات اوښتل، خود شوروی له زیاتېدونکې مرستې سره سره، په حالاتو کې یو کوچنی مثبت بدلون هم نه راته.

د افغانستان دموکراتیک جمهوریت سیاسي او پوځي مشرانو د هیواد پرحالاتو د کنترول او د خپلې دندې د سمې اجرا وس له لاسه ورکړی و. د مشخصو اقداماتو پر ځای به ترې په انترناسیونالیزم او د افغانستان په روښانه راتلونکې د اعتقاد په هکله ښکلې جملې او ویناوې اوریدل کیدې.

خو عادی افغانانو یوه ساده نیکمرغی پیژندله او هغه سوله وه. په افغانستان کې له پیړیو راهیسې، تل د قبیلو ترمنځ اختلافونه او کله کله کوچنی شخړې

پیښې شوې دی. دغه ټول شیان بیخی عادی بریښېدل، خو که یو ځل د کوم بهرنی پښه دې هیواد ته ورننوتې ده، نو بیا حالا تو بیخی بله بڼه غوره کړې ده.

په افغانستان کې زمور د پوځی اړتیا وو دلیرې کولو او د دغه هیواد د رژیم په ساتنه سخت زیات لګښت کېده. دغه وړیا مرستې په داسې وخت کې ترسره کیدې چې خپله شوروی اتحاد د ډیرو مهمو خوراکی موادو له زیات کمښت سره مخامخ و.

افغانستان ته له دې ځایه دهر شی سیلاب روان و. خبره دې ځای ته ورسیده چې د شوروی اتحاد بیلابیلو ولایتونو ته دافغانستان دولایتو «قیمومیت» په غاړه واچول شو. مثلاً: دولګاګراد ولایت د غزنی ولایت د قیمومیت په لاس کې نیولو سره مجبور و، بوره، غنم، غوړی، تخنیکی وسایل او ماشین آلات هغه ځای ته برابر کړی. انترناسیونالیستی روزنې اجازه نه راکوله چې مثلاً د دریو یا پنځو ښوونځیو او کلیوتر منځ د څوکیلو متره سړک د جوړولو په هکله دافغانانو تینګې غوښتنې له پامه وغورځول شی. عملاً خبره دا ده چې باید شوروی قیم ولایت دافغانستان دمربوطه ولایت د ټولو ستونزو د حل لپاره متې رانغښتې وای. ترکومه ځایه چې ماته پته لګیدلې، داکار د شوروی ولایتو او د جمهوریتو د واکمنو لپاره لوی عذاب ګڼل کیده. دغو واکمنو په کابل کې له لنډې د مې وروسته، په ځان پورې د ټرلیو افغانی ولایتونو پر لور د تګ په درشل کې په ښکاره داګیلې کولې.

له دې حقیقت نه هم سترګې پټول نه دی په کار چې په نړیوال ډګر کې هم د ډیرو

لانجو پریکړه ځکه د شوروی اتحاد په ګټه نه تمامیدله چې شوروی عسکر لا په افغانستان کې دیره وو.

د څلویښتم لښکر قوماندانی او د شوروی اتحاد د دفاع وزارت او پراتیفی ډلې چې هغه وخت په کابل کې دیره وه، پرله پسې وړاندیزونه کول او داخبره یې په ګوته کوله چې نور باید د پوځونو د ایستلو خبره غوڅه شی. دافغانستان له لانجې نه زمور لپاره د خلاصون بله لار اصلاً نه وه. دوسلې په زور په افغانستان کې مقصد ته درسید لو امکان نه و. مهمه خبره دا وه چې زمور دهیواد والو وژنې دوام درلود خو هیڅوک نه پوهیدل چې داولې او د څه لپاره؟

له نښو نښانو څخه داسې بریښی چې د م.س. ګرباچوف تر لاریښود کیدو مخکې هم زمور دهیواد د چارو واکمنان په پای کې په دې قانع شوی وو چې نورنو باید افغانستان ته د «انترناسیونالستی» مرستې موضوع غوڅه کړی شی. ښایی دهغو شوروی مشرانو له ډلې نه چې افغانستان ته د پوځونو د لیږلو په پریکړه کې یې لاس درلود، دهیڅا په ذهن کې هم نه ګرځیده چې مور به نږدې لس کاله په دغه هیواد کې تم کیږو. تر کومه ځایه چې اوس پته لګیدلې، په ۱۹۷۹ کال کې داګڼل کیده چې په دغه هیواد کې زمور د پاتې کیدو اعظمی موده له دوو - دریو کلونو څخه نه شی زیاتیدلی، خو په ۱۹۸۵ کال کې څلویښتم لښکر دادی د پنځه کلنې جګړې تجربه لرله.

شک نه شته چې زمور مشران نور په دې پوهیدل چې دافغانستان غوټه اوس داسې پیچلې شوې چې یوازې په پوځی حضور سره دهغی هواری ناشونی دی، خو

شک لرم چې پخوانۍ رهبرۍ دې دعسکرو دایستلو پریکړه کړی وای. د شوروی حکومت او دګوند د مرکزی ارګانونو ډیر غړی نه یوازې په ایدیالوژیکی مزو او دخپل دولت دامنیت دساتنې په هکله د زړو سندرو په جادو ترلی وو، بلکه له افغانی مشرانو سره یې نږدې شخصي اړیکی هم لرل. دافغانی انقلابی مشر تا به هیڅ غوښتنه له پامه نه غورځول کیده. سړی ته په ذهن کې داسې ورګرځیدله چې د شوروی مشرانو په نزد ترټولو لوړ بشری ارزښت همدغه انترناسیونالستی مرسته ده او بس. زمور د سرتیرو مرګ او افغانستان ته د ډیرو مادی نعمتونو په استولو سره خپل اقتصاد نه زیان رسول دوی ته د ارزښت له پلوه په دویمه درجه کې راتلل.

مور مسلکی پوځیان به د ځینو پوځی عملیاتو د پلان د تیارولو په وخت دې حقیقت ته پوره متوجه کیدلو، د ساری په توګه: د څلویښتم لښکر قوماندانۍ ته امر کیده چې په یوه خاصه سیمه کې دې دجګړه ییزو عملیاتو دسره ته رسولو لپاره تیاری ونیسی. داسې امرونه له مسکوه رارسیدل. په داسې حال کې چې سالم عقل حکم، کاوه چې په خپله په افغانستان کې په جګړه بوختو افسرانو ته غوره معلومیږی چې په کوم ولایت کې څه ډول جګړه ییز عملیات سرته رسول په کار دی.

مور ښه پوهیدو چې دمسکو د دې امرونو اصلی ریښه چیری ده. ډیر ځله مور اړکیدلو چې له درواغو څخه کار واخلو، خو دایوه سپیڅلې فریب کاری وه چې په دې توګه د خپلو سرتیرو دمرګ مخه ونیسو. کله چې به افغانی مشرانو دهیواد په

دې یا هغه سیمه کې د جګړه ییزو عملیاتو د سرته رسولو غوښتنه وکړه، نو موږ به تر هر څه لومړی د حالاتو جاج واخیست او معلومه به مو کړه چې دا عملیات د څه لپاره ضروری دی او ایا ریښتیا ورته اړتیا شته او که نه؟ زیاتره به موږ له دغې څیړنې وروسته منفی ځواب ورکاوه، خو افغانانو هم پرله پسې ټینګار ته دوام ورکاوه. هغوی خپلې غوښتنې د شوروی سفارت او یا په کابل کې د ک.ګ.ب. د دفتر له لارې مسکوته لیږلې او بیرته د امرونو او لارښوونو په بڼه موږ ته رارسیدلې، موږ په مختلفو پلمو او ان په نیرنګونو سره، داسې کول چې عملیات یوازې په پلان کې ونیسو او د مسکوله خولې نه ځان خلاص کړو. موږ به خبرورکاوه، مثلاً په پلانکې سیمه کې مو ستاسو د لارښوونې له مخې، داسې یا هغسې عملیات سرته ورسول.

زه په غوڅه توګه ویلی شم چې د څلویښتم لښکر وړاندیزونه او بیا بیا غوښتنې وې چې د هیواد مشران یې اړکړل، په افغانستان کې د شوروی پوځونو په باب خپل دریځ بدل کړی او په پای کې پریکړه وکړی چې وړاندې باید څه وشی؟

زما په نظر په دې هکله نیول شوې پریکړه، یوازینۍ ممکنه اوسمه پریکړه وه: شوروی پوځی حضور باید پای ته ورسول شی. له دې پرته موږ مجبور وو، د څلویښتم لښکر د پرسونل شمېر دوه برابره کړو. یوازې د افغان - پاکستان دګډې پولې د تړلو لپاره زموږ په حساب لږ تر لږه اتیا زره عسکرو ته اړتیا وه. عملاً موږ مجبوریدو چې په افغانستان کې د ځان لپاره خپلې سرحدی قوا وې راجوړې کړو. د پوځ بلې برخې باید د هیواد د ننه د پاتې شویو مخالفو ډلو بقایا وې له منځه

ورې وای.

په ۱۹۸۵ کال کې د شوروی پوځی ځواکونو د ایستلو د موضوع ځانګړې څېړنه پیل شوه. وروسته وروسته دا موضوع په لوړه سطحه وڅېړل شوه او نړیواله بڼه یې غوره کړه. د څلویښتم لښکر افسرانو او سرتیرو د ژنیو د خبرو اترو پایلې په مینه تعقیبولې ځکه چې هغو ترهر څه لومړی په مورې پورې اړه لرله. هیڅوک نه پوهیدل چې د ژنیو خبرې اترې به په څه پای ته ورسیږی، خو مهمه دا وه چې هغه بالاخره پیل شوې.

د څلویښتم لښکر په قرارګاه کې

هیڅ پوځی جزو تامونه، نه شی کولی چې د قرارګاه له سمې نقشې پرته دقیق فعالیت وکړی. په کابل کې د څلویښتم لښکر قوماندانۍ هم دکار خپلې ځانګړې نیاوې لرلې.

په افغانستان کې د شوروی پوځونو د حضور له هماغو لومړیو شیبونه، ان د څلویښتم لښکر دلومړنی قوماندان جنرال توخارینوف له خوا هر سهار د غونډو دسرته رسولو دود منځ ته راغلی و، چې دهغو په لړ کې موجود حالات څېړل کیدل او د پوځی قطعاتو دراتلونکې ورځنۍ دندې مشخصې کېدلې، دې دندو دورځې او شپې دوختونو لپاره توپیر درلود، ځکه چې د شپې د تیارې په خپریدو سره د خطر اندازه هم زیاتېدله. د دې غونډو د جوړولو مسؤول معمولاً د لښکر درستیزوال و، وروسته چې کله زه د لښکر قوماندان شوم نو بیا دا چارې ما په خپله په غاړه واخیستې.

کـه چیـرې به حـالات ډیر خـرپر شـول نو بیـا پر قـومـاندان سـربیـره ، دلښکر درستیزوال ، دهرې فرقې قوماندان او دهغې درستیزوال هم دخپل مسؤولیت په سیمه کې د پریکړې د کولو حق درلود . که چیرې به دغه مقامات غایب وو ، نو بیا دلښکر یا فرقې داستخبارا تی چارو مسؤول د دغو کارونو صلاحیت درلود .

غونډه دسهار په اوو بجود استخبارا تو د څانګې د مشر په دې رپوټ پـل کیده چې دهغه مربوطو افسرانو کوم کوم شیان روښانه کړی دی . دهمدغو ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ حالات تحلیل کیدل او دلویو پوځی څانګو او ادارو د مشرانو دندې تاکل کیدې .

ترټولو لومړی مور د هغو کارواتو او باندونو خلاف مبارزه کوله چې د پاکستان او ایران له خاورې یې نفوذ کاوه . وروسته مو دهغو سیمو حالات څیړل چې دوسلو اومهماتو زیرمې په کې وې ، یا نوې دجوړیدو په حال کې وې . دغه سیمې مور ته ښې معلومې وې او د څلویښتم لښکر لپاره ترټولو زیاتې خطرناکې سیمې ګڼل کیدې .

سهارنیو لنډو غونډو زیاته پاملرنه او دقواوو تمرکز غوښته په ټول افغانستان کې پر څلویښتم لښکر سربیره ، دافغانستان دوسله وال پوځ ، څارندوی او خاد قطعاتو هم فعالیت درلود . مور مجبور وو ، د پریکړو د نیولو په وخت کې دهغوی موقعیت ښه مشخص کړو او مثلاً داسې نه شی چې دافغانی اردو کومه قطعه له دښمن سره اشتباه او دشوروی هوایی ځواکونو تر بمباریو لاندې راشی او یا برعکس پرې نه وړدو چې دافغانستان هوایی ځواکونه په شوروی قطعو ګوزارونه

وکړی. هره ورځ ډیر داسې نزاکتونه رامنځته کیدل چې پاملرنه اړول ورته حتمي بریښیدل مثلاً که به شوروی پوځي قوماندانۍ دغزنی په شمال کې د مجاهدینو له استازیو سره په خبرو پیل وکړ، سمدلاسه به په دغه سیمه کې جنګي عملیات بندیدل.

له سهارنیو غونډو وروسته دځلویښتم لښکر درستیزوالی تریوې تاکلې اندازې خپل اقدامات دافغانستان د دفاع وزارت له پلانونو سره سمبالول. مور به یا هغوی ته ویل چې مثلاً دځه وخت لپاره دې په تاکلې سیمه ګوزارونه نه کوی او یا برعکس په دغه سیمه دې خامخا ګوزارونه وکړی شی. ځینې وختونه مور غوښتل چې یوازې دافغانستان هوایی یا توپچی ځواکونه دې تاکلی هدف له منځه یوسی. لنډه داچې خبره داسې غوټه کېده چې هم زمور د پرسونل او هم دملکی خلکو دزیانمن کیدو مخنیوی په کې وشی.

زه بیا بیا په خیالونو کې دافغانستان خواته ورګرځم او دې نتیجې ته رسیږم چې په سختو حالاتو کې دکار دغه متود ډیر اغیزمن دی. دا یوازې په پوځ پورې اړه نه لري او په ملکی ساحه کې هم پلی کیدای شی. دواک او امکاناتو په یوه موټی کې راټولولو، دا امکان برابر اود چې ځواکونه پر خپل وخت تاکلې لورې ته سوق او یو شمیر ستونزې له هیلې سره سمې حل شی.

دکابل او هوایی ډګر دامنیت ساتنه

دځلویښتم لښکر دقوماندانۍ لپاره، یوه لویه ستونزه دافغانستان دپایتخت دامنیت ساتل وو. کابل دبیلابیلو تنظیمونو دفعالیتونو په مرکز بدل شوی و.

پایتخت په ټولو دولتونو، په تیره بیا خټیځ کې خورا زیات ارزښت لري. د تنظیمونو لپاره پر کابل د توغندیو، هاوان، یا لنډو توپونو، یا هسې د سپکې وسلې ډزې د عزت او اعتبار خبره وه.

د څلویښتم لښکر قوماندانۍ باید په داسې حالت کې، د مخالفینو له خوا د احتمالي یرغل خطر تر وسه وسه کم کړی وای. دا کار یوازې د بنار ګرد چاپیره زمور د اغیزې د سیمې د پراختیا او د بیلابیلو محافظتي کمربندونو د منځ ته راوړلو له لارې ممکن کیدای شول. په کار وه چې بهرنی کمربند په داسې یوه واټن کې جوړ شی چې له یوې لورې هم ویشتل شوې ګولۍ ان د بنار څنډو ته هم را ونه رسیدلی شی.

ورو ورو د کابل پر شاوخوا دفاعي کړۍ بشپړه راتاوه او فعاله شوه. لومړۍ کړۍ چې بنار ته نږدې پرته وه، په ۱۹۸۰ کال کې جوړه شوې وه. مور څو ثابتې پوستې ځای پرځای کړې، خو د ۱۹۸۰ کال په فبروري کې یعنې افغانستان ته زمور له ورتګ دوه میاشتې وروسته لومړنیو ډزو مور مجبور کړو چې د ډبر سنجبدلی عمل وکړو. له یوه کال نه بل ته د بنار امنیتي او دفاعي سیستم لا بشپړ بده او په ۱۹۸۵ کال کې هغه په بشپړه توګه پای ته ورسید. د غه سیستم له دوو کمربندونو څخه خورا مطمین جوړ شوی و او مقصد یې دا و چې د افغانستان حکومت، شوروی نماینده ګیو او د څلویښتم لښکر قوماندانۍ ته وس ورکړی چې د نسبي امنیت په فضا کې کار او فعالیت وکړی.

په لومړنی کمربند کې قوی پوستې ځای پرځای شوې وې. هغه یود له بلی په

داسې واټن کې پرتې وې چې په هغو کې ځای پرځای شویو ډلګیو کولی شول، ښارته ننوتلې ټولې لارې ډډزو په وسیله بندې کړی.

دلیرې کمربند پوستې دغرونو په څوکو کې جوړېدلې. دکابل دامنیت دساتلو ترځنګ یې بله دنده پرله پسې استخباراتی څارنې وې، څو ښارته دسترو باندونو دناڅاپی رارسېدلو او نړدې سیمو ته دتوغندیو او دهغو دویشتونکو دستګاوو دراوړلو امکانات له منځه یوسی.

سربیره پردې دښار دامنیت دلاښه تأمین لپاره مورډ هوایی څارنو ته هم دوام ورکاوه. الوتکې پرله پسې اوان دشپې له خوا هواته پورته کیدلې، ځکه چې غلیمانو هره شیبه خپل تاکتیک ته تغییر ورکاوه. مخالفینو هم له شرایطو سره ځانونه عیارول. مثلاً: که داتیایمې لسیزې په اواسطو کې زمورډ په چونیو او تأسیساتو دشپې یا ورځې په هر وخت کې انداختونه کیدل، نو دشوروی پوځ دوتلو په درشل کې بوازې دورځې له خوا زمورډ په سرتېرو ډزې کېدلې. دښمن پوه شو چې دشپې ډزې دهغوی لپاره ډیرې ګرانې دی، ځکه چې دتوغندی دانجن د آواز له مخې، دهغه دویشتلو ځای ژر معلومیدلی شو.

دهوایی ډګرونو ساتنه هم خورا سخته دنده راوخته. دځلویښتم لښکر دهوایی ځواکونو دامنیت دساتلو لپاره تل اړوو چې له ډیرو زیاتو ځواکونو نه کار واخلو. دهوایی ډګرونو دساتنې دځانګړیو کنډکونو په ترکیب کې د اصولنامې له مخې دري ټولی شاملیدل چې هر یوه یې یوازې اته جنګی ګاډی درلودل. شک نه شته چې هغوی ددومره لویې سیمې دامنیت له ساتلو څخه عاجزوو ا نه یې شوای

کولای، پر هوایی ډګر دانداختونو مخه بنده او د کښناستونکو یا پورته کیدونکو الوتکو او هلیکوپترو لپاره امنیتی سیمې منځ ته راوړی.

الوتلو یا کښیناستلو هم په افغانستان کې ځانګړی رنګ درلود. الوتکه په ډېره لوړه ارتفاع، معمولاً ۷۵۰۰ یا ۸۰۰۰ مترو کې دهوایی ډګرو سرته رارسېدله او بیا یې په مارپیچی توګه خپله ارتفاع کموله. له دغسې یوې الوتنې څخه سړی ته تل یو ناوړه احساس پیدا کیده: په نظر درته چې الوتکه له هماغې نورې نقطې څخه په زمکه «راغورځیږی». په سوله ییز وخت کې پیلوټ معمولاً په سړه سینه اوان له ډګرنه پنځلس کیلو متره وړاندې د کښیناستلو چمتووالی نیسی، خو په افغانستان کې ددې کار کول روانه وو. دلته نو په کار وه چې پیلوټ له خپل ټول مهارت نه کار واخلی او دسختې پیکی په وخت کې چې تقریباً پر امنیتی سیمه درالویدو بنه یې درلوده، دوروستی چرخ په وخت کې له دوه درې سوه مترو نه ځان دناستې کرښې ته وربرابر کړی،

زما په نظر ډیره ناوړه وضعه دبګرام په هوایی اډه کې منځ ته راغلې وه. ځانګړتیا په دې کې وه چې د بګرام هوایی ډګر ته له هرې خوا د کلیو لړی راغزیدلې وې. دښمنانو چې په دغو کلیو کې دعادی او سیدونکو تر پردې لاندې پټیدل، له هر فرصت نه یې په هوایی تخنیک او دغه راز دالوتنې پر کرښو دیر غل لپاره ګټه اوچتوله.

مورږ په بګرام کې خورا ډیر ځواک راټول کړی و: دلته مجموعاً څلور کندکه ځای پرځای وو. په کندهار، کابل او شینډنډ کې هم هوایی ډګرونه تقریباً دهمدغه

شمېر عسکرو له خوا ساتل کیدل....

په افغانستان کې رنګارنګ پېښې منځ ته راتللې. کله کله دښمنانو په بری سره هغه هوایی ډګرونه ویشتل چې زمور هوایی ځواکونه په کې ځای پر ځای شوی وو. کله کله د دغسې یرغلونو په نتیجه کې مور ته زیان هم رسیده. د دغې سلسلې وروستی یرغل ترکومه ځایه چې زما په یاد دی، د ۱۹۸۸ کال په دسمبر کې سر ته ورسید. له افغانستان نه د څلویښتم لښکر له بشپړې وتنې څو اوونۍ مخکې د کابل هوایی ډګر ډزو لاندې راغی. دغه هوایی ډګر په دو وجلا برخو ویشل شوی دی. د الوتنې د کرښې یوې خواته د نړیوال هوایی ډګ ادوانۍ په ګډون ټول اساسی تأسیسات واقع شوی دی. بلې خواته یې زمور هوایی غنډ ځای پر ځای وچې په کې ترانسپورتی الوتکې او هلیکوپټرې ناستې وې.

ګومان نه کوم چې په هغه بدمرغه ورځ (دښمنانو) رسا دهوایی ډګر همدا برخه په نښه کړې وه، خو سره له دې یو توغندی پر عسکری قاغوش ولګیده چې په کې د هوایی قوا او افسران او اره ضابطان اوسیدل. ډزې د غرمې د ډوډۍ په وخت شروع شوې. پیلوټان او کشافان په خونه کې ناست وو او په تلیزیون کې یې دروسیې د «دینامو» د تیم په ګډون دهاکی لوبې نندارہ کوله. توغندی دهمدې کوټې پر سر ولګیده، هغه یې سوری کړ، لاندې وغورځید او وچاوود. یوولس پوځی پیلوټان ووژل شول. له خپلو پوځی پیلوټانو سره د ژورې مینې په احساس اوله دې املې چې مور یې ژوندونه ژغورلی شو، د خپګان په څرګندولو سره مو دهغوی (جنازې دهیواد برلور) بدرګه کړی.

گلبدین حکمتیار

د گلبدین حکمتیار وسله والو ډلو په کلکه هڅې کولې چې دافغانستان دمرکزی برخو، په تیره بیا د کابل پرحالاتو اغیزمن وی. دهغو عمومی شمېر د یرشو زرو او پنځه سوو تنو ته رسیده چې په ۸۵۵ ډلو ویشل شوی وو. دهغو دفعالیتونو اساسی مرکزونه په بغلان، پروان، کاپیسا، کابل، وردګو، لوګر، کونړ، ننګرهار، پکتیا، زابل، کندهار او هلمند کې وو. دحکمتیار وسله وال کسان په نورو ولایتونو کې هم جنګیدل، خو دشمېر دکمو الی له امله یې پرحالاتو تاکونکې اغیزه نه لرله.

دافغانستان داسلامی حزب مشر گلبدین حکمتیار په ۱۹٤٤ کال کې زیږیدلی دی. هغه د کندز دیوه غټ زمکه وال په کور کې ستر شو. دحکمتیار نیکونه په قام خروټی پښتانه وو او همدې خبرې دهغه په وده او شهرت کې ستره ونډه لرلې ده. حکمتیار داپوزیسیون دډیرونه پخلا کیدونکو مشرانو په ډله کې و.

حکمتیار په ۱۹۷۱ کال کې په کندز کې د یوې اشرافی لیسې تر بشپړولو وروسته، د کابل پوهنتون دانجنیری په پوهنځی کې شامل شو. خو زده کړې یې ډیرې اوږدې نه کړای شوې. حکمتیار چې د محصلی په چاپیریال کې گام کښیښود نو سمدلاسه د «ځوانو مسلمانانو» سازمان له لارد سیاسی مبارزې ډګرته راووت. خپلې لارښوونکې وړتیا، داهدافو په لاس ته راوړلو کې زیار ایستنی او د «اخوان المسلمین» دافراطی سازمان له یوه مشر صبغت الله مجددی

سره نږدې اړیکو، حکمتیار ددې جوګه کړ چې «د ځوانو مسلمانانو» د لانبوونکې کمیټې په غړیتوب ومنل شي. سربیره پردې، حکمتیار د پوهنتون د محصلینو په اتحادیه کې د دغه سازمان استازی هم وټاکل شو.

داویایمۍ لسیزې په پیل کې، کابل پوهنتون، په افغانستان کې د انقلابي بدلونونو د راوستلو په عمده مرکز بدل شوی و. په پوهنتون کې هم د افغانستان دخلکو دموکراتیک ګوند، هم ماؤیستانو او هم افراطی اسلامی ډلو فعالیت درلود. دهمدغو اسلامی ډلو تراغیزې لاندې د «ځوانو مسلمانانو» سازمان منځ ته راغی او وار له واړه یې د پاچایی نظام خلاف او په افغانستان کې دیو اسلامی جمهوریت د جوړولو لپاره د مبارزې مټې راونغاړلې.

د دولت ټیکوونکی ارګانونه هم لاس ترزنې نه ووناست. په ۱۹۷۲ کال کې حکمتیار پاچایی کورنۍ او اشرافیت ته د سپکو سپورو په ویلو زندان ته واچول شو. په ۱۹۷۳ کال کې د پاچایی نظام په ړنګیدو سره نوموړی د زندان له عذابونو نه خلاص شو او بهر راووت.

حکمتیار هغه وخت د مخالف غورځنګ د مشرانو په ډله کې ځای ونیو چې په افغانستان کې د بدلون غوښتونکو سازمانونو خلاف ټیکوونکو اعمالو زور اخیسته. د ده تر مشرۍ لاندې ډلو سخته رازداری ساتله او همدې شی وس ورکاوه چې نه یوازې له بحرانی شیبو څخه روغ رمټ راووځی، بلکه ټاکلی سیاسی اعتبار هم تر لاسه کړی.

د روحانیونو خلاف دیو لړ ترټنو د پیل له امله چې خپله د محمد داود په

لارښوونه ترسره کیدې، حکمتیار په ۱۹۷۶ کال کې پاکستان ته تینښتې ته
اړشو. څه موده وروسته حکمتیار د «اخوان المسلمین» او «د ځوانو مسلمانانو»
دبنسټ پالوکړیو په یوکولو سره «دافغانستان اسلامی حزب» جوړ او مشری یې
په خپله غاړه واخیسته.

حکمتیار داسلامی حزب دراجوړولو په وخت کې دوتلو پاکستانی ټولنیزو او
مذهبی شخصیتونو سره نږدې اړیکی ټینګې کړی وې او هغوی ورته په خپل وار
ناپایه مالی مرستې ورسرکړې وې. دسیاسی ودې په هماغو لومړیو وختوکې
دحکمتیار په برخلیک کې ددغو کړیو دښه نیت دغه مرستې او ملاتړ ددې سبب
شو چې نومورې په راتلونکی کې پاکستانی پوځی کړیو او په تیرد بیا
استخباراتو توته میلان پیداکړی. له دې سره جوخت حکمتیار په ایران کې داسلامی
انقلابی غورځنګ وده هم له پامه نه غورځوله. هغه دخپلې سیاسی تګ لارې د
لاسمې طرحې لپاره دهڅو په لړکې په ۱۹۷۹ کال کې تهران ته سفر وکړ او څو
ځلې یې له خمینی سره وکتل.

په افغانستان کې د اپریل انقلاب له بری وروسته داسلامی ډلو او سازمانونو
ډیر فعال غړی پاکستان ته لاړل. حکمتیار هم په همدغه ډله کې و (؟ د. ج.)
دحکمتیار نظریاتی استقلال، دهغه دسیاسی افکارو ښکاره انقلابی ضد ماهیت
او په ګوندی چاروګې زړورتیا او کلک زړی دکډوالو بهیر دده خواته ورمات کړ،
خو ددې په څنګ کې دحکمتیار ځینې شخصی ځانګړتیا وې، لکه له خلکو سره
په چال چلندکې بنسټ پالنه، سخته لورتیا غوښتنه، له واک سره ډیره مینه او تر

یوې اندازې عجیب او غریب حرکات، ددې سبب شول چې هغه د انقلاب ضد نورو افغانی مهمو مشرانو په منځ کې تجرید شی.

په نویو شرایطو کې حکمتیار ونه کړای شو، دیوه اسلامی اصلاح غوښتونکی او قاطع سیاستمدار په توګه له مجددی سره اړیکی ټینګې کړی او همدا خبره د انقلابی ضد کړیو په منځ کې دهغه د لانور تجرید سبب شوه او دهغه د اعتبار او اغیز د نور زیاتوالی په لاره کې یې خندونه رامنځته کړل.

داتیایمې لسیزې په پیل کې حکمتیار د افغانستان د سیاست په ډګر کې نسبتاً نوې څیره ګڼل کیده. هغه زیاتره وخت د ډله ییزو پریکړو خیال نه ساته او د نورو مشرتابه ته یې غاړه نه ایښوده. داخبره ددې سبب شوه چې د د (اسلامی) غورځنګ نورانډیوالان پرده داغیزې د ښندلو لپاره د پاکستانی مامورینو لمن ونیسی. اسلامی حزب ته مالی او پوځی مرستې له همدغې لارې رسیدلې.

تقریباً د ټولو انقلاب ضد تنظیمونو له مشرانو سره د نظر اختلافونه، د پاکستانی مقاماتو له خوا پرله پسې څارنه او فشار او ان د دغه هیواد د جمهور رئیس ضیاالحق له خوا شخصی نیوکې ددې سبب شوې چې حکمتیار بیا بیا په ډاګه تهران ته د خپل ګوندی مرکز د لیږد ولو ګواښ وکړی.

د پوهنتون په دوره کې چې حکمتیار د سیاسی ودې په لړی سرکې و، هغه ته د افراطی خطاب کول سم نه بریښی. د خپلو سیاسی افکارو د تشکل په وخت کې هغه د ښی لاس د افراطی نظر یو پلوی نه کوله. د هغه پر اتلونکی دریځ د لویدیځ

مالی مرستو زیاته اغیزه وکړه، خوله دې سره سره داتیایمې لسیزې په پیل کې ګ. حکمتیار دافغانستان له حکومت سره دروغې جوړې دیوې لارې دموند لو لپاره دتماسونو دنیولو احتمال نه رداوه. مثلاً په ۱۹۸۳ کال کې هغه هڅه وکړه له قادر سره چې هغه وخت دافغانستان دملی دفاع وزیر و، دلیکونو تبادله وکړی. دغینو نورو شواهدو له مخې حکمتیار پخواهم څو وارله ح. امین سره لیده کاته کړی وو. امین دخپل ژوند په وروستیو وختوکې حکمتیارته په حکومت کې دشاملیدو وړاندیز کړی و، خو دکوم ناڅرګند دلیل پربنسټ، دغه وړاندیز رد شوی و.

حکمتیار دعقیدې له مخې سنتی مسلمان نه شی ګټل کیدای او په شرعیاتوکې ژورمعلومات نه لری. داوږدو کلونو په لړکې دهغه اعتبار دمجاهدینو دډیرې افراطی کړی په منځ کې خورالوړو. دحکمتیار ځینې شخصی ځانګړتیاوې لکه لوړتیا غوښتنه، حرص او ځان غوښتنه په دوو برخو یعنې د یونس خالص په ډله او «دافغانستان دمسلمانانو د آزادۍ سازمان» (؟ د.ج.) باندې داسلامی حزب دتوټه کیدو اساسی عوامل ګټل کیږی.

په مجموع کې حکمتیار دکابل رژیم دیوه ډیر ستر دښمن په توګه پیژندل شوی دی. داسلامی حزب وسله والو ډلو چې دلویدیځ د پوځی او مالی مرستو غټه برخه یې ترلاسه کوله. د اولسی واکمنۍ داستازیو او د اولس په منځ کې دهغو دملاتړو خلاف له سختې بیرحمۍ نه کار اخیست.

« کارمل لور په لوټه تیره کوی »

له ۱۹۸۵ کاله په افغانستان کې د شوروی اتحاد د دفاع وزارت د اوپراتیفی ډلې مشری جنرال والنتین ایوانوویچ وارینیکوف ته وسپارل شوه. د دې سړی په باره کې باید ځانګړې خبرې وکړم، ځکه چې هغه د محدودو پوځی ټولګیو د ټولو قوماندانانو په منځ کې وتلی ځای لری.

جنرال وارینیکوف پوره جدی سړی دی. له دې سره سره هغه پوهیده چې ځلوینښتم لښکر ته د پاملرنې اصلی مانا په دې کې نه ده چې مثلاً د سر تیرو د خوړو او استراحت حالت ښه کړی شی، بلکه تر هرڅه لومړی په کار ده چې د مادونانو ژوند وژغورل شی. د وارینیکوف ټولې هڅې همدې ټکی ته متوجه وې.

وارینیکوف د پوځی مهارتونو تر څنګ د یوه غوره سیاستمدار او د دیپلومات وړتیا وې هم درلودې. وارینیکوف د مخالفینو د قوماندانانو او آن د «اووه ګونی اتحاد» د ځینو مشرانو په ګډون د افغانی ټولنې له بیلابیلو قشرونو سره د تماس ټینګولو دلاړې دهیواد له حالاتو پوره خبرتیا درلوده او د ځلوینښتم لښکر او حکومتی پوځونو له رښتونې اوضاع نه پوره آګاه و. د شوروی اتحاد د دفاع وزارت د اوپراتیفی ډلې مشر پخپله د جګړو ډګر ته ورته او تقریباً د افغانستان هر ولایت ته یې یوځل سرورښکاره کړی دی. ښایی د وارینیکوف په اندازه هیڅا په افغانستان کې د سړکونو د جوړولو، د اوبو رسولو د کانالونو د برښنا د مزو په تمدید او د کورونو ودانولو او نورو چارو کې دومره مرسته نه وی کړی. تقریباً هره ورځ هغه له والیانو د روحانیونو له استازو، د قطعاتو له قوماندانانو او هسې عادی خلکو سره لیده

کاته کول.

وارینیکوف د خپل مقام په اقتضا اوږده موده دافغانستان له مشرانو سره څنګ په څنګ کار کړی او ترکومه ځایه چې ماته ښکاره ده دهغوی په هکله یې په قضاوت کې مبالغه نه لیدل کیږی. جنرال وارینیکوف (ددوی په هکله) خپل نظریات نه پټول او ځینی یې آن خپاره شوی هم دی. وارینیکوف دببرک کارمل په هکله وایی:

« هغه به تل هغه څه چې ورته ویل کیدل، په خورا غور اوریدل، ډیر شیان به یې دځان له پاره یاداشت کول او دغوندې په پای کې به یې ویل: « تاسی ووینئی تاسې فکرو کړئ ... »اوبیابه یې سرتیټ کړاوپه لیکلو به اخته شو خو« موږپوهیدو »چې داکارمل به هیڅ کارهم ونه کړی... » په واقعیت کې هم خبره همداسې وه، پرکارمل نه خپلواندیوالانو، نه اولس او نه زموږ سلاکارانو باورکاوه. هغه د لوړې کچې عوام غولوونکی او ډیر ماهر فرکسیون بازو. دانقلابی جملو ترشاد پټیدو سخت مهارت یې درلود. دغه «استعداد » ده ته وس ورکړ چې ځان لارښود - لارښود جوړ کړی. هر ځل چې به کومه خطا تړې وشوه، نو دنورو دقناعت له پاره به یې ویل: « ملګرو، اوس زه په هر څه پوه شوی یم! نورې تیروتنې به رانه ونه شی! » هر ځل به باور پرې وشو او خلک به (دعملی اقداماتو) په انتظار وو. هغه به بیا دګوند (دبنسټ) په لرزولو لاس پوری کړ، خلکوته به یې رجوع نه کوله اوښایی ددغه کار وړتیایې نه درلوده او یا ورته دغه کار اصلاً ګټې فایدې برینښیده. یود خبره بیخی دلمر غوندې روښانه ده: هغه دخلکو له پاره عملاً مبارزه نه کوله. په

دولتی او گوندی چارو کې یې یوه لویه بیرو کراتیکه اداره منځ ته راوړه. د گوند او دولت ډیرې غوره پریکړې به همدلته بندې پاتې کیدې، له بده مرغه ډیرو په کارمل پورې هسې زړه ترلې و، او دهغه فریب به یې خوړ.»

ښکاره ده چې دشوروی اتحاد داستخباراتو دولتی کمیټې (ک. گ. ب.) د ۱۹۷۹ کال په پای کې دافغانستان دنوی مشر په توگه دببرک کارمل په ټاکلو سره لویه خطا کړې ده. د ک-گ-ب مشرانو چې نه غوښتل په خپلې دې خطا اعتراف وکړی، داگڼله چې کیدای شی د کارمل ټیټ معنوی استعداد او په هغه کې دلارښوونې دوړتیا نشتوالی زموږ د گوندی او پوځی سلاکارانو د هڅو په مرسته جبران شی، خو دوخت په تیریدو سره له یوې ورځې نه بلې ته د کارمل اداره کول لاپسې گرانیدل، اوس یې نو په ښکاره (زموږ له خوا) دشویو لارښوونو له پامه غورځول پیل کړی. د کارمل دشخصیت فساد دزیاتو او ښکاره شرابو دڅښلو له امله نورهم زیاتیده.

له دې سره چوخت دافغانستان دموکراتیک گوند دننه دډلو تر منځ خپل منځی شخړې نهایی حدته ورسیدې. فرکسیونی گټو له دولتی تقاضا وو نه زیات ارزښت ومونده. ورو ورو په ټولو دولتی او گوندی څوکیو د پرچم دډلې غړو خیټه واچوله.

کارمل په هیواد کې دسیاسی واک د تقسیمولو له مفکورې سره چې زموږ سلاکارانو یې په اړتیا زورا چاوه، کلک مخالفت کاوه. دانقلابی رژیم دتجرید مخه داتیایمې لسیزې په نیمایی کې یوازې دائتلافی حکومت منځ ته راوړلو نیولی شوه. ښکاره ده چې کارمل پوهیده له اپوزسیون سره دروغې جوړې په

صورت کې به هغه ډیر امتیازونه له لاسه ورکړی. د ۱۹۸۶ کال په پسرلی کې داخبره بیخی په ډاګه شوه چې کارمل دانقلابی بدلونونو له بهیر سره دمرستی پرځای، دهغو دمخنیوی له پاره هلې ځلې کوی. په کابل کې دا عقیده منځ ته راغله او په مسکو کې هم ورسره موافقه وشوه چې کارمل نور باید خپل ځای یوه نوی ځواکمن مشر ته خوشی کړی. سلا دافغانستان داستخباراتی اداري دمشر نجیب‌الله پر سر راغله چې د ۱۹۸۶ کال په «می» کی دافغانستان د خلکو دموکراتیک گوند د عمومی منشی په توګه وټاکل شو.

«په خبرواترو دی پیل وشی»

څه د پاسه شپږ میاشتې دنجیب دریځ پوره جوت نه بریښیده، له یوې خوا دافغانستان دخلکو دموکراتیک گوند دمرکزی کمیټې دعمومی منشی په توګه په دې پوهیده چې په کورنی سیاست کې دبنسټیزو بدلونونو راوستل ضروری دی او ددغو بدلونونو مقصد باید له اپوزسیون سره دمخامخ خبرو سره ته رسول وی. شوروی مشرانو ددغې مفکورې مخالفت نه کاوه بله لاره نه وه پاتې. له بلې خوا د پخوا په څیر ببرک کارمل په کابل کې و، چې تر دغه وخته یې ایله «نیمه ستپه» غوښه شوې وه! هغه لا اوس هم دافغانستان دموکراتیک جمهوریت دانقلابی شورا رئیس دافغانستان دخلکو دموکراتیک گوند دمرکزی کمیټې دسیاسی بیرو غړی پاتې شوی و. په دې توګه نو نجیب مجبورو حکومتی چارې، هغه دچاخبره یوازې په یوه لاس مخ ته بوزې. په بل لاس مجبور و دخپل سلف هلې ځلې چې مقصدیې دنوی گوندی مشر بې اعتباره کول وو، شندې کړی.

« محرم

د شوروی اتحاد د کمونیست ګوند مرکزی کمیته

دافغانستان دخلکو دموکراتیک ګوند دمرکزی کمیتې دعمومی منشی په توګه د نجیب له تاکنې وروسته منځ ته راغلی یو شمیر مثبت پر مختګونه مخ په پراخیدو دی. د ګوندی ارګانونو کارچټیک شوی، د تبلیغاتو بڼې او ډولونه بدلون مومی او د وګړو پرپراخو قشرونو داغیزې ښندلو له پاره دنوپولارو چارو موندل په چټکی سره روان دی. دافغانی وسله وال پوځ په حالت اود هغوی دجنګی وړتیا په برخه کې تاکلی مثبت بدلونونه پیښ شوی دی.

خوله دې سره سره په هیواد کې د پوځی او سیاسی حالت ښکاره ښه والی منځ ته نه دی راغلی ملګری نجیب دحالاتو عینی جاج اخلی او دخپلو دندو پیچلتیاته یې پوره پام دی.

دهیواد دحالاتو په هکله خپل نظریات ملګری نجیب له ملګری ی.م. وارنځوف سره د ۱۹۸۶ کال د اکتوبر له ۱۸-۲۲ پوری په کابل کې دشویو خبرو اترو په ترڅ کې بیان کړی دی (له کابله په دی هکله رارسیدلی) ټلګرامونه لمبر: ۱۱۷۹، ۱۱۸۲، ۱۱۸۸، ۱۱۹۰.

نجیب دساری په توګه یادونه کړې چې دافغانستان د ۳۱ یا ۳۵ ولسوالو کلوله ډلې نه شکلاً یوازی ۸ زره کلی د دولت واکمنی منی او دواک دسیمه ییزو مقاماتو له پاره دانتخابات له دې نه هم په کم شمیر یعنی په ۲۷۰۰ کلیو کې او هغه هم ښارونو ته څیرمه سره ورسیدل. دملګری نجیب په قول ښاري وګړی دانقلاب غوښ ملاتړ

کوی او دا چې په کلیو کې دانقلاب ورته پلوی نه کیږی، ملامتی یی پخپله دافغانستان دخلکو دموکراتیک گوند په غاړه ده چې تر اوسه یې ونه شوکړای بزگرانو ته دانقلاب اصلی ماهیت او اهداف روښانه کړی. دملگری نجیب په عقیده، دگوند اوسنی دنده داده چې باید له ښارونو دکلیو په لورو خوځیږی.

ملگري نجیب یا دونه کړي چې دانقلاب ضد ځواکونو جگړه ییزې هڅې کمې شوې نه دی. هغه وویل اوس اوس افغانستان دموکراتیک جمهوریت په خاوره کی دننه ۱۶ . ۵ ورانکارې ډلې فعالیت لری چې عمومی شمیر یی ۱۸۳ زروتنوته رسیږی اوله دې ډلې نه ۸۰ زره تنه دانقلاب ضد فعال جنگی ځواک جوړوی. دانقلاب ضد ځواکونو تاکتیک هم بدلون مومی او اصلاح کیږی. دکاروانی لارو یود برخه چې باندپونوته پرې داړتیاوړ شیان رسیږی اصلاً بندې نه دی. داکارد پولو دترلو له پاره زمور دهڅو لازیاتوالی غواړی.

ملگری نجیب تینگار وکړ چې که وغواړو یوازې په پوځی وسایلو تولې لانجې هوارې کړو، نو ددولتی واکمنی دپراختیا او تینگښت له پاره دهڅو داوسنی سرعت په پام کې نیولو سره نور ۲۰ یا ۳۰ کاله دحالاتو دعادی کولو له پاره په کار دی. په دې اړوند دهغه په نظر مهمه دنده، ملی روغې جوړې ته درسیدوله پاره د هڅو چټکتیا ده.

دملگری نجیب په عقیده دافغانستان د ننه او بهر له هغو اسلامی تنظیمونو سره چې له یو خوا لازم چمتو والی ښیی او له بلې خوا د وینود تویدلو په برخه کې زیات مسوولیت نه لری، باید جنرې اترې پیل شی. د با چاله پلویانو سره هم جنرې

تر سره کیدی شی، ملګری نجیب دا ګڼي چې اشرافیت، فیوډالی کړي، غټ ځمکوال او مرتجع یعنی «بنسټ وپال» ملایان به هیڅکله روغې جوړې ته غاړه کې نه ږدی. خوله دې سره سره له ځینو ځانګړو استازو سره یې تماس ټینګول شو نی بریښی. هغه وایی که ملی روغه جوړه هم وشی نو د دولتی شورا او وزیرانو شورا ریاستونه، د دفاع، ملی امنیت، کورنیو چارو، مخابراتو او مالیی وزارتونه، د بانکونو ریاستونه، ستره محکمه، څارنوالی او پوځی - حقوقی سازمانونه باید خامخا د افغانستان خلکو دموکراتیک ګوند په لاس کې همداسې پاتې وی. د مقابل لوری استازو ته کیدی شی د دولتی شورا او وزیرانو شورا مرستیالی او دغه راز د کرنې، عامی روغتیا او اوبولګولو وزارتونه او بیلابیلو وزارتونو معینیتونه او دولایتونو مقامونه وسپارل شی. پخوانی پاچاته د پلار وطنې ملی جبهې یا پارلمان ریاست کیدای شی ورکړو. د اسلامی ډلو سیاسی سازمانونه کولای شی د پلار وطنې ملی جبهې ډله ییز غړیتوب ترلاسه کړی، او خپل فعالیت په قانونی توګه پرمخ بوځی. ملګری نجیب په ځای ټینګار کوی چې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د اساسی قانون د تصویب په کارکې بیړه په کار نه ده، ځکه چې دهغه ډیر مواد به په دې پورې اړه ولری چې په هیواد کې د ملی روغې جوړې بهیر څنګه پرمخ ځی.

ملګری نجیب د دې امکان په څیړلو غور کوی چې د ملی روغې جوړې په هکله اوله هغه سره جوخت له انقلاب ضد ځواکونو سره مثلاً د شپږ میاشتنی اور بند په باب خلکو ته وینا واوروی.

ملگری نجیب د سیاسی حل مسایل او د شوروی پوځونو د ایستلو موضوع له ملی روغې جوړې سره په پیوند کې بولی، هغه وویل د حل دیوې لارې له موندلو وروسته د افغانستان دموکراتیک جمهوریت نه د شوروی پوځی ټولګیو دوتلو د مودی تر دوو کلونو راکمیدل له امکانه لیرې نه بولی او د لومړی او دوهم کال په ترڅ کې یې د ستنیدونکو عسکرو دشمیر په هکله یوڅو نظر یی څرګندې کړې. هغه دروغی جوړی دنور واړخونو په هکله نظر څرګند کړ چې ښه به وی د ملګرو ملتو د موسسې له مخامخ ونډې اخستې پرته دروغې جوړې په عمومی چوکاټ کې د نړیوالې ځارنې (سیستم) منځ ته راشی، دروغې جوړې بهیر ته یې د ایران دراماتولو بیلابیل واریانتونه وړاندې کړل، له پاکستان سره یې د افغانستان دچارچاپیر حالاتو د هواری په هکله زمور دمخامخ تماسونو امکان وستایه.

ملګری نجیب پوهیږی چې تردې وروستیو وختو پورې دملی روغې جوړې له پاره ډیر لږ کار شوی دی. داسې ښکاری چې هغه له دې مسئلی سره د حقیقی چال چلند دلارو چارو دموندلو متې رانغښتی دی. په دې کارکې له هغه سره زمور مرستی ته اړتیا لیدل کیږی، په تیره بیا چې د افغانستان دخلکو دموکراتیک ګوند زیات غړی، آن دهغه ځینی مشران دملی روغی جوړی مفکوره عملاً نه شی قبلولای. په دې لړکې د شوروی اتحاد ته دروان کال ترپاې ته رسیدو مخکې دملګری نجیب رسمی سفر کولای شی مهم رول ولوبوی. د دغه سفر په ترڅ کې کیدی شی دملی روغې جوړې او د افغانستان د شاوخوا کشالې سیاسې لاری چاری وڅیړل شی. دغه سفر د افغانستان د دې هڅاند او جدی مشر د درېغ له

لاتینگولو سره مرسته کولای شی. ملگری نجیب داګنی چې دافغانی مشرتابه دهغو دلا اغیز منتیاله پاره دیوشمیر مقاماتو تغییر او تبدیل حتمی بربښی.

هغه له ملګری وارنځوف سره دخبرو په ترڅ کې او دغه راز په دې وروستیو وختو کې په کابل کې جوړوشویو یو شمیر نورو غونډوکې ټینګار وکړ چې باید ببرک کارمل دافغانستان دخلکو دموکراتیک دمرکزی کمیټې له سیاسی بیورونه وایستل شی او دغه راز دافغانستان دموکراتیک جمهوریت دانقلابی شورا دریاست څوکۍ هم باید تري واخیستل شی. ملګری نجیب وایی چې ب. کارمل په خپله له ګوندی او دولتی دندونه ځان ګوښه کړی، یوازی نیوکې کوی او دملی روغې جوړې له تګ لارې سره مخالفت څرګندوی. ملګری نجیب ویره څرګنده کړه چې د ببرک کارمل دځان غوښتنې حس چې دهغه دروغتیا د خرابی او د شرابو دزیاتو څښلوله امله نور هم ژورشوی دی، کولی شی هغه نه اتکل کیدونکو اقداماتو ته اړکړی، په کارده هغه له اوسینو مقامونو نه په سوله ییزه بڼه لیرې کړی شی، مثلاً کیدای شی هغه راضی کړو چې پخپله خوښه له دغوڅوکیونه لاس په سرشی.

دملګری نجیب له خوا دغه راز ددفاع وزیر نظر محمد پرځای دسیاسی بیورود غړی محمد رفیع او د بهرنیو چارو دوزیر شاه محمد دوست پرځای دعبدالوکیل دتاکل کیدو خبره هم رااوچته شوه (شاه محمد دوست له دغه مقامه له ګوښه کیدو وروسته کولای شی د مخصوصو چارو دوزیر او دملګرو ملتو په سازمان کی افغانستان دموکراتیک جمهوریت ددایمی استازی په توګه په عین حال کی دملی

روغی جوړې په مسألو هم بوخت پاتې شی).

دځینو مقامونو د تغییر او تبدیل په هکله د ملګری نجیب نظریې معقولې بریښی. په کابل کې زمودږ د سلاحکارانو له مشاهداتو نه د ساری په توګه معلومیږی چې ببرک کارمل دځان له پاره (له دې پیښونه) لازم جاج نه دی اخستی، له بلی خوا د هغه تندخویی چې په نوی زوراو نویو بنو ځان څرګندوی، د ملګری نجیب دهڅو د پځیدو سبب ګرځی او افغانستان دخلکو دموکراتیک ګوند د مرکزی کمیټې په سیاسی بیوروا و مجموعاً په ټول دغه ګوندکې د هغه دکارونو خندکیږی. د ۱۹۸٦ کال د نومبر ۱۳

« پوځی لارو چارو له ځان سره بری رانه وړ »

اشد محرم

یو نقل (خصوصی یادداشت)

د شوروی اتحاد د کمونست ګوند د مرکزی کمیټې د سیاسی بیورو غونډه

د ۱۹۸٦ کال د نوامبر ۱۳

۱۱ - د ظاهرشاه په هکله:

ګرباچوف: آیا ټول ملګری د ملګرو چیریکوف، شیواردنادزی، سکولوف او دوبرینین له یادداشتونو سره آشنا شول؟

د سیاسی بیورو غړی: هو آشنا شوو.

ګرباچوف: چې داسې ده نو راځی د نظریو راکړه ورکړه پیل کړو. ما ته خو زړه وایی چې نه ده په کار فرصت له لاسه ورکړو. نجیب مور مرستې ته اړ دلری. هغه

د پیښوسم جاج اخلی او دځان په وړاندې د پرتو ستونزو په سختوالی ډیر ښه پوهیږی. هغه د ملی روغې جوړې له پاره دهڅو چټکوالی، له بزګرانو سره د یووالی پیاوړتیا او دهیواد دګوندی او دولتی مشرتابه یوموټی والی (خپله اساسی دنده بولی....

کارمل هسی لور په لوټه تیره کوی.

داشپږم کال دی چې په افغانستان کې جنګیږو، که نورې لارې چارې ونه سنجول شی نو ۲۰ یا ۳۰ کاله نور به هم هلته دجګړې له پاره پاتې کیږو، داکار کولای شی پرحالاتو داغیزې ښندلو په هکله زمور وړتیا له شک او تردید سره مخامخ کړی. زمور پوځیانو ته هم باید وویل شی چې دجګړو له بهیرنه یې کافی لوست نه دی زده کړی. ښایی ددې کارله پاره زمینه نه وی چې زمور ستر درستیز په خوځیدو راشی؟ اصلاً مور ددې ستونزی دهوارولو لپاره سمه لارنه ده غوره کړې. څه، مور مجبور یو دیوې ناپایه مودې له پاره وجنګیږو او په دې توګه نړیوالوته ثابته کړو چې دحالاتو درغولو وس نه لرو؟ مور باید داپروسه په ډیره لنډه موده کې غوڅه اوختمه کړو.

ګرومیکو: باید ستراتیژیکی هدف وټاکل شی. څه موده وړاندې مو په دې هکله بحث وکړ چې باید له پاکستان او ایران سره دافغانستان پولې وترل شې. تجربې وښودله چې مور ددې کارله بشپړې اجرانه دسیمې دګران جغرافیایی موقعیت او دسلګونو غرنیو لارو دشته والی له امله، عاجز پاتې شوو. نن باید په رسانۍکوکې داخبره وشی »: ستراتیژیکی دنده دا ده چې باید دجګړې دختم لارې

چارې ومونډل شی.

ګرباچوف: په پریکړه لیک ګې باید د یوه کال او حداعظم د دووکلو په موده کې ددغې (جګړې) دختم خبره یاده شی.

ګرومیکو: داکار باید داسې پای ته ورسیږی چې افغانستان دبیطرفه دولت په توګه پاتې شی. داسې ښکاری چې مور دافغانستان مشر تابه ته د پوځی مرستو په هکله د موافقې څرګندولو په وخت کې احتمالی ستونزې پوره نه وې شمیرلې. دافغانستان ټولنیزو لانجو په لنډه موده کې ددغې ستونزې هواری ناشونی ګڼي. دننه په دغه هیواد کې چا زمور ملاتړ ونه کړ. دافغانستان پوځ ته چې څومره کسان جبلیږی، هومره تری تښتی. ترکومه ځایه چې دافغانستان دکورنیو حالاتو په جاج اخستلو او تحلیل پورې اړه لری، دنجیب تقریباً هره خبره سړی منلی شی، خو لازمه نه ده چې دکارمل ستنه دې یوځل غوڅه کړی شي، ځکه چې هغه په یو ډول سمبول بدل شوی دی. په کار ده چې زمور استازی له هغه سره وغږیږی. باید هڅه وشی چې هغه په عمومی خط السیر کې باقی پاتې شی: دهغه بشپړغوڅول سمه خبره نه ده، غوره داده چې هغه لاهمداسې زمور ترڅنګه پاتې شی.

نجیب د پراخو اقداماتو دکولو وړاندیزکوی. هغو ته پاملرنه کول په کاردی. یو اقدام له دولتی واکمنی نه د بزګرانو د ملاتړ جلبول دی، او بل اقدام: دافغانستان دننه او بهرله هغو اسلامی ډلوا و تنظیمونو سره خبرې کول دی چې د مصالحی خبرد منی، دریم اقدام له پخوانی پاچا سره دتماس ټینګول دی. فکر کوم چی د هغو ردول غوره خبره نه بریښی. کیدای شی داکارونه په کومه بله بنه، نه هغسې چې

دنجیب وړاندیزدی، ترسره شی. اوس یو بل مشخص پاتې کی له هغو سره د دې ستونزو د څېړنی له پاره په کار دی. دکار مشخص پلان په کار دی. ښه به وی که په دې کارکې له پاکستان سره دتماسونو دتینګولولو له لارې مورږ هم ونډه واخلو.

ترکومه ځایه چې دامریکاییانو خبره ده نو هغوی دافغانستان دلانجې په غوڅولوکې خپلی ګټې نه وینی، برعکس دجګړې لااوږد یدل دهغوی په ګټه دی.

ګرباچوف: رښتیا همداسې ده.

ګرومیکو: په دې هکله هم فکر کول په کار دی چې څنګه کیدای شی دروغې جوړې بهیرته هندوستان راجلب کړی شی. ددغو خبرو په سپینولو کې ګټه، دحل دیوې لارې دموندلولو له پاره زمورږ دامکاناتو له زیاتوالی سره مرسته نشی کولای لنډه داچی دلانجی سوله ییز حل دې نورهم چټک شی، که مورږ په دې لاره کې ګامونه اچت کړو، زمورږ ولس به آرامه ساه واخلی.

سالو منځوف: په زړه پورې به وی که داکتوبر (دانقلاب) تراویایمې کالیزې پورې سیاسی حل بشپړشی.

ګرومیکو: ددغسې یوې مودې تاکنه ګرانه ده.

چبریکوف: ددې مسئلې په هکله ډیرې پرېکړې شوې دی، خو له بده مرغه دافغانستان دننه او دهغه چارچاپیر حالات لاهماغسې خړپړ دی. زه دمیخاییل سرګیوویچ (ګرباچوف) دهغه وړاندیز ملاتړ کوم چې وایې باید هڅې ګړندی او

هغه وخت د ک. ګ. ب رئیس و. دشوروی دیوځی جوړیدت له مخی، سرحدی ځواکونه د ک. ګ. ب د رئیس ترامر لاندې وو.

یوې منطقی نتیجې ته ورسولی شی. رښتیا ده چې مورږ د پولو د ترلو تصمیم نیولی و. آندره آندره یوویچ (گرومیکو) تروې اندازې په حقه دی چې دجغرافیایی یا نورو عواملو له امله د دغسې یوه عمل د سرته رسولو ستونزې یې په گوته کړې. خو تریوې اندازې د پولو په ترلوکې زمورږ د پاتې راتللو بل دلیل دادی چې مورږ هر هغه څه چې دکولوس مو درلود، سرته نه دی رسولی. غلیم اوس خپل تاکتیکونه بدلوی. هغه تر ځمکې لاندې فعالیت ته لاس اچولی دی. باید دستونزې دسیاسی حل لارې چارې ومومندل شی. پوځی طریقو به تیرو شپږو کلونو کې نتیجه ورنه کړه.

څه کولی شو؟ په لومړی گام کې به غوره وی که نجیب مسکوته راوبولو. هغه هیڅکله دلته نه دی راغلی ښایی دکارمل د دی اوسینو نخرو دلیل هم داوی چې مورږ تر اوسه نجیب رسمی نه دی میلمه کړی. له هغه سره مورږ یوازې په تلفون کې او هغه هم د منځګړوله لارې خبری کړې دی، خو دا بیخی بل شی دی. مخامخ خبرې اترې ضروری دی. کیدی شی دهغه په ترڅ کې ډیری خبری روښانه شی، مهمه ده چې په دغو خبروکې نورځنډونه شی، په کار ده چې دهغو (د سرته رسولو) له پاره یوه یادوه ورځې وخت ومومو. بله مهمه خبره دځینو کسانو تغییر او تبدیل دی.

گرباچف: د دغو تغییراتو په راوستلوکې څوک دهغه دلارې خنډ گرځی؟

چبریکوف: تریوې اندازې مورږ ټول. د «دوست» دبدلولو په سرخبره همداسې ده، د دفاع وزیر په سر همدالانجه راپورته شوې دی او دافغانستان دخلکو

دموکراتیک گوند دسیاسی بیورو دنویو غړو دتاکنې په وخت کی هم همداسی وشول.

گرباچف: مافکره کاوه چی شاه محمد دوست ته مو ددغو خبرو دغو څولو په کله خپله ریا څرګنده کړی ده.

چبریکوف: چی داسی ده نوولی هیڅ شی نه هواریږی؟ زمـــور زیات وخت دافغانستان دلانجی څیړل نه نیسی بلکه په دې هکله غږیږو چې دوست چیرته ولیږل شی او ددفـاع وزیر به چیرته کـار وکړی. په دې صورت کې باید ملګری کریوچکوف ته چې اوس په کـابل کـې دې لارښوونه وشی چی له نجـیب سره په خبرو کې دې ددې لانجـوله څیړلونه ځان نه تیروی او مـخامـخ دې ورته ووایی: دالانجی هسی چی معقولې بولئ پخپله حل کړئ....

دوبرینین: نجـیب ته باید (دعـمل) خپلواکی ورکړی شی. دلتـه دوه پوښتنی منځ ته راځی. لومړی: دملی روغې جوړې تګ لاره، او دوهمـه: دافغـانسـتـان دشاوخوا حالاتو سیاسی حل دی.

کارمل باید له لارې لیری کړای شی، خو داخبره هم باید له یاده ونه ایستل شی چې دافـغانستـان دخلکو دمـوکراتیک ګـوند دسیاسی بیورو یو غړی هم دملی روغی جوړې په برخه کی له نجیب سره توافق نه لری. ددغسې یوې روغې جوړې نقشه هم وجود نه لری.

گرباچوف: دحل له پاره نقشه شته، مور هغه تصویب کړې هم ده، خو په عـمل کی هیڅ کار مخ ته نه ځی. سرګی فیودورویچ» (اخرامییف) کیدای شی ته ددې

لانجی غوڅولو ته لاس واچوې؟

اخرامیف (دشوروی اتحاد ددفاع دوزیر مرستیال): نه، ددې لانجی حل شونی نه دی.

دورینین: دافغانی مشر تابه له پاره دنقشی طرح کول لااساسی خبره نه بریښی. زه مسکوته دنجیب درابللو غوښتنه کوم. اوس کیدی شی ملګری کریوچکوف ته له نجیب سره دکتنی لارښوونه وکړو. کریوچوف دې نجیب ته ووایی، چې هغه پخپله کولی شی د (شاه محمد) دوست او کارمل بر خلیک وټاکی، خو داکار دې داسې وشی چې د (ګوند دننه) فرکسیونی شخړې بیا راپورته نه شی.

اخرامییف: په افغانستان کې زمور دجنګیدو دادی اووه کاله پوره کیدونکی دی. ددغه هیواد دخاورې داسې توته نه شته چې یو ځل دې شوروی عسکر نه وی نیولی. خو له دې سره سره دهیواد زیاته برخه دیاغیانو په لاس کې ده. دافغانستان حکومت کافی وسله وال ځواک لری: ۱۶۰ زره تنه په اردوکې، ۱۱۵ زره تنه په ځارندوی او شل زره تنه داستخباراتو په ارګانونوکې (تنظیم دی) داسې هیڅ پوځی هدف نشته چې لاس ته دې نه وی راغلی، خو بیا هم نتیجه هیڅ ده. ددی توله خبرو دلیل دادی چی پوځی بریاوې دسیاسی لاروچارو په کارونو سترده نه ساتل کیږی. په مرکزکې واکمنی شته، خو په ولایتونوکی وجود نه لری. کابل او دولایتونو مرکزونه زمور په لاس کې دی، خو په نیول شویو سیمو کې دواکمنی تینګول مور ته شونی نه شول. دافغانستان داولس پر سر مبارزه مو

بايللي ده. د اولس كمه برخه د حكومت ملاتړ كوي. زمونږ لښكرو پنځه كاله جګړه وكړه. هغه اوس هم ددې وس لري چې حالات په همدې اوسنۍ بڼه وساتي. خو په دې عمل سره به جګړ اوږده موده دوام وموميي.

پنځوسزره شوروي عسكر د پولې ترلوته اړم شوي دي خو بيا هم نه شي كولاى تولې هغه لارې وتړي چې له بهرنه پرې بارونه راوړي كيږي. يو ځل بيا وايم چې مونږ حالات په اوسنۍ بڼه ساتلى شو، خو بايد چې د حل يوه لاره وموندل شي او لانجه هسې چې اندره اندره يوري» (گرومیکو) وويل غوښه شي. بايد له پاكستان سره تمامونه پيل شي....

وارنخوف (دشوروي اتحاد دبهرنيو چارو دوزير لومړى مرستيال): غواړم دملګرى اخرامييف له خوا څرګندو شيو نظر يو په اړوند يو څو خبرې وكړم. افغانستان يو بزګرى هيواد دى (دوګړو په سلوكې اتيا برخه بزګران دى) خو انقلاب همدوى ته له هرچانه كم خير رسولى دى. دانقلاب په اتوكلونو كې د كرنيز و محصولاتو اندازه يوازې په سلوكې اووه زياته شوې اوبزګران له انقلاب نه په مخكى شرايطوكې ژوند كوي.

هم ملګرى نجيب او هم دسياسى بيورو غړى ملګرى زيرى لهماسره دخبرو په ترڅ كې دا ومنله چې «ګوند لاتر اوسه د بزګرانو منځ ته نه دى وړننوتى»، د ځمكو او اوبو اصلاحات ناموثر راوختل او په عمل كې پلى نه شول (اوس ملګرى نجيب هڅه كوي «ګټيورې» خواته دهغو دورګرځولو په منظور په هغوكې تجديد نظر وكړي)، دهقان له انقلاب نه كومه غټه مادى ګټه نه ده ترلاسه كړې. له بلې خوا به

اوسنی وخت کې لکه هغسې چې ملګری زیری وویل دهیواد داتلسو میلیونو وګړو له ډلې نه یوازې پنځه میلیونه تنه ددولت ترکنترول لاندې دی. (له دې ډلې نه دري میلیونه وګړی په ښارونو کې او یوازې دوه میلیونه یې په کلیوکې اوسیږی او داله ۳۰۰ یا ٤۰۰ زروکورنیونه نه زیاتیږی)، دولت او ګوندته له مخکنی مشر تابه نه داسی مشخص پلانونه نه دی پاتی چې څرګنده کړی څه ډول کیدای شې ددغو دري - څلوږسووزرو بزګری کورنیو مادی حالت چې ددولت تراغیزی لاندې (سیموکې ژوند کوی) په بیړه ښه کړی شی. دسیاسی بیرو دغړی او داقتصادی او کرنیز وچارو دمسؤول ملګری زیری په وینا، «دبیلابیلو عواملو له امله په ځینو برخو کی ددولت ترکنترول لاندی دمیشتو بزګرانو حالت له هغه چانه ډیر بد دی چې دانقلاب ضد ځواکونو داغیزی لاندې په سیموکې ژوند کوی». ددې پوښتنې په ځواب کې چې ددې کار علت څه دی ملګری زیری ماته وویل چې «دانقلاب ضد ځواکونو تر اغیزې لاندې سیموته دلومړنۍ اړتیا وړشیان په ښه ښه وړ رسیږی (دغه مواد په قاچاقی توګه له پاکستانه هلته راځی). په خوست، ارزګان او نورو سرحدی سیمو کې حالات همداسې دی. دملګری زیری په وینا ځینی وخت داسې ضد او نقیض حالت هم منځ ته راځی چې زمور تر کنترول لاندې سیمو کې میشتو بزګرانوته مواد زمور له خوانه، بلکه دباندونو له خوا ورکول کیږی.». په دې مهمه برخه کې باید عاجل اقدامات وشی، یعنی ددولت ترکنترول لاندې سیموکې دبزګرانو حالت دې ښه کړای شی.

دافغانستان دخلکو دموکراتیک ګوند دمشر تابه ډیر غړی هسې لټ او بې

نوښته دی، عادت شوی دی چې و دریزه مشاور صاحب څه وایی او پخپله خس له ځایه نه خوځوی. داسې بریښي چې زمور سلاکارانو په لومړی سرکې «دوی بیا بیا په لښتو وهلی او (دارولی) دی».

خوملګری نجیب داسی نه دی. دهغه په څیره کې استعداد او قاطعیت له ورایه ښکاری. هغه ته باید دچارو په اجرا کې استقلال ورکړل شی، خو په عین حال کې دې دهغه داعمالو څارنه هم کیږی چې دعمر دکموالی په وجه تری افراطی اعمال راونه وځی. هغه ته باید امکان ورکړو چې خپل «تیم» په خپله غوره کړی.

ګرباچف: دتیرکال په اکتوبر کې مور دسیاسی بیورو په غونډه کې دافغانی لانجې دغوڅولو اصلی کړنه وټاکله. هغه هدف چې مور غوره کړی و، دا و چې باید دشوروی پوځونو دایستلو بهیر ګړندی کړی شی، خو په عین حال کې باید دوست افغانستان ته هم دهغه دارتیا ور ټول شیان ورپوره کړی شی، ټاکل شوې وه چې دا مقصد دې دپوځی او سیاسی اقداماتو په همزمانه سرته رسولو سره ترلاسه شی، خوله دغو برخونه په یوه کې هم پرمختګ نه لیدل کیږی. دافغانی حکومت دپوځی دریځ دپیاورتیا مقصد ترلاسه نه شو. ملی وحدت هم زیات له دې امله تأمین نه شو چې ملګری کارمل هیله درلوده چې وړاندې به هم همداسې په کابل کې ناست او زمور مرسته په ورسره وی.

دې خبرې هم ناوړه اغیزه وښندله چې مور دافغانی مشرانو دپریکړو په لاره کې خنډونه اچول او هغه مو کمزوری کولی.

په مجموع کی ویل کیدای شی چې ټاکل شوې نقشه په ښه توګه نه ده پلې

شوی، خو خبره پخپله په نقشه کې نه، بلکه دهغې دپلی کولو په څرنګوالی کې ده. باید هڅې ګړندۍ کړی شی خو په عین حال کې ددی دوو خبرو دقیق روښانول هم په کار دی؛ لومړی: ددووکلو په اوږدو کې له افغانستان نه زمور د پوځونو ایستل په ۱۹۸۷ کال کی دې په سلو کې پنځوس او پاتی نیمایی برخه دې په راتلونکې کال کې وایستل شی. دوهم: دسیاسی ځواکونو دحقیقی دریځونو په پام کی نیولو سره درژیم دټولنیز بنسټ پراختیا په دې اړوند دې له ملګری نجیب او کیدی شی د افغانستان دخلکو دیموکراتیک ګوند د مرکزی کمیټی دسیاسی بیورو له نورو غړو سره لیده کاته وشی؛ باید له پاکستان سره خبرې پیل کړو. مهمه دا ده چی افغانستان ته دامریکاییانو پښه را اوږده نه شی. خو زه فکر کوم چې دامریکی متحد ایالتونه به په افغانستان کې پوځی لاس وهنې ته زړه ښه نه کړی.

اخراميف: هغوی به خپل وسله وال ځواکونه افغانستان ته ونه لیږی.

دوبرینین: په دې لانجه کیدی شی دامریکی له متحدوایالتونو سره یوې موافقې ته ورسیږو.

نجیب

د ۱۹۸۵ کال له پیله زما دنده داسې وه چې دافغانستان له لوړو حکومتی مشرانو، ددغه هیواد دپوځ، ځارندوی او استخباراتو له مشرتابه سره مخامخ کتنې اوله هغو سره ګډکار په کې حتی وه، په دې ډله کې راته دا امکان پیدا شو چې شخصاً دافغانستان دخلکو دیموکراتیک ګوند د مرکزی کمیټې له نوی غوره

شوی عمومی منشی نجیب سره معرفی شم. په دغه څوکۍ دټاکلو تروخته نوموړی داستخباراتی اداری (خاد) رئیس و. له نجیب سره لومړیو کتنو زما دا عقیده نوره هم پیاوړې کړه چې دا سړی دژوند ومغزو خاوند دی. هغه هم دافغانستان خپل حالات او هم په ګاونډی پاکستان، ایران او چین کې اوضاع ښه څیړلی شوه.

هغه پوهیده چې که له واک سره مینه پیدا کړی او هیڅ اصولی انتقاد داوریدو حوصله ونه لری پای به یې څه راوخیژی.

نجیب دافغانستان دپوځ په هکله پوره معلومات درلودل. فکر کوم هغه دخپلو پوځیانو په بالقوه ځواک باندی په عقیدې درلودلو سره اشتباه نه وه کړې. دځینو داسې ځانګړتیا ووشته والی، لکه د افغانانو په منځ کې: ګرانښت، بصیرت، قوی اراده، جدیت اومهارت هغه ته دخپلو اسلافو په اندول برلاسی ورکاوه. دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت وروستی جمهور رئیس آن په ډیرو نازکو حالاتو کې جرأت او خوشبینی له لاسه نه ورکوله.

په دې برسیره باید دې ټکی ته هم اشاره وشی چې نجیب ددولت دمشرپه توګه دشوروی کارپوهانو له پراخ ملاتړ نه برخمن و. دهغه ترڅنګ وتلو کارپوهانو او مسلکی وګړو کار کاوه.

دپوځی برخې مسألې لوی پوځی سلاکار له نجیب سره څیړلې. وخت ناوخته له هغه سره په کابل کې دشوروی اتحاد ددفاع وزارت داوپراتیفی ډلې او دځلوینښتم لښکر استازو لیده کاته کول.

له وروستی ګوندی سلاکار ویکتور پولیاینچکو پرته له نورو ګوندی

مشاوروینو سره مې کتنې نه دی شوی، خو دهغه کار داندازې له مخې چې پولیاینچکو یې په سرته رسولو کې مخامخ ونډه درلوده، دا پته لګیدی شی چې په دغه هیواد کې زمور دګوندی سلاکارانو په اوږو هم درانده بارونه پراته وو.

ددولتی سیاست داساسی کرښو طرحه، له پښتنو قبایلو سره اړیکی، دافغان-پاکستان دګډې پولې ترل، ولایتونوته دخوراکی موادو او دلومړنۍ اړتیاوړ نورو موادو بې ځنډه رسول، دافغانستان دوسله وال پوځ اکمال او دهغه لیکوته دنویو سرتیرو جلب او احضار، دملی روغې-جوړې سیاست او دې ته ورته یوه مسئله هم دشوروياناوله حضور پرته نه څیړل کیده اونه حل کیدلی شوه.

دټلولو هغو شوروی ادارو چارې چې په افغانستان کې یې استازو کار کاوه، په کابل کې دشوروی سفیر له خوا هماهنګ کیدلې. هغه ددیلوماتیکی نماینده ګی دو رئیس په توګه په افغانستان کې دشوروی اتحاد دسیاست مشر پلی کوونکی ګڼل کیده. نورو ادارو خپلې مشخصې او ځانګړې دندې سرته رسولې.

زه ماکتنه له نجیب سره یوازې دټاکلو پوځی مسایلو د څیړلو له پاره وه. څرنګه چې دجګړه ییزو عملیاتو دسرته رسولو له پاره دهغه غوښتنوته هم د بهرنیو چارو په وزارت، هم ک. ګ. ب او هم دګوند په مرکزی کمیټې کې ارزښت ورکول کیده، نو زه مجبوریدم ورشم او دراتلونکو عملیاتو تخنیکی اړخونه ورسره وڅیړم او هماهنګ یې کړم. دساری په توګه مور په عملیاتوکې دافغانی لښکر و دګډون، دهغو دشمیر او دندو په هکله خبرې کولې او هغه سیمې مو په ګوته کولې چې عملیات باید په کې سرته ورسیږی.

لیدنې کتنې د افغانستان دخلکو دموکراتیک ګوند مرکزی کمیتې په ودانۍ کې سرته رسیدې چې دکابل ښه زړه کې پرته وه. دامانۍ دشوروی کوماندویانو له خوا شپه او ورځ ساتل کیده. دننه په مانۍ کې د ک. ګ. ب کار کوونکو یو جدی امنیتی سیستم رواج کړی وه. نجیب ته راغلی کسان لږی په ډیر دقت سره تلاشی کیدل او له هغو نه وسلې اخستل کیدی.

دنجیب له ظاهری په زړه پورې بڼې سره سره، له هغه سره خبرې کول چندان آسان کار نه و. دهغه ستر ګې لږې کرښې غوندې وی او دې خبرې تر یوې اندازې نامناسب حالت منځ ته راوړ. ما هیڅکله باور نه کاوه چې هغه دې ګنې موضوع ته غوږ نیولی وی او دکوم بل شی په هکله دې فکر نه کوی. خو چې کله به هغه د (مقابل لوری) په دې شک پوه شو نو په ډیر مهارت سره به یې په ډوو - دریو ټکو کې دابحران له منځه وړه.

یوه مهمه خبره مې یاد ته راغله: نجیب تل غونډه له هغو خبرو پیل کوله، په کومې چې به تیره غونډه پای ته رسیدلې وه. ښایی هغه ددې کارله پاره ځانګړی یادداشت درلود او یایی یاورانو ورسره مرسته کوله. هر څه چې وو، خو په دې وسیله خبرې خپل منطقی مسیر ته ورلویدلې.

دافغانستان له مشرانو سره د کتنو په وخت او یا هغو ته له ورایه په کتلو سره مې تل دافکر په سرکې ګرزیده چې داموقتی خلک دی. نن یو، سبا بل. له هر څه نه داخبره ښه جوتیدله چې داټول شیان دیوې لنډې مودې له پاره دی. مورږ غوښتل افغانستان دځان په ځیر فکر کولو، دځان په ځیر حرکاتو او دځان په ځیر ژوند

کولو ته اړباسو. غوښتل مو داکار هم عمودی او هم افقی سرته ورسوو. دهیواد له مشره پیل، تر هغه بزګرد چې دهیواد په یو دلیږې پراته ولایت کې ژوند کوی. ډیر ځله به ما او زما همکارانو ته داسې پوښتنې به ذهن کې ورګرزیدې چې دڅه له پاره افغانستان ته دومره تخنیکی وسایل وسله او مادی نعمتونه راوړل کیږی د ټول دڅه لپاره او ولې؟ ځکه هر چاته دلمرغوندې روښانه وه چې افغان اولس داشی نه منی او دعادی افغانانو دا «نوی ژوند» اصلاً په کارنه دی. البته دافغانستان مشران ددغه انترناسیونالسیتی مرستې له املې زمور شکر ګزار وو، خو دغې شکر ګزاری هم خپل رازونه درلودل: هغوی پوهیدل چې یوازې زمور په مټو او زمور دمرستو په زور په دغو څوکیو ناست دیله همدې املې هغوی دقیقاً زمور خولې ته کتل او زمور مشورې او لاښوونې به یې ټکی ټکی سرته رسولې.

دافغانستان مشران په دې ښه پوهیدل چې په هیواد کې اصلی څیرې هغه دی چې زورلری، نو ځکه هغوی زمور دهیواد دبې شمیره استازو په منځ کې دیوه ډیر ساده اصل پربنسټ دجدایی کرښه ایستله: څوک چې زورور دی، هغه مهم هم دی. په دې لړکې لومړی مقام دڅلویښتم لښکر دقوماندان و، که څه هم دمقام له پلوه هغه په افغانستان کې دنورو شوروی پوځیانو په منځ کې ډیر لوی سړی نه ګڼل کیده، خو قوماندان بی حده ستر پوځی ځواک درلود. دوهم مقام د، ک. ګ. ب دمامورینوو ځکه چې هغو هم پر حالاتو داثر ښندلو له پاره خپل خپل امکانات درلودل.

بُن بست

په افغانستان کې دلوی درستیز داستازی په توګه په لوړه سطحه د مسأیلو په څیړلو کې له ګډون وروسته په غوڅه راته دا پته ولګیده چې د افغانستان په هکله ټولې پریکړې په مسکو کې کیدلې، او هغه هم نه د دفاع په وزارت، اونه هم د ستر درستیز په قرارګاه کې، بلکه په لوړو دولتی اوګوندی کړیو کې او تر هرڅه لومړی د افغانستان په هکله د سیاسی بیورو په ځانګړی کمیسیون کې. د دغه کمیسیون اصلی غړی دا وو: د. ک. ګ. ب. رئیس، د دفاع او بهرنیو چارو وزیران او د شوروی اتحاد د کمونیست ګوند د مرکزی کمیټی د نړیوالو اړیکو د څانګې مسؤول، ب. ن. پونامارینوف. د افغانی مشرانو ټولی غوښتنی او آن شخصی هیلې مسکو ته استول کیدلې. له دې حالت نه یو شمیر هغو سلاکارانو چې مخې ته یې بیلابیلې ستونزې راجګې شوې وې هم ګټه اوچتوله. دا غوښتنی تر هرڅه لومړی په وسلو، جنګي تخنیک او د ملکی اړتیا وړ شیانو په برابرولو پورې مربوطی وې، چې په هغو کې په سلګونو زره ټنه بوره، غنم، اوړه... راتلل. دا ټول شیان هغه دچا خبره افغانستان ته د سین په څیر را روان وو. شک نه شته چې افغانی مشرانو لکه د عیسی (ع) په غیږ کې چې وی، (هوسا) ژوند درلود. هغوی د داسې یوه غښتلی ګاونډی د ننګې په سیوری کې چې د هغو هرې بوالهوسۍ ته یې په ورین تندی مثبت ځواب وایه، د کلې په مستقیمې مانا له واکمنې نه خوند اخیسته. افغانی (مشران) پوره پوهیدل چې هر څه غوښتلی شی او هیڅکله به څوک «نه» ورته ونه وایی، میاشت به لانه وه تیره چې بیا به یې

مثلاً په خپل ذهن کې دراجوړ کړی کوم غلیم خلاف له موږ نه دجګړه ییزو عملیاتو دطرحې او پیل غوښتنه وکړه. په افغانستان کی دشوروی محدود وپوځی ټولګیو قوماندانۍ ددې غوښتنو په وړاندی مقاومت کاوه، زه داقتصاد پوهانو یادپیلوماتانو په هکله په دې برخه کی کوم مشخص مثال نه شم راوړلی خومور پوځیانو غوښ مقاومت کاوه. ان هغه وخت چی دځلویښتم لښکر قوماندانۍ په افغانستان کی دجګړو پنځه کلنه تجربه لاس ته وروړې وه، نبه پوهیدله چې له دې وروسته به دجګړه ییزو عملیاتو دپیل او پرمخ نیولو ټولې خبرې یوازې دشوروی سرتیرو او افسرنو په اوږو باریږی. دافغانستان لښکرو هیڅ مستقل عملیات نه دی ترسره کړی او که ترسره کړی یې هم وی نو سړی کولی شی ووایی چې نتیجه به یې هیڅ وی او بالاخره ددې اړتیا پیدا کیده چې مرستې ته یې دځلویښتم لښکر پوځی ټولګیو وبلل شی. دځلویښتم لښکر قومدانانۍ ډیره وسه کوله چې دافغانی مشرانو فریب ونه خوری او په هغو جګړو بوخته نه شی چې موږ له مخکې نه وې پلان کړې.

په ۱۹۸۵ کال کې جنګی عملیات عموماً دیوې میاشتی له پاره پلان کیدل او دا قاعده له افغانستان نه دشوروی عسکرو دوتلو تروخته، په خپل حال باقی پاتې شوه. دعملیاتو دپلان په سر به په افغانستان کې زموږ دټولو مهمو استازو موافقه اخیستل کیده. دپلان جوړولو کار دځلویښتم لښکر دقرارګاه او په افغانستان کې دلوی پوځی سلاکار ددفترله خوا سرته رسیده. همدلته دا پریکړه کیده چې څوک دې چیرته او کوم عملیات سرته ورسوی. دترکستان دپوځی حوزې دقوماندان په

لاسلیک دا پلان د تصدیق لپاره مسکو ته استول کیده. بیا هغه په سیاسی بیورو کې اوتر ټولو مخکې دافغانستان په هکله دهغې په ځانګړی کمیسیون کې څیړل کیده. یوه-یوه نیمه اوونۍ وروسته مورټه په کابل کې دشوروی اتحاد دوسله وال پوځ دلوی درستیز یا ددفاع وزیر په لاس لیک شفری تلګرام -رارسیده چې په کې ویل شوی به وو: ستاسی د پلانکی میاشتې پلان بشپړ تأیید دی. وړاندې به ویل شوی وو چې کومو ټکوته ځانګړی پام په کار دی.

ما تل دا احساس کاوه چې دلوی درستیز داستازی په توګه زما په اوږو دروند بار پروت دی په داسی حال کې چې هیڅ آمر مې نه درلود، کیدای شوای مثلاً دځلوینټم لښکر او یا دهغه دبیلابیلو فرقو دقوماندانانو داعمالو دځیړنې په وخت رانه خطاوې راووځی. لوی درستیز زما دشفاهې او تحریری څرګندونو پر اتکا کولی شول دحالاتو په پرمختګ اغیزه وکړی.

هیله من یم چې دافغانستان او دهغه دحکومتی پوځونو دځانګړتیاوو په هکله زما معلوماتو او دغه راز دبیلابیلو پیښو تحلیل له لوی درستیز مارشال، س. ف. اخرامیف سره دامرسته کړې وی چې په دغه هیواد کی دروانو حالاتو په هکله عینی معلومات ترلاسه کړی. فکر کوم چی دځلوینټم لښکر له قوماندان سره به می هم تاکلی مرسته کړې وی. قوماندان ډیروخت دا امکان نه درلود چې دشوروی اتحاد له لوړو پوځی مشرانو سره مخامخ وغږیږی او هغوی ته دبیلابیلو ستونزو دهواری دلارو چارو په هکله خپله غوښتنه وړاندې کړی. دا کار یوازې د «مخصوصو چارو دجنرال» له لاسه پوره و. اوس زه په پوره جرأت سره ویلی شم:

هومره چې مې له وسه پوره وه له څلویښتم لښکر سره یې مرسته کړې ده.

په افغانستان کې زما ددوهم ماموریت موده (۱۹۸۵-۱۹۸٦ کلونه) زما په ذهن کې د یوې پیچلې او غیرنې خاطرې په توګه پاتې شوې. ما دافغانستان روانو پیښو ته له بلې زاویې په کتلو پیل وکړ او اوس پوهیدم چې زمور پوځونه او ټول شوروی استازی اصلاً ددې هیواد نه دی په کار. امکان نه لري له داسې یوه هیواده لکه افغانستان چې دژوندانه خپله ځانګړې بڼه او جلا مذهب لري او دخپلې جنترې په حساب اوس هم لا په څوارلسمه پیړۍ کې دی، شوروی اتحاد جوړ کړو، داښکاره چټیات وو.

سره له دې چې داتیایمې لسیزې په نیمایی کې جګړې ډیرې پراخې او سختې شوې خو په حالاتو کې لاهما غسې بن بست لیدل کیده. له یوې ورځې نه بلې ورځې ته دقدرت بحران ژوریده، دافغانستان حکومت دځلویښتم لښکر دهڅو نتیجې نه یوازې نه ساتلې، بلکې ددې کار له پاره یې یوګام هم نه پورته کاوه. له دې سره جوخت له موږ نه بیا بیا دنویو او لانویو عملیاتو دسرته رسولو غوښتنې کیدې. په همدې وخت کې ډیرو وګړوته معلومه شوه چې دا هسې دلمبوله منځه په لاس دسکروټو درااایستلوله پاره عبث هڅې دی. په زیار رااایستل شوې دغه سکروټې، عمدتاً دچاپه کارنه دی. شوروی محدودو پوځی قطعاتو افغانستان ته دورتګ په لومړیو څو میاشتو کې خپلې دندې ډیرې ښې سرته رسولې. زمور سرتیرو تروسه هڅه کوله چې داپریل انقلاب له مرګه وژغوری. دافغانستان دخلکو دیموکراتیک مشرانو په هیواد کې دخپلو پښو دټینګولو او دخپلې خو

ښې چارو دسرته رسولو امکان ترلاسه کړ. خو دکابلی رژیم واکمنو په لوی لاس ځلویښتم لښکر دپراخو پارتیزانی جګړو په لومه کی ښکیل کړ. دافغانستان حکومت تر وروستیو شیبو حالاتوته په دراماتیکی بڼی ورکولو سره خپل ټول وس په کار اچاوه چی دځلویښتم لښکر په ځیرله پیاوړی حامی نه بی برخی نه شی.

له ټولو مخکی پوځیان په دې خبره پوه شول چې له منځ ته راغلی بن بست نه دوتلو یوازنی اوسمه لارشته او هغه له افغانستان نه دشوروی ځواکونو ایستل دی. دشوروی اتحاد ددفاع وزارت او پراتیفی ډلې، دځلویښتم لښکر قوماندان، اوما دلوی درستیز داستازی په توګه د حالاتو له جاج اخستنی وروسته پرله پسی دغه موضوع (دمسکو) غوږونوته رسوله. البته که په ۱۹۷۹ کال کی چا دپوځیانو خولې ته کتلی وای چې دافغانی لانجی له پوځی حل سره یی مخالفت ښوده، نو په ۱۹۸۵ کال کی به دا اړتیا نه وای چی له دغه هیواده دسرتیرو دایستلو په اړوند په کابل کی په سوچ وهلو خپل ماغزه وخورو. میندو به خپل بچیان له لاسه نه وای ورکړی، زرګونه زلمیان به اړنه وای چی له افغانستان نه معیوب راستانه شی.

پوځیانو دافغانی لانجې له پاره دغوځ حل دیوې لاری دموند لواړتیا هغه وخت درک کړې وه چی ډیر شوروی مشران لا په دې نه پوهیدل چی یوازې په زور تکیه کول مطلوب نتایج منځ ته نه شي راوړی. برسیره پردې هغوی نه غوښتل په دې پوه شی چی مورږ له یوې ورځې نه بلې ته لازیات په افغانی پلندی کی خښیږو.

له افغانستان نه دشوروی پوځونو دایستلو پریکړه ډیره سخته وه. هر هیواد

چې پوځي حرکت يې پيل کړی، غواړي هغه په بری سره پای ته ورسوی. تر ۱۹۸۶ کاله پورې دشوروی پوځونو دايستلو پريکړه نه شوه کيدای. دشوروی دواک په گدی ناستو خلکو او هغو چې افغانستان ته دعسکرو دلیږلو په پريکړه کې يې ونډه درلوده، نه شوای کولای په عينی توگه خپل دريځ بدل کړی. اصلی هدف لاس ته نه وراغلی: افغانستان په هسې يوه هيواد نه وبدل شوی چې زمور د پوځونو له وتلو وروسته هم دخپل «شمالی مشر ورور» په پله روان پاتی شی، اوبالاخره په کارو چې د پراخو مادی لگښتونو او دسر دزيانونو د توجيه له پاره هم دمنلو ور دلايل ومومندل شی. هيڅا په پوره قاطعيت سره دا دعوه نه شوای کولای چې افغانستان که په سوسياليستی هيواد بدل شوی نه دی، نو لږ تر لږه خو په هغه وخت کی زمور د منځنۍ آسيا جمهوريتو ته ورته شوی دی.

په افغانستان کی زياتو مادی لگښتونو مطلوبی نتيجی ورنه کړې. مور له پوره بن بست سره مخامخ شوی وو. په کار وه چې د نوښت مزی دافغانستان حکومت ته په لاس ورکړل شی او له هغه هيواده زمور دلښکرو دوتلو پريکړه وشی. دا نو هغه وخت دی چې (په شوروی اتحاد) کې دواک واگی د م. س گرباچف لاس ته ورغی. دهغه زړه غوښتل او که نه (خوله دې پرته) بله لاره نه وه پاتې. مور دخپلو پوځونو روحی کمزورتيا نه پټوله او پرله پسی موپه دې هکله مسکو ته خبر ورکاوه اوويل موچی نوره دابيړی په دې توگه وړاندې نه شی تللی، زمور سرتيری دځه له پاره او دچاپه ځای مری او تپيان کيږی؟

« وروستی » ورځې

دمارچ په میاشت کی زه جنرال وارینیکوف چی هغه وخت په افغانستان کی دشوروی اتحاد ددفاع وزارت داوپراتیفی ډلې مشرو ، ځان ته وبللم. هغه ماته وویل چی په افغانستان کی زما ددوهم او احتمالاً وروستی ماموریت وخت بشپړ شوی دی. تردغه وخته مجموعاً ما په افغانستان کی دری نیم کاله تیر کړی وو او دا ډیروخت دی. والنتین وارینیکوف خبر راکړ چی زه داته ویشتم عمومی لښکر دقوماندان په توګه تاکل شوی یم چی دبیلاروسیې د « ګرودنو » په ښار کی میشت دی.

داپریل په څلورمه دمسکو په لور والوتم.

زه سهار وختی له افغانستان نه والوتلم او شک نشته چی فکر مې کاوه دا په دغه خاوره کې زما وروستی حضور و. ما په دې خبره پوره باور درلود. له یوې خوامی په دې علت چی دکور خواته روان یم دخوښۍ احساس کاوه. داځل می په افغانستان کی ایله څه دپاسه یوکال تیر کړی و. له وخت نه مخکی زما دبدلولو پریکړه ترهرڅه لومړی له دې املې شوې وه چی په شوروی کی مې دوه زامن پاتی وو. ما هیله درلوده چی بالاخره زامن له ځانه سره بوزم او عادی ژوند پیل کړم. له بلی خوا له کابل نه دتللو په وخت کی مې په زړه له پاسه لکه ډبره چی پرته وی. وروستی ځل هوایی ډګرته راغلی وم ، وروستی ځل می دکابل دکوڅو نندارە وکړه. دلته ددندی اجرا خورا ګرانه وه ، خو چی څومره په سړی سخته تیریږی هومره له هغه ځایه زړه شکول هم ګرانیږی. زه پوهیدم چی زما زړه په دې خاوره پورې نښتی

دی. زما دژوند او روغتیا یوه برخه دلته په دې امید پاتی کیده چی په یوه یا بله بڼه دځلویښتم لښکر دافسرانو او سرتیرو لاس نیوی وکړم.

ماته په زړه پورې وه چی دمخه ښې له پاره هوایی ډګرته نه یوازې دستر درستیز دنماینده ګی دهیئت غړی افسران چی بشپړ یو کال موګډ کار کړی و، بلکه دغه راز ددفاع وزارت داوپراتیفی ډلې، دځلویښتم لښکر دقوماندانی او دلوی پوځی سلاکار ددفتر جنرالان او افسران هم راغلی وو.

الوتکی ته وختم، هغه په بیړه لکه دمار، په ځرخونو، ځرخونو کی هواته جګه شوه. له الوتکې نه لاندې ښه ښکاریده چی مشایعت کوونکی لاهماغسی ولاړ دی، ځو ډاډه شی چی الوتکه په خیر اوبی له کومی پیښی ولاړه.

دکابل له پاسه دالوتلو په وخت کی می البته چی په ذهن کی هم نه ګرزیده چی یوکال وروسته به بیا اوددریم ځل له پاره دې هیواد ته راستنیږم دغه وخت لازه په دې نه پوهیدم چی قسمت راته له افغانستان نه زمور د پوځونو دایستلو درنده، خوله ویاړه ډکه دنده راپه برخه کوی او کولای شم په دغه هیواد کې دشوروی پوځونو نهه کلن حضور پای ته ورسوم.

دریم سفر
ګرودنو

زه داپریل په پیل کې مسکوته راستون شوم او دلته په پایتخت کې می ایله ځو ورځی تیرې کړې. خپل وړاندیزونه او نظریې می لوی درستیز مارشال اخرامییف ته وړاندې کړل. هغه راته د ۲۸ لښکر په قوماندانی دټاکل کیدو مبارکی وویله او

اجازه یی راکړه چې (دبیلاروسیې مرکز) مینسک ته وخوځیږم. په دې ښارکې دبیلاروسې دپوځی حوزی قرارګاه پرته وه. ددوډله مخی می ځان د بیلاروسیی دپوځی حوزې قوماندان ډګر جنرال والیری شورالیف او دهغه مرستیالانوته وروپیژانده. په دې لړکې می دحوزی له درستیزوال او تکړه افسر تورن جنرال والیری سکولوف سره هم پیژندګلوی وشوه.

دګرودنو ۲۸ لمبر لښکر دشوروی اتحاد دوسله وال پوځ دغوره پوځی تولګیو په ډله کی راته هغې شته منی جګړه ییزی تجربی درلودې. دې لښکر دوه دټانک او دوه پلی موتوریزه فرقی درلودې چې دپولنډ پولې ته نږدې ځای پرځای شوې وې. څرنګه چې لښکر دبرست او ګرودنو په ولایتونو کی ځای پرځای و، ماته دا امکان وچې تقریباً تولې سرحدی سیمی له نظره تیرې کړم. تراوسه می دبیلاروسیې دوګړو په نسبت په ذهن کی خوړې خاطرې پاتې دی.

ښکاره ده چې دګرودنو له تګ مخکی یوځل سارا تف ته هم ولاړم چې زامن می په کی اوسیدل. ډیر می زړه غوښتل چې هغوی له ځانه سره بوځم، خونه پوهیدم څنګه به په بیلاروسیه کی هم دپلار او هم دمور دنده سرته ورسوم. دلښکر قوماندان او هغه هم داسی لښکر چې په پوله کې پروت وی، مجبور دی جدی کار وکړی، هسی نه چې په څوکې یی خیټه اچولې وی. مخی ته غټ کارونه پراته وو.

په ګرودنو کی دقوماندان داوسیدوله پاره ښه شرایط موجود وو، خو دا چې له ماسره دډې ماکسیم او اندرې هم واوسیږی، له امکانه لیرې خبره بریښیده. دوی واړه هلکان وو چې له سهارد ترماښامه یی په کور کې یوازې پاتی کیدل نه شو

زغملی. یوځوک باید پیدا شوی وای چی دهغو غم یی خوړلی، لوست یی ورزده کولی او یا لږ تر لږه یی خواړه ورته برابرولی. زما کارناوخته خلاصیده او دغه وخت باید هغوی ویده وای، او له کوره سهاروختی وتلم.. لنډه دا چی دستونزو هیڅ کمی نه وه. د ۱۹۸٦ کال په دویی کی هغوی دلته راغلل اونږدې یوه نیمه میاشت مویو ځای سره تیره کړه، خولا می نه شو کولای هغوی له ځانه سره په گرودنو کی وساتم.

وخت لکه دبادالوته. دلښکر قوماندانی آسانه بریښیده، ځکه چی عملاً پوره سمبال میکانیزم و. ځینی ستونزې سمدستی هواریدلی او ځینی به راتلونکی ته پاتی کیدې. ژوندانه خپله لاره وهله. اوس بیخی ښکاره پوهیدم چی یوې خواته راکښل کیږم: غواړم او که نه افغانستان می بیا ځان ته وربولی. دخپلی ارادې خلاف می غوښتل بیرته هلته ستون شم ستر گوته می تل زما تر قوماندې لاندې پنځمه فرقه او ټول هغه کسان ولاړ وو چی په کابل کی پاتی شول.

د ۱۹۸۷ کال په جنوری کی زما او مارشال اخرامییف ترمنځ یوه تلفونی مکالمه وشوه. ما هغه ته وویل چی افغانستان ته له دریم ځل استولو سره به می مخالفت نه وای کړی. ما گومان کاوه چی داسی خبرې ژرنه فیصله کیږی او زه داسی په خپلو کارونو کی ډوب شوم چی له لوی درستیز سره دغه تلفونی خبری رانه چوری هیرې شوې وې. خو دا پریل په میاشت کې دلوی درستیز مرستیال جنرال وارینیکوف راته تلفون وکړ او ویی ویل چی له لوی درستیز سره دځو میاشتی وړاندې تلفونی خبرو په پام کی نیولو سره زما د (بیا استولو) موضوع

ترخیرنی لاندې ده. هغه داهم زیاته کړه چی کومه دنده راته غوره شوې ده نو «هغه ډیر زیات کار غواړی».

زه ښه پوهیدم چی په افغانستان کی د «زیات کار ایجابوونکی مقامونه» کم نه دی. د ۱۹۸٤ کال له وروستیو نه دخلویښتم لښکر قوماندانی دجنرال و. پ. دوبینین په غاړه وه. څرنګه چی دهغه دماموریت دوره پای ته رسیدلې وه، نو پوه شوم چی دهمده له پاره دعوضی لټه شروع شوې ده. وارینیکوف په دې هکله یوټکی هم ونه وایه، یوازې یی زیاته کړه چی دمقرری خبره په نردې راتلونکی وخت کی حل کیدونکی ده.

تورن جنرال ویکتور پتروویچ دوبینین دخلویښتم لښکر دقوماندان په توګه خپلی دندې ډیرې ښی سرته ورسولې. ما دی سړی ته چی آن دستر درستیز په اکاډیمی کی د زده کړو په وخت ورسره آشنا شوی وم، خو رازیات درناوی درلود. دغه راز په افغانستان کې زما ددوهم ماموریت په ترڅ کې هم مور په ګډه چاری ډیرې ښی سرته رسولې. باید اعتراف وکړم چی ددغو خبرو له امله خورا خوښ شوم او تازه ساه مې واخسته. دغه وخت مې هلته، په افغانستان کې خپلی تیرې دندې په زړه راواړولې هم می دفرقی قوماندانی او هم می دوهم ځل دلوی درستیز داستازی په توګه کار کول راپه یاد شول. یوځل بیا می دخطر هیر شوی احساس بیا په وجود کی را ژوندی شو. ښایی دا یو ډول دویرې احساس هم و، ځکه چی دروغ عقل خاوند سړی پوهیږی چی هلته سړی دچکړو هلوله پاره نه ځی. په جګړه کی دهرڅه پیښیدل ممکن بریښی، په تیره بیا په داسی جګړه کې لکه دافغانستان.

له ځانه سره مي وويل: راځه اوس هم وختي دي، معذرت به وغواړم؟ هسي مي هم دوه زامن بي له ما، له پلاره ليرې لوييږي. هغه وخت ما کسيم دځوارلسو او آندره داووکلو وو. برسيره پردې پوهيدم چې لږ تر لږه ره نږدې راتلونکي کې دوهم واده نه کوم. هغه سړي به پيدا نشي چې دژوند په ټولو پيچو موکي مي څنګ ته روان اوسي. داسي ښځه به هم پيدا نه شي چې زما دزامنو بار په اوږو واخلي او دهغوی له پاره ددوهمي مور حيثيت ومومي. ترقيامته خونشي کيدای چې زه دې يوځای خدمت کوم او بچيان دې بل ځای اوسيږي. هغو بايد دپلار ترځنګه وي او زه بايد هغوی درڅوزنی مسؤوليت په اوږو واخلم. خو زما په فکر، په نږدې راتلونکې کې دکوم مهم بدلون راتللوته انتظار ايستل هسي بي فايدې وو. کله چې مي داټولې خبرې وسنجولې او په تله مي وتللې نو پريکړه مي وکړه چې بيرته افغانستان ته ستنيږم. زه لاتردغه وخته په دې نه پوهيدم، چې وختي دځلويښتم لښکر دقوماندان په توګه غوره شوی يم.

ډير ژر دځه مودې له پاره رخصتي راکړی شوه. ځوورځی مي په مسکو کې تيرې کړې او دوه اوونۍ له زامنو سره په ساراتف کې واوسيدم. درخصتۍ له ختم نه ډير مخکې دمي دمياشتي دجشنونو په درشل کې ګرودنو ته ستون شوم. هيڅ انتظار مي نه درلود چې د ۱۹۸۷ کال دمي په ۹* راته دتورن جنرالۍ رتبه راکړل شوه. سمدستي پوه شوم چې دا کار ددې له پاره شوی چې په نوې رتبه دځلويښتم لښکر د قوماندانۍ له پاره چمتو شم، دمي په اواسطو کې خبر راکړل شو چې زما نامزدي په نهايي توګه منظور شوې او زه دشوروی اتحاد ددفاع وزير له خوا په دغه

*دا وورځ په شوروی کې په هتلری آلمان دمتفقينو دبری له امله مهم پوځی جشن ګڼل کيده.

دنده تصدیق شوی یم.

هره ګړی دا پروند فرمان درارسیدو ته کیده. دهغه تر رارسیدو په کار وه چې په داسی مواردو کی یو شمیر معمول مراسم ترسره کړم. په لومړی ګام کې مجبوروم د دفاع وزیر مرستیال او د پیژنتون رئیس سترجنرال، د. ت. یازوف ته ورشم. نومورې څه موده وړاندې د سترجنرال شکادوف پرځای په دې دنده ټاکل شوی و. شکادوف د عمر د ډیروالی او د روغتیایی معاذیرو له کبله «د جنتی ډلی» په غړیتوب منل شوی و.*

جنرال یازوف د عادت له مخی وچ نیغ سړی دی او ځکه یی نوبی له مقدمی رانه وپوښتل: - څه غواړی چی دریم ځل افغانستان ته روان یی؟ بل هیڅوک ستا هومره کافی دلایل نه لری چې له تګ نه معذرت وغواړی. لومړی داچی تادوه ځل هلته دنده سرته رسولې، دوهم داچی ستا بچیان بی مورہ دی.

خو زه نور افغانستان ته د تګ په هوا کی وم او هیڅ شی مې په پریکړه کی بدلون نشو راوستلی. له جنرال یازوف سره تر خبرو وروسته لوی درستیز مارشال اخرامییف او د دفاع وزیر مارشال سکولوف هم ومنلم.

دهغه وخت د معمولی قاعدې له مخی له فرقی نه نیولې پورته د ټولو قوماندانانو ټاکنه یوازې هغه وخت کیدی شوای چی د شوروی اتحاد کمونیست ګوند د مرکزی کمیتی دوسله وال پوځ څانګی به تایید کړل. په «ستاروی

---

* «جنتی ډله» هغو لوړ رتبه شوروی افسرانو ته ویل کیده چی له تقاعد وروسته به یی له خاصو امتیازاتو سره ژوند کاوه.

پلوشچاد » کی د مرکزی کمیتی ودانی ته لومړی ځل د پنځمی فرقی د قوماندان په توګه د تاکنې په وخت کی راغلی وم. هغه ځل دوسله وال پوځ د څانګی د رئیس مرستیال ن. ی. شلیا گا حضور ته منلی وم. وروسته نومورې د شوروی اردو او سمندری پوځ د سیاسی چارو لوی رئیس وتاکل شو.

له نومورې سره زما تر لنډو خبرو وروسته په وه شوم چې د مسکو د مانیو په د هلیزونو کی می سرګردانی نوره پای ته ورسیدله.

زه سار اتف ته ولاړم چې خپله رخصتی پوره پای ته ورسوم. هلته راته د یازوف یوه یاور تلفون وکړ او راته وې غوښتل چې سمدستی د شوروی اتحاد د کمونیست ګوند د مرکزی کمیتی له منشی ا. ی. لوکیانف سره د کتنې له پاره مسکو ته راشم. په ما پسی الوتکه هم رالیږل شوې وه.

معلومه شوه چې د « مرزا قلمانو » په کار کې څه ورانی راغلی دی. اسناد په تاکلی لاره مرکزی کمیتی ته رارسیدلی او د لوکیانف په میز پراته دی. هغه چې په وه شوی و دا د هغه جنرال اسناد دی چې د څلویښتم لښکر د قوماندان په توګه افغانستان ته روان دی؛ نو سمدستی یې امر کړی وچې ما وروغواړی.

په سبا یې زه مرکزی کمیتی ته ورغلم. د یوې څانګی مشر زه د لوکیانف دفتر ته وروستم. د هغه دفتر « ستاروی پلوشچاد » د ګڼو زړو دانیو په مجموعه کې د یوې نوې جوړې شوې ودانۍ په پنځم پوړ کی و. د مرکزی کمیتی د منشی نسبتاً کوچنی دفتر د نورو آمرانو دفترونو ته ورته و.

د لوکیانف مخی ته په وسله وال پوځ کې زما د خدمت د څرنګوالی تشریحات

پراته وو. لوکیانف دافغانستان دحالاتو په هکله دمرکزی کمیټې نظر راته واوراوه. دهمده له خولې می دلومړی ځل له پاره واوریدل چې دځلویښتم لښکر درا ایستلو خبره دځیرلو په حال کې ده لوکیانف زیاته کړه چې ددې خبرې غوښتل ماته په غاړه اچول کیږي. دانو هغه وخت دی چې په ژنیو کی دځلورو هیوادو: شوروی اتحاد، دامریکی دمتحدو ایالتونو، افغانستان او پاکستان په ګډون مقدماتی خبرې پیل شوې دی.

اناتولی لوکیانف راته وویل چې ماته حق راکول کیږي چې په پوځ کی دمعمول دود خلاف باید په افغانستان کې دځلویښتم لښکر په حضور پورې اړوند ټول مسایل مخامخ له همدوی سره مطرح کړم.

له دې خبرو وروسته زه بیا دیازوف دفترته وبلل شوم. ښکاریده چې هغه له دې امله په جامو کی نه ځاییږي چې له ساراتف نه یې زه په دومره بیړه مسکوته دمرکزی کمیټې له منشی سره کتنی له پاره رارسولی یم. هغه یوځل بیا ماته دبریاوو هیله څرګنده کړه. یوازې دسیاسی بیرو پریکړې ته خبره بنده وه چې دهغی له مخی زما دټاکنې په هکله ددفاع وزیر فرمان صادر شی.

دپایتخت په دفترونو کې تردې ځغاستو وروسته مې پخپله خوښه دالوتکی ټکټ وانه خسته او په اورګاډی کی مخامخ دخپل ۲۸ لښکر په لور وخوځیدم. ډیر کلونه وروسته دا لومړی ځل وچې له مسکونه دهیواد تر ډیرې لیرې پرتې لویدیځی پولې پورې په اورګاډی کی راغلی وم. او داټوله لارمې په مینه وهلی ده.

په ګرودنو کی خبر شوم چې زما یو مرستیال ډګروال و. ا. واسینین هم

افغانستان ته لیږل کیږی. هغه دځلویښتم لښکر د مرستیال او د قرارګاه د آمر په توګه ټاکل شوی و. ځرنګه چې پوهیدم د قوماندان په دنده ټاکل می اوس یقینی شوی دی، نو خوښ شوم چې هلته به می یو مرستیال، همدا واسینین وی. مورږ له هغه سره خدای پامانی وکړه او په اوږده لاره (مسکو-تاشکند) مو د کابل په لور رخصت کړ.

یو اوونۍ وروسته زما د ټاکنې اړوند فرمان هم راورسید. زه بیخی چمتو وم ټول کالی می په یوه بکس کې ځای شول د ۲۸ لښکر له منسوبینو او د ولایت له مشر تابه سره تر مخه بښی وروسته مسکو ته وخوځیدم.

زما مقرری تصادفاً سره ډګر ته ډیر نژدې د آلمان دفدرالی جمهوریت د تبعه، م. روست د سپکی الوتکی له جنجالی کیناستو سره په یوه وخت کې وشوه. له دې پیښې وروسته په وسله وال پوځ کې ځینې بدلونونه راغلل. په دې لړ کې د مارشال س. ل. سوکولوف پر ځای ستر جنرال د. ت. یازوف د شوروی اتحاد د دفاع وزیر وټاکل شو.

دغه وخت چې نوی وزیر له خپلې دندې سره په آشنا کیدو مشغول و، له ماسره مارشال اخرامییف وکتل. لوی درستیز راته وویل چې د ځلویښتم لښکر د قوماندانۍ په وړاندې څو مهمې دندې پرتې دی. باید تروسه وسه د سر تیرو او افسرانو ژوندانه ته د خطر اندازه کمه شي.

د زلمو ژوند په افغانستان کې زمورږ تر ټولو ارزښتمن څیز دی. برسیره پردې مورږ باید ټولې هڅې دې ته اړم کړو چې له افغانستان نه د شوروی پوځونو محدود

ټولګی وایستل شی. خو مارشال زیاته کړه چې دا به بیخی منظمه وتنه وی اونه تیښته. مارشال اخرامیف زیاته کړه: افغانی ملګروته باید زمونږ دریځ سم روښانه کړی شی او ددغسی یوې پریکړې دارټیا په هکله ورته کافی دلایل وویل شی.

دخبرو په پای کی اخرامیف وویل باید یوځل بیا جنرال یازوف ته ورشم. دقاعدې له مخی دلښکر نوی قوماندان هیڅکله ددفاع وزیر ته نه ورځی. دا دهغه دمسؤولیت ساحه نه وه. زما زړه چندان نه غوښتل یوځل بیا یازوف ته ورشم او ځان ورته وروپیژنم. لومړی په دې علت چې هغه زه پیژندلم، ځکه په لنډه موده کی مو دوه ځلی سره لیدلی وو. وروستی ځل یوه نیمه اوونۍ مخکې ورغلی وم. دوهم په دې علت چې له هغه سره مې په ټولو موضوعاتو بشپړې خبرې وې. خو لوی درستیز په خپله خبره ټینګار کاوه.

سبا سهار چې مخکی له مخکی می نوم دراغلو کسانو په لیست کی لیکلی و، ددفاع وزیر کوتې ته ننه وتم. دهغه په شعبه کی دسیاسی چارو لوی رئیس جنرال ا. د. لیزیچف ناست و. وزیر په څه خبره عصبی بریښیده. هغه په همدغه عصبی حالت کی زه ومنلم. یوځل بیا یی راته په لنډو ټکو کې یادونه وکړه چې په افغانستان کې دڅه کارونو سرته رسول په کار دی: دهوایی ډګرونو ساتل، دسترو ښارونو مدافعه.

له دغو لارښوونو وروسته تاشکند او ورپسی دکابل په لور والوتم.

څلورېشت ساعتونه

کابل ته له تگ نه مخکې خبر راکړل شو چې په هغه ښارکې اوس یوازې دشپې الوتنې کیدی شي. دورځې الوتنه ډیره خطرناکه شوې وه: نه یوازې جنګي الوتکې او هیلیکوپترونه ویشتل کیدل، بلکه ترانسپورتي الوتکې هم په امن کې نه وې.

چې څنګه د (څلویښتم) لښکر قرارګاه ته ورسیدم نو سمدستي مې له ستر جنرال وارینیکوف سره وکتل. هغه دشوروي اتحاد ددفاع وزارت داوږپراتیفي ډلې مشر و او په افغانستان کې زمونږ دپوځونو دفعالیت سیاسي او پوځي ارخونه یې څېړل. والنتین وارینیکوف پوره وس وکړ چې بالاخره دژنیو تړون لاسلیک شي. په افغانستان کې زما دغیابت په یوه کال کې اوضاع څه ډیره بدله شوې نه وه. دڅلویښتم لښکر ډیر افسران می دمخکینۍ ګډ کارله وخته پیژندل، هغو می دجګړو په ډګر کې هم لیدلی وو. تقریباً یوه هفته په کاروه چې دڅلویښتم لښکر له قوماندان جنرال دوبینین نه دچارو تسلیمي واخلم. کله چې به می دهغه نندارې کوله چې څنګه دهوایي ځواکونو، توپچي قواوو، فرقو، مستقلو لواګانو او دضربتي قطعو لارښوونه کوي او څنګه له افغاني حکومت سره اړیکي ساتي، سوګند دی چې شک به راته پیدا شو چې ګنې زه به هم دده هومره په مهارت داتوټ کارونه سرته ورسولی شم.

په شوروي اتحاد کې دننه مثلاً دګرودنو کې د ۲۸ لښکر قوماندانی بیخي بله خبره وه. البته چې دافغانستان پیښې می تل تعقیبولې. خو فکر می کاوه چې داهرڅه له ما ډیر لیرې په کوم ځای کې پېښیږي.

(زه پوهیدم) چی دافغانستان په هکله خپریدونکی خبرونه په سلو کی سل سم نه دی. ډیر شیان به له سره پالش کیدل او په ډیرونورو حقایقو، په تیره بیا پر هغه څه چی جګړې پورې یی اړه پیدا کوله، آن دغه وخت یعنی په ۱۹۸۷ کال کی هم پرده اچول کیده.

کله چی زه افغانستان ته ستون شوم او دځلویښتم لښکر دمشرتابه دروند بارمی په اوږو واخیست (هغه وخت دلښکر دپرسونل شمیر ۱۲۰ زروتنوته رسیده او دا په افغانستان کې زمور دپوځی حضور په ټولو نهو کلونو کې دشوروی پوځونو دمحدودو قطعاتو اعظمی شمیرو.) نو سمدستی پوه شوم چی زه او یوازې زه دټولو هغو کارونو مسؤول یم چی دغه لښکر یی سرته رسوی. دټولو هغو کارونو مسؤولیت چی په افغانستان کی پیښیږی، په تیره بیا دوګړو دژوندانه مسؤولیت زما په غاړه دی.

دځلویښتم لښکر په هکله ما پوره معلومات درلودل، خو په ذهن کی مې هم نه ګرزیده چی هره ورځ دې دقوماندان پر سرله هرې خوا داطلاعاتو داسی باران جوړ شی. دهمدغو لاس ته راوړو معلوماتو له مخی باید لازمی پریکړې شوې وای. دا باید هسی پریکړې وای چی هم یی زمور او هم یی دملکی خلکو دسر دزیان مخنیوی کړی وای. دځلویښتم لښکر په پوځی حرکاتو کې مهمه موضوع همدا وه.

قوماندان دډیرو موضوع ګانو په حل مکلف و، لکه: دارتیا وړشیانو رسول، دجګړه ییزو عملیاتو طرحه کول او سرته رسول او له افغانی پوځ سره دګډې

مرستی ټینګول. برسیره پردې دشوروی پوځونو محدودو ټولګیو په افغانستان کې زمور (ملکی) کارپوهان لکه: دګاز او تیلو د را ایستلو کارپوهان چې دکانونو په څیر لوا ورا ایستلو اخته وو او دغه راز سلاکاران، هم ساتل شک نه شته چې دغو ټولو خبرو د (پوځ) په روحی حالت اغیزه ښندله. ما هلته په افغانستان کې خپل رول ښه درک کړی و. خو له دې سره سره، ځینی شکونه او تردیدونه می په زړه کی را پیدا کیدل.

ویکتور دوبینین زما په څیره کی د دغو خیالو داغیزې او زما د عمومی حلات په لیدلو سره ګواکې زما په آرامولو خوله پرانیستله.

- هیڅ خبره نه ده، چې یوځل په دغه څوکۍ کینې - او په سریی د قوماندان دکارمیز ته اشاره وکړه - ټول شیان به سم شی.

رښتیا هم همداسی وشوه.

مور له جنرال دوبینین سره دشوروی په لور د تګ په وخت توده مخه ښه وکړه او ما دخپل ماموریت په سرته رسولو پیل وکړ.

زما دماموریت پیل (که ددې اصطلاح استعمال دلته مناسب وی) دسهار په اووبجو و. دغه وخت دلښکرو د قرارګاه کارکوونکو دسهار ډوډۍ خوړل پای ته رسول.

ما په لومړی ګام کې دهغو فرقو او مستقلو لواګانو د قوماندانانو رپوټونه اوریدل چې د مسؤولیت په ساحه کی یی اوضاع کړکیچنه وه. سمدستی مو دستونزو دحل له پاره په ګډه پریکړې کولی دارتیا په صورت کی مولې قطعاتو سره

دمرستو تصمیم نیوه او هغه سیمی به مو په گوته کولې چی باید هوایی یا توپچی ځواکونه پرې گوزار وکړی.

دسهار په اتو بجو مو دجگړې دسوق او اداري په مرکز کې دروانی ورځی په اوږدوکې د قطعاتو دندې په گوته کولې. په تیرو څلورویشتو ساعتو یا تیره شپه کې منځ ته راغلی حالات مو مخکی له مخکی څیړل. فرقو، غندونو، مستقلو قطعو، استخباراتو او دغه راز گوزاریزو جزو تامونو لکه هوایی او توپچی ته دهغوی دندی په گوته کیدې. ترټولو زیاته پاملرنه مو په پایتخت کې دحالاتو انکشاف ته اړوله. تقریباً دنهو بجو په شاوخوا کی له تاشکند او مسکو سره تلفونی خبری پیل کیدې. دغه وخت نو دلوی پوځی سلاکار ددفتر کارکوونکی چی دنده یې له افغانی پوځ سره په گډه دچارو دسرته رسونی هماهنگ کول وو، هم دعمل ډگرته راوتل.

هره ورځ له افغانی مشرانو سره دلیدنو کتنو اړتیانه وه، خو بیا هم دلښکرو قرارگاه یو یو افسر به خامخا دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت دوسله وال پوځ داعلی سرقوماندانۍ په غونډو کې دگډون له پاره ورته چی پخپله نجیب الله دایرولې. حقیقت دادی چی ددغه عنوان په اوریدو سره به زمور په شونډو بی اختیاره موسکا خپره شوه. دافغانستان وسله وال پوځ دومره سترنه و چی «اعلی سرقوماندان» دې ولری، خوله دې سره سره دغسی غونډې سرته رسیدلی. ددې غونډو دجوړولو نوښتگر تر هرچا لومړی خپله ستر جنرال وارینیکوف و. فکر کوم چی جنرال وارینیکوف سم کار کاوه: افغانی (مشران) باید لږ تر لږه په دې خبر

وای چې په هیواد کې څه تیریږي. که دغه غونډې نه وای نو هغوی به په ولایتونو، مثلاً په کندهار کې په پنجشیر کې او آن پخپله په کابل کې له حالاتو اصلاً خبر تیا نه درلودی.

داله جمهور رئیس سره غټه مرسته وه: (په دې ترتیب) هغه دهیواد داوضاع له انکشاف او ورځنی بدلون نه ښه خبریدلی شو. برسیره پردې، دې کار دهغه پوځیان او ملکی مامورین اړایستل چې زیاتی خولې توی کړی.

دځلونښتم لښکر جزوتامونه دپراخو پوځی فعالیتونو ترځنګ مجبور وو، هره ورځ څو ساعته درارسیدلو اسنادو تحلیل ته هم ځانګړی کړی. افغانستان ته ډول ډول کاغذونه رارسیدل. دغه اسناد له مسکو، تاشکند او باکو نه چې دجنوبی برخې دپوځونو مرکز په کې واقع و، رالیږل کیدل. هغه لارښوونې، امرونه او پریکړې چې دپخوانی شوروی دننه پوځی حوزو، او یا له پولې نه دباندې پوځی ټولګیو ته صادریدل، (په افغانستان) کې محدودو پوځی ټولګیو ته هم حتمی الاجرا ګڼل کیدل. په کار وچې دغه اسناد ولوستل شی، ټولو مادونانو ته دهغو په هکله خبرورکړل شی او دهغو دپلی کیدو بهیر تعقیب شی.

دغرمې له ډوډۍ وروسته دلښکر دقوماندان له مرستیالانو، دبیلابیلو اداروله مشرانو او دهغو ځانګوله استازو سره چې په افغانستان کې یې نماینده ګي درلودې غونډې سرته رسیدلې.

تقریباً دشپې په لسو بجو، کله لږ څه مخکې او کله ناوخته دخپل کارله دفترنه وتل. خو کار په دې توګه پای ته نه رسیده، ځکه چې دقوماندان په کور کې هم هغه

مخابراتی وسایل ځای پرځای شوی وو چې په دفتر کې وو.

کورته له تګ نه مخکې هره ورځ خامخا دجګړه ییزو عملیاتو دسوق او اداری مرکز ته ورتلم. هره ورځ له استثناء پرته دیاد شوی مرکز، دلښکر دقرارګاه او داساسی ځانګو دافسرانو پوځی محاسبی دغه ځای ته رارسیدلې. نوکریوالو افسرانو دمحدودو پوځی ټولګیو له ټولو قطعو او په دې لړ کې دتوپچی او هوایی ځواکونو په ځیر ګوزاریزو جزوتامونو سره دپرله پسی مخابراتی تماس ددرلودو په مرسته دبدلیدونکو حالاتو جاج اخیسته او دارتیا په وخت کې یې دلښکر دقوماندان یا درستیزوال تر رارسیدو، دپوځونو فعالتیونه هماهنګ کول.

زه دهغو نسبتاً پنډو، ډبرینو، دریو کورونوله ډلې نه په یوه کې اوسیدم چې داتیایمی لسیزی په نیمایی کې دلښکر دقوماندان او دهغه دمرستیالانو له پاره آباد شوی وو. له دفترنه کورته معمولاً په پښو راتلم. چې سړی په کراره او بې عجلی تلای، نو دغه مزل له لسو دقیقو زیات وخت نه نیوه. یوازی سړی کولای شوای آزاده هوا تنفس کړی بلکه په سړه سینه دتیری ورځې دحالاتو جاج هم اخستل کیدای شوای.

په ټولو جګړو، خو په تیره بیا دافغانستان دجګړې په ترڅ کې شپه تر ټولو ستونزمن او پیچلی وخت ګڼل کیږی. دشپې دتیارې په خوریدو سره ناڅاپه د ډزو باران پیل کیده. غلیمان پوهیدل چې دشپې مور پراخ هوایی برغل او یا توپچی دقیق ګوزارونه نه شو کولای.

دشپې برغلونه زمور له پاره تر هرڅه لومړی له دې امله خطرناک وچې پرسونل

ټول په کاغوشونو کې راټولیده. که چیرې دشپې کومه ګولۍ په کاغوش لګیدله یا دهغه خواته چاودله، دورځې په پرتله یې دسردروند تاوان رسولی شوای.

سربیره پر دې مجاهدینو دشپې له تیارې نه دورانکاریو له پار هم ګټه اخیسته. دورانکارو باندونو هڅې دغه وخت ګړندۍ کیدلې. ډیر ځله دیوې شپې په ترڅ کې حالات څو ځلی بدلیدل رابدلیدل په داسې حالاتو کې زما داپارټمان تلفونونو، تر سهاره شرنګا کوله.

دلته داپارټمان دکلمې استعمال چندان سم نه راته بریښی. دقوماندان کور له دوو کوټونه جوړو. سالون ددفتر کارهم ورکاوه. همدلته میز، تلفونونه، دوې څوکۍ، یو کوچ، تلویزیون او اوسپنیز صندوق (ګاوصندوق یا سایف) هم اینبودل شوی وو. دخوب په کوچنۍ کوټه کې په سختۍ سره یو کټ، الماری، یو کوچنۍ میز او یوه څوکۍ ځای په ځای شوی وو. دجګړې دوخت په حساب یوازنی لوکس څیز چې می درلود هغه دځان مینځلو عصری تشناب و. دقوماندان مرستیالانوهم تقریباً همداسې ژوند درلود. دلښکر دبیلابیلو قطعاتو او ادارو غټو آمرینوته په دوو تنو، یو دغسې اپارټمان رسیدلی و.

که ورځ به عادی تیره شوه او ماښام به هم تریوې اندازې کراری وه او دزې او د سرزیانونه به کم و، نو ټولو عمدتاً ایله دشپې په دولسو بجو استراحت پیل کاوه.

مورټول دجنګی الوتکی یا هیلیکوپتر دغرهاری په څپو کې چې ټوله شپه به دلښکر دقرارګاه له پاسه په ګزمه تیریده، خوب اوړو. پیلوټانو دجګړې دسوق او اداره مرکز سره ددایمی ارتباط په مرسته اساسی تأسیسات ساتل او دځینو

سیمو تاکلی برخی یا هغه لوری به یی څارل چې معمولاً به پرې دلښکر برقرارگاه دډزوله پاره کار اخستل کیده. دغه هیلیکوپتر دورځی هواته نه پورته کیده. ددی له پاره چې ونه ویشتل شی، مور به (دورځی) یوازې په ځمکنۍ څارنې بسینه کوله، خو دشپې به خامخا هغه دلښکر دقرارگاه او دکابل دهوایی ډګرله پاسه تیریده راتیریده.

اساسی دنده دوګړو دژوند ساتل دی

په ۱۹۸۷ کال کې زه بیخی متیقن وم چې زمور دپوځونو دایستلو پریکړه کیدونکې ده. ما دځلویښتم لښکر دمشرتابه غړی راتول او زما په نظر مهمه خبره می له هغوی سره مطرح کړه: دسرزیان دې هم په جګړو او هم په تیره بیا له جګړې پرته حالت کې بیخی راکم کړی شی. ما دخپلی پریکړې په سم والی باور درلود او دژوندانه بهیرهم داخبره تایید کړه. ماله افسرانونه وغوښتل چې باید دسرتیرو او وړو ضابطانو دمرګ دمخنیوی له پاره دې خپل پوره وس وکړی. دجګړې په ډګر کې او یا ددښمنانو له خوا، دهوایی ډګر، ګارنیزیون، پوستی او یا هری بلی موضع دویشتو په ترڅ کې دهر وځل شوی پوځی په بدل کی باید دهغه دقوماندان غوږونه سخت تاوکړی شی.

سمه ده چې په افغانستان کې زمور تلفات مثلاً په ویتنام کې دامریکاییانو دسر دزیان په په پرتله ځلور ځله کم وو، خو زه فکر نه کوم چې دمړو شویو وګړو دمیندو، کونډو اویا بچیانو زړه ګې په دې خبره تسل کیدای شی.

دځلویښتم لښکر دپوځی فعالیت او دحکومتی لښکرو په ګټه دسرته

رسیدونکو عملیاتو شمیر باید حداقل اندازې ته کم کړای شی. قوماندان مجبور وځوابی او یا دشرایطو په اقتضا یرغلیز ګوزارونه یوازې ددی له پاره ترسره کړی جی زمور دهیوادوالو دډله ییزی وژنې مخنیوی وکړی او یا ددغسی قتل خطرله منځه یوسی. قوماندان یوازې هغه وخت حق درلود عملیات وکړی چی پر دښمنانو دزورور ګوزار دکولو اړتیا دلمرغوندې روښانه وبریښی.

دځلویښتم لښکر درستیزوالی ته چی مشری یی هغه وخت دیوری پاولوویچ ګریکوف په غاړه وه، دکوچنیو محافظتی پوستو ترسطحی پورې زمور دټولو قطعاتو دسختی ځارنی د یوه مرکزی سیستم دمنځ ته راوړلو دنده وسپارل شوه. مور باید دافغانستان په هره سیمه کی آن له کوچنی بدلون نه خبر شوی وای.

مور په همدې شدت په افغانستان کې دغای پرځای شویو جنګی او ترانسپورتی الوتکو دلارښوونې ځارنه کوله. ځلویښتم لښکر پیاوړی هوایی ځواک درلود.

. ما دخپلی قوماندانی په لومړیو میاشتو کې هڅه کوله چی هر افسر پوه شی: دراپیداشویو ستونزو په پام کی نیولو پرته باید پخوانی بتان نورمات کړی. له افغانانو سره، دهغو له پوځ، حکومت او سیمه ییزو مشرانو سره دپراخ مټ مرستی بندول په کار و.

تجربی ښودلې وه چی افغانان زمور دجګړه ییزو بریاوو پخلی نه کوی، له هرې جګړی یوه نیمه - دوه میاشتی وروسته خبره بیرته زړه په زړه کیده: دښمنانو بیرته هغه ځایونه لاس ته وروړل چی مور ترې نیولی وو. هغوی دوسلو او مهماتو زړې

زیرمی له سره جوړولې، بیا زمور د تأسیساتو څنګ ته رارسیدل او بیا یې ډزې او یرغلونه پیل کول. پوښتنه رامنځ ته کیږي: دځه له پاره دومره اوږده موده وجنګیدو او دزلمیانو غوښې مو په غرونو کې پاتې شوې؟

ددې بهیر تمول په کار و.

دځلویښتم لښکر د قرارګاه دریځ دزیاتو په طبعه برابرنه و. مور تر هر چا لومړی، دافغانی مشرتابه له خوا، زورور فشار احساس کړ. کله چې نجیب الله او اطرافیان یې په دې وپوهیدل چې مور نورنه غواړو دهغوی پرځای وجنګیږو، نوله خپلو زړو چلونونه یې په نوې بڼه کار اخستل پیل کړل. افغانی مشرانو په هره وسیله او آن کریو چکوف* یا ګرباچف ته دشخصي مراجعې له لارې زیار ایسته دشوروی محدودو قطعاتو پوځي ټولګي دهغو ستونزو هواري ته راکاږي چې په کابل کې دواکمن رژیم دبقا له پاره یې حیاتي ارزښت درلوده.

په افغانستان کې پوځي - سیاسي حالت ورځ په ورځ پیچلي کیده. چې څومره به دحکومتي واکمنو دریځونه کمزوري او مړاوي کیدل، هومره به په شوروی پوځي قوماندانۍ فشار زیاتیده. له یوې ورځې نه بلې ته دکابل واکمنو، له مور نه دزیاتو شیانو غوښتنه کوله.

مور دخپلې وسلې په زور دانقلابي رژیم ډیر چوپړ وکړ، خو دافغاني مشرانو طفیلي عادتونه او زمور په حساب دحکومت چلوني ښکاره هڅې بالاخره ددې سبب کیدلې چې دحکومت تر کنترول لاندې سیمه له یوې ورځې نه بلې ته محدوده شي. دولایتونو زیاته برخه داپوزسیون په منګولو کې کیوتې وه.

---

* کریوچکوف هغه وخت د ک. ګ. ب. رئیس و.

دیو شمیر ولایتونو یوازی یود برخه زمور په لاس کی وه. عمدتاً شوروی عسکرو ولایتی مرکزونه په لاس کی ساتل چی په هغو کی به د نجیب الله سړی ځای پرځای وو، د ساری په توګه دبامیانو په ولایت کې د شوروی کوماندو کنډک ددرې کیلومترو په مساحت ارزښتناکه ستراتیژیکی سیمه په لاس کی لرله چی له هرې لورې د دښمن په محاصره کی و. په داسی حالاتو کی به مور ویل: دولایت یوه برخه داپوزسیون په لاس کې ده. خو په اصل کی خبره بیخی بالعکس وه.

دافغانستان حکومت ونه شو کړای دلسو کلو په ترڅ کی په ډیرو ولایتونو کې خپل دریځ پیاوړی کړی. کونړ، پکتیکا، بدخشان او کاپیسا په دې لړ کې راتلل. په ۱۹۸۷ کال کې دهیواد دخاوری چی دا داری ویش له پلوه پکی ۳۱ ولایتونه او یوه دخوست لویه ولسوالی راتله، په سلو کې ۸۵ برخه دمجاهدینو په لاس کی وه. حکومت یوه ولسوالی په بله پسی او یوولایت په بل پسی له لاسه ورکاوه.

که روسان ووځی...

دافغانستان اکثریت وګړو دسیاستمدارانو خلاف په خپل هیواد کې د شوروی پوځونو شته والی د پوځی، سیاسی او اقتصادی عمومی معیارونو له مخی معقول اقدام نه ګانه.

عادی افغانانو چی د قرآن په روحیه روزل شوی وو، زمور یعنی شوروی یانو په ځیرو کی داسی «کفار» لیدل چی نه یوازی دهغوی په عقیده، مذهبی دودونه تر پښو لاندې کوی بلکه وسله په لاس د مسلمانانو خلاف جنګیږی هم. زمور خلاف «مقدس جهاد» تر هغه وخته اعلان شوی و، څو وروستی شوروی سرتیری له منځه

ورل شوی نه وی.

زما په نظر دانقلابی رژیم بدمرغی په دې کی وه چی تقریباً ورته عقیده دافغانی پوځ ډیرو افسرانو هم درلوده، دغی عقیدې دجګړې دبهیرله څرنګوالی سره په ارتباط کې ځان (په بیلابیلو بڼو) څرګنداوه. توپیر یوازی دومره وچی افغانی پوځیانو دمقام خیال ساته او ملکی مامورینو دځوکی.

له یوې خوا هغوی دافغانستان دکورنی لانجو دهواری له پاره شوروی پوځیانو او سلاکارانوته اړتیا درلوده، خوله بلی خوا هغوی په دې هم پوهیدل چی دا په کومه سیمه ییزه لانجه کی ګډون نه، بلکه په مورنی هیواد کې بشپړه کورنۍ جګړه ده. نن یا سبا به دخپل اولس خلاف جګړه کې دهغو برخه اخستنه تولوته رسوا شی. زما په نظر دنجیب الله حکومت ترهر څه زیات له دغه ټکی نه ډاریده. هغوی په خوله دانترناسیونالیستی مرستی له امله زمورمننه کوله خوله دې سره جوخت دنجیب الله سړی په دی هم پوهیدل چی زمور پوځونونه ترقیامته په افغانستان کی پاتی کیدای خونه شی؛ ډیر ژر به هغه وخت راورسیږی چی انقلابی مشران به وی او دهغوی ستونزې، دوی به وی او مخالفین.

زه دافغانی پوځیانو خیانتونه او بدعهدی چی تقریباً په هر ګام کی ورسره مخامخ کیدو، یوازې په همدغو پورتنیو دلایلو توضیح کولی شم. مثلاً: ډیر ځله به داخبره راولاړه شوه چی افغانی اردو دې په خپل لاس په دښمن ګوزارونه وکړی. دحکومتی لښکرو افسرانو په خبرو کې دبیلابیلو دندو داجراله پاره بشپړ چمتو والی څرګنداوه، خو په عمل کی به یی بیخی عکس کارونه کول. زمور له خوا په

شویو پلټنو کې به داسې خبرې جوتې شوې چې دسړی خوله به ورته خلاصه پاتې کیده. افغانی پیلوټانو ته چې به د باندونو دراټولیدو دسیمې له پاسه دالوتنې امر وشو، دهغو په سربه څوځله تاوراتاو شول او بیا به یې خپل ځمونه بیخې په بل ځای وغورځول. مورډ داسې ډیر مواردو پلټل او مستند مو وښودل.

کمزوری روحیه او تیټه مسلکی روزنه دافغانستان دوسله وال پوځ دمنسوبینو بیلوونکې ځانګړتیاوې وې.

البته چې دافغانستان پوځ لوا ګانی، غنډونه او فرقی درلودې. دافغانستان ددفاع وزارت هوایی ځواکونو، آن الوتکی هم درلودې، البته دشوروی محصول(!)

په هوایی ډګرونو کې میګ-۲۱ ډوله او ایل-۲۸ ډوله بم غورځوونکې الوتکې چې په خپل وخت کې بدې نه وې، ولاړې وې. ایل-۲۸ ډوله الوتکی که څه هم زړې دی او اوس نوې الوتکې منځ ته راغلی، خو دشوروی لومړی اتومی بم دهغو په مرسته ګوزار شوی او اوس هم دښو الوتکو په ډله کې ګڼل کیږی. هغوی دالوتلو ډیرې ښې ځانګړتیاوې لکه سرعت او دمانور ځواک لری. خو بیاهم افغانی پوځ ددې وړ تیا نه درلوده چې مخی ته پرتې لانجی دنورو له مرستی پرته غوڅی کړی. مورډ په دې خبره کی هیڅ شک نه درلود، خو خوله مو پټه ساتله.

دمحدود پوځی قطعاتو وتل په حقیقت کی دحکومتی پوځونو دغوڅی ماتی پیل و. دجګړې په وروستیو وړځو کی افغانی پوځونو او په دې لړ کې هوایی ځواکونو زمورډ له مرستې پرته د کابل، جلال آباد او ګینو نورو ښارونو ددفاع له

پاره جگړې ایله څو اوونۍ اوږدې کړی شوی. کله چې له څلویښتم لښکر نه پاتې درې میاشتنۍ زیرمې ختمې شوی، د کابل انقلابي رژیم د مخالفینو د ګوزارونو لاندې ساده ورکړه (؟!!!)

استخبارات

دافغانستان د پیښو جاج اخستنې تر زیاتې اندازې د استخباراتي ارګانونو په اغیزمن فعالیت پورې اړه درلوده. پوځي استخباراتو ټول وس په کار اچولی و، چې د محدودو پوځونو قوماندانې، د پریکړو د کولو په وخت کې د اپوزیسیون له پلانونو نه پوره آګاه وساتي.

د استخباراتو اداري ډیرې قطعي او جزوتامونه درلودل. نه غواړم چې د قیق شمیر یې یاد کړم، ځکه هغه سیستم لا تراوسه هم فعالیت کوی. فکر کوم د استخباراتو د اداري د دننني جوړښت او دهغې د کار د ځانګړتیاوو راسپړلو ته اړتیا نه لیدل کیږی. یوازې دومره ویل غواړم چې سلګونه افسران، واړه ضابطان او سرتیری چې د استخباراتو په برخه کې یې کار کاوه د څلویښتم لښکر سترګې او غوږونه ګڼل کیدل.

که چیرې له سیاسي پلوه ډیر تینګ دولتونه نه شي کولای د زرګونو بسو روزل شوي افسرانو له مرستې پرته په حالاتو لاس بری وموميږي، مورخ وپه افغانستان کې د استخباراتو د اداري له مرستې پرته هیڅ نه شو کولی.

دافغانستان په خاوره کې د شوروی پوځونو په ګډه د اطلاعاتو د راټولولو او تحلیل پیاوړی او بنه سمبال سیستم د څلویښتم لښکر د استخباراتو د اداري له خوا

رهبری کیده. ټول پوځی مخبران په همدی اداري پورې تړلی وو.

داستخباراتو په لویې اداري پورې یو استخباراتی مرکز، دوه دجاسوسی ځانګی او دغه راز په فرقو، لواګانو او مستقلو غنډونو کې داستخباراتو مدیریتونه تړلی وو.

داستخباراتو په سیستم کې دغه راز مستقل غنډونه او هم دوه ضربتی لو ګانی راتللی چې دافغان- پاکستان دګډی پولې په اوږدو کې ځای پرځای شوې وې. هرې لوا ځلور کنډکونه او هر کنډک په منځنی توګه پنځه سوه تنه پرسونل درلوده.

پردې برسیره دپلو او کوماندویی فرقو داستخباراتو کنډکونو او دپلو او ټانک غنډونو استخباراتی ټولیو هم دجاسوسی په کار کې مرسته کوله. دپوځی استخباراتی اهرو لوړ څوکه (رأس) دځلویښتم لښکر په قرارګاه کی و.

له پوځی استخباراتی لارونه لاس ته راغلی معلومات دهیواد په بیلابیلو سیمو کې دځلویښتم لښکر له پاره دمحدودو جګړو دسرته رسولو په وخت کې ډیر ارزښتمن څیز ګڼل کیده. په دې وسیله به مثلاً دوسلو یا مهماتو دزیرمو دقیق ځایونه، داپوزسیون دډلومرکزونه او یا دهرې ډلې دغړو شمیر مور ته معلومیده. له دغسی معلوماتو نه یود قوماندان هم سترګې نه شوای پټولای.

خو مور په افغانستان کې هره ورځ جګړه نه کوله، ولې دمعلوماتو لاس ته راوړل هره شیبه په کار وو.

داپوزیسیون داعمالو او نیتونو په هکله ګټور معلومات معمولاً درادیو

تخنیکی وسایلو او یا انفرادی جاسوسانو په مرسته لاس ته راتلل. دځلوینتم لښکر قوماندانۍ دا امکانات درلودل چې نه یوازې دنسبتاً لنډې مودې له پاره دحالاتو جاج واخلي، بلکه دا وړدې راتلونکې مودې له پاره هم دحالاتو د پرمختګ اټکل وکړي. مورږ نه یوازې دهر مخالف ګوند دمشر تابه له مزاجي حالت نه چې دهیواد بیلابیلی سیمې یې په لاس کې وې پوره زیات خبر یدو بلکه دشوروی یا حکومتی عسکرو خلاف ددښمنانو داحتمالی ګډو اقداماتو په هکله موهم کافی معلومات لاس ته راوړل.

دمحدودو پوځی قطعاتو قوماندانۍ پرله پسی دعلاقې وړ معلومات حاصلول. داستخباراتی اداري افسرانو داطلاعاتو د لاس ته راوړلو بیلابیلې لارې چارې منځ ته راوړې او کارولې. ددغو اطلاعاتو طیف ډیر پراخ و: دنظروړ سړی، شی یا سیمې له نظری ځارنی نه نیولې، دمخابراتی څپو او له هوانه داخستل شویو عکسونو تر مطالعې پورې. داتیایمی لسیزې په دوهمه نیمایی کې دتخنیکی ځارنی جزوتامونو آن د افغانستان په خاوره کې دکیهانی جاسوسۍ په ګډون، ډیر پراخ معلومات لاس ته راوړل پیل کړل.

مورږ داستخباراتو هغې بڼې ته ډیر ارزښت ورکاوه چې دتخنیکی وسایلو په مرسته دامنیتی پوستو دغږو له خوا دهغوی دمسؤولیت په سیمه کې ترسره کیدله.

ددلګیو دقوماندانانو په ګډون تقریباً ټولو افسرانو دمزدورو جاسوسانو یود شبکه درلوده معمولاً په دې ډله کې دسیمې عادی وګړی راتلل. هغوی له

مجاهدینو سره د تماس ترڅنګ مورد ته هم په دې هکله معلومات را کول چې مثلاً په کلي کې څه حالت دی، د شوروی عسکرو تر کنترول لاندې سړک په اوږدو کې څه پیښیدونکی دی، د څلویښتم لښکر په جزوتامونو کې د کمونیزم انکارو عملونو ته کیږی.

شوروی پوځی مشران په افغانستان کې د خپل حضور په لومړنیو میاشتو کې دې نتیجې ته ورسیدل چې له سیمه ییزو خلکو سره ماهرانه اوږاخ کار داسې نتیجې لاس ته راوړلی شي چې ستر ګې پټول تري شونې نه دی. له همدې امله مورد نه یوازې دغه کار ته اجازه ورکړه بلکه ټولو لویو او کوچنیو قومندانانو ته دنده وسپارل شوه، چې د خپلو اجیرو جاسوسانو شمیر دې پرله پسې زیاتوی.

د جاسوسی څانګوله لارې مو وکړای شول دا پوزیسیون زیاتو قوماندانانو ته لار پیدا کړو قاعدتاً له هغو سره په خپله د قطعی قوماندان یا درستیزوال تماس نیود. په هغو سیمو کې چې له جغرافیایی پلوه یې ځانګړی ارزښت درلوده د همدې مقصد له پاره خاص سیستم منځ ته راوړل شو او زمورد استخباراتی شبکی ترلارښوونې لاندې چارې سرته رسیدلې.

په افغانستان کې زمورد حضور د نهو کلونو په لړ کې د مجاهدینو داسې کوچنی، منځنی یالویه ډله نه وه چې مشرانو دې یې د څلویښتم لښکر له استازو سره د همکاری تړون نه وی لاسلیک کړی. که له دغسې هڅو په تیرو بیا له قوماندانانو سره د مخامخ کتنونه مو ډډه کړې وای، نو تر زیاتی اندازې به مو په خپل لاس په افغانستان کې د شوروی پوځونو د فعالیت په لارکې خنډونه اچولی

... شاهدینو سره آن دیوه لنډ او زبند کول زموږ له پاره تر ډېر زیات ښه وچې ... ملا وجنګیږو او دخپلو ۱۹ کلنو سر تیرو په ژوندانه لوبی وکړو.

زما په نظر دفرقو قوماندانانو ډېر زیار وایسته چې داطلاعاتو دحاصلولو سیستم منځ ته راوړي. که چیرې هغوی داپوزیسیون دوسله والو ډلو په مشرانو داغیزښندلو امکانات نه درلودای نو ترکنترول لاندې ولایت یا ولسوالۍ کې ورته په حالاتو کنترول درلودل خورا ګرانیدل.

تقریباً دافغانستان په هره سیمه کې موله اپوزیسیون سره تماسونه ټینګ کړي وو. ځینې وختونه به هغه ډېر لنډ او کم دوامه وو، خو کله کله به په یوه دوه بدل او دځو کلونو له پاره ثابت پاتې کیدل. افسران له دوه کلن خدمت وروسته شوروی ته ستنیدل، خوارتباطي سیستم له یوه نه بل ته لکه په میراث پاتې کیده.

د «حیاتی لارې» په اوږدو کې چې له کابله تر سالنګه او بیا تر ترمزه اوږده وه، په تیره بیا دسالنګ په جنوبي برخه کې، دچاریکارو په شاوخوا، جبل السراج او دغه راز د درې په خوله او دننه په غرنیو سیمو کې موږ ښه ټینګ تماسونه تأمین کړي وو. له یو شمیر تشو سره سره په شمالي سالنګ، ددوشي په سیمه او پلخمری کې او دغه راز دشمال په لورې پرانډې هم نسبتاً اغیزمن تماسو منځ ته راغلي وو.

دغه راز له هغو ډلو سره چې دکابل په شمالي او ختیځو څنډو کې یې دسروبی داوبو تربنده دجلال آباد په لور دلوی واټ په اوږدو کې فعالیت کاوه هم ټینګه همکاري منځ ته راغلې وه. خو دکابل په لویدیځ او جنوب کې دفعالو ډلو راماتول ډېر ګران کار و.

دپوځی استخبارات تو غړو په جلال آباد ، دکندهار په ځینو سیمو او فراد کې دمخالفو ډلو له مشرانو سره مخامخ تماسونه پیدا کړل. له مخالفینو سره پرله پسی کار په شیندند کې دځلویښتم لښکر دهوایی ځواکونو پرادې دغلچکیو یرغلونو خطر ډیر کم کړی و. دپنځمی پلی فرقی قوماندان برید جنرال الکساندروا سیلویچ - او چکین او د ۱۰۱ لمبر غنډ قوماندانی دهرات په سیمه کی دبیلابیلو مخالفو گوندونو له خپل منځی اختلافونو څخه دځان په گټو ماهرانه کار اخیسته. په بگرام او دهوایی ډگر په چار چاپیر «شنه سیمه» کې دحالاتو د آرامی له پاره ډیرې هڅې په کار وې. خو په دې ولایت کې هم بالاخره دفرقی قوماندان جنرال ویکتور میخایلیویچ بارینکین وکړای شول زمونږ په گټه گټور تماسونه ټینګ کړی.

دځلویښتم لښکر ترځنګ داطلاعاتو په راټولولونه ک. گ. ب او دشوروی اتحاد دکورنیو چارو وزارت هم مشغول وو. کله کله دشوروی سفارت کارکوونکی هم ددغسې چارې له پاره گمارل کیدل، خو دغو وگړو له داسی «جزئیاتو» سره لکه ددښمن ناڅاپی یرغل یا زمونږ په موټری قطار دهغوی له برید سره هیڅ علاقه نه ښودله.

د ک. گ. ب. دبهرنی جاسوسی څانگه په غټو کارونو لګیاوه. دهغوی پاملرنه داسی خبرو څخه تراوله لکه: دافغانستان دپښتو، جگړه ییزو عملیاتو، دمحدودو پوځی ټولګیو دقوماندانی او دکابل دحکومت په وړاندی دپاکستان او ایران دمشرتابه د دریځ په هکله معلومات. ک. گ. ب دځینو

جاسوسانو په مرسته هڅه کوله دافغانستان په خاوره کې دننه داپوزیسیون دنویو غټو اډو دجوړولو له پلانونو نه په خپل وخت خبر شي. هغوی زیار ایسنه آن په بود ځانګړې سیمه کې دمجاهدینو دمشرانو دکوم موقتي ائتلاف په هکله معلومات ترلاسه او په څو ولایتونو کې دحالاتو دپرمختیا اټکل وکړي.

دبهرنۍ جاسوسي د اداري له همیشنۍ ځانګړې دریځ سره سره په کابل کې (زمور) پوځي قوماندانۍ دهغې له لارې لاس ته راغلي اطلاعات په ډیر احتیاط کارول. دې اداري ډیر ځله یوازې خپلې ګټې په پام کې ساتلي. دبهرنۍ جاسوسي د اداري غړو کله کله دخپل پت دخوندي ساتلو له پاره آن دمخابرو او هوایي عکسونو له لارې لاس ته راغلي عیني شواهد داسي تحلیلول چې نتیجه یې له هغه څه نه بله راونه خیژي چې په مسکو کې ددوی غټ آمرین پرې باور لري. دشوروي اتحاد د ک. ګ. ب. استازو په داسي حالاتو کې خپل اطلاعات بې له دې چې دځلوینټم لښکر قوماندانۍ پرې خبره کړي، مسکو ته استول.

کله کله به دجاسوسي دبیلابیلو ارګانونو ترمنځ دسیالۍ او غیر هماهنګه اقداماتو نتیجه دا راوخته چې مور به ددښمنانو دکوم کیدونکي او یا راپیل شوي عمل خبر له مسکو نه ترلاسه کاوه. په داسي حالاتو کې به دځلوینټم لښکر په قوماندانۍ تور لګید: چې له اوضاع نه پورته خبر نه دی او نه پوهیږي چې «تر سونۍ لاندې» بې څه تیریږي. قاعدتاً، له څه ډول تحلیل او نورو څیړنو وروسته به ثابته شوه چې دشوروي اتحاد د ک. ګ. ب، داستازو اطلاعات که سړی په نرمه لهجه ووایي نوله حقیقت سره سمون نه لري.

داسی پیښې له بده مرغه ډیرې منځ ته راتللې او د پوځي استخباراتو او د ک. ګ. ب دغږو ترمنځ د اړیکو د خړپړتیا سبب ګرزیدې.

دستر درستیز د پوځي استخباراتي اداري له لارې دلاس ته راغلو معلوماتو یوه غټه ځانګړتیا دهغوی سم والی. د پوځي استخباراتو افسرانو هر دلاس ته راغلي اطلاع بیا بیا آزمیله او سپینوله داطلاعاتو د حصول ځانګې. ځانګې او څو پوړیز سیستم چې په کې زرګونه روزل شوي افسران، جاسوسان او اجیر مخبران په کار اخته وو، د دې امکان ورکاوه چې د اطلاع سقم او صحت ډیر ژر روښانه شي.

خو دهغو نورو اداروحالات چې په کابل کې یې نمایندګي درلودې، بیخي بل ډول وو. ډیر ځله به یوه کار کوونکي ټول اطلاعات انحصار کړي وو. داستخباراتي اداري دغه غړي چې له مخبر سره یې مخامخ تماس درلود، نه شو کولای دلاس ته راغلو معلوماتو سم والي یا ناسم والي ځان ته روښانه کړي. شک نشته چې داستخباراتي اداري ځینې رپوټونه چې د مسکو دلوړو آمرینو د میزونو په سر (دکتنې له پاره) اینبودل کیدل، له کوم چرسي دښمن نه له لاس ته راغلو او توبوتو پرته بل څه نه وو.

وروسته، وروسته داستخباراتي اداروغړو په خپل منځ کې د کار سره هماهنګي هم پیل کړه. تقریباً د ۱۹۸۵ کال له پیله د ځلوینښتم لښکر په قرارګاه کې د هغو دیوکولو له پاره د ځانګړو جلسو جوړول رواج شول. په هغو کې د پوځي استخباراتو غړو او د غه راز د شوروي اتحاد د ک. ګ. ب. کورنیو چارو وزارت او

دلوی سفارت استازو برخه اخیسته. لاس ته راغلی معلومات په گډه یو یو روښانیدل او تحلیلیدل. له دې کار وروسته به پریکړه کیده: په څه شی باور په کار دی او په څه شی نه دی.

داستخباراتی تحلیلوونکو څانګو ګډو هڅو تردیره حده ددې لاره هواروله چی په خپل وخت د مشرتابه له پاره داجرأ ور مشورې برابرې کړی شی.

هوایی ځواکونه

دشوروی اتحاد په ټول تاریخ کې څلویښتم پوځ یوازنی پوځی قطعه دده چی خپل هوایی ځواک یی درلود. داخو راپیاوړی ځواک وچی بیلا بیل ډولونه الوتکې او هیلیکوپټرونه په کی راتلل. دهغه وله دریونه دوه برخی یرغلیزې الوتکی وې. دڅلویښتم لښکر دهوایی ځواکونو اصلی مرکز په بګرام کی و. دغه راز دکندهار او شیندنډله هوایی ډګرونونه هم پراخه ګټه اخستل کیده (زمور ۱۰۳ لمبر کوماندویۍ فرقی او دري واړو پلو فرقو خپل خپل هیلیکوپټرونه درلودل د پنځوسم لمبر هوایی مختلط غنډ هیلیکوپټرونو په جلال آباد او کندهارکی له میشتو ٦٦ او ۷۰ لمبر مستقلو لواګانو او دغه راز د ضربتی کنډکونو قطعو سره هوایی مرستی کولې.

پوځی هوایی ځواک ډیر ښه سمبال و. مور د می - ۲٤ ډوله جنګی هلیکوپټرو بیلابیل ډولونه په کافی شمیر درلودل. دهغو ترڅنګ د می ۸ - ت ډوله جنګی - ترانسپورتی او یوازې ترانسپورتی هیلیکوپټرونه هم کار اخستل کیده. تقریباً په ۱۹۸۵ کال کې څلویښتم لښکر می - ۸ ،م.ت ډوله هیلیکوپټرونه هم لاس ته

راوړل. دادیر ډاډمن او دقوی وسلی درلودونکی هیلیکوپترونه دی دجګړه ییز توان له پلوه هغوی له اصلی جنګی هیلیکوپترونه کم نه دی. ددې هیلیکوپترونو اصلاح شوی او بشپړشوی انجن پیلوټانو ته وس ورکاوه، له دو زره کیلوګرامه بار سره تر پنځو زرومترو پورې لوړ شی.

پیلوټانو د ښې زده کړې او چمتو والی له امله کولای شوای خپلی دندې په ډیرو سختو، اقلیمی جغرافیایی او جنګی شرایطو کې ترسره کړی. زمور دامنیتی پوستوله دریو برخونه تقریباً دوې برخی پاس په غروڼو کې پرتې وې. هغوی ته دمهماتو، خوږو، اوبو، لیکونو، ورځپاڼو او نورو شیانو درسولو له پاره مور یوازې له هیلیکوپترنه کار اخستلی شو. دځلوینښتم لښکر د هوایی ځواکونو افسرانو په هر ډول شرایطو کې که به عادی استخباراتی الوتنې وې یا په پنجشیر کی جګړې ییز عملیات، خپلی دندې په میرانې او مهارت سرته رسولې.

پوځی هوایی ځواکونو، کوماندویان په ډیر مهارت پلی کول قاعدتاً داسی عملیات د دښمنانو د مقابلو ډزو په باران کی سرته رسیدل. دغینو پوځی عملیاتو په وخت کې پیلوټانو دورځی پنځه - شپږ الوتنې کولې او هر ځل به دری، دری نیم زره متره، لوړې ته پورته کیدل. البته چی دناستی له پاره به ډګر ګوتې نه و. قطعه به په منډه دشلو - دیر شو ثانیو په ترڅ چی هیلیکوپتر به په هوا کې ځوړند او یا به یې یوازې یو ټایر په کومه ډبره نښتې و، کښته کیدله.

دجګړو په وخت کی پیلوټانو له حد زیات کارونه سرته رسول. دځلوینښتم لښکر دهوایی ځواکونو افسرانو دکوماندو ډلی کولو تر څنګ دجګړې ډګرته

مهمات او دارو درمل رسول، تپیان، رنځوران او مړی به یی لیږدول. په افغانستان کې دمحدودو پوځی تولګیو د حضور له هماغه لومړی ورځی داسی امر و چی هیڅ پوځی که هسی تکیدلی وی، زخمی وی یامړ، باید دجګړې په ډګر کی پرې نه شودل شی. دوی تول آن د مړو په ګډون باید وموندل شی او ولیږدول شی. په افغانستان کی دخپل اوږده ماموریت په تولو کلونو کی می داسی یوه پیښه په یاد نه ده چی مورږ دې سرتیری یا افسر هسی په ډاګ پرینبی وی. کله کله داسی هم شوی چی دورکو پوځیانو په لټه پسی مولې سره نور عملیات پیل کړی دی.

په ۱۹۸۱ کال کی د فراه ولایت دا نار درې په سیمه کې همداسی پیښه منځ ته راغله. هغه وخت دجګړې په بهیر کې پنځه تنه راڅخه ورک شول. هیڅوک نه پوهیدل چی هغوی چیرې دی. وروسته معلومه شوه چی هغوی دجګړې په وخت له خپل تولی نه لیرې پاتی شوی وو، دښمنانو په غرونو کی هغوی را ایسار کړی وو، اوږده او درنده جګړه نښتی وه، له پنځو تنونه څلور وژل شوی او یوازې یوژوندی پاتی شوی و.

څو ساعته مونه شو کولای دا ډله ومومو. دلټون کار له دې امله هم سخت وچی سرتیرو دمخابرې دستګاه نه درلوده او نه یی شو کولای دمرستی آواز جګ کړی. یوازې هیلیکوپترونو دهغوی پته ولګولی شوه.

جګړه یوازې په یوه مقصد بیا پیل شوې وه: زمورږ سرتیری باید راوایستل شی. کوماندویان موپلی کړل، څوسیمه محاصره او له غلیمانو پاکه کړی. له بده

مرغه د دغو عملیاتو په ترڅ کې دوه نور سرتیری هم ووژل شول. په جګړه کې هیڅوک له مرګ نه په امان کې نه وی. د جګړې دبیا پیل په وخت کې ښه پوهیدو چې د سردنور زیان د پیښیدو امکان شته، خو بیا موهم ځان ته حق نه ورکاوه چې آن د خپلو ستیرو مړی په ډاګ پریږدو.

دا پوښتنه په ځای بریښي: آیا په کار وه چې د څوتنو په خاطر بشپړې قطعی د جګړې ډګر ته واستول شي او د مرګ له خطر سره مخامخ کړی شي په بله ژبه، آیا د پسه پوستکی په ایستلو ارزیده؟

هر ټولی یا کنډک چې به د جګړې یوه برخه پای ته ورسوله (نورد جګړه به لاروانه وه) سمدستی به دوګروشمېر نه پیل کیده چې څنګه به د چا د ورکیدو خبره روښانه شوه مور به سمدستي ورِ اقدامات کول. که چیری د جنګی عواملو له امله به هغی سیمی ته د بیرته ستنیدو امکانات نه وو چې قعطه ترې همدا اوس - اوس راوتلی وه، عملیات به د یوې لنډې مودې له پاره تمدیل، قطعو په نیول شویو سیمو کې خپلی مورچلی پیاوړې کولې او هغه سیمی به مو د ډزو په مرسته له نورو سیمو نه بیلولې چې زمور سرتیری یا افسر په کی پاتی شوی و. د دی کار مقصد داوچې څوک ونه شی کړای د سرتیری مړی (که هغه موجود وی) له ځانه سره یوسی.

مور به د ږې او غرنی ترې دوه، درې او کله کله څلور ځله د هوار و ځمکی له لارې بمبارې کولې څو د بښمنان له منځه یووړل شی او له خپلو پوځیانو سره مرسته وشی. له دغو بمباریو وروسته به پلو ځواکونو یا کوماندویانو په جګړو لاس پورې کاوه.

که ځیری مو یو ځل له دغی قاعدې نه سرغړولی، وای نو نه مو شوای کولای دمحدودو پوځی قطعو روحیه لورډ کړو. هر څوک چی د جګړی ډګر ته روانیده باید په دې پوه شوی وای چی په سخته شیبه کی په ډاګ نه پریښودل کیږی او خیانت نه ورسره کیږی، او ملګری یی د خپلو سرونو په بیه هغه راباسی. زما په ګډون ټول په دې خبره پوهیدل. کله چی به «دشنه شپول» ترځنګ په تیر شوی سړک کی د پرتو پوستو معاینی ته تلم نو پوهیدم چی که په ما او یا زما په زغرده وال ګاړی کومه پښته راشی نو خامخا به می د ژغورلولە پاره اقدامات ترسره کیږی؛ مړ یا ژوندی خو به می خامخا بیرته ستنوی. شک نشته چی دې ټکی د هر افسر او سرتیری په زړه کی د ډاډ احساس منځ ته راوړه.

په همدې اړوند هغه پیښه د یادولو وړ ده چی د څلویښتم لښکر د قرارګاه د آمر د ګروال واسینین پر سر راغلې وه. مور د شرایطو په اقتضا مجبور شوو یو افغانی جنرال په پته په خپل زغرده وال ګاړی کې جبل السراج ته ورسوو. د غه جنرال د ننه په ګاړی کې د چلوونکی شاته ناست و او واسینین د ګاړی له پاسه د هغه په پاسنۍ کړکۍ کی ناست و. د چاریکارو «شنه شپول» ته څیرمه په سړک د تیریدو په وخت کې په د غه ګاړی د ډزو باران جوړ شو. د توغندیو ډزې هم کیدلې. یو توغندی د ګاړی د منځ په کینه برخه داسی ولګیده چی په توتو یی افغانی جنرال سوری سوری شوی و. د هغه ساد ګای په ځای داسی ختلې وه چی آن رپ یی هم نه ؤ وهلی.

جګړه ونښته، ګاړی نور سل متره لانه وتللی، چی له لاړې نه واوونښته او په یوه

کنده کی په ماین ور برابر شو. دچاودنی څپی ډگروال واسینین له ګاړی نه پورته او وړاندې غورځولی و. دګاړی مخابره له کاره ولویده او ل هغه سره تماس پرې شو. ددې واقعی خبر، څنګ ته دبلی پرتی پوستی له خوا تقریباً لس دقیقی وروسته قرارګاه ته ورسید. سیمی ته دالوتکو په ګډون نورې قطعی سمدستی واستول شوې. کله چی جګړه ختمه شوه واسینین ماته وویل: «کله می چی لومړی ځل غرهار واوریده او بیا هیلیکوپترونه په هوا کی راښکاره شول، ډاډه شوم چی ژوندی پاتی کیږو.»

یوبل امر هم سخت مراعاتیده، او هغه داوسیدو په سیمو له هوایی بمباریو نه په کلکه ډډه کول و.

لومړی دا چی دهوایی ځواکونو افسران پوهیدل چی په کلیو کی داسی ملکی خلک اوسیږی چی دخپلو کورونو څنګ ته له پیښیدونکو پیښو سره هیڅ اړیکی نه لری، دوهم داچی دکلیو بمباری آن په هغه صورت کې چی به له هغه ځایه پر مورډزی وشوې هم، جنایی عمل ګڼل کیده.

په افغانستان کی مونه شو کولای له الوتکو نه ګټه اخستل بیخی بند کړو. پیلوټانو پرله پسی الوتنی کولې او بمونه یی غورځول. داپردښمن زمورډزورور او زما په نظر داغیزمنو ګوزارونو یوازنی لاره وه چی په عین حال کی یی زمورډ له پاره خطرهم کم نه و.

له هوایی بمباری مخکی دځلویښتم لښکر قوماندانی دهغو سیمو حالات چې باید زمور هوایی برغل پرې تر سره شی، په غور سره څیړل قاعدتاً دانسبتاً هغه وړې سیمې وې چې د ډبمن ډیر ځواک په کې راټول شوی و.

مور له هوایی ځواک نه کار اخستلو ته اړکړی شوی وو. مور په دې وسیله په شوروی پوځی قطعو او حکومتی چوپیو دغلیمانو دیر غلونو مخه نیوله.

د پاکستان په خاوره ګوزارونه

دځلویښتم لښکر قوماندانی داسی یوه قاعده جوړه کړې او کلکه یی په پام کی نیولې وه چې د پاکستان په خاورې دهر ډول ګوزارونو کول یی قطعاً ممنوع کول. د دې خبرې دلیل دا وچې په افغانستان کې دشوروی پوځی حضور په هماغو لومړیو میاشتو کې د پاکستان حکومت په خپلو سرحدی کلیو باندې زمور دعسکرو د ډزولە املە اعتراض کړی و.

د دی له پاره چې آن د تصادفی تیری مخه هم ونیول شی دځلویښتم لښکر دهوایی ځواکونو د هر پیلوټ په کابین کی نقشی وې چې په هغو کې دلسو کیلو مترو په پراختیا سرحدی سیمی ښه ښوې وې چې اصلاً پیلوټ ورته د ننوتلو اجازه نه درلوده. له ځمکې نه دشوروی الوتکو لاربښوونه آن دافغان - شوروی ترپولې پورې تعقیبیدله. ځمکنیو مرکزونو د پاکستان خاورې ته دځلویښتم لښکر دالوتکو د ننوتلو دقاعدې څارنه له دې املە هم په کلکه کوله چې څنګه به زمور الوتکې پولې ته ور نژدې شوې له هغی بلی خوا به سمدستی ښکاری الوتکه په هوا کی «ځورنده» وه. د پاکستانی پوځ وسلی په امریکی کې جوړې شوې دی.

دساری په توګه: له هوانه هواته ویشتل کیدونکو توغندیو یی تر لسګونو کیلومترو پورې واټن ویشتلی شو. په کابین کی دننه تخنیکی امکاناتو پاکستانی پیلوټانوته داوس ورکاوه چی په هوا کی هرڅه پوره روښانه وویني. سربیره پردې ورته له ځمکی نه هم پرله پسی دهدف په هکله معلومات مخابره کیدی شی. دغه پیلوټ دخپل تخنیک په مرسته کولای شول، بی له دې چی په خپلو سترګو ددښمن الوتکه وویني (دآلاتو په مرسته) هغه دتوغندی په مرسته راوغورځوی. دډګروال ا. و. روڅکوی* الوتکه په همدې ترتیب ویشتل شوې وه. په لومړی سرکې مورد اګنله چی ګنی هغه یی له ځمکی نه په «ستینګر» ویشتلی ده، خو په اصل کی هغه دپاکستان دهوایی ځواکونو دښکاری الوتکو له خوا ویشتل شوې وه. مورد له خپل لوریٔ هڅه کوله دپاکستان له وسله والو ځواکونو سره آن دتصادفی مخامخ کیدو مخه هم ونیسو. دغه امر د هوایی ځواکونو په ګډون زمورد ټولو پوځونو له پاره و. مثلاً: توپچی قواوو حق نه درلود پولې ته له پنځلسو کیلومترونه زیات ورنژدې شی. زمورد توپونو تخنیکی خصوصیات داسی دی چی له دغی اندازې نه په زیات واټن کی هدف نه شی ویشتلی.

د آبی خولیو لرونکی پوځیان*

په افغانستان کی زمورد ټولو قطعو دندې خورا درندې وې. هرې فرقی دخپلی

---

* دغه سړی وروسته دروسیې دجمهور رئیس مرستیال

* مقصد کوماندویان دی.

سیمی دځانګړتیاوو په پام کی ساتلو سره دوې دندې سرته رسولې: لومړی داچی له خپلی چونی نه تر سړکونو پورې یی د خپل مسؤولیت په ساحه کې پراته تأسیسات محافظه کول؛ دوهم دا چی په جګړه ییزو فعالیتونو کی یی برخه اخسته. دجزوتامونو ټول پرسونل به یوځل جګړې ته نه لیږل کیده. په لومړی ګام کې د کشف، توپچی او استحکام قطعی او دغه راز یو یا دوه پلی غندونه استول کیدل. خو داسی عملیات نه وو چی کوماندویانو دې پکی ګډون نه وی کړی.

په څلویښتم لښکر کی له هماغه لومړی ورځې تر پایه د (ویتیبسک-Vitebsk) ۱۰۳ لمبر هوایی کوماندویی فرقه، ۳٤٥ لمبر مستقل پاراشوتی کوماندویی غنډ او ٥٦ لمبر هوایی کرماندویی لوا، شامل وو.

له یوه کال نه بل ته دهغو دندو شمیر زیاتیده چی کوماندویانو باید سرته رسولې وای. د اتیایمی لسیزې په پیل کې له پلیو قطعو سره اوږه په اوږه د کابل دحکومتی تأسیساتو په ساتنه کې د ۱۰۳ لمبر هوایی کوماندویی فرقی جزوتامونو هم برخه اخسته، خو وروسته دمحدودو پوځی ټولګیو قوماندانی اړه شوه چی قاعده لږ څه بدله کړی. وروسته دپایتخت دساتنې کار د ۱۰۸ لمبر پلی فرقی په غاړه واچول شو او یو شمیر کوماندویی قطعی دافغانستان لیرې پرتو سیمو ته واستول شوې او هلته ددولتی واکمنی دساتنې مسؤولیت ورته وسپارل شو.

دهوایی کوماندویی قطعو دننني جوړښت او جګړه ییز چمتووالی په افغانستان کې دعملیاتو د سرته رسولو له پاره ښه مناسب و. کوماندویانو له

هماغو لومړیو شیبونه په حالاتو تسلط مونده او ترپایه یې نوښت له لاسه نه ورکاوه.

دوسلو دغټو زیرمو او دشوروی او افغانی پوځی چوپړو د پرله پسی تهدیدوونکو مخالفو باندې ونو دورکاوی او دافغانستان خلکو ته دارټیاوړ شیانو درسوونکو سړکونو په خلاص ساتلو کې ډیره فعاله ونډه کوماندویانو اخستی ده. کافی به وی که ووایو کوماندویان لومړنی شوروی پوځیان وو چی افغانستان ته ننوتل: ۱۰۳ لمبر هوایی کوماندویی فرقه د ۱۹۷۹ کال په دسمبر کې ترټولو لومړی په پوځی ترانسپورتی الوتکو کې کابل ته واستول شوه او له ټولو وروسته له دغه هیواده ووته.

یوه کوماندویی غنډ دافغانستان دمشرانو دساتنی دنده درلوده. هغه دپایتخت په زړه کې دجمهوری ریاست په مانۍ (ارګ) کی ځای پرځای و.

دځلویښتم لښکر قوماندانۍ داتیایمی لسیزې ترنیمایی پورې په ډیرو استثنایی حالاتو کې دهیلیکوپترونو په مرسته دکوماندویانو له پلی کولو نه کار اخسته. وروسته مجبور شو، کوماندویان بیا بیا او په زیات شمیر کی له هوانه (دجګړو سیموته) ولیږدوو. «دآبی خولیو لرونکو پوځیانو» (کوماندویانو) تر ټولو سختی دندې سرته رسولې: هغوی دجګړې دسیمی په ډیر برسر کې، آن ددښمن دځواکونو په زړه کې له هوانه کښته کیدل.

دکوماندویی قطعاتو بنسټ له ۱۰۳ لمبر هوایی کوماندویی فرقې او ۳۴۵ لمبر مستقل پاراشوتی کوماندویی غنډنه عبارت و چی تل یی دچټک عکس العمل

دښودلو وړتیا درلوده. کله کله به د ۵۶ لمبر هوایی کوماندویی لوا له قطعونه هم چې په ګردیز کی ځای پرځای وه، کار اخستل کیده.

دکوماندویی قطعو دبری راز تر ډیره حده په دې کی و چی دې لښکر ته سرتیری په پوره غور غوره کیدل. مخکی له دې نه چی زلمیان په افغانستان کې په جګړه اخته فرقوته واستول شی (په شوروی کې) به یی شپږ میاشتی ځانګړی تمرینات سرته رسول. ویتیبسک ته څیرمه په تعلیمی مرکز کې به سرتیروته انداخت، له پاراشوت سره د توپ وهلو، لاس په لاس جګړې او نورو هغو څیزونو ښوونه کیده چی له هغو پرته سرتیری نه شی کولای په جګړه کی برخه واخلی. ځوانو کوماندویانو دښی روزنی په مرسته کولای شوای ډیر ژر په حالاتو حاکم شی او خپلی دندې په ځلانده توګه سرته ورسوی.

دکوماندویی قطعو قوماندانانو دجګړه ییزو عملیاتو دطرحی په وخت کې بنسټیز چمتوالی او د جګړې په ترڅ کې دخپلو مادونانو ښه لارښوونه له ځانه ښودله. دشوروی اتحاد اتلان پاول سرګیوویچ ګراچف*، البرت سلیوسار او دغه راز والیری واستروتین، ایوان ریابچنکو او والیری ایفینوویچ ددغو کسانو په ډله کې دی. کوماندویانو تل په غوڅه توګه عمل کاوه او بری یی لاس ته راوړ.

دروغتیایی چارو کارکوونکی ټولو په نامه پیژندل

دځلویښتم لښکر روغتیایی کارکوونکو دافغانستان په جګړه کې زیاته تجربه ترلاسه کړه. افغانستان ته دلښکرو دلیږلو له وخته بیا ترهغی شیبی پورې چی زموږ وروستی سرتیری له دغه هیواده ووت، پوځی ډاکترانو دوګړو دژوندانه

*اوس دغه سړی دروسیی ددفاع وزیر دی.

دژغوولو او هغوی ته دروغتیا دبیاورستنولو له پاره غټ خدمتونه کړی دی.

په افغانستان کی څلویښتم لښکر څو پوځی روغتونونه درلودل. مرکزی روغتون په کابل کې جوړ شو. پوځی روغتیایی کار کوونکی ورته د ۱۹۸۰ کال دفبروری په پای کی دلیننگراد له پوځی حوزې نه راوغوښتل شول. په سر کی روغتیایی پرسونل کابل ته څیرمه په کیږدیو کی ژوند کاوه. همدلته رنځوران عملیات کیدل. څو اوونۍ وروسته افغانانو زمور له پاره یوه ودانۍ وزګاره کړه (دا دمرکزی قواوو دپخوانی روغتون ودانۍ وه- د.ج) او روغتون همدلته دښار مرکز ته ولیږدول شو.

سربیره پردې نسبتاً نور غټ روغتونونه په کندهار، پلخمری، دکندز په ۲۰۱ لمبر پلی فرقی او شیندند کی هم پرانیستل شوی وو. وروسته بیا دځلویښتم لښکر دقوماندانۍ له خوا په دغو ښارونو او جلال آباد کی دساری ناروغیو روغتونونه هم منځ ته راغلل.

دروغتیایی خدمتونو دکار کوونکو په غټه شبکه کې دروغتیایی کنډکونو او دقطعاتو د روغتیایی چارو دټولیو پرسونل هم راته، چی لومړنی مرستی دهمدوی له خوا سرته رسیدلې.

زمور طبی پرسونل هغه دچا خبره خلک له سختو ټپونو او رنځونو وروسته له هغې نړۍ نه بیرته را ستنول.

دپوځی ډاکترانو لومړنی ستره آزمویښه هله وه چی د «زیږی» ناروغۍ دمحدودو پوځی قطعاتو پرسونل بیخی رالاندې کړ. مور په خپل وخت ونه شو

کړای په وقایوی تدابیرو سره ددغی ناروغی دخپریدو مخه چی په جنوب ختیځی آسیا کې ډیره معموله ده، ونیسو، وچ اقلیم، سختی تودوخی، دخښاک داوبو کموالی او دقطعو دصحرایی ژوندانه شرایطو له ساری ناروغیو سره مبارزه گرانو له «د زیړی» رنځ له اشرارونه سخته دښمنی له مور سره را اخستی وه.

دساری په توگه د ۱۹۸۱ کال په اکتوبر، نوامبر او دسامبر کې دشیندنډ په پنځم لمبر پلی فرقه کی چی قوماندانی یی زما په غاړه وه، په یوه وخت له دریو زرو زیات کسان په «زیړی» اخته شول. له ماسره یوځای له یوه تن پرته زما ټول مرستیالان چی دغینو حالت په کی بیخی خراب و، روغتون ته ولیږدیدل. دغندونو له قوماندانانو نه دوه جوړ پاتی وو، دځلورونو رو سر روغتون ته ووت. په دې توگه زمور فرقه دغه وخت په سخت حالت کې راگیر شوې وه.

په راتلونکو کلونو کی هم زیړی اوهم دمحرقی ناروغی راځرگندیدې خومقیاس یی دلومړیو وختو په شان گواښوونکی نه و، خو بیا هم دمحدودو پوځی ټولگیو زیاتو سرتیرو او افسرانو دغه ناروغی تیرې کړی دی. پوځی ډاکترانو په دې حالت کې خپل لوړ مهارت وښوده. له ناروغانو سره مناسبه مرسته کیده. دوخت په تیریدو سره له شوروی نه مخصوصه دستگاه، لابراتواری سامان آلات او دتشخیص وسایل راوړل شول.

په افغانستان کی دشوروی محدودو ټولگیو دپوځی ډاکترانو په منځ کې دپوهانو او په دې ډله کې دعلومو ډاکتری د دیپلوم درلودونکی خورا زیات وو. ډیرو دغو کسانو دلیننگراد پوځی - طبی اکادیمی پای ته رسولې وه.

په څلویښتم لښکر کې دروغتیایی کارکوونکو ښه ساتنه کیده او ټولو ورسره مینه درلوده. ډیرو هغوی په نامه پیژندل. دساری په توګه: د پوځی جراح ډګروال اندری لیوفینګ د طلایی لاسونو په هکله هره خوا نکلونه کیدل. هغه ډیره موده په کابل کې د مرکزی روغتون مشر و. د هغه په وخت کې د افغانستان په جګړه ییزو شرایطو کې د جراحی فن خپل اوج ته ورسیده. پوځی جراح ډګروال یوری نیمیتین هم د ډیرو سرتیرو او افسرانو ژوند ژغورلی دی. د دغه شان وګړو شمیر کم نه و. فکر نه کوم چې هغوی په افغانستان کې د خدمت له پاره خاص غوره شوی وو. داسی نه وه. پخپله اردوته د جذب سیستم د دې امکان ورکاوه چې دې لورته واقعی کارپوهان رامات کړی شی.

د نهو کالو جګړې په ترڅ کې پوځی طبیبانو شته منه تجربه راټوله کړه. په تیرد نیمه پیړۍ کې د شوروی پوځونو د ګډون له پلوه د افغانستان جګړه تر ټولو ستره ګنډل کیږی. تر ۱۹۷۹ کاله پورې هم شوروی پوځیانو د مصر، سوریې او د «دریمی نړۍ» په نورو هیوادوکې په سیمه ییزو جګړو کې برخه اخسی وه، خو هلته د دوی د نده یوازی پوځی سلاکاری وه. که کله شوروی مشرانو د خپلو منظمو لښکرو د جنګولو پریکړه هم کړې نو زیار ایستل شوی چې د ګډون کونکی پرسونل شمیر یی تر ممکنه ځایه کم وی.

دالومړی ځل و چې له دوهمی نړیوالې جګړې وروسته مجبور شپږ یو لښکر د هوایی ځواکونو په ملاتړ پراخو جګړو ته سوق کړو.

پوځی طبیبانو، په تیره بیا د قطعو طبی پرسونل چې له نورو عسکرو سره

یوځای دجګړو ډګرته تلل، له ځانه ډیره میرانه ښودلې ده. دغټو جنګی عملیاتو په وخت کې نور طبی پرسونل او دجراحانو او پراتیفی ډلې هم دهغو مرستی ته استول کیدې. دجراحی صحرایی روغتون دجګړې له ډګرنه ایله څو کیلو متره لیری پرانیستل کیده.

دافغانستان دجګړې په موده کې له پنځو سو زرو زیات کسان په بیلا بیلو اندازو ټپیان شوی دی. پوځی پرسونل او نرسانو دټپیانو څنګ ته خپل ټول وخت تیراوه څو دهغوی پالنه وشی او بیرته په پښو ودریږی.

دروغتیایی چارو کارکوونکو دیوې ډیری سختی دندی په اجرا کې مخامخ ګډون کاوه او هغه دجګړې له ډګرنه دټپیانو راایستل وو. په جګړه اخته ډلګی، ټولی، کنډک یا فرقی ته چی به په هره بیه تمامیده او هر چیرې چی به لازمه وه، په غروټو، شنو شپولونو او یا هسی دلارې په اوږدو کې مجبور وو دخپلو ټپیانو لټه وکړی او حق یی نه درلود یو افسر یا سرتیری هلته پریږدی. په ډیرو دغسی حالاتو کې ټپیانو سملاسی طبی مرستوته اړتیا پیدا کوله، اوتل به دپوځی ډاکترانو لاس دمرستی له پاره ورغځیدلی و.

جګړې ته دقرارداد له مخی تګ

دمحدودو پوځی تولګیو په روغتیایی مؤسسو کې پر پوځی ډاکترانو برسیره، دشوروی اردو یو شمیر کارګرانو او کارکوونکو هم دنده سرته رسوله. په افغانستان کې دهغوی ټول شمیر له اتو زرو تنونه اوښته. دا عمدتاً ښځی وې. ددوی زیات شمیر پوځی نرسانې، روغتیاپالې او نورې وې.

افغانستان ته هغوی ټولې په خپله خوښه د پوځی کمیساریو (د مکلفیت د مدیریتونو) له لارې استول کیدی. قاعدتاً داسی د خپلی خوښی اجیر کسان مخکی له مخکې پوهیدل چی د کومو کارونو له پاره افغانستان ته استول کیږی. هغوی په ځان تیریدنې سره خپلی ښی ځانګړتیاوې څرګندولې. د اخبره می اړباسی چی یوځل بیا د زړه له کومې له هغوی نه مننه وکړم. هغوی هم د نورو په څیر شپه او ورځ نوکریوالی کولې او یا د تپیانو د بالښت ترڅنګ له استراحت پرته د هغو د پالنی له پاره کیناستلی. د غو کسانو تروسه وسه ځان خپل خپل کار ته وقف کړی او هڅه یی کوله زمور له سرتیرو او افسرانو سره مرسته وکړی.

افغانستان ته د راغلو ښځو زیاتی برخی په قطعاتو کې د تاپیستانو، د تلفون د سوچبورد د کارکوونکو، او نورو په توګه کارونه سرته رسول.

په افغانستان کې شوروی محدود و پوځونو تل د سفر بری په حالت کې صحرایی ژوند درلوده. د شوروی نه راغلی سرتیری او افسران مجبور وو له خپلو کورنیو نه لیرې د وه کاله په کیږد یو او یا موقتی کودلو کی تیر کړی د اسی شرایط آن که جګړه هم نه وی، په خپله د یر ګران کار دی. شک نه شته چی په د اسی حالاتو کې ښځو ته یوازی له د ې امله نه چی تاکلی پوځی د ندې سرته رسوی، په د رنده ستر ګه کتل کیږی.

د جګړې په بهیر کې ژوندانه خپل رنګ نه بایلو د ه. ښکاره ده چی د یرې ښځی افغانستان ته یوازې د د ې له پاره نه تللی چی «د بهرنی سوداګری» په مؤسسو کې د شیانو د اخستلو له پاره چکونه ترلاسه کړی او یا هغه د چا خبر د د «مبادا وړځی»

له پاره څه پیسې ذخیره کړي. ځینو ښایي غوښتل هلته دغان له پاره ملګري، میړه یا هسې د کورنۍ سرپرست ومومي. هغوی خپل دا تمایل په ښکاره څرګنداوه هم.

په څلویښتم لښکر کې په تیره بیا دغوانو افسرانو په منځ کې دمجردانو شمیر خورا زیات و. ځینویې په افغانستان کې ودونه وکړل. دواده رسمي سندونه هم په قطعاتو او هم په شوروی قونسلګرۍ کې ثبت شول. زما په نظر په دې خبره کې هیڅ کوم بد شی وجود نه لري. دجګړې له ختم وروسته می بیا (په شوروی کې) داسې افسران ولیدل چې هماغلته یې دغان له پاره ناوې موندلې وې. هغوی ښې او خوشحاله کورنۍ لري.

یوکم شمیر داسې ښځې هم وې چې سپک سپک کارونه به یې کول. داسې وخت به هم راغی چې افسر به په خپل هیواد کې ښځه او بچیان پریښودل او دلته له راغلې (وطن پالې) سره به یې چې مور پرې دغه نوم ایښې و، واده وکړ.

ښکاره ده چې په دې کار کې یوازې ښځې پرې نه شی ګټل کیدی. دلته باید هغو نارینه ووته هم ګوته ونیول شی چې له دغو ښځو سره یې تار زغلولی و. دغسې اړیکی له دوه اړخیز تمایل نه وروسته منځ ته راتللی. زما په نظر دهغو دتولو دولونو ردول بې مانا بریښې. هیڅوک حق نه لري دافسر په شخصي ژوندانه کې ګوتې ووهي. ولی زړه می په هغو خوارانو خوږیده چې دهسې یوه مؤقتي اوډیر شکمن خوند له پاره یې خپل خوږ ژوند او کورنۍ دړې وړې کوله. له بده مرغه داسې کارونه هم ترسره شوی دی.

اسیران

د ۱۹۸۹ کال په فبروری کی له افغانستان نه د شوروی پوځونو دایستلو کار بشپړ شو. سرتیرو او افسرانو له دې امله خوښی کوله چې بالاخره (دهغوی له پاره) جګړه پای ته ورسیده. خو داخبره بیخی سمه نه بریښی. دغه جګړه اوس هم د ځلویښتم لښکر دهغو پوځیانو له پاره چې په بیلا بیلو وختو کې یې د خپلو قطعاتو له لست نه نوم وهل شوی، روانه ده. دهغو شمیر ۳۱۵ تنه و* زمور رسمی پروپاګند هغوی په حساب کې نه نیول ځکه یا اسیران وو او یا تری تم شوی وو.

اوس ګرانه ده چې سړی په افغانستان کې پاتې شوی عسکر د فراریانو یا اسیرانو په دوو ډلو وویشی. دهغو ډیرو جنګی اسیرانو د برخلیک په هکله چې د مجاهدینو په لاس اسیر دی، مور اوس هم پوره معلومات نه لرو. له ځینو کمو استثناء ګانو پرته، تر اوسه نه ده معلومه چې څوک په خپله خوښه مجاهدینو ته ورا وښتی او څوک د حالاتو په تقاضا اسیر شوی دی.

زما په فکر نن ورځ د دغسی یوې لیکې ایستل د ومره ارزښت نه لری. لومړی د اخلاقی دلایلو له امله د دغه کارکول غوره نه بریښی. په افغانستا کې د جګړې د اورپه بلولو کې خوځه سرتیری او افسران ملامت نه دی. ځلویښتم لښکر په خپله

---

* دلته راوړل شوی ارقام د ۱۹۹۳ کال تر مارچه پورې لاس ته راغلی دی. دهغو له مخې ۳۱۵ تنه تری تم شوی ګڼل کیدل: له دې ډلې نه ۱۵ تنه راستانه شول، ۳ وژل شوی او دریو نورو هیواد ته له ستنیدونه ډډ کړې ده.

خوښه افغانستان ته نه دی ننه وتی او جنګی اسیران په واقع کی د شوروی د پخوانی مشرتابه د پریکړو قربانیان دی. دولت خپل وګړی په لوی لاس د بلاخولې ته واستول. هغوی په جګړې کی سخت کړاوونه وګالل. دا د هغو ۱۹ کلنو سرتیرو ګناه نه، بلکه بدمرغی وه چی نه یی شو کولای د اکړاوونه وزغمی.

دوهم داچی له هر جنګی اسیر نه دلته په هیواد کې کورنۍ پاتې شوې ده. هغوی ته د پخوا په څیر مور او پلار، خپلوان او ملګری سترګې په لاره دی. د دغو خلکو اکثریت لا تراوسه نه پوهیږی، چی زوی یا وراره، پلار یا ورور یی په څه علت په بند کیوتی دی. خپلوان یی دا ګڼی چی هغوی په خپله خوښه نه، بلکه د چا لاتو د ناوړه بهیر په ترڅ کی په هغه بل لوری کې څرګند شوی دی. له بده مرغه داسی پیښی ربښتیا هم وی چی پوځی خپلو ملګروته خیانت کړی او مجاهدینو ته وراووښتی دی. زیاته د ردوونکې داخبره ده چی د دغسی کسانو په منځ کې یو کم شمیر افسران هم وو. فکر کوم اړتیا به نه وی چی د ځینو پیښو تول جزئیات دلته بیان شی. نه ښایی چی د غمونو تر بار لاندې دکړو شویو کورنیو په زخمونو بیا مالګی وشیندو او ورته ووایو چی د هغوی پلار یا زوی پخپله خوښه له دښمن سره یوځای شوی دی. په عمومی توګه هیڅ مورنه غواړی چی زوی یی خائن سترشی.

د څلویښتم لښکر د پوځیانو تیښته یا اسیر کیدل، مور سختی فوق العاده پیښی ګڼلی. په داسی حالاتو کې لښکر او قطعاتو قوماندانان تر سختې او آن تر بیرحمی پورښتنی لاندې راتلل.

که چیری به کوم سرتیری تری تم شو مور خامخا دقیقی پلټنی پیل کولې. په

دې پلټنه کې پر پوځیانو سربیره دځارنوالۍ مستنطقینو او د پوځي جاسوسۍ ضد اداري کارکوونکو هم برخه اخستله. مور تینګار کاوه چې له پوځیانو سره دې اوږه په اوږه دشوروی اتحاد دلوی سفارت، ک. گ. ب او کورنیو چارو وزارت استازی او دغه راز دافغانستان دخاد، ځارندوی او اردو کارکوونکی هم مرسته وکړی. د شوروی محدودو قطعو دهر پوځي دتری تم کیدو له پاره دغسی مختلطی ډلې منځ ته راتللی.

دځلویښتم لښکر قوماندانۍ نه شو کولای هرځل ددې خبرې علت ځان ته معلوم کړی چی ولی زمور پوځي ددښمن په لاس کیږی. نن ورځ هم ددې خبرې روښانول ډیر گران دی. ددې کار له پاره لازمه ده چی سړی له هر هغه چا سره چی په افغانستان کی پاتی شوی دی، په جلا جلا توگه وگوری.

خو دتحقیقاتو نتیجی ښیی چی عمدتاً داسی پیښی دجگړه ییزو عملیاتو دسرته رسیدو په وخت کې منځ ته راتلی. ډیر ځله به پوځیان دبی خودۍ په حالت کی، چی یا به دزخم او یا دسختې ضربی نتیجه وه، ددښمن په لاس کیږتل.

ډیر ځله ځوان سرتیری دخپلی بی احتیاطۍ په وجه اسیر کیدل. مثلاً: دچا زړه شوی چی صحراته تیر شی (حاجت رفع کړی) خو دا کار په هغه ځای کې چی قوماندان په گوته کړی او پهره پرې ولاړه ده، نه کوی او لږ څه وړاندې تیریږی. سرتیری ډول ډول وو او ځینی یی ډیر شر مگیر وو.

ډیرو نورو کسانو خپله آزادی هله له لاسه ورکوله چی دشخصی گټی له پاره به یی لاس او پښی وهل پیل کړل. مثلاً: کوم سرتیری له موټر نه کومه پرزه پټه کړې

یا یی له کارتوسو ډک فلزی صندوق له تحرګ لاندې نیولی او یا یی څه پوره، اوړه یا دارو - درمل غلا کړی او غواړی هغه په کلی کې په چا وپلوری. هغه دشخصی انتفاع له پاره کلی ته ورته خوبیر ته نه راستنیده.

ډیر کم داسی پوځیان هم وو چی له پوره سنجش نه وروسته په خپله خوښه ددښمن خواته وراووښتل. دغسی کسانو هڅه کوله په چټکی ځان پاکستان ته ورسوی او دخپلو پخوا نیوملګرو له سترګو نه ځان ونغاړی. شک نه لرم چی دغه کسان دښمن ته ځکه وراووښتل چی نه یی غوښتل و جنګیږی او که په دقیقه توګه ووایم له جګړې نه ډاریدل.

دافسرانو او سرتیرو غوڅ اکثریت له اسارت نه دانسانانو په توګه ډاریدل. لومړی له دې امله چی زیات اسیران، یا په خپله خوښه تسلیم شوی شوروی سرتیری ددښمنانو له خوا له منځه وړل کیدل. دوهم له دې امله چی ټول پوهیدل دغلیم په لاس کیوتی شوروی پوځی دباندونو په کمپونو کې له څه تر ټنو او شکنجو سره مخامخ کیږی. په ۱۹۸۵ کال کې چی کله مور د پنجشیر په دره کی داحمدشاه مسعود زندان ونیوه، معلومه شوه چی هغه په خپلو اسیرانو څه کړاوونه نه دی راوستی. ټول هغه شیان او هغه صحنی د تلویزیونی کمری په مرسته عکاسی شوی دی. دا کوچنی ویدیویی فلم مو تکثیر او په ټولو قطعو کې نندارې ته وړاندې کړ.

سربیره پر دې دهر پوځی دورکیدو یا اسیر کیدو خبر خامخا دشفری تلګرامونو، امرونو او یا لارښوونو په بنه دځلویښتم لښکر د ټولو منسوبینو

غورونو ته رسول کیده. که چیرې مو دا کارنه وای کړی نو د اسیرانو شمیر به له دې نه څو ځله زیات وای.

مور له اسارت نه دخپلو سرتیرو او افسرانو دخلاصون له پاره پوره پوره هڅې کړی دی. له دې کارنه عاجله نتیجه لاس ته راتلل آسانه نه وه. دلښکر قوماندانۍ دپوځی استخباراتی سیستم او دجاسوسۍ ضد اداری له لارې او دغه راز په پاکستان، ایران او چین کې دخپلو مرستندویانو له لارې داپوزسیون له قوماندانانو سره لاره پیدا کوله.

دخپلو اسیرانو دخلاصون له پاره دهڅو په وخت کی مو حق نه درلود دمخالفینو په وړاندې له زورنه کار واخلو. جګړه ییزو عملیاتو یا هوایی اوځمکنیو ګوزارونو نورهم زمور دپوځیانو دریځ خراباوه، او دهغوی پر ژوند دلوبو کولو حق مور ځان ته نه ورکاوه.

په افغانستان کې دشوروی پوځی قوماندانۍ دهڅو په نتیجه کی ۹۸ تنه بیرته خپلو قطعوته راستانه کړی شول. دا کار عمدتاً له دې امله ممکن شو چی دغه پوځیان دکوچنیو بانډونو په لاس کیوتی وو، چی هم یی مستقل فعالیت درلوده او هم یې دهیواد په عمومی ډګر کی وندې دومره دپاملرنې وړنه وه. دغو نسبتاً دټیټی کچی قوماندانانو په خپل صلاحیت کولی شول دیوې لنډې مودې له پاره له شوروی پوځی قوماندانۍ سره اړیکی تینګی کړی.

غالباً مور دخپل اسیر شوی افسر یا سرتیری دخلاصون په بدل کې مجاهدینوته دډیرو زیاتو خوراکی موادو، درو-درملو، دسون دموادو او یا پیسو

وړاندیز کاوه. په دی باب خبرو ډیر ځله زیات وخت نیوه. کله کله به یوه یا دوه میاشتی او کله کله یو کال په هغو تیریده؛ خو له دې سره سره مو کولای شوی دنظرو پریکړوته ورسیږو. په دې توګه دوروستی یونیم کال په ترڅ کې چې زه دځلوینښتم لښکر قوماندان وم، په سلګونو اسیر شوی پوځیان موله بنده راخلاص کړل.

اسارت دهرسرتیری له پاره ډیره سخته آزموینه وه، او یوازې دهغوی خپلوان نه دی چې دهغو دخلاصون بهیر په دقت تعقیبوی. ټول هغه څوک ددوی دبرخلیک له املهاندیښنه لری چې په افغانستان کی یی دجګړې خوند څکلی دی.

اوس داخبره هم جوته شوې ده چې دځلوینښتم لښکر یو شمیر پخوانیو منسوبینو پریکړه کړې چې بیخی هیواد ته راستانه نه شی. ددې خبری یو دلیل سخت ایدیالوژیکی پروپاګند دی. له بلې خوا هغوی ته داسلامی هیوادونو لکه افغانستان، پاکستان یا ایران له «غیږی» او داسیرانوله کمپونو نه ترخلاصون وروسته په کانادا، امریکی، فرانسی یا نورو هیوادونو کې داوسیدو اجازه ورکړل شوې ده. هغوی هلته څه موده ژوند کړی او ځینو یی ودونه هم کړی دی. ددې له پاره چې ددغو کسانو داعمالو په اصلی انګیزو سړی وپوهیږی، په کار ده چې دیوه سرتیری په توګه ټول هغه څه وزغمی چې مخکی څو میاشتی په دوی تیر شوی دی. زما په فکر په دې خبره باید پر پوځیانو نیوه کې ونه شی، ځکه هر سړی اویا دهغه کورنۍ حق لری دخپل برخلیک په هکله خپله پریکړه وکړی.

ددیرو اسیرانو په هکله لاتراوسه هیڅ معلومات په لاس کی نه شته. داسی

دلایل شته چې سړی حکم وکړی چې له دغې ډلې نه تر سلو زیات کسان وژل شوی او یا وروسته دټپونو اویا وهلو ټکولو له امله مړه شوی دی. ایله اوس د پاکستان په خاوره کې دننه دبدایبیرګ (بنایی بډ بیره وی) د پوځی اسیرانو د کمپ له رازونو نه لږ تر لږه پرده پورته شوې ده. زمور اسیرو سرتیرو په دغه ځای کې قیام کړی و. هغوی د شوروی سرتیری ډیرې ښې ځانګړتیاوی لکه غیرت، اتلولی او زغم له ځانه ښودلی دی. سره له دې چې پوره موثق دلایل لا لاس ته نه دی راغلی، خو دهغو یو شمیر کمو اطلاعاتو له مخې چې حاصل شوی، کیدی شی نتیجه واخستل شی چې د ځلویښتم لښکر پوځیانو دهیواد په نورو سیمو کې هم اسارت ته غاړه نه ده ایښې.

اوس چې له افغانستان نه د شوروی عسکرو دوتلو څومره زیاته موده تیریږی، هومره له بندنه زمور د سرتیرو د خلاصون خبره ګرانیږی. له بده مرغه هغه فرصت چې کولای موشوای د جنګی اسیرانو لانجه په خورا اغیزمنه توګه غوڅه کړو، له لاسه وتلی دی.

د ځلویښتم لښکر قوماندانې او د شوروی اتحاد د دفاع وزارت مشرتابه ټینګار کاوه چې خامخا دې دژنیو په ټرون کې د شوروی جنګی اسیرانو خبره یاده شی. پوځیانو دګرباچف په ګډون د هیواد مشرانو بیا بیا داویل چې که یوځلی شوروی محدودو پوځی ټولګی دافغانستان له خاورې ووځی نو بیا د جنګی اسیرانو د خلاصون خبره څو ځله ګرانیدلی شی. بیا به ځوک نه وی چې اصلاً په دې هکله فکر وکړی. خو زمور خبرو ته چا غوږونه نیوه.

مورِ له اخلاقی پلوه حق نه درلود دخپلو اسیرانو دخلاصون او یا لږ تر لږه دهغو دبرخلیک درویناولو تروختله افغانستان نه ووځو. ځکه له هیڅانه پټ نه وه چی همهغه وخت چی څلویښتم لښکر په افغانستان کی و او هم اوس مورِ، دخپلو څه دپاسه ۲۵۰ تری تم شویو پوځیانو په هکله هیڅ معلومات نه لرو. مورِ نه پوهیږو چی هغوی ژوندی دی او کـه نه، او چیـری اوسـیږی. دا چی دقطعـو له لسـت نه دجنگی اسیرانو یا تری تم شویو وگړونوم اوس ایستل شوی، ددی مانانه لری چی هغوی نور دخپل هیواد تابعیت نه لری او دهغه دولت ملاتړ یې له لاسه ورکړی چی دوی یی جگړې ته استولی وو.

دافغانستان دلانجی دغوڅولو په هکله دژنیو ترونونو چی په تیارولو کې یی دشوروی اتحـاد د بهـرنیـو چارو وزارت مـخـامخ ونډه درلوده، له مـخکی زمـورِ دجنگی اسیرانو برخلیک روښانه کړی ؤ. دڅلویښتم لښکر څه دپاسه درې سوه منسـوبین عـملاً دهغه وخت دشـوروی او داوسنی وخت دروسیې دولت دبهـرنی سیاست دگټو له ساحی نه بهر پاتی شول. دهغو دخلاصون خبره تریوې نامعلومی مودی پورې شاته وغورځول شوه.

دافغانستان دخړوپړ و حالاتو په پام کی نیولو سره خپل هیواد ته زمورِ دپوځی اسیرانو دراستنیدو خبره لانوره هم گرانه ښکاری.

تقریباً (دافغانستان) هر تنظیم چی دکابل رژیم خلاف جنگیدلی، زیات یا کم دڅلویښتم لښکر منسـوبین په اسارت کې لری. نن ورځ له دغو کسـانو نه زیات دسیاسی یرغملو په توگه کار اخستل کیږی. دافغانستان ننیو مشرانو زمورِ

پوځی اسیران په مرګ ګواښوی او دروسیې حکومت ته یې داولتیماتوم په بنه غوښتنې وړاندې کړې دی. نن ورځ دځه دپاسه یوسل او څلویښتو روسی زلمیانو، دشپیتو اوکراینی، دیر شو اوزبکو، لسو بلاروسانو او دغه راز دنورو ملیتونو د پوځی منسوبینو ژوند (په افغانستان) کې له خطر سره مخامخ دی.

دافغانستان په «وژنتون» کې

سرتیری دځلویښتم لښکر له پاره هم لکه دوسلمه وال پوځ دنورو برخو په څیر دمکلفیت دمدیریتونو له خوا غوره کیدل. په پیل کې ددغه لښکر دمنسوبینو په منځ کې چې تقریباً دشوروی اتحاد له سراسرنه راټول شوی وو، دمنځنۍ آسیا په جمهوریتونو کې دزیږیدلو وګړو شمیر زیات و. فکر کیده چې هغوی به دافغانستان په سختو شرایطو کې له خدمت سره ښه توافق ومومی. کله چې په ۱۹۸۱ کال کې دپنځمې فرقې قوماندانی ماته راوسپارل شوه نو دهغې دمنسوبینو له نیمایی نه زیات تاجکان، ازبکان قرغزان یا ترکمنان وو.

خو ډیر ژر په دې پوه شوو چې دمحدودو پوځی قطعاتو دغنډونو، لواګانو او فرقو د سرتیرو دغسی ترکیب بې لرلیده کار دی. دشوروی اتحاد دمنځنۍ آسیا له جمهوریتونه راټولو شویو سرتیرو دزیاتو عینی دلایلو په وجه نه شو کولای چې په هغو پوری تړل شوې هیلی ثمرته ورسوی. په خپل وار مجاهدینو په بری سره دهمدغو کسانو په مرسته دجاسوسۍ شبکې جوړولې هغوی دیر ځله نه یوازې په قطعاتو کې له حالاتونه ځان پوره خبرولی شوای، بلکه تریوې اندازې یې دحالاتو په بهیر هم اغیزه ښندلی شوای.

افسران له دې حقیقت سره مخامخ شول چې له منځنۍ آسیا نه راغلو سرتیرو په ښکاره په جګړو کې له ګډون نه سرغړاوه. سربیره پردې له دغې سیمې نه دراتلو شویو سرتیرو دجګړه ییزې وړتیا سطحه دهغه چا په اندول چې مثلاً دهیواد له اروپایی برخې اویا شمالی قفقازنه راوستل شوی وو، ډیره ټیټه وه.

دمحدودو پوځي قطعاتو قوماندانی اړشوه چې ددغې وضعې دبدلون له پاره عاجل اقدامات وکړي د ۱۹۸۲ کال له پیل نه دځلویښتم لښکر دسرتیرو په سلوکې اتیا برخه هغه کسان وو چې دشوروی اتحاد له اروپایی خاورې، سایبریا یالیرې ختیځ نه افغانستان ته استول کیدل. له دې وروسته حالاتو عادي بڼه غوره کړه او چارې سمې شوې.

ځوانو سرتیرو چې افغانستان ته داستولو لپاره به کاندید شوی وو، په تعلیمي مرکزونو کې شپږ میاشتنۍ زده کړې کولې. دغه مرکزونه عمدتاً دترکستان په پوځي حوزه کې جوړ شوی وو. په دغو تعلیمي مرکزونو کې دژوندانه شرایط تر ډیرې اندازې دجګړې ډګرته ورته وو. دوګړو دروزنې یو شمیر مرکزونه په نورو پوځي حوزو کې هم پرانیستی وو.

زده کړې په شدت سره پرمخ بیول کیدې. سرتیرولهوسلونه کار اخستنه، دقطعو په چوکاټ کې فعالیت اوله سیمې سره د آشنایی لارې چارې زده کولې. یوازې له دغو شپږ میاشتنیو تمریناتو وروسته سرتیرې افغانستان ته لیږل کیدل. دنویو سرتیرو جلب او احضار په کال کې دوه ځل؛ یعنې پسرلی او منی کې ترسره کیدل. تغییر او تبدیل په دې توګه سرته رسیده چې پخوانی سرتیرې ټول په یو وار

له څلویښتم لښکر نه دکور خواته ونه لیږل شی. دود داسی وچی هغوی به یوه یا دوه اوونۍ او کله کله آن یوه میاشت «نوکیانو» او هغو وګړو ته چی ددوی پرځای باید ډګرته ووځی، خپلی تجربی ورلیږ دولې. ترخیصی سرتیرو نویو جلب شویو افرادو ته په تیره بیا دافغانستان له شرایطو سره دبلدتیاچلونه ورښودل. په دې لړکې نه یوازی جګړه ییز مهارتونه، بلکه هسی دورځنی ژوند لارې چارې هم راتللې.

دافغانستان په خاوره کې له «نوکیانو» سره دافسرانو یو میاشتنی تمرین دا امکانات برابرول چی نوی سرتیری دراتلونکو جګړو ځانګړتیاوی او دمحدودو پوځی قطعاتو دژوند طرز زده کړی او دغه راز دهیواد دسیمه ییزو خلکو په هکله معلومات تر لاسه کړی.

په دې توګه هغوی اووه میاشتی تمرین کاوه او وروسته بیا دځلویښتم لښکر لیکوته ورګډیدل. ددغی دورې دزیاتو لوارتیا نه لیدل کیده. ددغی مودې په ترڅ کې سرتیرو او وړو ضابطانو کافی مهارتونه زده کول. هغوی کولای شوای دجګړې په شرایطو کې په زړورتیا عمل وکړی او خپلی روغتیا ته هم پام وساتی. ددې ټکی په پام کې ساتلو سره چی دسرتیرو دخدمت موده ایله دوه کاله وه نو دتمرین دغه موده مناسبه وبرښیده.

سربیره پردې دهرې جګړې له پیل مخکی مور څه وخت ددې له پاره ځانګړی کاوه چی هره قطعه په دقیقه توګه د راتلونکې جګړې له پاره چمتو کړی شی. قاعدتاً (له جګړې مخکې) د لسو ورځو په ترڅ کې کنډک یا ټولی دهغو حالاتو

ترین کاوه چې معمولاً دجګړې په ډګر کې منځ ته راځي.

د نهو کالو په ترڅ کې څه دپاسه نیم ملیون سرتیرو او افسرانو دمحدودو پوځی قطعاتو په چوکات کې دنده سر ته رسولې ده. دځلوینبستم لښکر د منسوبینو ټولنیز ترکیب تقریباً په دغه ټوله موده کې یو ډول پاتې شوی دی. عمدتاً افغانستان ته دلیږل شویو سرتیرو زیاته برخه دکارګرو او بزګرو بچیان وو. دوی دځلوینبستم لښکر د منسوبینو اکثریت جوړاوه او د کلیوالو شمیر په کې لږ څه زیات.

په ځلوینبستم لښکر کې دهغو سرتیرو شمیر بیخی کم وکړ چې په روښانفکرو کورنیو کې ستر شوی وو. هغوی هم بده جګړه نه کوله. په عمومی توګه افسرانو له هغوی نه ګیله نه ده کړې.

که څه هم په ځلوینبستم لښکر کې کومه خاصه پلټنه په دې هکله نه ده شوې، خو زه دخپلې تجربې له مخې ویلی شم چې افغانستان ته ډیر کم هغه کسان لیږل کیدل چې مور یا پلار یې په غټو دولتی څوکیو کار کاوه. که چیرې داسی کسان وو هم، نو به په عمومی قاعده کې یوه استثنا وه او بس. خو بیا هم دښاری یا ولایتی ګوندی کمیټو د لومړیو منشیانو زامن هم افغانستان ته لیږل شوی، خو دهغوی شمیر ډیر کم و. مثلاً: ترکومه چې ماته معلومه ده له ګرودنو او آستراخان نه (دغسی کسان راغلی وو) بنایی دهیواد له کومی بلی برخی نه هم ورته مثالونه موجود وی.

تقریباً ټولو والدینو چې افغانستان ته به یې دخپل زوی دلیږلو خبر اورید،

هڅه به یې کوله داسې لاري چاري وموميې چې دغه هیواد ته یې دزوی استول عملي نه شي. زه نه شم کولای هغوی له دې امله پر کړم، ځکه دهري مور او هر پلار په خپله کې دخپل بچي دساتنې احساس اخښلی وی. دهیڅا زړه نه کیده، خپل بچي، چې ځینو همدا یو بچي هم درلود، دافغانستان «وژنتون» ته واستوی. څوک په خپل دې مقصد بریالی کیده او څوک نه؟ پر والدین یوازې هغه وخت چې زوی به یې راستون شو، خبر یدل چې هغه په افغانستان کې جنګیدلی دی. تر دغه وخته به هغوی ته دزامنو لیکونه رارسیدل چې په کې ویل شوی به وو، هغوی ګنې په چکسلواکیا یا جرمنی یا منګولیا کې خدمت کوی.

ترکومه ځایه چې دافسرانو خبره ده نو کولای شم دهغوی یود کوچنۍ ډله په ځینو برخو کې ملامته وبولم. دځینو ناپاکو غټو قوماندانانو چې به له چانه بد راتلل نو هره شیبه یې کولای شوای هغوی (جزایي) افغانستان ته ولیږی. که څه هم په دې هکله په جار خبرې نه کیدې خو هر سړی په دې شبه پوهیده چې په نوې دنده دټاکنې دلیل یې څه دی.

زما په برخه کې هم تقریباً همدا خبره صدق کوی. هغه وخت په «مایکوپ» کې چا د درو-درملو زیرمه غلا کړې وه. د «پرومیدول» نهه سوه امپوله وهل شوی وو. زه د قطعې درستیزوال وم او مسؤولیت می د قطعې د ډنینو چارو او په دې لړکې دروغتیا چارو د زیرمو ساتل هم وو، نو ځکه ملامتی په ما هم راواچول شود. خو دا ملامتی تر هغه وخته وه چې څو بشپړ تحقیق نه و شوی، خو چې څو پلټنې بشپړیدلی نور نو ناوخته او زه افغانستان ته لیږل شوی وم.

په دې لړکې د یوې بلې خبرې یا دول هم ضروری دی. دځلو یښتم لښکر دافسرانو یوه برخه دغټو پوځی قوماندانانو زامن وو، مثلاً: د مارشال سکولوف او ستر جنرال وارینیکوف کشران زامن او دغه راز د یو شمیر پوځی حوزو د قوماندانانو زامن په افغانستان کې په خدمت لګیا وو. نه شم ویلای چې دجنرالانو زامنو په لوی لاس هڅه کوله افغانستان ته ولاړ شي، خو دا خبره پوره روښانه ده چې هغوی هلته خدمت کاوه او چارې یې بدې پر مخ نه تلې.

افغانستان ته د ټولو لیږل شویو افسرانو د نظری پوهې سطحه ډیره لوړه وه، داهم له ارزښته ډکه خبره ده خو کافی نه بریښي. زما په نظر مهمه خبره عملی تجربه ده چې باید له افسر سره ملګری وی. په دې لړکې دیادولو وړده چې په افغانستان کی زمونږ د حضور لومړی پړاو د افسرانو له پاره د پوځی عملیاتو د تجربی تر لاسه کولو موده وه. تجربه په خورا سختې سره لاس ته راتله. جګړه ییزو عملیاتو د مجاهدینو د کوچنیو ډلګیو خلاف د پارتیزاتی جګړو ښکاره ځانګړ تیاوی درلوډ. دجګړه مارو دوارو غارو ترمنځ مخامخ نښتې نه وې. د کلمی په واقعی مانا د «جبهې دشا» مفهوم وجود نه درلود. دغه راز د جبهې رښتینی کرښه هم نه لیدل کیده.

د ۱۹۸۲ کال تر پایه په افغانستان کې د شوروی محدودو پوځونو ټولګیو تر یوی اندازې جګړه ییزه تجربه خپله کړه. مورږ د دغه هیواد د جلاجلا سیمو د ځانګړتیاوو په پام کی نیولو سره د جګړه ییزو عملیاتو بیلابیل ډولونه په کار اچول.

دوخت په تیریدو سره افغانستان ته له شوروی نه راغلو افسرانو کولای شوای په آسانی سره دجګړې له حالت سره ځان برابر کړی. دځو کیود اشغال یا نوروته دهغو دانتقال چاره دیوې یاد وو او ونیو په ترڅ کې بشپړیده. په دغه موده کې تلونکی قوماندان نوی راغلی افسرته نه یوازې خپل مالکیت ورسپاره بلکه له حالاتو سره یی د آشنایی په برخه کې هم ورسره مرسته کوله. برسیره پردې دځلوینښتم لښکر دافسرانو ترمنځ د «متقابل تعویض» اصل کلک رعایت کیده. مور نه پریښوده چی مثلاً دیوه ټولی دمشرتابه ټول غړی دې نوی راغلی افسران وی. (مور به داسی کول) چی د ساری په توګه دټولی ددریو ډلګیو دقوماندانانو له ډلې نه به دوه پخوانی او دجګړه ییزو عملیاتو دتجربی درلودونکی او یوازې یوه به یی په افغانستان کې خپله دنده نوی پیل کوله. په کنډکونو، غنډونو او له هغه نه په لوړو پوړیوکې هم حالاتو همدا بڼه درلوده.

له دوړونه دډکو سړکونو د پاسه

دشوروی محدودو پوځونو له پاره خواړه، جنګی مهمات، دارو درمل، دسون مواد او دجګړه ییزو ورځینو چارو د پرمخ بیولو له پاره دقطعو دارتیاوړ نور مواد، دشوروی اتحاد له خاورې نه راوړل کیدل. اساسی تأمیناتی مرکزونه دافغانستان له پولې سره په پرتو ښارونو: ترمز او کوشک کی ځای پرځای شوی وو. دمادی تأمیناتو انتقالاتی لوا چی څومو ټری کنډکونه یی درلودل، افغانستان ته دضروری شیانو په لیږدولو بوخته وه.

دترکستان دپوځی حوزی له زیرمونه دلښکر او فرقو زیرموته دانتقالاتو دنده

پخپله د ځلوینښتم لښکر د ځواکونو په غاړه وه. دوه دری ورځې د موټرو د بارولو له پاره په کار یدی. د بیرته رارسیدولە پاره هم نورې دوه ورځې او کله کله زیاته موده په کار وه په لویدیځ لوری کې یعنی د کندهار شینډنډ په لاره همدغه کار زیاته موده غوښته. کله کله د ترانسپورتی کنډکونو د مرستی له پاره په لویدیځ او ختیځ لوری کی د سیمې د قطعاتو له ترانسپورتی وسایلونه هم مرسته غوښتل کیده. وروسته بیا د انتقالاتو چاره د ځلوینښتم لښکر د غونډونو او فرقو د انتقالاتی کنډکونو یا تولیو په غاړه اچول کیده.

د محدودو پوځی قطعو زیات ځواکونه د ترانسپورتې لارو د امنیت د ساتنې له پاره کارول شوی وو. له هر قطار سره مخابره چیان او د حالاتو په اقتضا د توپچی او هوایی ځواکونو لارښوونکی تلل. د اساسی موټرې لارو په اوږدو کې موسا تونکې مورچلې او پوستې جوړې کړې وې. نو کریو الو ځواکونو د موټرې وسایلو د تیریدو په سیمه کې د حالاتو د دقیقه څارنه کوله.

د ځلوینښتم لښکر دارتیا دلیرې کولو له پاره مو د افغانانو له موادونه گټه نه اخستله. د هغوی یو ازنی شیان مو چې مصرفول، هوا او دوړې وې. د انتقالاتو له ستونزو او زیاتو لگښتونو سره سره د قطعو د تأمیناتو کار بې ځنډه روان و. په افغانستان کې زمور د پوځی حضور په نهو کلو کې هیڅکله د تأمیناتو د کار بندښت خو لاڅه کوی چې آن د دې خطر هم منځ ته نه دی راغلی چې د هیواد په کومه سیمه کی دې د ځلوینښتم لښکر کومه قطعه بې خوږو یا مهماتو پاتې شی. د زیرمو اندازه ځنې وخت تېنټیده او کله کله بې اندازه آن له ضروری حد نه هم ډیره کمیدله.

خو هیڅکله داسې نه دی شوی چې بیخی بحران منځ ته راغلی وی.

د تأمیناتو په کارکې غټې ستونزې، سترو پوځی عملیاتو ته د تیاری او دهغو د سرته رسولو په وخت کې منځ ته راتللی. مور د راتلونکو عملیاتو سیمی ته دخورو، مهماتو او درو، درملو بڼې ډیرې زیرمې لیږدولې. د دغې او ونې په ترڅ کې د انتقالاتو اندازه دومره زیاتیده چې مجبوریدو شوروی اتحاد ته په موادو پسې نه یوازې دلښکر له قرارګاه نه بلکه له فرقونه هم موټرې واستوو.

تیل او دوسایطو دارټیاورنور مواد دنلونو په واسطه چې له ترمزنه دبګرام ترهوایی اډې اوله کوشک نه تر شیندنډه غزیدلی وو، رسول کیدل. زمور له پاره داکار ډیر آسانه ځکه ګڼل کیده چې دافغانستان په شرایطوکې د تیلو راوړل نه یوازې ګران، بلکه ډیر خطرناک کار و.

دنلونو دساتلو کار ډیر زیار غوښته: دهغې ځینې برخې به تل دماینو توپه وسیله الوزول کیدلې یا تر ډزو لاندې راتلی. په نلونوکې د تیلو د راخوشی کولو وخت د ډیر محرم راز په توګه پټ ساتل کیده. که چیرې بیا هم دښمنانو کولای شول داوخت ځان ته معلوم کړی نو بیا به یې نه یوازې نلونه له کاره غورځول، بلکه شوروی پوځونو ته یې زیات زیان هم اړاوه. کله کله د سختو ډزو او یا تخریبی عملونو په نتیجه کې مو په یوه شپه او ورځ کې تر ۵۰۰ ټنو پورې تیل هسې خوشی له لاسه وتل. ځینې وختونه به دازیانونه لږ یعنی ۲۰-۲۵ ټنه وو او داعادی خبره ګڼل کیده.

د تیلو دانتقال بیخی محفوظ ساتل شونی نه وو. مور دا امکان نه درلود چې

دنل د تیریدو دسیمی په هر مترکې خپل یو سرتیری ودرووو. البته ممکنه وه چې د نلونو شاو خوا سیمو کې ماینونه نښخ شی، خو دا بیا هم دحل لاره نه ګڼل کیده. دماشومانو په ګډون دنژدې پرتو کلیو خلک دنلونو شاو خواته راتلل. نه مو شوکولای دهغوی په ژوند لولی وکړو.

ددغو نلونو ساتنه دغانګړې ګزمې په غاړه وه. چې کوم سیمه به ډیره خطرناکه وګڼل شوه نو هلته به مو امنیتي پوسته ورته جوړوله. له سیمه ییزو خلکونه موهم دنلونو د تیریدو په سیمه کې دحالاتو دځارنې له پاره کار اخسته. دشوروی پوځی قوماندانی استازو ددغو کلیو له اوسیدونکو سره په دې هکله ټرونونه لاسلیک کړی وو. (ددغه ټرون له مخې) اقعاناتو دا ژمنه په غاړه اخسته چې دکوم تخریبی عمل له سرته رسیدونه مخکې باید زمورږ دقطعو قوماندانی ته رپوټ ورکړی مورږ له خپلې غاړې هغوی ته دسون مواد او دامکان په صورت کې خواړه او دارو درمل ورپاورکړل.

برهان الدین ربانی

مخکې له دې چې دځلویښتم لښکر په ګډون دوروستیو جګړ ییزو عملیاتو په هکله خبرې وکړم، غواړم په افغانستان کې د شوروی پوځی حضور دوروستې پړاو پرځانګړتیا ووهم رنا واچوم.

هغه وخت چې ماته د لښکر قوماندانی راوسپارل شوه، هیڅوک لا په دې نه پوهیدل چې دقیقاً به څه وخت شوروی عسکر وځی. دافغانی اپوزیسیون یا «آووه ګونی اتحاد» مشرانو د خپلو مقصدونو د حصول له پاره هڅوته دوام ورکاوه.

هغوی زیار ایسته په افغانستان کې موجود رژیم نسکور او یو مذهبی دولت منځ ته راوړی. هغوی له انقلابی حکومت سره وسله والې مبارزی ته ډیر ارزښت ورکاوه.

دا پوزیسیون د عمل په کړنلاره کې له منظمو لښکر وسره نښتی، دورانکارو او تروریستی اعمالو دسرته رسولو لارې چارې او تبلیغاتی او پروپاگندی اقدامات شامل وو.

که د ۱۹۸۰ کال په پیل کې د مجاهدینو غټو ډلو دشوروی لښکر و مقابله کوله، وروسته پوه شول چې داکار دهغوی د سر دزیاتو زیانونو سبب گرځی نو په کوچینو ډلو کې یې په مقاومت لاس لورې کړ. عملاً داد پار تیزانی جگړې د پیل په ما ناوه. دافغانستان په مرکزی، شمالی او لویدیځو ولایتونوکی تقریباً زمور د تلو تر وخته همدغه حالت حاکم و.

د پاکستان او ایران پولوته په ځیرمه سیمو او تر ټولو لومړی دکونړ، ننگرهار، پکتیا، پکتیکا په ولایتونو او په تیره بیا دخوست په لویی ولسوالی او دکندهار په څنډوکې حالاتو بیخی بل رنگ درلود. دشوروی پوځی حضور په ټولونهو کلونوکې د دغو سیمو یوه لویه ځانگړتیا دا پوزیسیون له خوا د غټو ډلو ځای پرځای کول او کارول وو، چې دغږو شمیر یی له دریونه تر شپږو زروتنو پوری رسیده. قوماندانان په دغو سیموکې له بشپړې کلابندی یا دخپلو باندونو له پو پناه کیدونه بیخی نه ډاریدل. که چیرې به دغسې خطر منځ ته راغی نو دښمنانو به ډیر ژر د پاکستان په لور پښې سپکولې.

ددښمنانو کوچینو ډلو له ګوندی له پلوه دهغی سیمې د عمومی آمر اطاعت کاوه چی دوی پکی ځای پرځای شوی او فعال وو. څلویښتم لښکر د اپوزیسیون دمشهورو قوماندانانو په هکله که په هر څه نه پوهیده، نو ډیر څه ورته معلوم وو. دهغو یو شمیر اوس هم، د انقلابی دولت له پرزید وروسته په افغانستان کې متنفذې څیرې ګڼل کیږی.

په افغانستان کې دخپل حضور په موده کې په دې قانع شوم چی د شوروی لښکر وخلاف د پرله پسی جنګیدونکو اسلامی ګوندونو مشران زمور له شان سره برابر غلیمان دی. فکر کوم دلوستونکو له پاره به په زړه پورې وی چی مثلاً د «افغانستان اسلامی جمعیت» له مشر سره له نژدې آشنا شی.

برهان الدین ربانی د محمد یوسف زوی، په ۱۹٤۱ کال کی د بدخشان ولایت د فیض آباد په ښار کې دیوه ملا په کورنۍ کی دنیا ته راغلی دی. په قام تاجک دی. لومړنۍ زده کړې یی په خپل پلرنی ښار کی وکړې. شل کلن و چی مدرسه یی بشپړه کړه او په ۲۳ کلنۍ یی د کابل پوهنتون د شرعیاتو له پوهنځی نه د لیسانس ترلاسه کړ. د یادونې وړ ده چی د زده کړې په ټوله موده کی نو موړی تل ښې نمرې درلودلی دی.

ربانی دوه کاله د شرعیاتو په پوهنځی کې درس ورکړ او وروسته بیا د لوړو مذهبی زده کړو له پاره د قاهرې د الازهر پوهنتون ته واستول شو.

په اوه ویشت کلنۍ کی یی د «نورالدین عبدالرحمن جامی ژوند او علمی - فلسفی افکارو» تر نامه لاندې خپل د ډاکترۍ تزس دفاع کړ (؟). (جامی په

منځنیو پیړیوکی دختیځ لیکوال، پوه او فیلسوف تیر شوی دی). افغانستان ته له راستنیدو وروسته یی د کابل پوهنتون د شرعیاتو په پوهنځی کې د فلسفی تدریس ته دوام ورکړ.

همدغه وخت د افغانستان د «اخوان المسلمین» په سازمان کی چې د دې غړیتوب آن په ۱۹۵۸ کال کی ترلاسه کړی و، د دده سیاسی فعالیت نبه زوراخلی.

د دغه سازمان مشر تابه ربانی ته دنده وسپارله چې په کابل پوهنتون کې دهغه مربوط دګوانانو سازمان مشری په غاړه واخلی. ربانی په دغه مقام دیو د فعال، منطقی او جدی لارښوونکی په توګه ځان څرګند کړ. هغه وکړی شول د استادانو، او محصلینو له منځه یو فعال سازمان راجوړکړی چې عبدالرسول سیاف، گ. حکمتیار، احمد شاه او نوریی دغړو په ډله کې وو.

په ۱۹۷۳ کال کی ربانی د افغانستان «د اخوان المسلمین» د مشر په توګه وټاکل شو او دغه مقام یی تر ۱۹۷۶ کاله پورې په لاس کی و. د دغه سازمان خلاف د ترتنوله پیل نه وروسته ربانی د بدخشان ولایت په غرنیو سیمو کی پټ شو او له هغه ځایه یی د خپل سازمان د لارو یو لارښوونه کوله.

لږ مودې وروسته ربانی پاکستان ته لاړ او هلته یی د «افغانستان د اسلامی جمعیت» جوړیدل اعلام کړل چې هدف یی «د داود د رژیم او په افغانستان کې د روسی امپریالیزم خلاف» د وسله والې مبارزې سره رسول ټاکل شوی و.

په ۱۹۷۸ کال کې د اپریل انقلاب له بریو وروسته سمدلاسه، ربانی د افغانستان دیموکراتیک جمهوری حکومت خلاف وسله والې مبارزې ته پراخ

لاس واچاوه اوټول اسلامي ګوندونه يې په يوه متحده جبهه کې راټولېدوته راوبلل. افغانستان ته دشوروي لښکرو له ننوتو دوه مياشتې وروسته «اسلامي جمعيت» له نورو ډلو سره يوځای «دافغانستان دخپلواکۍ لپاره په اسلامي اتحاد» کې ورګډ اودهغه ترڅنګ ېدووروسته په ۱۹۸۱ کال کې «دافغانستان دمجاهدينو داسلامي اتحاد يا «اوود ګوني اتحاد» غړی شو. رباني ته په دغه سازمان کې دپوځی برخې مشري وروسپارل شوه.

دعربي هېوادو ددينی پوهانو په منځ کې دربانې زيات شهرت هم له دې سره سره مرسته وکړه. هغه داسلامي حقوقو اوفلسفې ماسټری لري. له ۱۹۷۱ کال راپه دې خوا رباني د «شرعيات» په نامه دمجلې مسوول مديريت هم په غاړه درلود. دربانې کتابونه لکه: «اسلام اوکمونيزم» «دجولای دشپږويشتم (۱۹۷۲ کال) «ښايي سمه وي که وويل شي د ۱۹۷۳ کال دجولای د ۱۷ نيټې» (دج) پېښې او ددواود خان فعاليتونه» او «داسلام سياسي بنسټونه» په عربي اوانګليسی ژبوخپاره شوي دي.

رباني دپاچاهی نظام سخت مخالف و. د «اسلامي جمعيت» کړنلاره دنورو ورته ګوندونو له کړنلارونه دافغانستان دراتلونکي دولتي جوړښت په هکله درسااوروښانه احکامو ددرلودو له امله پوره توپيرلري. په دغه کړنلاره کې دپان اسلاميزم پربنسټ شرعي احکاموته دپوره وفادار اسلامي جمهوريت جوړيدل اټکل شوي دي.

برهان الدين رباني دحالا تو دسمې جاج اخيستنې ښه وړتيالري. مثلاً

«دروسي امپريالزم درا پرزلو »له شعار سره سره چې« اسلامي جمعيت »دهغه په رڼاکې خپله وسله واله مبارزد پرمخ بيوله ، هغه بيابيا ويل چې زما په عقيده شوروي اتحاد دافغاني لانجې دډيرژر غوڅولو سخت پلوي دی. سربيره پردې هغه ويلي وو چې« اسلامي جمعيت له شوروي اتحاد سره دښمني نه لري ، خومور دهغو روسي عسکرو خلاف جنګيږو چې افغانستان يې نيولی دی. »

داسلامي جمعيت پانګه تردې برده ځايه دافغانستان په خاوره کې دموندل شويو لاجوردواوزمردوپلورنې له لارې توليدله. رباني دامريکا دمتحدو ايالتونو اواروپايي هيوادونوپه بانکونوکې دطفيل محمد په نامه شخصي پانګې لري. دساري په توګه هغه يوازې په پاکستان کې د دوو سوومليونو روپيومعادل نقده پانګه اود ټوکراوبدلواوغاليو اوبدلوفابريکې لري.

دربانی دګوند وسله والې ډلې په شمالي ، ختيځو او لويديځو ولايتونوکې نفوذ لري ، لکه په بلخ ، جوزجان ، بدخشان ، پروان ، بغلان سمنګانو ،کابل ، کاپيسا ، ننګرهار اوهرات کې. رباني دپښتنو قبيلو په منځ کې چې تل په افغانستان کې دپاڅريو دريځونو درلودونکې وې ، چندان ملاتړ نه لري. داسلامي جمعيت د وسله والو ډلو [illegible] چې ټول ټال په کې څه دپاسه دېرش زره تنه غړيتوب لري.

په اسلامي نړۍ کې پوره اعتبار ، دعربي هيوادوله علمي او لارښوونکو کړيو اودغه رازله اسلامي سازمانونو سره د ربانی نږدې اړيکو هغه ته داوس ورکړی چې دافغاني اپوزيسيون په منځ کې وتلی ځای ونيسي. « اسلامي

جمعیت »دحکمتیار له اسلامي حزب وروسته دزور اونفوذ له پلوه دیاغیانو په منځ کي دوېمه ستر دله ګڼل کېدله.

له نورو ډلونه دربانې دباندونو یوتوپیر، له عادي خلکو سره په نسبتاً معتدل چال چلندکې و. قاعدتاً ددده سرو دخپلو هیوادوالوخلاف له سختو ترتېنو او ظلمونوڅخه ډډ کوله خواسلامي قوانینو کلک رعایت ته یې خلک رابلل. تردیرې اندازې دربانې شخصي ځانګړتیاوې او دلارښودنې ورتیاوې ددې سبب شوې چې هغه دافغانستان داسلامي دولت دجمهوررئیس په توګه وټاکل شي.

دملي روغې جوړې سیاست

د ۱۹۸۷ کال یوه ځانګړتیا داده چې دافغانستان دخلکو دیموکراتیک ګوند عمومي منشي په توګه دنجیب الله «دهغه وخت دنجیب په نامه یادیده» په ټاکل کیدو سره له دګماتیزم اوړانده تقلیدنه دګوند دسیاسي دکتورینو پاکول پیل شول. همدغه وخت دافغانستان دخلکو دیموکراتیک ګوند دکورنۍ اوبهرنۍ سیاست دبدلون ارتیا ټولوته روښانه وه. دشوروي ګوندي سلاکارانو په مرسته او دهغوی په مخامخ ګډون داسې نوې ستراتیژي طرحه شوه چې هدف یې دکورنۍ لانجې غوڅول وو. دغه ستراتیژي په ټوله نړۍ کې دملي روغې جوړې دسیاست په نامه مشهوره شوه.

مور پوهیدوچې زمور دهیلوپلي کیدل به خوراګران کاروي. دهیواد دخاورې په سلوکې اتیا اوورسره دجوخت دافغانستان دوګړو نو غوڅ اکثریت دمجاهدینو ترکنترول لاندې و. دیرو افغانانو له اپوزیسیون سره خواخوږي درلوده.

خو مور بله چاره نه درلوده: اوږدې ستړې کړنکې جګړې، د غه له خا یه وروسته پاتې هیواد د کندې پرغاړه درولی و. د کورنۍ وروړ وژنکې جګړې دبندولو په موضوع کې اساسي فشار په سیاسي وسایلو د افغاني لانجې په غوڅولو راوړل کیده د پاملرنې وړ ده چې دملي روغې جوړې سیاست دملي دیموکراتیک انقلاب ودې یوپراوګنل کیده. دا د سیاسي مصالحې یوه ځانګړې بڼه وده چې په کې د دیموکراتیک نظم د جوړولو، د جګړې دبندولو او د ګډ ګوندیز سیستم پر بنسټ (د افغانستان په شرایطو کې هم دا اطلاح کار بدله) ټولنیزې او اقتصادي ودې ته درسیدو ندې ټولې غاړه غړۍ شوې وې.

په د غه لړ کې یواساسي شرط هیڅکله له پامه نه غورځول کیده او هغه د افغانستان، د ناپیلتوب د ریغ ساتنه وده.

د افغانستان حکومت دملي روغې جوړې پرلور دلومړني ګام په توګه د هیواد په ټوله خاوره کې د هرډول وسلو د خولو دبندولو وړاندیز وکړ. د دې هدف لپاره د قیقه نیمه هم وټاکل شوه: د ۱۹۸۷ کال د جنورۍ ۱۵.

د جګړه ییزو عملیاتو له بندیدو وروسته په پام کې وده چې شوروي اودولتي پوځونه به خپلو دایمی قشلو ته ستنیږي او دسولې دوخت دمهال ویش مطابق به خپلې چارې پرمخ بیایي. د څلویښتم لښکر ټولو قطعو او جزوتامونوته امروشوچې د جنورۍ له پنځلسمې نیټې وروسته پر دښمن هوایي او توپچي ډزې ونه کړي، په دې شرط چې دښمن هم دملکي خلکوژوندانه ته خطر پیښ نه کړي. شوروی قواوی مجبوری وی یوازې د دولتي پولو، عسکرۍ قشلو او نورو

پوځي تاسيساتو په ساتنه بسنه وکوي.

دافغانستان حکومت دملي روغې جوړې په شرايطو کې په پام کې لرل چې د اداري دائتلافي بڼې د رامنځته کيدلو لپاره هڅې ګړندۍ کړي. داپوزيسيون مشرانو ته دصدراعظم ،دستري محکمې رياست دملي شورا درياست ،نيم وزارتونه ،ددفاع وزارت دمرسيتالۍ اودزياتوولايتونو دمشرتابه مقامونه وړاندې شوي وو.

دهېواد مشرانو ټه لرله چې دخپل نوي سياسي نوښت له امله (اوداپه خپل وخت کې له مبالغې پرته دحاکم رژيم لپاره نوې اوترډيره حده ناڅاپي تګ لاره وه) به په ښارونواوعسکري چوپيو الوتکواونوروتاسيساتو داندااختونوبندول ممکن شي دغه راز دافغانستان دديموکراتيک جمهوريت خاوري ته دوسلواو مهماتو دراوړلو دبندښت، په لاروکې دماينونوله ښخولو اودتروريستي اوورانکارو عملونوڅخه دلاس اخيستو مساله هم راپورته شوې وه.

دروغې جوړې دتحقق په صورت کې اوله هغه وروسته چې کلي ،ولسوالۍ ياولايت دسولې سيمه اعلاميدل، انقلابي شورا حاضره وه، زيات دولتي امتياز ونه چې مخکې له مخکې طرحه شوي اوپه ټول هېواد کې پوره معرفي شوي وو، اعطاکړي.

تاکل شوي وه، دملي روغې جوړې دسياست دپلي کيدو په بهير کې ځانګړې پاملرنه دافغاني کډوالود ستونزو حل ته واړول شي. تردغه وخته څه دپاسه ٤/٥ ملیونو افغانانو دخپل هېواد له پرلونه بهر په مهاجرت او دمعيشت دکافي وسايلو

دنشتوالي په شرايطو کې ژوند کاوه. دکډوالو دژوندانه له ناوړو شرايطونه انقلابي ضد ځواکونو اودغه راز دهغو ملاتړو لويديځو دولتونو اويوشمير اسلامي ملکونو دافغانستان پر حکومت دسياسي فشار او دغه راز دانقلابي رژيم خلاف دوسله والې مبارزې داوړدولوپه منظورګټه اوچتوله.

دافغاني کډوالوزيات کمپونه په پاکستان (څه دپاسه درې ملیونه وګړي) او ايران کې (څه دپاسه يونيم ملیون کډوال) پرانستي وو. دغه رازپه هندوستان، سعودي عربستان اودسيمې په يو شمېر نورو هېوادوکې هم دکډوالو کوچنۍ کوچنۍ ډلې دېره وې.

دکډوالو زياته برخه دافغانستان پولوته نږدې ميشته شوې وه: څه دپاسه دوه ملیونه کډوال په شمال لويديځه سرحدي صوبه کې له کيږديونه په جوړو دوه سوه څلويښتو کمپونوکې ځای پرځای شوي وو. سربيره پردې څه دپاسه نيم ملیونه خلک په بلوچستان اونږدې سل زره تنه په پنجاب کې دېره شوي وو. په ايران کې دکډوالو کمپونه عمدتاً دمشهد، تايباد، زابل، زاهدان کشمير او کرمان په شاروانوکې آباد شوي وو.

له کډوالو سره دملګرو ملتواو نورو نړيوالوسازمانونو له لاري اقتصادي مرستې کيدلې دساري په توګه: په ۱۹۸۳ کال کې دهغو داعاشې اواباتې لپاره نږدې (۵۵۰) ملیونه ډالره، په ۱۹۸٤ کال کې څه دپاسه (٦۰۰) ملیونه ډالره اوپه ۱۹۸۵ کال کې څه کم اووه سوه ملیونه ډالره بيل شوي وو.

ددغوپيسو په زياته برخه دانقلاب ضدځواکونومشرانو، دکمپونو اداري او

دقامونو اوقبیلو مشرانو خیټه اچوله. دغلاوناوړه ګټې اخیستې له امله په کمپونوکې ډیر بد حالت حاکم وچې له یوې میاشتې نه بلې ته نورهم پسې خرابیده دمقاماتو خپل سري، دیاغیانو ظلمونه، له حقوقوڅخه دکډوالو بشپړ بې برخې والی اودنیمکرغړه راتلونکي دلرلید نشتوالی له یوې خوا او دافغانستان دحکومت پرله پسې هڅې ددې سبب کیدې چې یوشمیر کډوال خپل هیواد ته دستنیدو پریکړه وکړي دشوروي پوځي حضور په لومړیو اووه کلوکې ایله دولس زره تنه هیواد ته ستانه شوي وو خویوازې په ۱۹۸۸ کال کې ۱۲۰ زره کډوال خپلو کورونو ته راوګرځیدل.

پاکستاني اوایراني واکمنو دراستنیدونکو کډوالو په وړاندې ډول ډول خنډونه اچول هغوی کډوالوته ترهرڅه لومړی دانقلابي ضدډلو-ټپلولپاره دجنګي ځواک دزیرمې په توګه کتل. سربیره پردې پاکستان په پراخ مټ له کډوالو سره کښدونکی مرسته راشکوله او دخپلې خزانې ډډ کولولپاره یې کارتر اخیست او ایران هم په خپله خاوره کې دافغاني کډوالو کمپونود عراق خلاف جګړې لپاره دسرتیرو دجلب او احضاریود اضافی سرچینه بلله.

افغاني کډوالو دوزګارانو دیوې لویې اردوبنه لرله. اوله دې امله یې له سیمه ییزو خلکوسره دکارموندلو په بازارونوکې لویه سیالي منځ ته راوړې وه، ځکه افغانانوته دنورو په انډول دکارپه بدل کې ډیری لږې پیسې ورکول کیدې. نیستي، وزګارتیا او بینوایی افغاني کډوال دجنایتونو، قاچاق وړلو او دنشه یي مواد استعمال لوري ته راکښل.

افغاني انقلاب ضد ځواکونو دکډوالوله بدمرغه حالت نه په ناوړه ګټه اخیستني سره، له هغوی څخه دخپلو باندونو «ژوندي ځواک» دپوره کولوکاراخیست، هرکال داپوزیسیون دوسله والو کسانو په توګه له پاکستان څخه څه دپاسه ۲۵ زره اوله ایران څخه څه دپاسه ۱۵ زره تنه دافغانستان خاوري ته راصادریدل. دکډوالو داجیرکولو لپاره پرایدیولوژیک تبلیغ سربیره له ځینو نورو لارو چارولکه تطمیع تهدید او هیبت څخه هم کاراخیستل کیده.

دپاکستان حکومتي ارګانونو داپوزیسیون د ۳٤ پوځي ډوله کمپونو دچاروپه سمبالښت کې مخامخ ونډه اخیستله، داپوزیسیون دجنګیالیو دروزنې ترټولو سترمرکز ونه پیښورته په ځیرمه سیمو پاړه چنار اود کوټې ښارته نږدې پراته وو.

عجیبه داده چې دهیواد دسیاسي اوپوځي مشرتابه یوې تاکلې برخې دملي روغې جوړې له سیاست اوپه تیره بیا په راتلونکي یوه کال او وروسته بیا له هغه نه هم په لږه موده یعنې نهومیاشتوکې له افغانستان نه د شوروی محدود پوځونوله وتلو سره ډیر سخت مخالفت وښوده. ډیرو دولتي کارکوونکوداوانګیرله چې نوره یې نوله پښو لاندې زمکه تښتي. دځلویښتم لښکر قوماندانې اوپوځي مشاورین دافغاني حکومت دیوشمیرکارکوونکو لوړې له ښکاره سبوتاژ سره مخامخ کیدل.

له بده مرغه دافغانستان دحکومت نوښت ته داپوزیسیون لارښوونکو او دغه راز ډیرو قامونو مشرانو غوږ ونه نیوه. انقلاب ضد عناصرو دملي روغې جوړې

په تګ لاره کې یوازې د حاکم نظام کمز ،ورتیا لیدله ،نوځکه یې دهغه د نسکورولو لپاره ځپلې مبارزه لانوره هم ګړندۍ کړه . داخبره په داسې حال کې د اپوزیسیون دباندې د ونو د جګړه ییز فعالیت د لا تو د یداو سبب شوه چې هم شوروي او هم حکومتي پوځو نو یوارخیز اوربند اعلان کړی ؤ .

« لویه لاره »

د ۱۹۸۷ کال په دوبي اومنی کې د پکتیا ولایت اوپه تیره بیا د خوست د لویې اولسوالۍ حالا تو افغاني مشران اوشوروي پوځي قوماندانې د یر اند یښمن کړل. داله د ې امله چې د اپوزیسیون وسله والو د لو تقریباً د خوست د ښار کلابندي بشپړ یدو ته نږدې کړې وه. په خوست کې د خوړو سخت کمی واوخلک له لوړې سره مخامخ شول. خواړه هلته عمدتاً د هیواله لارې رسول کیدل خود ۱۹۸۷ کال په منی کې د هواله لارې د هغو رسول هم خوراګران شول. ترانسپورتي الوتکې زیاتره د شپې له خوا د خوست لورته الوتلې.

له خوست نه د شوروی لښکر و تروتلو وروسته د د غه ښار اوپه مجموع کې د ټول خوست د سقوط ریښتینی خطر منځ ته راغی. حالات له د ې امله هم خړپړ بریښېدل چې خوست له دوه ګوني تجرید سره مخامخ و . د ښار چاپیره لومړۍ کړۍ د انقلاب ضد باندې ونو راتاو کړې وه او دوهمه کړۍ د « ستیو کنډو » په غرنیو سلسلو کې تپره شوی وه چې لوړوالی یې د ړې زره مترو ته رسیده.

د کابل حکومت لپاره د خوست سقوط د د ښمن ستر بری و . له همدې امله مجاهدینو د غوڅ ګوزار لپاره پورد چستووالی نیولی و . د ۱۹۸۷ کال په منې کې

دښمنانو دشوروي پوځونو له غيابت نه په ګټه اخيستنه « ژوړې » په سيمه کې خپله ستره اکمالاتي زيرمه له سره جوړه کړه چې شوروي پوځونو ان د ۱۹۸٦ په پسرلي کې ډډې وړې کړې وه.

دخوست نيول دانقلاب ضد لپاره، له دې امله هم ارزښتمن کار و چې په اصطلاح « دافغانستان حکومت » بايد په همدغه ښارکې خپل فعاليت پيل کړی واى.

افغاني اپوزيسيون، پاکستاني واکمنو اسلامی رژيمونو، دانقلابی ضدګوندونو يوکولواودهغوی دسياسي فعاليت لپاره دلامناسبو شرايطو دمنځ ته راوړلو په کارکې ديوه علی البدل افغانی حکومت دراجوړولونظريې ته چې پخوا وړاندې شوې وه، خوراډيرارزښت ورکاوه.

دهغوی محاسبه داوه چې دد غسې يوه « حکومت » په منځته راتګ سره، کيدای شي له انقلابی ضد ځواکونو سره پراخې کيدونکی پوځي مرستې قانوني بڼه وموميږ، د « دافغاني کشالې » دلاپيچلتيا لپاره نوي ګامونه پورته شي، دملګرو ملتوپه ګډون بيلابيلو نړيوالو موسسوته داپوزيسيون داستازو دګډون لارد خلاصه شي او دافغانستان دچارچاپيرحالاتود عادي کولوپه هکله دژنيو خبرې اترې له خندونو سره مخامخ شي.

ددغسي يوه « حکومت » دجوړولو مفکوره ان په ۱۹۸۰ کال کې منځ ته راغلې وه، خودبره موده افغاني اپوزيسيون د سياسی لارښوونې ديوواحد ارګان منځ ته راوړو ته چمتو نه و. له عملي پلوه خوان په ۱۹۸۷ کال کې هم دهغه جوړيدل شوني

نه بريښيدل خو« اووه ګوني اتحاد » دملاتړ کوونکو ترفشار لاندې ،له خپلو کورنيو اختلافونو سره سره د « افغانستان د حکومت » جوړولو ته غاړه کښوده. د دغسې يوه اقدام هدف ترټولو لومړی داوچې دهغوی سياسي وزن زيات کړي او له لويديځ اواسلامي نړۍ نه ، له هغوسره دمالي مرستو بهير همداسې جاري وساتي.

د پاکستان په خاوره کې د « جلاوطن حکومت » درلودل يوه خبره او په خوست کې دهغه مستقرول بيخې بله خبره وه. په دغسې حالت کې کيدای شوای ، کورنۍ جګړه دازادي بخښونکي جنګ بڼه غوره کړي.

دافغاني مشرانو له بيا بيا اوجدي غوښتنو وروسته دمحدودو پوځي ټولګيو قوماندانۍ ،دشوروی اوافغاني عسکرو دګډو عملياتو نقشه جوړه کړه. دهغو اصلي مقصد دښار دکلابندۍ ماتول اودخوست ښاريانو ته په لومړي ګام کې دخوراکي موادو اودغه راز دنورو ضروري شيانو لکه تيلو ،درو - درملو اونورورسول وو. مورِ مخکې له مخکې دخوست په شاوخواکې رامنځته شوی حالت ښه وڅېړه . هغې سيمې ته مودشوروي اتحاد ددفاع وزارت داوپراتيفي ډلې اودځلويښتم لښکر افسران واستول.

ددې سيمې دمخالفې وسله والې ډلې اصلي برخه دګډرانو دقبيلې له پوځي ډوله ځواکونو ځخه جوړه وه. دا ډير مغرور قام دی او دخپل تاريخ په ټوله موده کې يې هيڅ حکومت ته غاړه نه ده ايښې اوځنګه چې يې زړه غوښتي ،هغسې يې عمل کړی دی. دمجاهدينو ددې عمومي مشري دجلال الدين په غاړه وه چې پخپله هم دهمدې قام و.

پریکړه وشوه چې عملیات به په نوامبر کې پیل کیږي. د څلویښتم لښکر قوماندانۍ جګړه ییزو عملیاتو ته د تیاري ترڅنګ بیا بیا هڅه کوله چې د خوست کلابندي په سوله ییزه طریقه ماته شي. خبره دې ځای ته ورسیده چې ان زده لښکر د قوماندان او د اتلو نکو عملیاتو د لارښوونکپه توګه اړشوم چې (په دې هکله) په رډانو خبرو اترو کې ګډون وکړم. سره له دې چې زه دهغه غاښې سره چې د ځدرانیو د واکمنۍ سیمه د افغانستان له نورې خاورې نه بیلوي، وختلم، خوله جلال الدین سره مې مخامخ کتنه شوې نه شوه. هغه له شورویانو سره له مخامخ کتنونه ډډه کوله. له هغه سره زموږ مراوده یوازې د څولیکونو په ذریعه وشوه، خوبیا هم موږ د لاڅې د سوله ییزحل لپاره له هڅونه لاس نه اخیست.

مادعملیاتو لپاره د چمتووالي په ترڅ کې دې ټکي ته ډیر ارزښت ورکاوه چې د څلویښتم لښکر د سرزیان باید تر وسه وسه کم وي. ډیر وخت په دې تېرشوچې قوماندانان د اتلونکي جګړې له سیمو سره ځان بلدکړي. موږ د شوروي او افغاني پوځونو، د توپچي او هوایي ځواکونو د ګډو هڅو د شوني کولو لپاره ډیر د قیق کار ونه سرته ورسول په ټاکلو، سیمرکې د نظر ورځواکونو د ځای پرځای کولو وخت په ګوته کړای شو.

د څلویښتم لښکر له لوړې یه د غو عملیاتو کې د ۱۰۸ او ۲۰۱ لمبر موټرېزه فرقو، د ۱۰۳ لمبر هوایي کوماندویي فرقې، د یرغلیزو یسانت د ۵۶ لمبر مستقلې لوا، د ۳۴۵ لمبر مستقل کوماندویي، پاراشوتي غنډ او د یوشمیر نورو قطعو حزبي ځواکونو ګډون کړی و.

دافغانستان دوسله وال پوځ له لوري داتمې ،يوولسمې ،دولسمې څوارلسمې اوپنځمه ويشتمې پلې فرقې ،دټانک دپنځلسمې لوا ،اودیوشمېر ضربتي قطعو ځواکونو برخه اخيستې وه. سربېره پردې ،په دغو عملياتوکې دځارندوی اودولتي امنيت دارګانونو څه دپاسه لسوکنډکونوهم ګډون درلود.

مور د عملياتو لپاره د تياري ان په وروستي پړاوکې هم لاتمه درلوده چې له جلالدين اوددغه قام له مشرانو سره د خبرولاري به په دغه درد کې دخوست دکلابندښار پرلور ،په سوله ييزو بارونوډک موټري قطار دبې خنډ تګ امکان ومومندل شي.

داسې غوټه شوې وه ،که چيرې دځدرانيوله قبيلې سره خبرې اترې بې نتيجې پای ته رسيږي ،نوبيابه زمور هوايي ځواکونه هغه کاروانې لارې سختې بمباري کوي چې پرې دغې سيمې ته وسله اومهمات رسول کيږي ، څوپه دې وسيله دجګړې ددګر رابطه له خپلو زيرموسره پرې شي.

په نظرکې وه چې د درې زره مترولوړپراته ستيوکنډوپه نيولوسره به ،دخپلوځواکونو د آزاد پرمختګ لاره جوتووا ودګردیز - خوست لويه لاره به پرانيزو.

دخوست په ګارنيزيون کې دخوړو ،سون موادواودرو - درملو دلازمو زيرمو له برابرولو وروسته په پام کې وه چې دلارې په اوږدوکې پراته محافظ قطعات به بيرته دګردیز ښارته ستنيږي.

دنوامبرد ۲۲ ورځې تر پایه ټولې قطعې اوجزوتامونه ددغو عملیاتو دسرته رسولو لپاره چې ددلویې لارې ،شرطې نوم ورکړشوی و ،چمتو شول. په ګردیز اوخوست کې دافغاني اوشوروي پوځ اوپراتیفي ډلې راجوړې شوې . توپچي ځواکونه په خپلو اصلي مورچلوکې ځای پرځای شول. مادقوماندانې لپاره داسې یوځای غوره کړ چې دعملیاتو ټول ډګر تر ې له ورایه وبریښي اوپه دې توګه دحالاتو پربهیر داغیزې ښندلوامکان راسره وي.

څرنګه چې له اپویزیسیون سره دخبرواترولې لارې دقطار دسولې ییز تیریدلو پرسر موافقې ته ونه رسیدو ،نو له پلان سره سم مودنوامبرپه ۲۳ جګړه ییزعملیات پیل کړل. دغدرانو قام لپاره له بده مرغه مورو وکولای شول ، په خپلو لومړنیوهوایي ګوزارونوسره دجګړه ییزوعملیاتو ډګرله نوروسیمونه غوځ کړو .

شک نه شته چې دښمنان پوهېدل ،زمورد ددغو عملیاتو اصلي مقصد له لورې نه دخوست دزرګونوښارپانو ژغورل دي ،خوله دې سره سره هغوی دشوروي اوحکومتي پوځونو په وړاندې ډېر سخت مقاومت کاوه.

دځلوینښتم لښکر قطعاتو دعملیاتو په لومړۍ اوونۍ کې پرپاغیانو خپل فشار په منظمه بڼه زیاتاوه اوورو ورو خوپه متینوګامونو دستوکنډوډغاښ پرلور روان و ،چې هغه په بشپړ ډول په خپل کنترول کې راولي. له دې سره جوخت موهره وړځ داستخباراتې اداري دځانګړوکارکوونکوله لارې دلانجې دسولې ییزحل لپاره خپل وړاندیزونه هم استول .ان د جګړه ییزو عملیاتو دپورې شدت په وخت کې چې غلیم زمورې په وړاندې سخت مقاومت هم ښوده ، مورې هڅه نه کوله دهوایي

گوزارونو په مرسته هغوی ته ډیره مرګ، ژوبله ورواړوو، دځلوینښتم لښکر قوماندانی دهوایی جاسوسی او د استخباراتو دشبکې له لارې دغلیم دتمرکز دځایونو په هکله کافی معلومات لرل. خوبیا هم مور په لوی لاس نه غوښتل پرهغوی گوزارونه وکړو، یایې له منځه یوسو، بلکه هڅه موکوله هغوی له غاښې نه په شاکیدو ته اړباسو.

دنوامبر د ۲۸ ورځې مازیګرله شپږ ورځنی جګړې وروسته، مخکښو ټولګیو، دستوکنډو کنترول ترلاسه کړ. په دغو عملیاتو کې لویه وځډه دهوایې دیسانت (۱۰۳) لمبر فرقې درلوده چې هغه وخت یې قوماندانې دپاول سرګیویچ ګراچوف په غاړه وه. هغه شخصاً دخپلو قوماندانانو لارښوونه په غاړه درلوده او په کموتلفاتو سره یې وکړای شول دغه غاښې ونیسی.

له دې وروسته دځلوینښتم لښکر قوماندانی دخوست دکلابندی دسوله ییزو ماتولولپاره یوه بله هڅه هم وکړه، د نومبر په دیرشمه دافغانستان د دولتي امنیت دارګانونو له لارې دجګړه مارو قبایلوله مشرانو او دغه رازله جلال الدین سره دخبرو لړی پیل شوه. ددغو پینځو ډیر ارزښت له کبله له کابل نه دافغانستان دجمهور رئیس ځانګړی استازی دقومونو او قبایلو دچارو وزیر سلیمان لایق هم هغه ځای ته راغی. نومورې دجمهور رئیس او دغه راز دلویې جرګې دغړو په نمایندګۍ چې هغه وخت په کابل کې روانه وه، دځدرانو له مشرانو نه وغوښتل چې دخوست پرلور دغیر پوځي بار درسوونکي قطار په لار دکې خنډونه وانه چوي.

مور تقریباً ددوو اوونیو لپاره جګړه ییز عملیات تم کړل. دامودد ځښرنو،

کتنو، خبرو اترو، دخپلو دریځونو دبیاتثبیت، دمتقابلو تورونو دلګولو، ګواښونو اوداسې نورو کارونولپاره بیخي کافي وه.

دځلوینښتم لښکر قوماندانې په دغه موده کې هم لاس ترزنې نه وه ناسته. په دغه ټکي له پوهیدو سره چې دلانجې د سوله ییز حل امکانات خورالږدي، مورد ځانګړي محدود عملیات ترسره کړل. دلښکر قوماندانۍ دځدرانو پرمشرانو د اغیزدزیاتولوترڅګ، خپله ځانګړې نقشه هم عملي کوله.

مورد پوځي استخباراتو له لارې، پاکستان ته داسې یولیک واستاوه چې په کې ویل شوی وو، جلال الدین، دادی له پخوانه زیات دلانجې دحل لپاره دشوروی قوماندانۍ له ورانديزونو سره موافق شوی اوغواړی چې خپله وسله په زمکه کیږدي. داسې وشوه چې ګواکې «اووه ګون» اتحاد په تصادفي توګه له دې خبرې خبرشو چې ګنې جلال الدین له خپلو نږدې مرستندویانو سره دجګړې له ډګرنه دخپلو ځواکونو دشاتهایستلولارې لټوي. مورد په دې هیله چې جلال الدین به دخپلو مشرانو له خواله منځه یووړل شي، ان دنومورې دځواکونو د په شاکیدودقیقې نیټې موهم یادې کړې وې.

ددغې پروپاګنډې له پیله یوه نیمه اوونۍ وروسته جلالالدین دجګړه ییزو عملیاتو له دګرنه غیب شو. هغه بیا ایله دجنورۍ په پای کې په خوست کې ولیدل شو، خودانورهغه وخت وچې مورد «لویې لارې» عملیات بېشړ پای ته رسولي وو. وروسته بیا څرګنده شوه چې په پاکستان کې زمورد له خوادلیکل شوي لیک په صحت باندې ځینې شکونه پیدا شوي وو، خوبیا هم پریکړه شوي وه چې جلال

الدين دې له سره وازمايل شي. هغه پاکستان ته وروغوښتل شو جلال الدين په بيره هغې خواته روان شو او دخپلو ځواکونو لارښوونه يې خپل مرستيال ته وسپارله هغه چا تجريدهم نه کړ او تحقيق هم ترې ونه شو، خواوږده موده ورسره خبرې روانې وې او هره خبره يې بيا بيا ازمايل کيدله.

زمور دغه پروپاګند خاصه نتيجه ورکړه. نه يخلاکيدونکی قوماندان دجګړې ډګرته راپرې نه ښودل شو. د «لويې لارې» د عمليا توله پيل وروسته، دمخالفينو سخت مقاومت له دوو اوونيوزيات دوام ونه مونده، خومور ډير ستر مقصدته چې هغه په سوله ييزه لاره دخوست دکلابندی ماتول وو، ونه رسيدو. دځدرانو دقام مشرانو د «اوه ګوني اتحاد» دمشرتابه ترسخت فشارلاندې چې به پيښور کې ځای پرځای و، زمور قطار ته له درې نه دخوست پرلور د تيريدو اجازه ورنه کړه.

له لورې نه دخوست دښار اولويې اولسوالی دخلکو دژغورلو په مقصد، لويې جرګې جمهور رئيس نجيب الله ته واک ورکړ چې دافغانستان دوسله وال پوځ قطعو اوجزوتامونوته دجګړه ييزو عمليا تودبيا پيل امرورکړي.

زه قصداً غواړم داخبره په ګوته کړم چې دافغانستان دوسله وال پوځ قطعوته امرورکړشو، ځکه ددغو عمليا تو اصلي بار دهمدوی پر اوږو اودهمدوی پروسلو پروت و، دځلوينښتم لښکر قطعاتو عمدتاً تامينا تي وندې سرته رسولې.

ددسمبر په شپاړسمه پوځونه مجبور شول، خپلو عمليا تو ته دوام ورکړي. دغه وخت نود ګردېز اوستوکنډو ترمنځ سړک ټول زمور په لاس کې و، مادقوماندانی مرکز دجګړه ييزو عمليا تو سيمو ته نورهم ورنږدې اوپه غاښې کې چې هغه هم

زمور لاس ته راغلی و ، ځای پرځای کړ ،فکرکوم ډیرکم کسان دې اړ شوي وي چې د سمندرله سطحې د دریو زرو مترو له لوړې څوکې نه د عملیاتو لارښوونه وکړي.

په خوست کې مود شوروي دیسانت یوکنډک او دافغاني کوماندویانو یوه لوا راکوزکړل . په دې توګه ډیرښه شرایط رامنځته شول او قطعات له دوو غاړو یودبل خواته پرمخ روان شول.

هغو قطعو چې له ګردیز نه یې د خوست پرلور حرکت کړی و ،ګام په ګام دسړک خواته پرتې لوړې څوکې ئیولی او د موټرې سړک کنترول یې په خپل لاس کې اخیست.

دغدرانو قبیلې پوځي ډوله ټولیګو خپل مقاومت ته دوام ورکاوه ،دښمنانو د شوروي توپونوپه مورچلو او مخامخ د قوماندانۍ پرمرکز رسادزې کولې.

مور د جګړه ییزو عملیاتو په ترڅ کې دشړنی په نامه دزیرمویومرکز چې خوست ته نږدې دستوکنډووپه جنوب کې پروت و ، لومړی کلابند او وروسته له منځه یوړ. په دغو عملیاتوکې د پراشوتي دیسانت د ۳۴۵ لمبرمستقل غنډ سرتېرو او افسرانو ښه میړانه وښودله .هغه وخت د دغې قطعې قوماندانې دیوه ډیر ښه انسان ،هوښیار افسراو د شوروي اتحاد داتل ډګرمن والیري السکاندر ویچ واسترو تین پرغاړه وه چې سرتیرو ته د عبادت ترپولي ګران و . دادوهم ځل وچې هغه افغانستان ته راته. دخپل لومړي سفرپه وخت کې ډیر سخت تېې شوی و ، خود ډاکټرانو په همت نه یوازې ژوندی پاتې شو ،بلکه خپلې محاربوي قطعې ته بېرته راستون هم شو.

دزیرمو ددغه مرکزتباه کیدو دوسله وال اپوزیسیون دمقاومت دوروستی ماتې اودشوروی عسکروپه لاس دگردیز - خوست دلویې لارې دکیوتولاره هواره کړه ،دمخالفودلو مشرانوچې نورپوه شوی وو ، دجګړې نتیجه به څه شی راوخیږي ،خپل پلانونه له ستې بدل کړل. هغوی دوسلو ،مهماتو او نوروجنګي وسایلو دټولولو او راوړلوپرځای ،دهغو زیرموساتلوته خپله ټوله پاملرنه واړوله چې پخوا لادخوست په لویې اولسوالۍ کې ځای پر ځای شوې وې.

دځلویښتم لښکر قوماندانې پوهیدله چې د «لویې لارې» دعملیاتو په ترڅ کې زموږ اصلي دنده دستیوکنډو نیول اودشړنې دزیر موتباه کول دي. موږ ددغو اهدافو په ترلاسه کولوسره کولی شول ، دخپلې لارې په اوږدوکې نورټول پراته خنډونه له منځه یوسو. په واقعیت کې هم همداسې وشول.

دنوي ۱۹۸۸ کال له راتګ نه څلرویشت ساعته مخکې ددسمبر په دیرشمه موسړک له ماینونوچاودیدونکو موادو اوکندوکړونه پاک کړ اوپه خوراکي موادوبارلومړنۍ لارۍ موپرې خوشې کړې. هره ورځ له گردیزنه د خوست پرلور دوه درې قطارونه خوځیدل. دجنورۍ په ۱۹ وروستۍ قطار له کلابندۍ څخه دژوغورل شوې ښار ، خوست څخه ، بیرته تش راستون شو. په دغه موده کې دځلویښتم لښکر موټر چلوونکو ۲۴ زره ټنه بیلابیل مالونه ولیږدول . په دې موادوکې اساسي برخه دخوراکۍ شیانو اوتیلو وه.

تقریباً درې اوونۍ شوروي سرتیرو دلارې په اوږدوکې په «پهره دارخانو» کې تیرې کړې ، یاغیانوبیا بیاهلې ځلې کولې ، دلارې امنیتي کړۍ ماته او سړک ته

ځان وباسي او بيا دمالونود ليږدولو ، بهير تم کړي ،خوهغوی په دغه کاربريالي نه شول.

دجنوری په شلمه مودجګړې له دګرنه په منظم وتلو پيل وکړ. دځلوښتم لښکر قطعاتو دوسلواو مهماتو څه دپاسه سل زيرمې ،يوه زياته اندازه بيلا بيلې وسلې ،ځلورټانکونه او (۹) زغره وال ګاډي ونيول. مخکې هم مورږ غنايم لاس ته راوړي ، خو هيڅکله يې اندازه دومره زياته نه وه. زمورږ دسرزيان هم بيخي لږو.

ددغو عملياتو ستره نتيجه دخوست داوږدې پوځي او اقتصادی کلابندی ماتول وو. له دې سره جوخت دافغانستان له خاورې نه دخوست دبيلولو اوهلته دمستقل اسلامي دولت دجوړولو په هکله داووه ګونی اتحاد دمشرانو پلانونه هم په اوبو لاهوشول.

تريوې زياتې اندازې د «لويې لارې »دعملياتو په لړکې دمجاهدينو ستړې ماتې دوسله وال اپوزيسيون پرمشرانو د خلکو باور له منځه يووړ او دهغو په منځ کې دنه باور روحيه پيداوړې شوه.

دخوست دکلابندی دماتولو لپاره دبريالیو عملياتو له امله سترجنرال والستين وارينيکوف دګروال ويتالی پاولف ، واړه ضابط يوري اسلاموف (په مړينه) اوسرتري سرګی ايګولچنکوته دشوروي اتحاد داتل لقبونه ورکړل شول زما نوم هم په دې لړکې راغلی و.

دپوځونو وتل

د ۱۹۸۸ کال داپريل په ۱٤ دافغانستان ،پاکستان ،شوروي اتحاد اوامريکا

دمتحدو ایالتونو دبهرنیوچارو وزیرانو دافغانستان دشاوخوا حالاتو دسیاسي هواري په هکله په ژنیو کي پنځه سندونه لاسلیک کړل. دژنیو له تړونونوسره سم چې یوه میاشت وروسته نافذیدل، دشوروي اتحاد محدودوپوځي تولیګو باید دنهو میاشتو په لړکې دافغانستان خاوره خوشې کړی وای.

مامخکې یادونه کړې چې له افغانستان نه دشوروی پوځونولومړنۍ ډلې د ۱۹۸۰ کال په جون اوجولای کې وتلې وې. هغه وخت دټانک څوغنډونه، دپلیوفرقود توغندیو قطعې، دهوایي مدافعې دتوغندیو اوتوپچي یوه لواء او ځینې نور قطعات وتلي وو.

ښکاره ده چې هغو وتلو په هڅ ډول ددولتونو ترمنځ پریکړه پورې اړه نه لرله. دځلوینټم لښکر دپرسونل د بیاسمبالتیا اړتیا ترهرڅه لومړی په افغانستان کې دپیل شویو جګړو دپوځي معقولیت، دهیواد دجغرافیایي جوړښت اودسیمې دځانګړتیا وله امله منځ ته راغلې وه.

زمورږ دپوځونو لومړی ځل وتل هم دا په ډاګه کوي چې دشوروي اتحاد دوسله وال پوځ ستر درستیز په دې هیواد کې دپوځي حرکاتو په سمبالتیا پوره غوږنه وکړی. د ۱۹۸۰ کال په دوبي کې دپوځونو دوتلو حقیقت په خپله ددې څرګندوی دی چې دځلوینټم لښکر په وړاندې یوه نسبتاً محدوده دنده پرته وه، یعنې دحکومتي قواو ننګه او داپوزیسیون دوسله والو ډلو دمقاومت ماتول.

په ۱۹۸۲ کال کې دشوروي اتحاد خاورې ته څونورې قطعې هم ستنې کړی شوې.

دشوروي محدود وپوځي تولګيو دبشپړې اوروستۍ وتنې کارچې دژنيو په ترڅونوکې هم ورته اشاره شوې وه ، په دريو پراووونوکې بشپړ شو.

لومړی پراو په ۱۹۸۶ کال پورې اړه پيدا کوي او داهغه وخت دی چې دشوروي اتحاد ددفاع وزارت په يواړخيزه توګه خپل شپږمحارب غنډونه له افغانستان څخه باسي .دشوروي اتحاد مشرتابه داپريکړه ددې لپاره کړې وه چې له يوې خواخپل ښه نيت څرګند کړي او له بلې خوا دملې روغې جوړې دتګ لارې دتاييد لپاره تړې دغوره او قانع کوونکي دليل په توګه ګټه واخيستل شي.سربيره پردې ،مورتولې نړۍ ته په هرمناسب فرصت کې له افغانستان څخه دوتلو په هکله خپل نيت وښوده .پوځيانو نه يوازې ددغه هيواد دلانجو دسياسي حل په اړتيا ټينګارکاوه ،بلکه په دې لاره کې يې تاکلي ګامونه هم اوچتول.

د۱۹۸۸ کال داپريل په اوومه دشوروي اتحاد ددفاع وزير بوه امريه لاسليک کړه چې په هغې کې دغواکونود ايستلو او دتګ په وخت کې دهغو دامنيت دساتلوځرنګوالی په ګوته شوی و.دغه امريه په بشپړه توګه دځلويښتم لښکر دقوماندانۍ دوړاندیزونو په رڼاکې جوړه شوې وه اودمحدودوشوروي پوځونو دايستلو دويم پراويې د ۱۹۸۸ کال دمی له پنځلسمې نيټې څخه په پام کې نيوه.وروستۍ پوځي قطعه د ۱۹۸۹ کال دفبروری په پنځلسمه دشوروی اتحاد له دولتي پولې نه وراوښتونکي وه.

دايستلو لپاره هماغه لارې غوره شوې وې ، چې په ۱۹۷۹ کال کې پرې ځلويښتم لښکرافغانستان ته ننوتی و.په لويديځ لوري کې.کندهار ،شندند

،کوشک په ختیځ لوري کې : له غزني، ګردیز او جلال آباد نه راتول شوي ځواکونه په کابل کې باید سره یوځای شوي وای. وروسته باید دغوقواوو دسالنګ له غاښی نه دپلخمري سیمې ته پښه اړولی وای. اوله هغه ځایه یې د ترمز پرلورنهایي مارش سرته رسولی وای.

دمی له ۱۵ نه داګست تر ۱۵ پورې شوروي عسکر له نهوګارنیز ونو څخه راوایستل شول. څه دپاسه پنځوس زره سرتیری اوافسران په ختیځ کې له جلال آباد، غزني اوګردیز نه، په لویدیځ کې له کندهاراولښکر ګاه نه اود غه راز په شمال ختیځ کې له فیض آباد اوکندز نه ووتل. دژنیو له تړونونوسره په بشپړ سمون کې دځلویښتم لښکر په سلوکې پنځوس پرسونل خپل هیواد ته ستون کړی شو.

په دریم او روږستي پړاوکې چې د ۱۹۸۸ کال له دسمبر نه د ۱۹۸۹ کال دفبروری تر پنځلسمې پورې موده په کې دهمدغې ورځې په ګډون راتله، دځلویښتم لښکر پاتې نیمایي برخه هم وایستل شوه.

مور دافغانستان له خاورې نه دجګړې په حالت کې وتلو. اپوزیسیون هم دشوروي لښکرو وتلوته ځان چمتو کاوه. هغوی ګومان کاوه. چې څنګه دهیواد له خاورې نه دوروستي شوروي عسکر پښه ووځي، کابل رژیم به دځواوونیو په ترڅ کې دړې وړې کیږي.

دلښکر قوماندانې ته دپوځونو دوتلو تولې پیچلتیا اودروند والی، په تیره بیا ددغه کارپه وروستي پړاوکې، پوره روښانه و. دچمتووالي لپاره زیات کارشوی و. مهمه مسأله دتګ په وخت کې دقطارونو جګړه ییزه محافظه. مور مخالفووسله

والو ډلو دنا څا پي يرغلونو دمخنيوي لپاره شديد تدبيرونه سنجولي وو. عملاً مودسترو جنگي عملياتو دسرته رسولو تياری هم درلود.

دمحدودو پوځي ټولګوله لوري، دغو او پراتيفي اقداماتو بشپړه دفاعي بڼه درلوده. مورد خپل استخبارات بڼه فعال کړي وو. دبانډونو دنقل او انتقال پرله پسې څارنه موکوله او دځلوېنبتم لنبکر دقطارونو په هکله دهغو له پلانونو څخه پوره خبرؤ. ددښمنانو دټولیدو او احتمالي سيمې اوزمورد پوځونو دتګ لارې ته دهغو دراوتلو گودرونه موتربشپړې څارنې لاندې نيولي وو.

زما دامرله مخې دلارو امنيت خورا پياوړی شوی و. دځواکونو داستفادې وړټولې لارې اوسړکونه پرپخوا نيو محافظتي پوستو سربيره د ۱۰۸ او پنځم لمبر پلیـو موتوريزه او دغـه راز دهوايي ديسانت د ۱۰۳ لمبر فرقـو له خوا بشـپړی کلابندې شوې وې.

دارتيا په صورت کې ځلوېنبتم لنبکر چمتو و، دافغانستان پرهره سيمه چې يې غوښتي وي، دفاعي يا متقابل گوزار وکړي.

په ډيرو خطرناکو سيموکې مودهوايي اوتوپچي ځواکونو دعمل څرنگوالی په غورسره تاکلی و. هغه ټولې سيمې چې دقطعاتو ددمې مرکز ته نږدې پرتې وې، دشپې له خوا پرله پسې دالوتکو په مرسته روښانه ساتل کيدل دې کار ددښمنانو دغلچکي رانږدی کيدلو مخه نيوله.

له دې سره جوخت دمحدودو پوځي ټولګيـو قوماندانې، افغاني لوري ته دهغو ټولو پوځي چونيـو دسپارلو تيـاری نيوه چې مورد خپل نهه کلن حضـور په لړکې

آبادي کړي وي. دقاغوشونو، زيرمو، خورنتونونواو د نورو پوځي تاسيساتو زياته برخه له کم دوامه او داسې مواد ونه جوړه وه چې بيرته راسپړل کيدلی شول.

پوځيانو په افغانستان کې پخې ودانۍ نه وې جوړې کړې. دخدای فضل وچې زمور مشرانو دومره هوښياري کړې وه چې له خښتو اوکانکريټونه يې دودانيو جوړول نه وو پيل کړي.

زما په نظر په وړياتوګه دځلويښتم لښکر دټولوتاسيساتو دورکولو پريکړه سمه بريښي. له لرګيوڅخه جوړو ودانيو له اووه ،اته کاله استفادې وروسته دبيا سپړلو زغم نه لاره.

دولايتونومشرانو دشوروي پوځونودستنيدو په وخت کې ،له هغوی سره دمخه ښې ډيرې تودې غونډې جوړولې يوازې په کابل کې دافغانی لوري په حواله دمی په ۱۵ ،۱۶ اونورو ورځو کې دپايتخت له منځه دقطارونو دتيريدو دمهال ويش په پام کې نيولو سره دمخه ښې په غونډو کې څه دپاسه سلوزرو تنو ګډون کړی وه دغه راز په جلال آباد کې له شوروي افسرانو ،سرتيرو اووړو ضابطانو سره څه دپاسه دولسو زرو وګړو (؟دج) مخه ښه کړې ده. زما په نظرداحقيقت ډيرڅه روښانولولی شي.

په اتيايموکلو کې دافغانستان حالات دډيرو دپريشانۍ سبب ګرځيده . دژنيو تړون له لاسليک وروسته د «دربيمې نړۍ» په هيوادو کې دلانجو دغوڅولو بيخې نوې لارې ځان څرګندې کړ. شک نه شته چې په دغسې حالاتو کې په افغانستان کې دشوروي پوځي قوماندانۍ عملي ګامونوله هرڅه مخکې دټولنيزو کړيوپاملرنه

ځان ته اړوله.

دځواکونو دوتلو بهیر داسترالیا ، ایټالیا ،هسپانیې ،انګلستان،کانادا ، دامریکی دمتحدو ایالتونو ، سویډن،جاپان، المان اونورو هیوادوڅه دپاسه دووسوو خبریالانو روښانه اوه ،له هغوسره یوځای دشوروي خبریالانو یوې کوچنۍ ډلې یعنې ددولتي راډیو ، تلویزیون ،دنووستي دمطبوعاتي او دتاس دخبرې اژانسونو څه دپاسه لسو استازیوهم فعالیت درلود . هغوی ترکابله اوله هغه وروسته دشمال پرلور زمور پوځونه بدرګه کول. دیادونې وړوه چې دیرو خبریالانو غوښتل زمور په قطار ونوکې له پوځونو سره یوځای حرکت وکړي. مور داسې غوښتنې زیاتره ردولې، ځکه هره شیبه ددې احتمال وچې غنډ یاکنډک ترناڅایی یرغل لاندې راشی یوازې دخپلوڅوهیوادوالولپاره استثنا ته قایل شو. نورټول موډالوتکو په وسیله دحیرتانواو ترمز سیموته لیږدول چې بیایې له همدې ځایه له پولې نه دپوځیانو دتیریدو جریان نړۍ ته خپراوه ،دالومړی ځل وچې ژور نالیستانوته دعمل پیښره ازادي ورکړل شوه او هغوی په خپله ددې شي احساس کولی شو. هغوی د روانو پیښولهبهیر نه دحقیقي ریپوټونو دبرابرولولپاره پوره امکانات لرل.

د ۱۹۸۸ کال دمی په ۱٤ مـا په کابل کې لومړې مطبوعاتي کنفرانس دایرکړ. زما په عقیده دغه کنفرانس دزیاتې پاملرنې وړ وګرځید. ددې خبرې لوی دلیل داوچې ژورنالیستانو بالاخره امکان پیداکړچې دخپلې خوښې هرډول پوښتنې مخامخ دځلویښتم لښکر له قوماندان څخه وپوښتي. دیرې

موضوعګاني مطرح شوې. په افغانستان کې زمور دسرله زيانونو ، نه نيولي ، بياپه دغه هيواد کې دحالاتو دسياسي رغاونې ترلاروچاروپورې البته چې ځينې « چيچونکې » پوښتنې هم رامنځته کيدلې .هيله من يم چې زما ځوابونو به دژورنالېستانو قناعت حاصل کړي و .هغه وخت او همدا اوس ددې خبرې دپټولولپاره هيڅ ارتياله شته چې شوروي عسکروپه افغانستان کې کوم کارونه سرته رسولي دي.

دماتې په درشل کې

دافغانستان واکمن مجبوروو ،له هغه هيواد نه دشوروی پوځونو له تګ وروسته ،زياتې جدي مسألې دچاله مرستې پرته حل کړی. دتبرولسو کلوپه څير ،نورنونه شوکيدای ، دشوروي سلاکارله خولې نه په راوتلې خبرې زړه وترل شي.زمور دسلاکارانو اوکارپوهانو غوڅ اکثريت ته لاربښوونه وه چې د ۱۹۸۹ کال دفروری له ۱۵ نه ډير مخکې له افغانستان څخه ووځي.دځلوښتم لښکرله ننګې پرته هلته دهغوی پر ښبودل غير معقول کار و .

دافغانستان مشرانو په خپل هيواد کې دشوروي پوځونوله وتلو وروسته دسياسي او پوځي حالاتو بدلون ته فعالانه چمتووالی نيوه.په دې برخه کې ډير څه (هسې چې بريښيدل) ساده هم نه وو .

دافغانستان وسله وال پوځ دايتايمې لسيزې په پيل کې دپرسونل دشمېر او تجهيزياتوله پلوه ډير پياوړي شوی و . په کابل کې داخبره پوره روښانه وه ،همداچې شوروي سرتيري له دغه هيواد ووځي ، نواپوزيسيون به دحکومتي عسکرو خلاف

په ښکاره او بیرحمه جګړه لاس پورې کوي، خو افغاني مشرانو ددې پرځای چې دخپلو عسکو دروحي حالت پیاوړ تیا او داستخباراتی او استخباراتی ضد چارو چټکتیاته پاملرنه وکړي، دهغوی په قول یې «دافغانستان دوسله وال پوځ دبیاتجهیز» کارپیل کړ. په بله ژبه، هڅه یې کوله چې په باقي پاتې فرصت کې له شوروي اتحاد نه تر وسه وسه زیات شیان لاس ته ور وړي. افغانانو په ټینګار غوښتنه کوله هغه وسلې لاس ته ورووړي چې تر دغه وخته یوازې دځلوینتم لښکر پوځیانو درلودې.

د ۱۹۸۸ کال په پای کې دافغانستان ددفاع وزارت په مصنوعي توګه یعنې دکاغذپرمخ دخپل پوځ د منسوبینو شمېر ځوواړه زیات کړ. دافغانستان نظامي لارښوونکودوسلو له پلوه دخپلو پوځیانو کمزورې سمبالتیاته په ګوتې نیولو اوپه دې حقیقت باندې تکیې سره چې د قطعاتو شمېرې بیخي زیات شوی دی، له مور دبیابیا دنورو وسلو او تخنیکی جنګي وسایلو غوښتنه کوله. یومتناقض حالت منځته راغی: هره ورځ افغانستان ته دوسلو استول چټکیدل. خوپه دغو وسلو دپوځیانو دسمبالنبت درجه ټیټیدله. له دې سره جوخت دافغانستان ددفاع وزارت د وسله تون په زیرموکې له ډیرو شتو وسلونه کارنه اخیستل کیده. دافغانانو په قول ددې خبرې دلیل دهوښیارو وړوماهرانونشتوالی و.

رارسیدونکې وسله، مهمات او تخنیکي وسایل به زیر مه کیدل. سره له دې چې مور پوهیدو. هغوی څرګنده غولونه پیل کړې ده، بیا موهم نه شول کولی په هغه پراوکې، دهغو شیانوله ورکړې نه ډډه وکړوچې افغانانو یې د لاس ته ورووړلو لپاره

بیابیا غوښتنې کولې.

دځلوېښتم لښکر دمتو په زور دهیواد په عمده سیمو: جلال آباد ،کندهار ،گردیز ،کابل ،کندز ،هرات ، فیض اباد اوشیندند کې دضروري شیانو د درې میاشتنیو زیرود دتیارولوکارپه بیړه روان و.

د ۱۹۸۸ کال په پیل کې دشوروي اتحاد دحکومت غړی څوځو واره افغانستان ته راغلل . شیوارد نادزې اویازوف هڅه کوله منځ ته راغلې ستونزې ځای په ځای وځیړي او دحل لارورته وموميي.

تقریباً دنوامبر په میاشت کې له کابل اوکندهار سره جوړوشیو هوایي پلونو په فعالیت پیل وکړ .له هغو نه عمدتاً داوړو دلیرلو لپاره کاراخیستل کیده شک نه شته چې په دې ترڅ کې وسله مهمات او نورجنګي وسایل هم لیږدول کیدل.دورځې په رڼا کې هره ورځ دکابل په هوایي ډګر کې له ۱۵ نه تر ۲۰ پورې ایل.۷۶ ډوله الوتکې راکوزیدلې دابیخي زیات شمیر ګڼل کیږي.سربیره پردې سلګونه ټنه نور مواد دموټرو په وسیله هم لیږدول کیدل.

اوس چې له هغه وخته څوکلونه تیر شوي ،سړی کولی شي داسې نتیجه واخلي چې هغه ناپایو اقتصادي او پوځي مرستو چې شوروي اتحاد په ورستیو میاشتوکې له افغانستان سره وکړي، دنظرورنتیجې ورنه کړې. موږ یوازې دومره وکړی شول دکابل رژیم ژوند او هغه هم دیوې یرې لنډې مودې لپاره اوږدکړو .ددې خبرې ترټولو عمده دلیل دافغانستان دپوځي اوسیاسي مشرتابه نه اغیزمن فعالیت و. افغانانو له طفیلي ژوندانه سره دومره عادت کړی و چې نه یې شول

کولی له شوروی سلاکارانو پرته یومستقل گام پورته کړي.

زمور دمرستوزیاته برخه په تیره بیا په وروستیو میاشتوکې چوره لوټیدله. دایې یوه ډیره غوره بیلګه ده:

له افغانستان نه دوتونکو قطعو په ډله کې ٦٦ لمبرپلې موتوریزه لواء هم راتله چې په جلال آباد کې ځای پرځای وه. ددغې قطعې دایستلو دچارو په سمبالښت زما په ګډون دځلوینښتم لښکر دقرارګاه یوشمېر افسران اوجنرالان بوخت وو.

په جلال اباد کې مور دخورو، تیلواوجنګي مهماتودرې میاشتنۍ داسې زیرمې جوړې کړې وې چې چالاس هم نه و وروړی. عسکري قشله چې په کې قاغوشونه، خورنځی، حمام اوروغتون شامل وو، په هماغه اصلي حالت پرېښودل شول، تابه ویل سرتیري تړې دیوې لنډې مودې لپاره وتلي اوګنې بیرته راستنیږي. په کټونوکې بسترې هماغسې هوارې او منظمې جوړې وې. پرکټونوباندې روجایي ګانې خپرې اودهرکټ خواته دایښی میز ترڅنګ څپلکې پرتې وې. کاغوشونوټول ضروري شیان درلودل. داوبو نلونوشپه اوورځ کارکاوه.

دافغانستان دارودواستازو ته وسلې اوجنګي تخنیک بې عیبه اوبې نقصانه وسپارل شو. له جلال آباد نه زمور دقعطی له وتلوڅو ورځې مخکې دافغانستان ددفاع وزارت دافسرانو په حضوراوله هغو سره اوږه په اوږه مو جنګي وسایل درفتار او انداخت په حالت کې معاینه کړل او وموازمایل. له دغه ازمېښت وروسته ګډ کمیسیون ددغووسایلودسپارلو اومنلو پروتوکولونه لاسلیک کړل.

دمی د ۱٤ ورځې په سهار شوروي پوځیانو دغه چونې بیخي خوشې کړه. سربیره پردې له تګ څخه ویشت ساعته مخکې دغه لواء له خپلې چونې نه بهر په یوه بیدیا کې کیږدیوته لیږدول شوې وه.

افغاني لوري اړوند سندونه لاسلیک اوبیایې په چونې خپل ساتونکي وګمارل، خو دهمدغې ورځې په دویمه نیمایي کې دغه پوځي چونې ټوله تالاشوه. ټول لږیادیر قیمتي شیان لکه تلویزیونونه، رادیوګانې، کولرونه اوان دسرتیروچپرکتونه دبازارپه هوکاندارانو وپلورل شول. په ډیروکوتوکې نه ورپاتې شوانه کړکې. دیادولو وړ ده چې ددغو وروستیو څیزونو (وراوکړکې) بازارپه افغانستان کې خوراګرم و.

څوورځې لانه وې تیرې چې دجلال آباد دلومړي لمبر قول اردو قوماندان جمهور رئیس نجیب الله ته خبرورکړ چې په هغه چونې کې دموادو دړې میاشتنې زیرمې بیخي نه شتنه. په داسې حال کې چې همده خپله دهغوی دتسلیمې سندونه لاسلیک کړي وو. له همدې امله وروسته دځلوینبتم لښکر قوماندانې پریکړه وکړه. چې دخپلو قطعو مربوط مالکیت نه یوازې دښار، اولسوالې یا ولایت داستازیو په حضورکې افغاني لوري ته وسپاري، بلکه هغه د ویدویي کمرې په واسطه ثبت هم کړي.

په مجموع کې شوروي پوځي قوماندانې افغاني لوري ته د ٦۹۹ میلیونه روبلو په اندول ۱۸٤ پوځي چونې او دغه راز د ۳ ، ۹۸ میلیونوروبلو په اندول بیلابیل تخنیکي وسایل اودژوندانه دارتیا وړشیان سپارلي دي.

کیږي، دشوروي پاتې قطعو دوتلو له املې دلتې تر پخوا زیات کورنۍ څپې څپاندي ترسترګو کیږي. هم رژیم او هم مخالفو ځواکونو خپله پوره پاملرنه دفروري ۱۵ نیټې یعنې هغې ورځې ته اړولې چې دژینو له تړونونو سره سم په افغانستان کې زمور دلښکرو د حضور موده پای ته رسیږي. له دې سره جوخت دغه موده د کابل لپاره نوره هم لنډه، تنګه شوې ده، ځکه چې له دغه ښارنه باید زمور پوځي ټولګي دفبروري په پیل کې ووځي.

تقریباً دهیواد په هر ګوت کې د حکومت او مخالفینو ترمنځ د جګړو تنور تود دي چې دهغو په ترڅ کې حکومتي ځواکونو تراوسه خپلې مورچلې د پخوا په څېر ساتلي دي، خو دشوروي هوایي ځواکونو په مرسته، مخالفینو ونه کړای شول جلال آباد، کندز یاکندهار ونیسي. خوټولوته جوته ده چې اصلي «وزلوبه» به وروسته پیل کیږي. اپوزیسیون خو اوس ان تریوې اندازې خپل جګړه ییز فعالیت کم کړی هم دی چې د راتلونکې پراولپاره خپل ځواکونه زیرمه کړي ملګري نجیب الله داګڼې چې مخالف ځواکونه به دشوروي لښکرو له وتلو سمدلاسه وروسته په یوه وخت کې په ځومهمو لوروبرغل پیل کړي.

باید ټینګاروشي چې افغاني ملګري د حالا تو له راتلونکې پرمختیا څخه اندیښمن دي. په مجموع کې له غلیم سره دهغوی د مقاومت نیت نورهم پیاوړی شوی او دهمدې مقصد لپاره یې ځینې عاجل اقدامات کړي او هڅه کوي له خپلو شتو امکاناتو نه معقلو ګټه واخلي. هغوی تریوې اندازې دیو شمیر وسله والو ډلو له ژباتو قوماندانانو سره د خپلو تماسونو په اوږدو لو پورې هم ځینې هیلې غوټه

کړي دي...

دافغاني ملګرو په نظر ، ترټولو مهمه خبره داده چې لږ تر لږه دشوروي لښکروله تګ وروسته بايد دري څلور مياشتې مقاومت وشي اوله هغه وروسته کيدای شي دحالاتو تله ددوی په ګټه ورکړه شي. داخبره داپوزيسيون د يوشمير هغو څرګندونو له مخې هم تاييد يږي چې په اسلام اباد کې يې له شوروي استازو سره دتماسونو په ترڅ کې کړې وې .له هغو څرګندونو نه جوتيدله چې که دنجيب الله حکومت پرځای پاتې شي اوله ځانه دفاع وکړي شي نودوی به دخبرو اترو د يوه لوري په توګه دهغه دنه منلو په هکله پرخپل اوسني دريځ نوی نظر وکړي.

په داسې حالاتو کې مورږله يوشمير پيچلو ستونزوسره مخامخ کيدونکي يو .له يوې خوادفبروی تر ۱۵ دځواکونو دبشپړې ايستنې په هکله زمورږله مخکې نيول شوې اوټولوته څرګندې پريکړې څخه سرغړونه ، کيدی شي په نړيوال ډګرکې مورږ ته سخت ناوړه عواقب رامنځته کړي .له بلې خوا هيڅ اميد نه شته چې زمورږ له وتلو وروسته به هغه رژيم چې ټوله نړۍ يې په مورږ پورې تړي ، له سختو خطرونو سره نه مخامخ کيږي. په تېره بيا چې اپوزيسيون په دغه زماني فرصت کې دپاکستاني اوامريکايی پوځي کړيو په لمسون هڅه کوي ، خپل فعاليتونه تريوې اندازې هماهنګ کړي. له دې امله هم اندېښنې شته چې دافغانستان دخلکو ديموکراتيک ګوند تر اوسه هم يوموټې شوی نه دی او دپخوا په څيرپه کې فرقه يي ، قبيله يي او نور اختلافونه پاتې دي.ځيني افغاني مشران په خپلو څرګندونوکې د « پخوانيوبې عدالتيو » خبره يادوي. صدراعظم محمد حسن شرق

اودهغه دکابینې ځینې وزیران ډیر کمزوری کارکوي.

داحقیقت هم جدي بریښي چې پاکستان دژنیو له تړونونوڅخه نه یوازې ښکاره، بلکه په سپین ستر گی سرغړوي. پاکستانی سرحدیان دافغانستان په خاوره کې دننه جگړو کې مخامخ ونډه اخلي. دپاکستان له خاورې نه افغاني کلي ویشتل کیږي. دوسلودرالیږلو بهیر پرله پسې جاري دی اووسله والې ډلې رارواني دي. په پیښور او نوروښارونو کې دافغاني مخالفو گوندونو دفترونه، تعلیمي مرکزونه اوکمپونه ښکاره پرانستي دي او داټول کارونه په هماغه بڼه چې ضیاءالحق تاکلې وه، سرته رسیږي شک دی چې بینظیر بوټو دې په نړۍ دې راتلونکي کې ددغه حالت دبدلو وس پیدا کړي.

مورِ او افغاني لوري پرله پسې دمشخصو مواردو په ذکرسره، دپاکستاني واکمنو دادول کړنې غندلي او غندو یې. په پام کې ده چې همداتگ لاره به په راتلونکي کې هم اوان دملگرو ملتودامنیت په شوراء او خپله له پاکستاني واکمنو سره دتماس په ترڅ کې. جاري ساتل کیږي.

۱- اساسي خبره چې دحالاتو راتلونکي وده هم له هغې رازیږي، داده چې ایاواکمن کولی شي کابل او نور لوی ښارونه اوپه لومړي گام کې همدا پایتخت په خپل لاس کې وساتي که نه؟ دکابل اوضاع ډیره نازکه ده او اوس خوله پوځي ستونزو نه مخکې اقتصادي ستونزې راولاړې شوې دي. داپوزیسیون داپلان بیخې څرگند دی چې کابل له اقتصادي پلوه محاصره کړي. هلته دخوراکي شیانو اوتیلو دوروړلو مخه ونیسي اوپه دې توگه دښاریانو ناخوښۍ اوان پاڅون ته لمن

ووهي. ددغسي اقتصادي محاصرې په لږ کې اپوزیسیون کابل ته د موټرو په وسیله دخوراکي موادو درسولو په لاره کې خنډونه اچوي، هغه تالاترغې کوي اودموټروچلوونکي د تطمیع او تهدید له لارې ځان ته راماتوی.

اوس اوس یوازې کابل هره میاشت نږدې ۱۵ زرو ټنو غنمو ته اړتیا لري. په دې وروستیو وختو کې شوروي زمکنیو اوهوایي ترانسپورتي وسیلو څوزره ټنه غنم هلته وروړي دي. خوپه کارده چې داسې قوي زیرمي، لږ تر لږه د دریو میاشتو لپاره منځ ته راوړل شي چې واک یې د جمهور رئیس په لاس کې وي. دغه زیرمې کولی شي، په افغاني ملګرو کې پرځان دویسا روحیه پیاوړې کړی.

څرنګه چې ددغسې غښتلو زیرمو منځ ته راوړل، یوازې د موټري ترانسپورت په مرسته شوني کیدلی شي، نوځکه په دې لړکې د حیرتان، کابل پرلویه لار داوړواونورو خوراکي موادو د انتقال خبره راپورته کیږي. د ملګري نجیب الله په وینا کې دغه لاره لږ تر لږه د می تر میاشتې خلاصه وساتل شي، نو د رژیم د بقاضمانت کیدلی شي. ددغې لارې خلاص ساتل، زمورږ له مرستې پرته، د افغاني ملګرو له وسه وتلی کاردی. ښایي دااصل په پام کې ونیول شي چې د حیرتان، کابل دلویې لارې بندیدو ته باید اجازه ورنه کړل شي. په دې لړکې باید زیاته پاملرنه ددغې لارې ترټولو حساسې اوژرزیانمنکیدونکې برخې یعنې د سالنګ غاښیې او دهغه درې کیلومتره اوږد تونل ته واړول شي.

ددغسې مرستې د سرته رسولو لپاره د شرایطو د برابرولو په لړکې دې په باقي پاتې مودو کې په هره ممکنه وسیله، کابل او د افغانستان نورو مهمو ښارونو ته

دخوراکي مواد ودرسولو په لاره کې دخنډونو اچولو لپاره دا پوزیسیون هڅې. وغندل شی او په دې لړ کې دې زیات ټینګار دواکمن رژیم په برخلیک نه ،بلکه د دغو بنارونو دملکي اوسیدونکو په بد حالت وشی چې د دغسې وحشی عملونو په پایله کې لانور زیانونه هم وینې.

اصولاً په دې برخه کې کیدای شي لاندې وریانتونه په پام کې ونیول شي:

لومړی واریانت. دملکي وګړو بد حالت ته په اشارې کولو سره دحیرتان ،کابل دلو یې لارې ساتلو لپاره دیوې فرقې یعنې د نړۍ ۱۲ زرو تنو پاتې کول. دا وریانت ډیر مطلوب ځکه نه بریښي چې سمدلاسه به په ملګرو وملتونو کې داپوښتنه رامنځته شي چې مونږ ګنې خپل سرتیري بشپړنه دي ویستلي. سره له دې چې پاکستان دژنیو د ټرونونو له مخې خپلې ژمنې نه عملي کوي ،غالب ګومان دادی چې په ملګرو ملتوکې به دهیواد وغټ اکثریت زمونږ ملاتړ ونه کړي ، ځکه چې دعسکرو موضوع دډیرو له خوا دلانجې اصلي زړی بلل کیږي.

دویم واریانت. په کابل او نورو دښارونو کې دلوړې سره دوګړو مخامخ کیدو ته په اشارې سره ،له ملګرو ملتونه غوښتنه کول چې بنارونو ته خوراکي مواد اوتیل ورسوي او دیادې شوې لویې لارې دفعالیت دتامین لپاره پوځي ټولګي ورولیږي. دملګرو ملتود پوځونو درسیدو تروخته په دغه سیمه کې زمونږ دعسکرو ایسارول ، ځوخاصې بشري دندې یعنې وګړو ته دخوړو اوتیلو درسولو کارونه سرته ورسوي ، له دې سره جوخت دې داخبره یاده شي چې شوروي اتحاد خپل ځونه په بشپړ توګه وایستل. زیاته دې شي چې دملګرو ملتونو دځواکونو په

رسیدو سره به زمور پاتې ټولګی سمدلاسه شوروي اتحاد ته ستنیږي.

خوداوریانت هم عملاً ناممکن بریښي، ځکه چې د عسکرو دلیږلولپاره دامنیت شورا پریکړه ضروري ده او داهغه څه دي چې تمه یې نه شی کیدای.

دربیم واریانت. له پلان سره سم د فبروري تر ۱۵ د ټولو پوځونو ویستل دی بشپړشي او داخبره دې د شوروي اتحاد او افغانستان د حکومتو داعلامیو له لارې په نړیواله سطحه انعکاس وموميي له دې وروسته د افغانستان حکومت دنړۍ له هېوادونو نه دملکي مالونو دلیږدولو په کارکې د مرستې غوښتنه کوي اوددغو قطارونو د امنیت ساتنه شوروي عسکرو ته سپارل کیږي. کیدای شی د دغسې قطارونو تیرولو کارزمور د عسکرو له وتلو دوه اوونۍ وروسته پیل شي. د دغې مودې په ترڅ کې دې نړیوال عامه افکار دا پوزیسیون داعمالو د غندنې لپاره تحریک شي چې هڅه کوي، د افغاني ښارونو وګړي له لورې ووژني، د دغسې عامه افکارو په رڼا کې کیدای شي زمور د قواوو له خوا دملکی قطارونوبدرګه یوطبیعي بشردوستانه عمل وبریښي. خوله دې سره جوخت د دې وریانت د تطبیق په صورت کې مجبوریږو هرځل دلارې ځینې برخې د جګړې په مرسته پرانستې وساتو.

څلورم واریانت. د فبروري تر ۱۵ دې تقریباً د ټولوشوروي پوځونو ایستل بشپړشي. رسماً دې د شوروي پوځونو د بشپړې وتنې په هکله اعلامیه خپره شي. له دې سره جوخت دې دلویې لارې په اوږدو کې افغاني لوري ته د ځینو پوستو د ساتلو په پلمه د سالنګ د غاښې په ګډون دلارې په ځینو حساسو برخو کې زمور قطعې همداسې پاتې شي. زمور په نوښت دې داخبره دومره زیاته نه ډډوره کیږي

اویوازې دومره دې وویل شي چې دافغاني لوري له خوا دغینو پوستو د تسلیمی په کارکې دغنډله امله څه موده نورهم زمور ډیرکم پوځیان دلته پاتې کیږي ،د یوڅه مودې له تیریدو وروسته ،لکه چې په دریم وریانت کې یې اتکل شوی دی. زمور د پوځي ګزمې په بدرګه دې دکابل خواته د قطارونو تیرول پیل شي.

په دې ټولو واریانتونوکې داټکی په پام کې نیول ضروري بریښي چې په دغو عملیاتوکې زمور منظم پوځي ټولګي برخه اخلي، خوداهغه ټولګي دي چې پرسونل یې په افغانستان کې لادمیشتو شوروي قطعو اویادهغو پوځیانو له منځه په داوطلبانه توګه غوره کیږي چې دخدمت دورد یې پای ته رسیدلې او شوروي اتحاد ته ستانه شوي دي په دې لړ کې دې د عسکرو لپاره له ۸۰۰ نه تر زرو روبلو پورې تنخواه (چې یوه برخه به یې په افغانیو ورکولوکیږي) وټاکل شی او دافسرانو تنخواه دې هم ښه ډیره زیاته کړای شي.

ټریوالو څارونکو ته دې بلنه ورکړل شي (او داخبره دی ډیره تبلیغ هم شي) چې کولای شي وګوري چې مور ریښتیا هم غیر پوځي بارونه دافغانستان دوګړو لپاره لیږدوو. په نړۍ دې راتلونکي کې دې له افغانستان سره دملګرو ملتوداقتصادي او بشري مرستو د پروګرام دغانګړي ناظم له آغاخان سره خبرې اترې وشي چې دهغو مقصد به داقتصادي محاصرې په مرسته دکابل اونورو لویو ښارونو دزندۍ کولو لپاره دافراطي ډلو دهلوځلو پرخلاف ،دغانګړي ناظم پروګرام اومیکانیزم نه ګټه اخیستل وي.

له آغاخان سره دخبرو په ترڅ کې داوړاندیز هم کیدلی شي چې په خوړو ، تیلواو

درو ،درملوبار دملګرو ملتو قطارونه نه یوازې د پاکستان له لارې ، بلکه ترزیاتې اندازې دشوروي اتحاد له خاورې نه تېرشي.

په دغو ټولو څلورو واریانتونو کې د ۱۹۸۹ کال دفبروري له پنځلسمې نیټې وروسته په افغانستان کې دیوکم شمېرشوروي پوځونو دساتلو احتمال یاد شوي دی.

کیدای شي یوبل یا پنځم واریانت هم وڅېرل شي: شوروي لښکرې دفبروري تر ۱۵ نیټې پورې بشپړې له افغانستان څخه وځي، خومور له افغاني لوري سره دهغوی دځواکونوله خوادحیرتان ،کابل دلویې لارې دساتنې په ګډون په ډیرو چاروکې نورې مالي مرستې کوو. مثلاً کیدای شي (دلارې دساتونکوقطعو) خرڅ اوټوله سرپرستي دیوې تاکلې مودې لپاره پرخپله غاړه واخلو ، خوداکارهم ډیرې ستونزې لري ،په تیره بیا دقطارونودامن تیرولو په برخه کې .

ترکومه ځایه چې دکابل دهوایي دګرخېره ده ، نوکیدای شي ددغه ډګردارزښت په پام کې نیولوسره هلته دسلوتنوپه شمېر دد یسپچرې ملکي مامورین له افغاني لوري سره دجلاتړون له مخې پرېږدو.

۲ - افغاني مشران داغوښتنه هم کوي چې زمور دلښکروله وتلو وروسته دې هم له شوروي خاورې نه دمخالفینو پرمورچلو هوایي ګوزارونه دوام ومومي.افغاني ملګروته ددې مسألې ټوله پېچلتیا په ګوته شوې ده او ویل شوی چې په دې موضوع دې غوروکړي چې څنګه کیدای شي له خپلو هوایي ځواکونو نه غوره ګټه واخلي . په مجموع کې هغوی زمور له څرګندونو سره موافقه کوي ،خوله

دې سره جوخت هغوی وایي چې په ځینو سختو حالاتو کې شوروي هوایي ځواکونو نه کار اخیستل بیخي ضروري بریښي. ښکاره ده چې دا مسأله د ټولو کورنیو اوبهرنیو عواملو د مجموعې له څېړنې پرته نه شي مطالعه کیدای.

۳- افغانان په دې ډېر ټینګار کوي چې د وسلې د اسې قوي ډولونه لکه د ر- ۳۰۰ ډوله توغندي او د اوراګان په نامه د توغندیو ویشتو نکي سیستمونه باید ولري. په دې برخه کې ښکاره ده چې د هرې وسلې په ارتباط د جلا جلا چال چلند وشي، خو عمومي سیاست د افغاني دوستانو د هیلو تر وسه وسه په سر ته رسولو بناشي. باید په یاد وساتل شي چې د دغو وسلو د رلودل زمور د دوستانو د ریځ له رواني پلوه پیاوړی کوي او هغوی ته په خپلو منځو د باور احساس ورکوي. د همدې ټکي په پام کې نیولو سره د افغانستان جمهوریت د (خاص ګارد) په قطعاتو وکې دادی د (اوراګان) لواګانې جوړې شوی دي. ترکومه ځایه چې د ر- ۳۰۰ ډوله توغندیو خبره ده، نوهغه هم کیدای شي افغاني لوري ته وسپارل شي خو داکار باید په صادراتي بڼه د دغو توغندیو له عیارولو او د هغو د مراقبت او د کارونې لپاره د افغاني پرسونل له روزنې وروسته وشي. د دغه چارې هم باید په دېره ځنډکې د شوروي اتحاد په خاوره کې تر سره شي.

٤- غوره به وي که د افغانستان په سرحدي سیمو کې د شوروي اتحاد د سرحدي ځواکونو له امکاناتو نه د ګټې اخیستنې مسأله په مثبته توګه حل شي، خو داتکی دې په پام کې ونیول شي چې د سرحدي موټرې ګزمې او سنۍ موجودې ډلې هلته نور خپل شته والی پای ته ورسوی.

۵- مورِ په دې وروستیو وختونکې دهغو ځانګړیو شرایطو په پام کې نیولوسره چې اوس اوس په کې افغانستان ګیرد ی ،له خپلو افغاني دوستانو سره په اقتصادي ډګر کې ډیرې مرستې کړې دي. دغو مرستوله هغو ټولو ستونزو سره سره چې دهغو په رسولو اوویشلوکې ورسره هم مورِ اوهم افغانان مخامخ شول، بیشکه دحالاتودنامطلوبې پرمختیا مخه ترډیره حده ونیوله.

خوله دې سره سره دافغانستان دحالاتوپیچلتیا او دهغه ځانګړي ارزښت په پام کې ساتلوسره چې اقتصادي مسألې بې په کورنې سیاست کې لري، مورِ ته په کارده چې یوځل بیا دامسألې په پوره غوروڅیړو .باید هوډوکړوچې د افغانستان داقتصاد دژرغور لولپاره چې په بد حالت اوان دتباهۍ دکندې پرغاړه ولاړ دی، نورڅه اضافي ګامونه او چټولی شو. داوسنیو سختو ستونزو دلیرې کولو اودکابل اوبدخشان په ګډون دهیواد نورو ولایتونو ته دخوړو اونورو ضروري موادودرسولو په کارکې څه ډول بیرنۍ مرستې کولی شو.

٦- له دغو اقداماتوسره جوخت دې له افغاني لوري سره دپخوا په څیر مرسته وشي چې په پاکستان ،ایران اولویدیځې اروپا کې له میشتو مخالفینو سره تماسونه ټینګ کړي. مورِ باید دمخالفینو ټول روحي حالت په غور وڅیړواو پرهغوی داغیز ښندلو ،دهغوی دبې اتفاقه کولواوله افراطینونه د (منځ مهالو) درابیلو لو لپاره مناسب فرصتونه ومومو.

په دې ترڅ کې اوس اوس مهمه خبره داده چې دملګروملتودسرمنشي دځانګړي استازي بینون سیوان له هڅونه ملاتړوشی چې مقصد یې دافغانستان

دراتلونکي دولتي جوړښت دتاکلولپاره دیوې مشورتي شورا رامنځته کول دي.

۷- زمور دد یپلماتیکو ذرایعو له لارې به غوره وي که دافغانستان په لانجه کې په یو ډول نه یو ډول له شکیلورتیولو دولتونوسره په راتلونکي کې هم تماسونوته دوام ورکول شي.

ځانګړې پاملرنه دې له پاکستاني لوري سره دتماسونوتداوم ته واړول شی اوددې مقصد لپاره دې په اسلام آباد کې دشوروي اتحاد دبهرنیو چارو وزیر له راتلونکوخبرونه هم ګټه اوچته شي.

۸- په کارده چې دافغانستان په اړوند دقیق تبلیغات پیل شي او ددې مقصد لپاره دې مخکې له مخکې دافغانستان دحالاتو دپرمختیا ټول محتمل واریانتونه ژور وڅیړل شی. په دې لړکې به مهمه خبره په افغانستان کې دپوځي حالت د اعلام تبلیغول وي، په دې شرط که جمهور رئیس نجیب الله دغسې یوه اقدام ته زړه ښه کوي.

د ۱۹۸۹ کال دجنوري ۲۳

۱- شـــواردنادزی، و ،چبـــریکوف، ۱. یاکـــوفلیف ، د .یازوف، و. موراخوفسکی، و. کریوچکوف».

اوس لاهم درژیم لپاره خطرشته دی

زمـور داتکل له مـخـې له افـغـانسـتـان نه دشـوروي عـسـکرودوتلو تربشـپـړیدووروسـتـه ،په دغـه هیـواد کـې سـمـدلاسـه د (خلق) او پرچم ترمنځ داختلافونو اوربیابلیدونکی و .دې کارله اپوزیسیون سره دحکومتي واکمنی د

مبارزې دريځ زيات کمزوری کولی شو.

دحکومتي واکمنۍ دعمومي کمزورتيا په ترڅ کې دا امکان پوره موجود وچې په ځينو ولايتونواوان په ټول هېواد کې د ځينو لارښوونکوله خوادبډوخورلو ،غلا اوخيانت څپه پياوړې شي.

دا امکان هم وچې دافغانستان وسله وال پوځ ،څارندوی او ددولتي امنيت ارګانونه به دمحدودو پوځی قطعاتو له ملاتړپرته دجګړه ييزو راتلونکو عملياتو په لړکې چې په ژر پيل کيدوکې يې هيڅ شک نه و ، له مخالفو ډلوسره له مخامخ نښتو نه ډډه کوي. په داسې حال کې دحکومت تراواکمنۍ لاندې سيمه تنګه او لاتنګېدونکې وه. دمقاومت مرکزونه عمدتاً دولايتونو په مرکزونوکې منځ ته راځي.

د ۱۹۸۹ کال ترجنورۍ پورې ياغيانو دافغانستان شپږولايتونه بشپړ په لاس کې لرل: بامیان ،کونړ ، پکتيا ، کاپسيا ، بدخشان اونورستان ، هغوی دغه راز د ۲۹۰ اولسوالیو له ډلې نه په ۲۰۷ کې خپله واکمي ټينګه کړې وه. دهيواد دخاورې يوازې په سلوکی ۱۸ دحکومت په قبضه کې وه.

زمورږ دمحاسبې له مخې دياغی ډلو دغړيو شمېر ۱۷۶ زروتنو ته رسيده. له دې ډلې نه ۸۵ زرو تنوتل وسله پر اوږه ګرزوله اوپاتی يې دوخت په تقاضا دجګړې ډګر ته راوتل.

دمخالفو ډلو غړيوښه ډيره پرمختللې وسه لرله. دمجاهدينو په زير موکې مجموعاً ۷۰۰ ستنګر ډوله هوايي ضد توغندي اودرياکتيف توغنديو

د توغولو زرد ستګاوې او دغه رازد ټانګ ضد توغندي ویشتو نکو دیرش سیستمونه ، نږدې شل غرني توپونه ، ۱۵۰۰ بې پسلګده توپونه ، درې زره هاوانونه ، نږدې اته سوه دهوايي مدافعې غرنۍ دستګاوې اود د .ش. ک (داشکه) ډوله ۴۰۰۰ درندې ماشینګنې موجودې وې. دسپکو وسلواوپه دې ډله کې ددا سې نسبتاً درندو ډولونو لکه د ټانک ضد توغندي ویشتو نکو شمېر لسګونو زرو میلوته رسیده.

په افغانستان کې زمور د حضور په وروستیو میاشتو کې مخالفینو د شوروي چوپړو ، اداري مرکز ونو او مواصلاتو خلاف خپلې ورانکارۍ چټکې کړې. یوازې د ۱۹۸۸ کال په دسمبر کې ۷۸ ځله پر شوروي عسکرو یرغل شوی دی. د دولتي تاسیساتو او حکومتي عسکرو خلاف د دغسې یرغلونو شمېر ۷۰۰ ته ورسیده. مجموعاً دیوه ورستي کال په لړکې د ځلوېنبتم لنبکر د قطعو او جزوتا مونو خلاف له دښمنۍ نه د ډکو اووړانکارو عملونو شمېر (۱۸۰۰) ته رسیده ، په داسې حال کې چې همدا عملونه د افغانستان د حکومتي ځواکونو خلاف (۱۲۰۰۰) ځله تکرار شوي دي. په ټوله دغه موده کې یاغیانو ۵۹ هوايي هدفونه ویشتلي چې له دغې ډلې نه (۹) الوتکو او هلیکوپټرونو د ځلوېنبتم لنبکر په هواي ځواکونو پورې اړه درلوده سربیره پردې په هوايي اډو د یرغل له امله موهم لس الوتکې او ځلور و هلیکوپټرې له لاسه ورکړل.

د افغانستان په ښارونو کې د دهشت اچوونکو د لوشمېر په چټکۍ سره مخ په زیاتیدو و. په ۱۹۸۸ کال کې د محدودو پوځي ټولګیو قوماندانۍ ته له ورایه

بريښيده چې د دولتي ادارو د کارکوونکو او د حکومتي قطعو اوجزو تامونو مفسرينو روحيه ورځ په ورځ کمزورې کيږي. دوسله وال پوځ له ليکونه تيښتې ډله ييزه بڼه غوره کړه. يوازې د يو کال په لړکې د افغانستان دارد وله ليکونه ۳۲ زره پوځيان وتښتيدل.

د اپوزيسيون مشرانو وپتيله چې د افغانستان د حکومت خلاف د ورانکارۍ عمليات به ډيرزيات چټکوي. په دې لړکې د پايتخت د نيولو پرنقشه باندې هم کار پيل شو، خود افغانستان دلويو ښارونو په بريالۍ دفاع کې، تاکلی رول هغه ژوريدونکي اختلاف ولوباوه چې د څلويښتم لښکر له وتلووروسته د (اووه ګوني اتحاد) په ليکو کې راپيدا شو. څومره چې په افغانستان کې د شوروي عسکروشمېر کميده، هومره د اپوزيسيون د مشرانو ترمنځ اختلافونه ژوريدل. مور د واک د ترلاسه کولو لپاره د هڅو په لړکې د ډراماتيکو صحنو شاهدان وو. په دې لړ کې له ټولونه انتعطاف نه منونکی، حکمتيار راوخوت، هغه له خپلو پخوانيو انډيوالانوسره هيڅ ډول مصالحې ته نه وتيار او ان د يوه داسې احتمال يا دول يې هم ردول چې په کابل کې د ګڼې د واکمنۍ د اهرم په راس کې له ده پرته بل څوک راښکاره شي.

په ۱۹۸۸ کال کې د څلويښتم لښکر د جګړه ييزو عملياتو په نتيجه کې د مخالفو ډلو ځواک سخت کم شوی و. د افغاني وسله وال پوځ له جزو تامونو سره اوږه په اوږه مورد يروخت د لويو لارو په اوږدو کې د پرتو سيمو په پاکولو تيرکړ. که له مخالفينو سره به خبرو اترو نتيجه ورنه کړه. نوبيا به مود جګړه ييزو

عملیاتو په لړکې پرهغوی درې وړې کوونکي ګوزارونه کول. شوروي عسکرو له زروزیاتې دهوایي مدافعې غرنۍ دستګاوې او درندې ماشینګنې، د توغندي ویشتونکوشپږ سوه دستګاوې اوڅه دپاسه دیرش زره ریاکتیف توغندي، څه دپاسه ۷۰۰ هاوانونه او دهغو ۲۵۰۰۰ ګولۍ او دغه رازیوزیات شمیر سپکه وسله اوڅه دپاسه دولس میلیونه کارتوس نیولي او ضبط کړي وو. د ۱۹۸۸ کال په دویمه نیمایي کې دځلویښتم لښکر ځواکونوله ایران اوپاکستان نه راخوځیدلي دمخالفینو ٤١٧ کاروانونه ونیول، خوله دې سره سره مجاهدینو دافغانستان حکومت ته دپخوا په څیر ګواښ متوجه کړي و.

تمیدل ولې شوني نه دي ؟

زمور دوتلو په لاره کې دخنډونو پیدا کولولپاره دافغانستان دواکمنوهلې ځلې له انساني پلوه، دپوهیدو وړدي، خوکه چیرې داکارشوی واي، نودشوروی اتحاد ګټوته ډیر سخت زیان رسیده.

ترهرڅه لومړی، شوروي اتحاد دنړیوالو تړونو نودماتوونکي په نامه په نوې بڼه معرفي کیده. محدود و پوځي تولیګو (په افغانستان کې دحضورلپاره) هغه یوه کمزوري غوندې توجیه چې درلوده، یعنې دافغان، شوروي ددوستۍ تړون چې یوه ماده یې له افغانستان سره دپوځي مرستو دکولو اجازه ورکوي، هم له لاسه ورکوله، داخبره هم باید له پامه ونه غورځول شي چې دافغان، شوروي دتړون له قانونیت سره سره نړیوالې تولنې هسې هم هغه دشوروي اتحاد لپاره په افغانستان

کې دلاس وهنې یاددغه هیواد دنیولو دتوجیه په غرض معتبر سند نه باله. په دې توګه نو د ۱۹۸۹ کال دفبروري له ۱۵ نیټې وروسته که څلویښتم لښکر په افغانستان کې پاتې کیدای، نوبیا به یې دخپل حضور لپاره هغه پخوانۍ قانوني توجیه هم نه درلودای.

د پوځونو دویستلو دمهالویش بدلون هم له مخالفووسله والودلوسره دجګړې دتودیدوسبب ګرځیده. په داسې حالاتو کې ددې احتمال ډیر وچې مخالف قوماندانان سره لاس یوکړي او پراخ او هراړخیزیرغل پیل کړي.

شوروي پوځي قوماندانې اړکیدله چې یوځل بیا داپوزیسیون دډلو دتولیدو پرځایونو هوایي او توپچۍ ګوزارونه له سره پیل کړي او دغه کاردسر دزیانونو دزیاتوالي سبب ګرځیده.

ددې حقیقت په پام کې نیولوسره چې داپوزیسیون یوغټ قوماندان احمد شاه مسعود دهیواد په شمال کې فعالیت درلود، مور مجبوریدوچې دافغان، شوروي ګډې پولې ته نږدې جګړې تودې کړو، یوځل بیا به دهیواد اصلي لویه لاره چې دځوشمالي ولایتونو له منځه تیره شوې،له خطرسره مخامخ شوی وای.

دشوروي محدودوپوځي تولګیو په ویستلوکې ځنډبه په ایران اوپاکستان کې دمیشتوافغاني کډوالوستونزې نورې هم زیاتې کوې وای. ددغو هیوادوحکومتونو ښه پلمه په لاس ورځاصلېده چې خپلې پولې وتړي اوخپل هیواد ته دسلګونو زروکډوالو دراستنیدومخه بنده کړي. مور ځکه دې شی ته اجازه نه شوه ورکولای چې نړیوالې تولنې خپله زیاته پاملرنه همدغه د

کډوالوستونزې ته اړولې وه.

له افغانستان نه د شوروي څلویښتم لښکر په ویستلو کې د ځنډ له ټولو منفي عواقبو سره سره د ۱۹۸۸ کال په نوامبر کې د شوروي اتحاد د بهرنیو چارووزیر اداروشیوارد نادزی په نوښت د ځواکونو د ویستلو کارودرول شو.

دغه مهال ویش له مخې چې د شوروي اتحاد د دفاع وزیر منظور کړی و ،ځواکونه باید د نومبر په میاشت کې د کابل له ګارنیزیون نه وتلې وای، خو داکار په دوو دلیلونو چې رسماً اعلان شوي وو ،سر ته ونه رسیده. لومړی ځکه چې په کابل کې د خورود زیرمود ډیروخت ولګیده. دویم له دې امله چې حکومتي ځواکونو نه شول کولی، د ترمز ،کابل پر لویه لاره د څلویښتم لښکر پوستې په پوره چټکتیا تسلیم او د دغې لارې امنیت په خپله غاړه واخلي.

په واقعیت کې خبره داوه چې مور ته امرشوی و ،د نجیب الله په غوښتنه له کابل څخه ونه وځو. د محدودو پوځي قطعاتو ټولګي دوه میاشتې نورتروروستې شیبې د دې لپاره په کابل کې وساتل شو چې د افغانستان حکومت ته موقع ورکړل شی، د وروستي ځل لپاره د واکمنۍ او آزادۍ په ښکلې هوا خپل سږې ډک کړي.

د دغې ماجرا غوښتنې په نتیجه کې مجبور شوله کابل نه ایله د ۱۹۸۹ کال د جنورۍ په دویمه په وتلو پیل وکړو، په لومړي ګام کې د پوځي تاسیساتو کارکوونکواو د څلویښتم لښکر د پوځي تأمیناتو قطعو خپلې چونې پریښودې. شوروي پوځي قوماندانې مجبوره شوه، د یوې میاشتې په لړکې د ځواکونوځه د پاسه د یرش زره کسیزه ډله د سالنګ پر غاښې واړوي، د دغې د نډې

سرته رسیدل دهوا دخرابی له امله نورهم گرانیدل. همشینی لړي اوغبارد تودوخې تیتې درجه ،سارد ،دسمندر له پاسه دځلورو زرومترو په ارتفاع کې کنګل شوی سړک ،دجنوبي سالنګ پرځنډوو پاس ختل او په شمالی برخه کې بیرته کښته کوزیدل، کندې اودواوري ښو ییدنې، داټول هغه شیان وو چې سړی یې اړایسته ،فکرو کړي چې ګنې طبیعت هم زمور خلاف منې رانغښتې دي.

دغسې اوږدي څوورځنی لارې ، هم دلاري دساتلو نکواوهم دهغو سرتیرواوافسرانوپې شانه زیارغوښته چې په پوځي واسطوکې دننه ناست وو.

« توفان »

دلښکر قوماندانی پرله پسې هغه سیمې په خپل کنترول کې ساتلې چې دقواوو دتیریدو سرکونو ته څیرمه پرتې وې اپوزیسیون چې مور ورته مخکې اخطارورکړي و ، دځلوینښتم لښکر دوتلو په لارکې خنډونه نه اچول.

دښمنانو په ۱۹۸٦ کال کې دشپږومحاربو غنډونو دایستنی په پام کې ساتلو سره چې په پټه دسړکونو خواته دراتګ او په قطارونو دهغوی دغلچکي برید هڅې سختې ټکول شوې وې ،داځل له مخامخ کیدونه ډډه کوله. یوازې دځینو مجاهدوقوماندانانو دلنډفکره اعمالو له کبله مجبور شولو ، دځینو جلاجلاډلو خلاف وسلې ته لاس واچوو.

دساري په توګه مو ، دجنوبي سالنګ په سیمه کې داحمد شاه مسعود پرډلو ځای ځای ګوزارونه وکړل. له دې سره سره چې مادلښکر دقوماندان په توګه له دغه اقدام سره سخت مخالفت هم کاوه ،خودافغانستان حکومت خپل مقصدته

ورسیده. نجیب الله د مسعود په څیره کې خپل سخت دښمن لیده. هغه پوره باوری وچې د شوروي لښکر وله وتلو وروسته به احمد شاه د لومړنیو کسانو نوپه ډله کې وي چې کابل ته به راننوځي. باید اعتراف وشي چې د افغانستان جمهوررئیس خپل لرلیدونه سم تشخیص کړي وو. هرڅه چې ووخو نجیب الله په دې پریالی شو چې شیوارنادزي قانع کړي او د یرژر ماته د دفاع وزیر سترجنرال د. ف یازوف له خوا امروشو چې د سالنګ په جنوبي برخه کې پرپرتوسیموباندې ګوزارونه وکړم.

نجیب الله په دې توګه خپل یوبل مقصد هم ترلاسه کړ او هغه داچې څلویښتم لښکر د خپلې ارادې خلاف بیاد اپوزیسیون خلاف په جګړه اخته شو، له دې سره جوخت هغه لړزانده شان روغه جوړه چې په دومره سختې موحاصله کړې وه، هم درې وړې شوه.

په افغانستان کې د شوروي پوځي قوماندانۍ څو واره هڅه کړې وه چې له مسعود سره د دې لپاره تماسونه تینګ کړي چې دوینو تویېدو او بې ګټه قربانیو مخه ونیول شي. د شوروي پوځونو دوتلو په وخت کې مو وکړای شول، له مسعود سره د دواړو غاړولپاره د قناعت وړیو توافق حاصل کړو. مورله خپل لوري چمتو وو چې هم له هغه اوهم له هغو خلکو سره چې د افغانستان په شمال ختیځو ولایتونو، د پنجشیر په نامتو دره اودسالنګ په سیمه کې چې د ده دواک لمن په کې پلنه وه، اوسیدل، د خوراکي موادو اونورومادي نعمتو نومرستې وکړو. په دې لړکې یومهم شرط یاد شوی و: د څلویښتم لښکر د قطعاتو دوتلو په وخت کې باید د کابل، سالنګ، حیرتان لویه لارد حکومتي پوځونو په لاس کې وي، سربیره پردې باید

دمسعود دلې په جنوبي سالنګ اولویې لارې ته په څیرمه پرتو سیمو کې جګړه ییزعملیات ونه کړي. پرپوځي پوستو او مورچلو باید ډزې ونه شي. مور له خپلې لورې ژمنه کړې وه چې ان دمسعود دهغویاغي ډلو خلاف چې دلارې په څنګ کې ځای پرځی شوې وې، یرغل ونه کړو.

له هغه وروسته چې مور د نجیب الله په غوښتنه د ښمنانو پرمورچلو ډزې وکړې، مسعود له شوروي استازو سره له هرډول تماس نه سرو غړاوه، ډیرژر د هغه له خوا یولیک راورسید چې په کې ویل شوي وو:

«ښاغلی مشاور»

ماچې څنګه ستاسو وروستی لیک ترلاسه کړ نوچمتو وم چې دکتنې ځای ته دروخوځیږم. غواړم ستاسو خبرتیالپاره یادونه وکړم: لس کاله کیږي چې مور ستاسې دحضور اودجګړې تحمل کوو. که دخدای رضاوي، یو څوورځې نور به هم داتحمل وکړو، خوکه تاسو جګړه له سره پیل کړه، نومور به هم مناسب ځواب درکړو، نوربس دی له همدې شیبې نه خپلو ډلو او ټولیګو ته لارښوونه کوم چې دتیارسئ په حال کې اوسي.

په درناوي

۱۹۸۸ کال د دسمبر ۲۶ نېټه.

احمد شاه مسعود

دځلویښتم لښکر قوماندانې پورد لایل لرل چې ووایي مسعود به دلویې

لارې په اوږدو کې د حکومتي پوځونو د پوستو د ځای پرځای کیدو په وړاندې خنډونه اچوي. مور هغه ته اخطار ورکړی وکه مخالفې ډلې په ډزو پیل وکړي نو شوروي پوځونه به ارشي چې له زور نه کار واخلي. مور داحتمالي تلفاتو مسوولیت د مسعود پرغاړه اچولی و.

نجیب الله د هیواد د شمالي ولایتونو اوسیدونکو ته د خطاب وینا اوروله. هغه د افغانستان د حکومت اود ځلوېنبتم لښکر دریځونه په تفصیل سره روښانه کړل

اوله مسعود نه یې وغوښتل چې د ځلوېنبتم لښکر د قطارونو د تګ پر لاره اود شوروي پوستو پرځای د افغاني وسله وال پوځ د ځای پرځای کیدو په وړاندې خنډونه وانه چوي.

له دغو ګواښونو سره سره د ۱۹۸۹ کال د جنورۍ په ۲۳ د جنوبي سالنګ په برخه کې حکومتي پوځونه پرلوېې لارې د حرکت په وخت کې ترسخت اور لاندې ونیول شول. د اکاردا احمد شاه مسعود پرډلود ځلوېنبتم لښکر له خوا د ډیرقوی ځوابیه ګوزار سبب شو.

د افغانستان په خاوره کې د شوروي لښکرو روستي جګړه ییز عملیات د توفان په نامه ونومول شول. د عملیاتو هدف د هیواد په مرکزي اوشمالي ولایتونو کې غلیم ته د ښه ډیر زیان رسول اود غه راز د شوروي ځواکونو د وتلو په وروستي پړاو کې د قوي وسله والې مبارزې له امکاناتو نه د هغه بې برخې کول وو.

د عملیاتو په لړکې د محدودو پوځي تولیګو زیات ځواک اووسایل په کار اچول شوي وو. د ځلوېنبتم لښکر هوایي ځواکونو د مجاهدینو پر مرکز ونود بمباریو لپاره ترزرو زیاتې الوتنې وکړې. د ساري په توګه: د جنورۍ په ۲۴-۲۵ له شپږو سو وزیاتې الوتنې اوله ۴۶ ځلوزیاتې بمباریې اویرغلونه ترسره شول

توپچي ځواکونوڅه دپاسه ۴۰۰ اورنۍ دندې سرته ورسولې.

د ۱۹۸۸ کال په پای کې ځلوېښتم لښکر د توغندي ویشتونکې جلالواخاوند شوی هم و. ددې کارهدف، له هوایي ځواک نه کمه ګټه اخیستنه او د پیلوټانو دژوندانه ژغورنه وه. د نوامبر او جنورۍ ترمنځ موده کې مودعادي سرګلولو درلودونکي ۹۲ توغندي ویشتلي او په دله ییزو هدفونو مو ۸۸ ځله ګوزارونه کړي دي. عملاً دغه ټول ګوزارونه د اپوزیسیون پر عمومي زیرمه ځایونولکه وسله تونونو ترسره شوي دي چې په کې ریاکتیف توغندي او دهغو د ویشتلودستګاوې، د مسلسلو توغندیو د ویشتلو سیتمونه، دسپکووسلوګولې اودسون مواد ساتل کیدل. مورږ له خپلې مستقلې راکتي لوانه په کاراخیستلو سره اپوزیسیون د خپلو راټولو کړیو زیرمود کارونې له امکان نه بې برخې کړ.

د دغو جنګي عملیاتو په لړکې موخپل مقصد ترلاسه کړ. محدودوپوځي ټولګیو دوسله والو مخالفو ډلو مشرانو ته ډانګ پیلی وښودله چې هغویاید له افغانستان نه د شوروي پوځونو د وتلو په کارکې، په تیره بیا په زور زمورږ د وتلو په مهال ویش کې د بدلون راوستلو چاري ته زړه ښه نه کړي.

مورږ وځو

د ۱۹۸۹ کال د جنورۍ په ۲۵ لاپه افغانستان کې د شوروي محدودوپوځي ټولګیو د یرش زره سرتیري او افسران پاتې وو. د ځلوېښتم لښکر بنه د وتلو په وروستي پراوکې پوره ځواکمنه بریښیده. دغه لښکر ځلور فرقې او په دې دله کې دهوایي دسانت یوه فرقه د پاراشوتي دسانت یومستقل غند د توبچي ۲۴ لواګانې

څلور هوايي غنډونه او دهليکوپټرو څلورډلګي او دغه رازڅوضربتي کنډکونه درلودل.

دڅلويښتم لښکر قطعاتو دپوځونو دويستلو دچارې دسمبالښت ترڅنګ ،دمواصلاتو، دځانګړو مقرراتو درلودنکو سيمو او نوروتاسيساتوساتنې ته هم دوام ورکاوه، دساري په توګه په ختيځ لوري کې دسړکونو دساتنې چارې ته ۲۶ کنډکونه ګمارل شوي وو، څه دپاسه څلورنيم زره پوځيانو په ۱۹۹ امنيتي پوستو کې دنده سرته رسوله. دريونورو کنډکونودوتلو په لويديځ مسير کې ورته دندې سرته رسولې. په ټول دغه هيواد کې ۲۵ کنډوکونو دهوايي اډوساتنه کوله چې دپرسونل شمير يې څه دپاسه اوو زرو سرتيرواوافسرانوته رسيده.

دڅلويښتم لښکر قوماندانۍ دپخوا په څير دکابل دامنيت ساتنې ته ځانګړې پاملرنه کوله. د ۲۵ کيلومترو په شعاع له ۱۰۲ امنيتي پوستونه جوړ ملاوستنی پرښار راتاوشوی و. ددې ترڅنګ ضربتی ځواکونو او د هوايي ديسانت د ۱۰۳ لمبر فرقې جزوتامونو دمجاهدينو دتګ راتګ داحتمالي مسيرونو اوږدوکې دکشف او استخباراتو عمليات سرته رسول.

دکابل هوايي ډګرد ۲۸ امنيتي پوستواومورچلو په مرسته ساتل کيده. څلويښتم لښکردکابل دننه د ۱۶۰۰ کيلومتره مربع مساحت په سيمه کې دځانګړو مقرراتو دتطبيق لپاره هره ورځ له څلورونه ترشپږو توپچي لواګانونه کاراخيست چې ټول ټال دڅه دپاسه سلو توپونواوهاوانونولرونکي وو. دهليکوپټرو دوو ټولیګوبه هم له هغو سره مرسته کوله. کابل ته په څيرمه

سیموکې مجموعاً څه دپاسه څلورنیم زره تنه په دنده بوخت وو.

دځلوینښتم لښکرله جزوتامونوځخه ان دهغو دوتلو په درشل کې، دهیواد لیرې پرتو سیمو ته دخوړو درسولو په کارکې ګټه اخیستل همداسې جاري وو. دحکومتي زیرموبسیاکولولپاره پنځه مستقل موټرې کنډکونه په کاراچول شوي وو. یوازې دوروستیو دریومیاشتو په لړکې (۸۵۰) پوځي موټرو ۲۷ زره تنه بیلابیل غیرپوځي اوبشري مالونه لیږدولي دي.

زما له پریکړې سره سم، دځلوینښتم لښکر وروستۍ ټولګی دفبروري په څلورمه له کابل نه ووت. دجنورۍ له دیرشمې ورځې راهیسې د دریو ورځو په لړکې دهوایي ځواکونو زیاته برخه دبګرام له هوایي اډې نه دشوروي اتحاد خاورې ته ولیږدول شو، په هغو پسې سمدلاسه وروسته، دهوایي اډې ساتونکي جزوتامونه هم له دغه ښاره لاړل. دفبروري په اتمه دکابل او دسالنګ دغاښې تر منځ واټن کې، دځلوینښتم لښکرله پوستونه دپرسونل دګام په ګام ټولولوکارپای ته ورسیده، دوه ورځې وروسته زمور قطعات دغاښې له شاوخوانه وایستل شول اودغه لویه لاره دحکومتي ځواکونوپه واک کې ورکړل شوه.

په لویدیځه برخه کې شوروي پوځونه دفبروري په څلورمه له شیندنډ او دفبروري په ۱۲ له هرات نه ووتل.

دفبروري له ۱۱ نه تر ۱۴ پورې مودځلوینښتم لښکرهغه جزوتامونه چې دسالنګ دغاښې اوحیرتانوترمنځ واټن کې پاتې وو، دترکستان دپوځي حوزې سیمې ته وروارول.

د ۱۹۸۹ کال دفبروری په ۱۵ دافغانستان له خاورې نه دځلوینښتم لښکر دقعطو اوجزو تامونو دویستلو کاربشپړ شو. په دې توګه شوروي اتحاد دژنیو تړونونه په بشپړه توګه ترسره کړل.

بری که ماتې

په دې وروستیو پنځو سوکلوکې نړۍ دځه دپاسه (۹۰) سیمه ییزو جګړو او شخړو شاهده وه. دهغو ځینې ډیراوږده اودزیاتو تلفاتو سبب شول. خوځیني نورله پیل سره سم بیاپای ته رسیدلی دي.

ښکاره ده چې دافغانستان جګړه به په تاریخ کې ځانګړی مقام ځکه ومومي چې دیوې لسیزې په اوږدوکې ددغه کوچني اسیایي هیواد دکشالې حل دنړیوالې ټولنې په یواساسي کړکیچ بدل شوی و، افغانستان ددوو ستروځواکونو دوزلوبې ډګر او دهغو دسیالیوقرباني او دغه راز دځینو اسلامی رژیمونو دقطعو په لوبو کې دتوس په پانه بدل شوی و.

ترهغو چې دافغانستان او دټولې سیمې حالات پوره ټینګ شوي نه وي، ګرانه ده چې سړی دبیلابیلو پریکړو، اعمال اوپه لانجه کې دښکیل ځواکونو ارزښت په عیني توګه ارزیابي کړی، خوله دې سره سره دانن هم کیدای شي ځیني نتیجې واخیستل شي.

په هره جګړه کې دمخالفو او متخاصمو خواوو، داهدافو دترلاسه کولو یانه ترلاسه کولو دځرنګوالي په پام کې نیولوسره غالب اومغلوب موجود وي. دشوروي محدودو پوځي ځواکونولپاره دافغانستان جګړه د ۱۹۸۹ کال د

فبروري په ۱۵ پای ته ورسیده ، خو دغې نیټې له رارسیدو وړیر مخکې داسې ناندرۍ پیل شوي وې چې ګڼې شوروي پوځ په افغانستان کې نه یوازې شاته لاړ ،بلکه سخته ماتې یې خوړلې ده. دا موضوع په هنرۍ ادبیاتو کې لاڅه کوې چې ان دوګړو په تازه ،تازه خاطرات لیکنه کې هم انعکاس مومي.

زه پوره باوړ لرم : ددې خبرې لپاره هیڅ دلیل نه شته چې وویل شي څلویښتم لښکر په افغانستان کې ماتې وخوړه ،لکه هماغسې چې ددې لښکر د پوځي بري په هکله یادونه هم بې ښه بریښي د ۱۹۷۹ کال په پای کې شوروي پوځ بې له کوم مقاومت نه افغانستان نه ننووت دهغه څه خلاف چې امریکاییان ورسره په ویتنام کې مخامخ شول شوروي پوځ په افغانستان کې خپلې دندې بشپړې سرته ورسولې او په منظمه توګه بیرته خپل هیواد ته ستون شو. که د محدود پوځي تولګیو داصلي متخاصم لوري په توګه د اپوزیسیون وسله والې ډلې په پام کې ونیسو ، نو زموږ ترمنځ توپیر په دې کې وچې څلویښتم لښکر هرهغه څه چې لازم ګڼل سرته رسول. خ د ښمنانو ایله هغه څه کول چې له وسه یې پوره وو.

څلویښتم لښکر څو اساسي دندې درلودې. تر هرڅه لومړی موږ په کورنیو ستونزو د برلاسي په کار کې د افغانستان له حکومت سره مرسته کوله. ددې مرستې ستره برخه د اپوزیسیون له وسله والو ډلو سره د جګړې په بڼه راڅرګندیدله. سربیره پردې په افغانستان کې د ډیرزیات شمیر پوځي تولګیو دشته والي مقصد له بهرنه د تیري مخنیوی و. د څلویښتم لښکر منسوبینو دغه دندې یو په یو سرته رسولې دي.

هیڅامحدودو پوځي ټولګیو ته دادنده نه وه ورکړې چې په افغانستان کې دې پوځي بری ترلاسه کړي، ټولو هغو جګړو یادفاعي یاځوابیه بڼه لرله چې څلویښتم لښکر یې د ۱۹۸۰ کال له پیله ان زمور دحضور تروروستیو شیبو پورې په کولو ناچارو. دټولو هغو پوځي عملیاتو هدف چې له حکومتي پوځونو سره یوځای موسر ته رسول، داوچې په عسکري چوپیو، هوایي اډو او هغو مواصلاتي لارو دیرغل مخه ونیول شي چې په مالونوبارزمور موټري قطارونه پرې تیریدل.

سربیره پردې د څلویښتم لښکر دځواکونو اوامکاناتو په سلوکې څه دپاسه او یابرخه دافغانستان په خاوره کې دننه دغیر پوځي اوبشری مالونو په انتقال مصروفه وه. داسخت کاران په افغانستان کې دشوروي محدودو پوځي ټولګیو دحضور تروروستیو شیبو پورې روان و. دشوروي اتحاد له خوا دمالونو درارسولو او زمور دکارپوهانو د زیارله برکته وچې ددغه هیواد اقتصاد پیاوړی (!!!)!. هغه دچاخبره په پښتو ودریده (. ج)

په عین حال کې داخبره هم باید وشي چې دشوروي اقتصاد ملا دافغاني جګړې تربارلاندې کړه شوې وه. د شوروي اتحاد پخواني صدراعظم نیکلای ریژکوف په خپل وخت کې داقتصاد پوهانو داسې ډله منځ ته راوړه چې دبیلابیلو وزارتونواو ادارو له هغو کارکوونکوسره چې دافغانستان په نه کلنه جګړه کې یې مخامخ یا غیرمستقیمه وندې درلوده، یوځای معلومه کړي چې افغانستان مور ته په کومه بیه تمام شوی دی؟

اقتصاد پوهانو ټول شیان وشمیرل: دشوروي اتحاد دلورو زده کړو په موسسو

کې دافغاني محصلينو دزده کړې، افغانستان ته دملکي کارپوهانو دليږلو لګښت او دافغانستان حکومت اووسله وال پوځ ته دورکړل شويو وسلو بيه. افغانستان ته دا پريل انقلاب له بري وروسته د «ايروفلوت» (دهوايي شرکت) دالوتکوټولې الوتنې هم وشميرل شوې او په حساب کې راوستل شوي.

دشوروي اتحاد ددفاع وزارت يوستر رقم وړاندې کړ. پوځي کارپوهانوهم ټول شيان محاسبه کړل: په افغانستان کې دشوروي محدودو پوځي ټولګيو دخوړو له لګښت نه نيولې بيا دبيلابيلو وسلو دمهماتو ترلګښت او دهغوی ترحقيقي بيې پورې.

ريژکوف بريالی نه شوچې دغه پلتنه پای ته ورسوي. دشوروی اتحاد دکورنيو سياسی پرمختياووپه نتيجه کې صدراعظم له کاره ګوښه کړای شو. دهغه له خوا دغوره شوي کميسيون په مرسته راټول شوی اسناد دشيوارد نادزې مخې ته کيښودل شول. احتمالاً هغه نيمګړې محاسبه هم ددومره يوحيرانوونکي رقم څرګند ويه وه چې له خپرولونه يې ډډه وشوه. ښکاره ده چې اوس اوس هيڅوک ددی وس نه لري، هغه دقيق رقم ياد کړي چې دشوروي اتحاد له خوا دافغاني انقلاب په ساتنه دشوي خرڅ څرګندوی وي.

په دې برخه کې يوازې زمور له خوا له افغانستان سره شوې بشري مرستې استثنا ګڼل کيدلی شی. د ۱۹۷۸ او ۱۹۹۰ کلونو ترمنځ واټن کې دافغانستان داقتصاد لپاره مادهرومسلکي کادرونو په روزنه، دنويو تخنيکي وسايلو په ترلاسه کولو اوکارونه، دافغانستان حکومت ته دامتيازي پولي

اعتبارونواودپورونو دگټې دورکړې په ځنډولو او دغه راز د وړیامرستو له درکه شوروي اتحاد ټول اته میلیارده او ٦ . ٤٨ میلیونه طلایي روبلونه لګولي دي.

په افغانستان کې شوروی پوځي قوماندانې تل داپوزیسیون د متنفذ وقوماندانانو له تالان، دارد ماری، ورانکاری او دملکي خلکو دوژنې له پیښو سره مخامخ کیدله. مهمه داوه چې دادول پیښې په هغو ځایونو کې رامنځته کیدلې چې دځلویښتم لښکرچونې په کې جوړې شوې وې. دښمنانو په دې وسیله غوښتل دسیمې او سیدونکي دشوروي پوځ خلاف ولمسوي دځلویښتم لښکر قطعات مجبوروو ،دمرګ له خطرنه دملکي خلکو دژغورلو اودرنګیدوله خطرنه ددولتي واکمنۍ دسیمه ییزو ارګانونو بچولو په غرض محدودوپوځي عملیات سرته ورسوي.

له بده مرغه دافغانستان حکومت دهیواد په ټوله خاوره کې دخپلو پښو دتینګولو لپاره پراخې هڅې نه کولې. د پوځي عملیاتو له بریاوو نه مناسبه ګټه نه اخیتسل کیده او ځکه موراړ کیدلو چې هماغه یوځای ته بیا بیا ستانه شو.

هرکال موپه پنجشیر او هغه ته په ځیرمه پرتوسیموکې جګړه ییزعملیات تکرارول. ځوځوځله مودچاریکاروپه شنه شپول اوجبل السراج اودغه راز دکاپیسا په ولایت کې عملیات ترسره کړل. ځلویښتم لښکر دمحمود راقي په سیمه کې دایمي فعالیت درلود. ددې لپاره چې له هغه ځایه مخالفې وسله والې ډلې چې کابل ته یې پورته ګوابښ مخامخ کولی شو ،وشړو. شوروي پوځونوپه کندهار ،هرات ،خوست اودهیواد په نورو سیموکې ښکاره بریاوی ترلاسه کولې.

نن ورځ هم د پخوا په څير د نهه کلني جګړې په لړکې د افغانستان د ملکي وګړو د سر د زيانونو خبره په جدیت سره راولاړه ده . ځيني کسان د اسې ارقام يادوي چې د سړي ورته له حيرانتيا نه ښکرونه وشي. مثلاً د يو ميليون وګړو د وژنې خبره کيږي . فکر نه کوم چې د دغې خبرې د اثبات لپاره دې کافي دلايل موجود وي (؟-د ج) په تيره بيا د اوږدو جګړو په تاريخ کې هيڅکله داسې نه دي شوي چې څيړونکو دې ان د خپل لوړې د تلفاتو سم شمېر ځانته معلوم کړی وي. ان دا اوس هم مورږه پوره باوري توګه نه شو ويلی چې په افغانستان کې زمور د پوځی اسيرانو يا تری تم شويو پوځيانو له ډلې نه څوتنه ريښتيا هم ژوندي پاتې دي.

د افغانانو د سر د زيان په هکله د يوه دقيق رقم يا د ول ځکه هم د سړی شک راپاروي چې په دغه هيواد کې د اڅولسيزې چا سرشمېرنه نه ده کړې ، او که دغسې سرشمېرنه شوې هم وای ، د افغانستان په خاوره کې د زيات شمير کوچيانو د شته والي له امله به بياهم دغو ارقامو نسبي بڼه لرلی. له همدې ځايه ده چې نه شي کيدای ، د دغه هېواد د اوسنيو اولس کاله مخکې اوسيدونکو د څرنګوالي په هکله يو پر تليز تحليل سر ته ورسيږي.

زما په نظر د افغانستان نفوس لږ تر لږه دوو عيني دلايلو په وجه کم شوی دی. له يوې خوا ، اوږدې جګړې د ماشومانو د زيږيدنې اندازه کمه کړې. له بلې خوا ، د دريو ميليونو کډوالو زياته برخه د نارغيو ، تپونو او يا په ګاونډيو هېوادونو کې د ترتېنو له امله مړه شوې او يا خپل هيواد ته له ستنيدو سرغړوي.

سربيره پردې ، د يوکارپوه په توګه ويلی شم چې د يو ميليون وګړو د وژنې لپاره

پراخو اومخصوصو عملیاتو ته اړتیا لیدل کیږي چې مقصد یې یوازې اویوازې دوګړونابودول وي، مورږ ددغه کاردسرته رسولو اجازه نه لرله.

دځلوینښتم لښکرمنسوبینو دافغاني جګړې په ترڅ کې ښه شته منه تجربه راټوله کړه. دغینو څېړونکوداوسنیو څرګندونو پرخلاف افغانستان ته دپوځونو دلیږلو مقصد دهغو دجنګي وړتیا ازمایل نه وو، ددفا وزارت کولای شول خپل پوځونه په غرنیو اوبیدیایي سیمواو سختواقلیمی شرایطوکې دفعالیت لپاره دننه دترکستان او منځنۍ اسیا په پوځي حوزوکې وروزي اوچمتو کړي. ددغه کارلپاره اصلاً دځلوښتم لښکر جوړولواوبیاافغانستان ته دهغه دلیږلواړتیانه لیدل کیده.

خوددې خبرې ردول هم نه دي په کارچې یوشمېر عصري وسلې ریښتیا هم دلومړي ځل لپاره دافغانستان په خاوره کې، د جګړې په ډګرکې ازمایل شوې دي. له دې سره جوخت دجګړه ییزتخنیک اووسلو بیلابیل ډولونه اصلاح اودافغانستان په شرایطو کې داستعمال لپاره چمتو کړی شول.

څه دپاسه شپیته زره هغه افسران چې دافغاني جګړې په بټۍ کې پاخه شوي، دانن هم دکنډک له قوماندانۍ نیولی، د روسیې ددفاع وزارت ترمقامه په بیلابیلو څوکیو خدمت ته دوام ورکوي. زه پوره باورلرم چې دغه افغانان* اوس وسله وال پوځ دملاشمزۍ جوړوي.

له بده مرغه دافغانستان دراماتیکې پېښې اوپه دغه هیواد کې دځلوینښتم لښکر فعالیتونه دهیواد دډله ییز ارتباط په وسایلو کې، لکه څنګه چې ښایي، نه

---

*دغه اصطلاح روسان خپلو هغو پوځیانوته کاروي چې دافغانستان په جګړه کې یې ګډون درلود.

دي منعکس شوي. لوستونکوته تل زمور دپوځونو دتعليمي ، جګړه ييزو فعاليتونو اويالوستونو په هکله دلنډو راپورونوپه وړاندې کولو بسنه شوې ده. دافغانستان دجګړې په هکله پټه خوله غوره کول ، زما په نظر ددې سبب شول چې ددغې څوکاله وړاندې پاى ته رسيدلې جګړې دګډون کوونکوپه وړاندې ناسم چال چلند غوره شي ، خوواقعيت دادى چې دپوځ زور په وسلو کې نه بلکه دهغه په وړاندې دخپل اولس په مينه کې څرګند يږي.

شک نه شته چې دسلګونو زرو پوځيانو په منځ کې جنايتکاران هم پيداکيدل. په ټوله نړۍ کې اوپه هره دوره کې همداسي شوي دى اوله بده مرغه په افغانستان کې دشوروي وسله وال پوځ محدود ټولګى هم له دغې قاعدې نه مستثنى نه شول ، خو دځلويښتم لښکر په هکله ريښتينى قضاوت دهغو سرتيرو او افسرانو له مخې بايد وشي چې په خبروکې نه ، په عمل کې يې خپل پوځي دين ، ميړانه اوغيرت څرګند کړى دى.

تقريباً دځلويښتم لښکر ټولو قطعو اوجزوتامونو په منځ کې دوروګلوى اومتقابلې مرستې روحيه حاکمه وه.د ۱۹۸۸ کال په مني کې ،له افغانستان نه دشوروي پوځونو دوتلو په درشل کې لاندې پيښه دپورتنى اد عا ثبوت کيدلى شي:

سلګونو هغو سرتيرو او دقطعو وړوضابطانو چې دخدمت دوره يې پوره شوې اوترخيص ته چمتووو ،داوطلبانه غوښتنه وکړه چې دځلويښتم لښکر په ليکوکې دې ورته دپاتې کيدواجازه ځکه ورکړل شى چې (په دې وروستي پراوکې) دنوکيو

عسکرو ژوند له خطر سره مخامخ نه شي. که څه هم هغوی پوهیدل: ګولۍ دانه وینې چې کوم عسکر نو کی او کوم پخوانی دی. د هر چا د مرګ خطر موجود و.

هرځوک چې د شوروي محدود و پوځي ټولګیو په باره کې هرڅه وایي، داد هغوی کار دی، خو زما زړه د هغو کسانو په وړاندې د درناوی له احساسه ډک دی چې په څلویښتم لښکر کې یې خدمت کړی او په افغانستان کې جنګیدلي دي.

د څلویښتم لښکر تاریخ د میړانې او اتلولۍ زیات مثالونه لري. څه د پاسه دوه سوه زره سرتیري او افسران د دولتي مډالونو او نښانونو په ورکړه ستایل شوي دي. (۷۲) پوځیان د شوروي اتحاد د اتلولۍ د معتبر لقب په ورکړې ویاړل شوي دي. د څلویښتم لښکر (۲۵) سرتیرو او افسرانو ته په مړینه د غه لقب ورکړ شوی دی دا ډیر غیر تمن کسان وو. له دغې ډلې نه مې یو شمېر د ګډ کار له امله له نږدې پیژندل لکه: د شوروي اتحاد فقید مارشال س. ف اخرایيف ستر جنرال وارینیکوف ،جنرال آوشف ،جنرال واستروتین او ډیر نور ،هیواد او وسله وال پوځ ته د هغوی خدمت بې شانه لوړ مقام لري.

د افغاني جګړې تر ټولو غم لرلې پاڼه زمونږ د سرتیرو او افسرانو مرګ و ۱۹۷۰- کال د دسمبر له ۲۵ نه د ۱۹۸۹ کال د فبروري تر پنځلسمې پورې د څلویښتم لښکر ۱۳۸۲۳ منسوبین د جګړې په ډګر کې وژل شوي او یا ورو سته د ورپیښو شویو ټپونو او ناروغیو له امله مړه شوي دي. د دوی په ډله کې ۱۹۷۹ تنه افسران او جنرالان وو. سربیره پردوی ،د افغانستان په خاوره کې ۵۷۲ تنه د ک. ګ. ب غړي ،۲۸ تنه د شوروي اتحاد د کورنیو چارو وزارت کارکوونکي او

دغه راز د ۱٤٥ افسرانو په ګډون (۱۹۰) پوځي سلاکاران هم وژل شوی دي. (۱۷۲) افسرانو دورپیښو شویو تپونوله امله په وسله وال پوځ کې له خدمت نه لاس واخیست. (٦٦٦۹) تنه «افغانان» معیوب شول چې دهغو له ډلې نه ۱٤۷۹ تنه د لومړۍ کتې ګورۍ معیوبین وو.

دسختو اقلیمي شرایطو له امله چې دمحدودو پوځي تولګیو په قطعاتو کې یې دساري ناروغیوله خپریدوسره مرسته کوله، (۱۱٥۳۰۸) تنه په زړې او (۳۱۰۸۰) تنه سرتیري او افسران په محرقې اخته شوي وو.

ماهم له دغو رنځونوخلاصون ونه مونده او خپله مې دا احساس کړل چې په هغو اخته کیدل یعنې څه.

له افغانستان نه دوتلو په وخت کې مې امروکړ، تولې هغه یادګاري لوحې دې شوروي اتحاد ته له ځانه سره ولیږدول شي چې دځلویښتم لښکر دسرتیرو او افسرانو دمرګ په ځای کې درولې شوې وې. داټول هغه څه وو چې مورږ په افغانستان کې دخپلو وژل شویوملګرولپاره سرته رسولی شول. نن ورځ زمورږ هیواد مجبوردی، دهغه چاڅارنه اومواظبت وکړي چې دهمده په امرې خپل پوځي اوانترناسیونالستي دین بشپړ سرته ورساوه، دولت دوژل شویو کسانو دکورنیو دغږیو پور وړی دی.

وړاندې به څه کیږي؟

نهه کاله جګړه ،زرګونه وژل شوي سرتیري اوافسران، دمیندوغم لړلی حالت ،دافغانستان دخلکو دمړولو اوددغه هیواد داقتصاد دودې لپاره بې

حسابه لګښتونه . . . ایاداټول هسې عبث وو ؟ نه که څه همدا یوتریخ حقیقت دی خوباید اعتراف وشي: دافغانستان پېښو ،زیاتو خلکو اوپه تیره بیامور ته په ډاګه و ښودله چې په زورسره دسیاسي لانجو غورځول ناشونی کار دی.

زما په نظر ،هم اوسني اوهم راتلونکی سیاستمدارانباید داخبره په هیڅ ډول له یاده ونه باسي چې یوه هدف او هغه ته درسیدو دلاروچارو ترمنځ بیلتون راوستل غیرمجاز کاردی. یوازې متقابل توافق ، یوازې خبرې اترې او یوازې روغه جوړه کولی شي ،له خندونونه دوتلولارپرانیزي ،ترهرڅه لومړي ، دسختو لانجو دغو څولولپاره دایوازینی سمه لار ده. له دې پرته به ان ډیرښه نیت هم دوسله والو نښتو په لړکې دسرزیانونو دمخنیوي ضمانت ونه کړای شي. دساري په توګه: دپخواني شوروي جمهوریتودمشرانو له خوا دافغانستان دکورنۍ لانجې دغو څولو تجربې له پامه غورځول ددې سبب شول چې یوازې د ۱۹۹۲ کال په اوږدوکې دکورنیوملي نفاقونوله املهزمورڅه دپاسه ۱۵۰ زره هیواد دوال ووژل شي. دارقم دافغانستان دجګړې په ټولو نهو کلونوکې له تلفاتو نه لس ځله زیات دی.

په افغانستان کې دجګړې داوربلول ، دشوروی حکومت د ډیروناوړو پریکړو په ډله کې راځي. دافغانستان په کړکیچ کې پوځي لاس وهنه په نړیوال ډګر کې دسیالانولهخوادشوروي اتحاد دبهرنې سیاست دسختې غندنې سبب شوه. سربیره پردې دهیواد دننه هم بیابیا داعتراض غږونه پورته کیدل. په پای کې شوروي مشرتوب مجبورشو ، له افغانستان نه دخپلو پوځونو د ویستلو پریکړه وکړي ، چې دې کارپه خپل وارله مرکزنه دفرار تمایلات زیات کړل. په چټکی سره لومړی

دسوسیالیستي کمپ اوورپسي د ۱۹۹۱ کال په دسمبر کې د شوروي اتحاد رنګیدل دهغه بحران زیرنده ده چې دهیواد مشران اوپه مجموع کې ټول هیواد یې راګیر کړی و. په دې توګه نوپه سیاسي ډګر کې دافغاني لوبې بایلل دهغې بنسټیزې ډبرې له لاسه ورکولو ته وو چې په نړیدویې داویاکلونوپه ترڅ کې راجوړ شوې وداني له بیخه ونړیده.

له شورویانوپرته افغانستان

له افغانستان نه د شوروي پوځونو په وتلو سره نه پخلاکیدونکی افغاني اپوزیسیون خپله اصلي برلاسي یعنې د یوکیدوعامل له لاسه ورکړ. دبیلابیلو تنظیمونودوسله والو ډلوترمنځ په ټوله نه کلنه دوره کې جګړې روانې وې، خوپه ۱۹۸۹ کال کې یې ډیره پراخه بڼه غوره کړه.

دانتظارونوخلاف، دکابل انقلابي رژیم لکه «له حده زیات پوخ شوی حاصل» سمدلاسه ونه پاشل شو او اوږده موده یې دخپلې بقالپاره لاس اوپښې ووهل.

دخوست دفاع او دجلال اباد ساتنې، چې یوکال اوږدوه شوه، دلمرغوندې روښانه کړه چې دځلویښتم لښکر له جزوتامونوسره اوږه په اوږده جنګیدلی حکومتي پوځ ریښتینی قوت دی. دافغانستان دبهرنیو چاروزارت په حواله، مجاهدینو یوازې په ۱۹۸۹ کال کې څه دپاسه ۳۶ زره تنه له لاسه ورکړل. په داسې حال کې چې ۱۹ زره نور یې تپیان شوي و. په دې ډله کې داپوزیسیون نږدې دوه سوه بهرني سلاکاران او (۵۰) قوماندانان هم راځي خوبیاهم دافغانستان پوره پیاوړي پوځ او دشوروي اتحاد پراخومرستو ونه کړای شول، دنجیب الله درژیم

درنگیدو مخه ونیسي.

پل

داپریل په ۱٤ نیټه لکه دتل په څیر دسهارپه پنځه نیمو بجوله خوبه جگ شوم. تراوسه لاغرنیو سړو دخپلې ځواکمنې سندرې بللې ، خوداسې احساسیدله چې سړی دورځي له خواکولی شي له تاوده جمپر پرته بهرووځي. روحي حالت مې ډیرښه و. تقریباً ټول لښکر موخپلې خاورې ته وراړولی و. په افغانستان کې یوازې دکشف دوه کنډکه لاپاتي وو چې سباته باید دکوشک او ترمزپه دووسیموکې له دولتي پولې نه پښه وروړوي.

دجنورۍ له نیمایي راهیسې دځلوینټم لښکر دقوماندانۍ وروستی مرکز په تاشقرغان کې دیوه موتوریزه غنډپه قرارگاه کې ځای پرځای شوی و. داښار دموټر په سپرلۍ ، له پولې نه تقریباً دیوساعت په واټن لیرې دکابل ، مزارشریف لویې لارې ته څیرمه پروت دی. دازمورږ لپاره ترهرڅه لومړی له دې امله مناسب کاروچې ځنگ ته موهغه هوایي اډه پرته وه چې دلښکر هوایي ځواکونو تړې کار اخیست.

لس کاله وړاندې دشوروياانو له راتگ مخکې دتاشقرغان شاوخواسیمې یوې بربنډې اوغیرمسکونۍ زمکې ته ورته وې. اوس دادی افغانان «دکوردخاوندانو» په توگه دغنډپه پخوانۍ قرارگاه کې تیریږي ، راتیریږي اوپه لوړ آوازپه خپل منځ کې دورپاتې شویو تشوکاغوشنو دارزښت اوبیې په هکله غږ یږي.

دلښکر دقرارگاه داوپراتیفي ډلې له تولو غړونه دغه وخت په افغانستان

کې ایله ۲۵ تنه پاتې وو. عمدتاً دا دلښکر دسر ،سر خلک وو. لکه دځانګومشران اودپوځ دبیلابیلو برخو آمرین. دسهارپه لسو بجو زمور کوچنو تې قطار پولې ته نږدې دحیراتانو ښارته وخوځیده. دلته دکشف کنډک زمور انتظار ایسته. دځوکلونو په اوږدوکې دانښار زمور اصلي اکمالاتي زیرمه ګڼل کیده: حیرتان له شوروي ترمزنه دیوه کوچني پله په مرسته جداکیده. ځواکونوله دې سیمې سره پوره بلدتیا حاصله کړې وه ،نوځکه دځای پرځای کیدو په برخه کې موستونزې ونه لیدنې. زه مخکې هم ځوواره دلته راغلی اودلویې لارې دانضباط په کنډک کې پاتې شوی وم. دوه میاشتې مخکې دلته سخت شورماشور جوړو ، خو اوس ایله دری سوه سرتیری پاتې دي.

دقطعاتو دویستلو ددقیق مهال ویش دجوړولو په وخت کې مومخکې له مخکې په نظرکې نیولې وه چې دپولې په خوله کې دځای پرځای کیدونوې سیمې ته له رارسیدوورسته به دوتلو له وروستۍ نیټې یوه ورځ مخکې ان دهغو قطعو په ګډون چې پخوادشوروي اتحاد په خاوره کې ځای پرځای شوي دي ، دټولو قطعو دقوماندانانو درپوټونو جاج اخلم. مور مجبور وویو ځل بیا ځان په دې پاڅه کړوچې دافغانستان په خاوره دځلویښتم لښکر له منسوبینو څخه هیڅوک نه دي پاتې.

دورځې په دویمه نیمایي کې ډګرجنرال ایوان فوژینکو تلفون وکړ. مور دوارۍ وه دجنورۍ په نیمایي کې دپوځی حوزو دقوماندانانو په توګه ټاکل شوي وو. هغه دترکستان دپوځي حوزې اوزه دکیف دپوځي حوزې. حوزه لاله څلویښتم لښکرسره

په افغانستان کې وم او هغه دادی پرخپله څوکۍ ناست و. ماهغه ته وویل چې دپوځونو دراویستلو کار عملاً پای ته رسیدلی دی. سباسهاربه وروستۍ قطعه یعنې دکشف کنډک دافغانستان خاوره خوشې کړي. زه به په سیمه ییز وخت سباسهارپه لسوبجو دپله پرسرولاړیم.

همدغه ورځ مې ددفاع له وزیر مارشال د. یازوف سره هم لنډې خبرې کړې وې. له هماغو لومړیوخبرو یې بریښیده چې څه وارخطاغوندې دی. معلومه شوه چې دبهرنیو چارو په وزارت کې شورماشور جوړ شوی دی: خبره په دې کې وه چې ددغه وزارت کوم کارکوونکي په تصادفی توګه کاغذونه لاندې باندې کړی ،او ناڅاپه یې پام شوی چې دژنیو توافقات له افغانستان نه د فبروري تر ۱۵ دځواکونو دویستلو حکم کوي. په بل عبارت ، کـه څوک غواړي دغه تړونونه ټکی په ټکی عملي کړي، نوباید دفبروۍ په ۱٤ ټول لښکر دافغانستان له خاوری نه دشوروي اتحاد خاورې ته وراوښتی وای. په مسکو کې ریښتیا هم اندیښنې پیدا شوې وې. ښایي په ټولو دفترونوکې له دغه تخریشوونکي حالت نه دخلاصون لپاره سختې هلې ځلې پیل شوې وې.

موږ په خپل وارد دغو ټرونونو دمتن دتحلیل په وخت کې یوه، یوه نیمه اوونۍ مخکې دخپل پوځ په قرارګاه کې له دغې نیټې سره ټکر وکړ. سمدلاسه موږه کابل کې دملګرو ملتو دځارونکو په ګډون له بیلابیلو مراجعو سره سلا ،مشورې وکړې. دځارونکې ډلې مشرپه نیویارک-کې دملګرو ملتو له مقر سره تماس ونیوه. داسې ښکاري چې هلته پریکړه شوې وه ،دحالاتو له خړپړتیانه دمخنیوي په غرض دې

دغسې يوې جزئي خبرې ته ارزښت نه ورکول کيږي : د ۱۵ عدد مور ته اجازه راکوله چې دفبروري تر ۱۵ او دهمدې ورځې په ګډون له افغانستان نه دوتلو بهير بپښ کړو.

مادملګرو ملتودځارونکو ددريځ په هکله يازوف ته بشپړ معلومات ورکړل، زياته مې کړه چې دلته داندينبنې هيڅ ځای نه شته ،خوداسې بريښده چې وزير پوره قانع شوی نه دی او له ماسره ترخبرو وروسته به خامخا دخپلوکانالانوله لارې يوځل بيا داهرڅه راسپړي. وروسته ماهغه ته وويل چې دپوځونو دوتلو په ختيځ او لويديځ بهير کې اوس يويوکنډک له دير شو ،دير شوجنګي ګاډوسره پاتې دی اوبس.

يازوف وپوښتل چې په افغانستان کې دپاتې جزوتامونوامنيت څنګه تامينيدلی شي. هغه ته چامعلومات ورکړي وو چې دښمنان غواړي دشوروی پوځونو پر وروستيو ټولګيو (دحشرډګر) جوړکړي او په هغه زيرموکې چې همدا لږه موده وړاندې حکومتي ځواکونو ته سپارل شوي، دورانکاری عملونه سرته ورسوي.

مور هم دحالاتو دپرمختګ دغه بڼه له احتمال نه ليرې نه ګڼله . که څه هم مور تروروستی شيبې خپلواستخباراتوته دوام ورکاوه خوپه دې هکله موکوم شواهد نه ووترلاسه کړي، خوبيا موهم وپتيله چې دغان محافظه پياوړې کړو. د کشف کنډک موترهرڅه لومړی په دې دليل دغان لپاره پريښی و دحيرتانوسيمه (پخوا) دهمده په مسوولیت کې راتله. دکشف کارکوونکو دغه سيمه ډيره ښه پيژندله

اوباید دهغه څه پیښیدوته یې اجازه نه وای ورکړې چې یازوف ورته ګوته نیولې وه.

دخبرواترو په پای کې هغه (یازوف) ناڅاپه وپوښتل: ولې تاسوله ټولو وروسته راوغځ اولکه هسې چې قوماندان ته ښایي، دقطعې په سرکې نه راغځ؟ ماڅواب ورکړ: داپریکړه ماپه خپله دلښکر دقوماندان په توګه کړې اوداګنم چې په افغانستان کې پنځه نیم کاله خدمت داحق راکوي چې له پوځي دود نه سروغړوم. خویازوف زما خبره نه تایید اونه رد کړه، غلی پاتې شو، خوکه هغه له دغه کاره منع کړی هم وای، بیابه هم زه له افغانستان نه وروستی راوتلم.

څو دقیقې له هغه وروسته چې یازوف دټلفون غوږی کیښوده، دسترجنرال نیکلوی ایوانوویچ پاپوف زنګ راغی. هغه اوږده موده دترکستان دپوځي حوزې دقوماندانۍ دنده په غاړه درلوده. له افغانستان نه دپوځونو له راوتلو تقریباً شپږمیاشتې وړاندې، هغه دجنوبي برخې دځواکونو دلوی قوماندان په توګه ټاکل شوی و. هغه له باکونه په دې غرض راغلی وچې دځلویښتم لښکر دراوتلو په وروستي پراوکې دهغه دهرکلي مسوولیت په غاړه واخلي.

دوتلو په اړوند ټول کارونه تقریباً پای ته رسیدلی وو. له پهره دارانو پرته دکشف کنډک نورټول سرتیري دوروستي مارش لپاره چمتو کیدل. چاتخنیکی وسایل معاینه کول او چادخپل کمیس لاندې پسیني توتې ګنډلې. ډیر سرتیري ترملابرنډ ګرځیدل، ځکه چې خپل پوځي کالي یې منیځلي او دکټونو پر بازوګانو غوړولي وو. صبر یې کاوه چې دهغو داغوستلو وخت راورسیږي. نه پوهیږم چې

ولې ، خو داسې په نظر راغله چې د کشف کنډک ډیر غږي په دې حقیقت باندې په پوهیدو سره چې سهار ته به د دوی له پاره جګړه بیخي پای ته رسیږي ، په افغانستان کې دایسار شوی وروستي پوځي ټولګی د غږیو په توګه له خپل حالت نه خوند اخیست . . که د هغوی په زړه وای نو په دغه حالت کې به یې څوورځې نورهم د غلته استوګنې ته دوام ورکړی وای .

دورځې پاتې برخه ناتاکلې اوځنډنۍ تیریده . ان د غرمې ډوډۍ مې خواته نه کیده : شوروامې ونه خوړه ، وروسته د تل په څیر اوربشینه شوله اوچای راوړل شول .

حیرتان په افغانستان کې زمور د حضور په ټوله موده کې ستره اکمالاتی زیرمه وه . ټول نه کلونه بې ځنډه دې لورته په جنګي او غیر جنګي تخنیک ، خوراکي موادو او درو ، درملو بارداورګاډي واګونونه (ډبې) راسرو و . مخکې مې هیڅکله د غسې زیرمه نه وه لیدلې . په دې وروستیو شیبو کې مې پریکړه وکړه ، راځه وګورو چې کوم شیان په څه ډول خوندي اوزیرمه شوي دي . د زیرمې له افغاني آمر سره مې د یوه « علمي سیر » خبره غوټه کړه .

د حیرتان زیرمې په دومره لویه سیمه کې ځای پرځای د ی چې یوه اوونۍ یې یوازې د کتلو لپاره نه بس کیږي . زیرمې په دوو ، نظامي اوغیر نظامي برخو ویشتل شوې وې ، څه نه ووچې دلته نه پیدا کیدل . په یاد مې دي چې مور یې د یوه بیخي ترلي واګون مخې ته ودرولو . زمور د لارې ملګري افغان په ښه روانه روسي ژبه وویل چې هغه ایله څوورځې مخکې د دې واګون ورخلاص کړ . معلومه شوه چې له

۱۹۷۹ کال را په دې خواهلته خواږه خوراکي شیان پاتې دي. په دغه ټوله موده کې دغه خواږه شیان چې د چالاس ورته نه وغزیدلی، د ترمز په ګاونډ کې، د تود وخې له قطب نه څو کیلومتره وړاندې هسې خوشې په خوشې ویلي کیدل. څنګ ته یې ټراکټورونه اودبا غوانی د اړتیا وړ کراچۍ ګانې چې نه پوهیږم د څه لپاره افغانستان ته لیږل شوي وو اودغه رازړ بر ینې تختې، سمنټ، بوره او اوړه خوندي شوي وو. دلته د هغو شیانو لسګونه نه، بلکه سلګونه زره ټنه راټول شوي ووچې زمور هیواد ورته خپله ډیره سخته اړتیا لرله.

د غه افغان له تدبیره ډک سړي وو بریښید. هغه د زړه له کومې زمور په وتلو خوابدی و. په دابله ورځ به د کابل خوا ته غزیدلې لویه لار وټړل شي. داسې بریښي چې ان زمور د شته والي په وخت کې هم هغوی ته ګرانه وه، له د غه ځایه څه شی ولیږدوي: وګوره څومره څیزونه کوټه پراته دي: اوس به هرڅه تالاترغې کیږي: د زیرمې د ساتنې چارې د افغانستان حکومتي پوځونو ته سپارل کیږي، خو داچې هغوی د «ساتنې چارې» څنګه سرته رسوي، هغه ته هم پوره روښانه وه او مور ته هم.

کله چې بیرته د کنډک داستوګنې ځای ته راستانه شو، امرمې وکړ چې ټول وزګار سرتیري او افسران دې په لیکه ودرول شي، غوښتل مې ووینم چې هغوی دوروستي ورځې لپاره څنګه چمتو شوی دي. کنډک د سهار په نه نیمو بجو زما په امر حرکت پیل کاوه، ترپولې پورې، زمور د دیره کیدو له وروستي سیمې نه له یود کیلو متر نه زیات واټن نه و. هغوی باید دا واټن ووهي پرپله تیراوهاخوا په ترمزکې

لوی تعلیمي ډګرته ځان ورسوي، په لیکه ودریږي او زما انتظار وباسي.

زه په زغره وال ګاډي کې چې دمخابرې ځانګړي وسایل یې درلودل، ترټولو وروسته له پولې نه تیریدونکی وم. له هغه وروسته چې له افسرانو اوسرتیرو سره مې خبرې پای ته ورسیدي، امرمې وکړ زما زغره وال ګاډی دې یوځل بیا په غوروکتل شي چې خدای مه کړه د پله پرسریې انجن له کاره ونه غورځیږي. دماښام ډوډۍ په خپل وخت تیاره شو، د یوې کوچنۍ راډیو ترهیاهولاندې دقابونو مخې ته کښیناستو چې په کې سره کړي ماهیان پراته وو. چرتونه مووهل او خبرې موسره وکړې. ټول شیان بې مانا غوندې وبریښیدل، لږ ترلږه زما په نظرداسې راغله. دوروستیو ورځو شورماشور کښیناست، مخې ته تیاره لرلیدا وشاته هسې یوه تشه، یوه ماتې په نظرراغله.

دکنډک داوسیدوپه سیمه کې له موقتي موادو جوړ ځوکورګي او عادي قاشونوولاړ وو. په دغسې یوقاغوش کې چې دقوماندان لپاره جوړ شوی و، مادافغانستان په خاوره کې خپله وروستۍ شپه تېره کړه. خوب نه راته. نه مې غوښتل، دهغه څه په باره کې فکر وکړم چې دلته مې لیدلي او راباندې تیر شوی، خوزما له ارادې پرته، په ذهن کې راته بیلابیلې ځیرې راژوندۍ کیدلې. دیرې زیاتې ځیرې، هغه چې لاژوندی وې اوهغه چې په دغه هیواد کې یې ساه ختلې وه.

په وروستیو اوونیو کې مې دخپل راتلونکي په هکله ډیر سوچونه وهل، او ځومره چې دجګړې پای رانږدې کېده، هومره دسولې په پراوکې دخپل ژوندانه

دسمبالتیا اړتیا نیغه مخې ته راته دریدله. ترقیامته له خپلو زامنو جلا اوسیدو زړه راخوړلی و: تنکي زلمیان باید دپلار په څنګ کې ستر شي، خوزه پوهیدم چې دپوځي حوزې دقوماندان ټول ژوند په دنده کې تېرېږي. کشرزوی مې، اندری هغه وخت دښونځی دوهم ټولګي ته تلونکی و.

دسولې په پراوکې به زما ژوند هله بشپړ بریښیدلی وای چې څنګ ته مې ګران او ترټولونږدې انسان ناست وای. نیکمرغه یم چې دفاییني په وجود کې مې دځان لپاره دغسې انسان وموندە. هغه ښکلې او هوښیار ښځه ده. مهربانه زړه اودبچیانو، خپلوانو اوملګرو په وړاندې دپالنې احساس لري. ویلی شم چې بود ورځ فاییني له جګړې وروسته وخت کې زما ژوند وژغورە.

تقریباً دسهار په څلورو بجو دخوب استازی دستر ګومیلمه شو، خوزه بیا هم داپوره خوب نه شم بللی، ما سره تل په څنګ کې زنګ وهونکی ساعت دي، خو په دغه ورځ دهغه له غږ مخکې راجګ شوم. په دغه ورځ له خوبه نه جګیدل نا شوني خبره وه، داسې بریښیده چې په کنډک کې نوروهم زما غوندې شپه تېره کړې ده. دسهار په پنځو بجودانجنوآوازونه پورته شول. تګ راتګ، چیغې اوخنداګانې پیل شوې، کوم چانری سندره هم راپیل کړه.

دسهار ترچایو مودپهره داری وروستی پوستې هم راټولې کړې. یوچاپه ټوکووویل: «نور نوپه جنوبی لوری کې د محافظتي اقداماتو اړتیا نه شته.»

دنهوبجو په شاوخواکې مې خپل یاور راوغوښت چې له هرډلوه زما دځیرې اوکالیوجاج واخلي. هغه دیر ځنډ راته دخریداری په ستر ګه لاندې باندې

وکتل ،بیایې خپل سرکورډ کړ اوویې ویل: هرڅه سم دي.

دغه وخت نوکنډک دتګ لپاره چمتو شوی و جنګي ګاډي یو په بل پسې ولاړو اوایله دومره پاتې ووچې څنګ ته ځای پرځای شویو سرتیرو ته دورځتلو امروشي. ماامروکړچې کنډک دي په نظام وریږي. په دې پوهیدم چې بیامې له دغو پوځیانو سره لیده نه کیږي ،له هغو نه مې مننه وکړه. ومې ویل چې د ۲۰۱ لمبر فرقې دکشف کنډک په دې ورځ له افغانستان نه دشوروي پوځونو دوروستي ویستل شوی جزو تام په توګه دتاریخ په پانوکې پاتې کیږي. هغه وخت مې په فکر کې هم نه ګرځیدل چې همدا ۲۰۱ لمبرفرقه به څلور کاله وروسته بیا درانده بارونه خودائل دتاجکستان په خاوره کې په اوږو اخلي.

مورډ یوځل بیا درفتارځرنګوالی او چټکتیا په تیره دپله پرسر، وځیږل. تاکل شوې وه، دسیند په شوروي څنډه، دترمزپه ښارکې ګڼ خلک، زمورډ هرکلی وکړي اوپه دوی کې دهغوکسانو خپلوان هم وو چې په افغانستان کې وژل شوي دي. ځینو چې دبچیانو دمرګ خبرهم ترلاسه کړی اویایې دهغو مړي خاورو ته سپارلي وو، خوبیا هم هیله من وو چې کیدای شي، بچیان یې ناڅاپه ژوندي راورځي. ددې لپاره چې د کوم چاداحتمالي زیانمن کولو مخه مونیولي وي، امرمې وکړ چې دپله پرسردې په ډیر کم سرعت حرکت وشي.

کنډک په جنګي ګاډوکې خپل ځایونه ونیول او مادوی ټول قطارپلی معاینه کړ. زما جنګي ګادی دقطار په سرکې ولاړو. ماهغه ته کتل او په کالیوکې نه ځایدم له اوږونه مې دروند بارپه کوزیدو و. هیڅاته مې دټلفون کولو اړتیا ونه

لیدله اوکه دغسې اړتیامې احساس کړی هم وای، داکارځکه نه شو کیدای چې هیڅ ټلفوني رابطه نه وه، د ټلفوني رابطې ټول ډولونه یعنی« ز. ا. س ». او« و .چ » . (راټول شوي وو) اوس مې دلته په افغانستان کې دبیلابیلو ټلفونونوله ډلې نه یوازې دجنګي ګاډی دمخابرې یوه دستګاه په واک کې وه اوبس . یوه مخابره مې درلوده اوټول یو کنډک

زغره وال ګاډي ته له ختو اودمارش لپاره دوروستي چمتووالي له نندارې وروسته مې په خیال کې وګرځیده چې بیابه هیڅکله دځلوبنبتم لښکر په څیر لښکر پیدا نه شي. دغسې بیساری لښکر به بل نه وي، هغه نه یوازې دخپلو دندوله مخې بیساری و، د دغسې خلکو راټول هم بیا شوني نه دي، اوحق زما پرخواو.

دځلوبنبتم لښکرقطعې چې څنګه راوتلې، هسې هم د شوروي اتحاد پر ټوله خاوره ویشل کیدلې .هغوی بیرته هغو ځایونوته ستنیدلې، له کومه ځایه چې دافغانستان پرلور خوځیدلې وې .له یوې خوا، دایوه قانونمنده پایله وه ،له بلې خوا، مورږ په تیره بیا په وروستیو وختوکې چې زموږد شهرت هنګامه ګرمه وه، پرله پسې غوښتنه کوله چې د دغه لښکراوسنی نوم دې وساتل شي. ولې دلښکر دستاینې په هکله پریکړه ونه شوه؟ په زړه کې هیله من وم چې دفبروري په ۱۵ به اعلان کیږي چې دځواکونو د وتلوله امله، دغه لښکر مثلاً دنښان په ورکړه ستایل کیږي. دځواکونو دوتلو بشپړیدو ته په نږدې وخت کې موږه تلفوني خبروکې تل مشرتابه ته دا په ګوته کوله چې مثلاً د « سره بیرغ » په نښان دځلوبنبتم لښکر نه

ستايل به غير عادلانه وي، كله چې مودرک کړه، په دې کارکې کوم پرمختګ نه راځي، نودشوروي اتحاد ددفاع وزير او جمهوررئيس په نامه مو څو مکتوبونه راواستول، خولکه چې معلومه شوه ،داهسې عبث کارو.

څلويښتم لښکر غير معمولي پوځي قطعه وه. هغه څلور فرقې چې درې يې پلې موتوريزه او يوه يې دهوايي ديسانت وې او دغه راز څو مستقل جزوتامونه درلودل. زمور دوسله وال پوځ په ټول تاريخ کې داسې لښکرنه وچې خپل هوايې ځواکونه دې ولري. دلښکرزياته ځواکمني ، ديوزيات شمېر ګوزاريزوکنډکونو په شته والي کې وه. دهغو شمېر اتوته رسيده، په دې سربيره ددې سانت اوکشف قطعې هم موجودې وې چې ډيرې ښې روزل شوې وې.

سربيره پردې، دغه لښکر دخپل شمېرله پلوه هم حيرانوونکی و: دهغه دپرسونل اعظمي شمېر (۱۲۰) زرو سرتيرو او افسرانو ته رسيده. د ۱۹۸۸ کال په پيل کې مودیو شمېر قطعو په ويستلو پيل کړی واودژنيو دټرونو نودلاسليک په وخت کې په افغانستان کې زمور سل زره پوځيان پاتې وو.

دحرکت له پيله څوشيبې مخکې مې هڅه وکړه ،دوروستيو کنډکونودښه راغلاست مراسم په خپل ذهن کې انځورکړم. هغه به څنګه سرته رسيږي، تريوې اندازې مې دهغو مراسمو په هکله تصور درلود چې تقريباً يوساعت وروسته په ترمزکې جوړيدو نکي وو. ددغې سيمې مشرانوخپله پوره وړتيا وښودله او دخومياشتو په اوږدوکې يې دټولو ستنيدونکو قطعو دهرکلي دروند بار پراوږواخيستی و. تقريباً ديوکال په لړ کې ،هره ورځ له پولې نه هاخوا قطارونه

تیریدل. دسر تیرو نه یوازې له خندا ډکې خولې، بلکه داوسیدو لپاره ځای او خواړه هم په کار وو.

ښه، په ترمزکې ټول شیان (سم) پای ته ورسیدل. وړاندې به څه کیږي؟ ما تصور هم نه شو کولی چې په افغانستان کې له نه کلن شته والي وروسته دهیواد او دفاع وزارت دمشرتابه له غړونه دې هیڅوک دځلوینښتم لنبکر هرکلي ته رانه شي. کله مشرانو ترمزته دراتګ لپاره وخت (اوپه لومړي ګام کې علاقه) ونه موندله، آیا نه یې شول کولی، یوه یادونه اوونیز وروسته لږ تر لږه هغه څوک چې دنهو کلوپه لړکې یې دځلوینښتم لنبکر دقوماندانۍ دندې په غاړه وې، هسې عادي شان میلمستیا ته وروغواړي. ددغې میلمستیا دجوړولو دنده هم ددفاع وزارت په غاړه نه لویدله، ځکه افغانستان ته دپوځونو دلیږلو پریکړه پوځیانو نه وه کړې.

له یوې خوا مې دا اوس هم په یاد دي چې خلکو مور ځنګه په غیږکې نیولو، له موټرو لاندې یې دګلانو ډیری جوړې کړې وې، مبارکۍ او اوښکلول وو، خوله بلې خوا په مسکوکې میشت یو «آمر» هم ځانته دځلوینښتم لنبکر دښه هرکلي دسمبالولو په هکله دفکرکولو زحمت نه وورکړی. مور خونه شوکولی خپله ځان ته مبارکۍ ووایو. له افغانستان نه دځلوینښتم لنبکر دوتلو په هکله پټه خوله پاتې کیدل، دکرملین په «شیش محل» کې دناستوکسانو یوه بله بې نزاکتي وه. فکرکوم دګرباچوف ملګرو غوښتل، دخپلواسلافو دتیروتنو پرده په ضمني توګه زمور پراوړو واچوي. دهغوی استدلال داوچې له افغانستان نه دژوند و راوتلو هرکلی ځکه نه دی په کار، چې داهغه جګړه نه ده، چې دهغې په هکله باید نکلونه

وشي، خـو دامـسکووچې له څلويښتم لښکر سره په تماس کـې واوهغـه ته يې لارښوونه کوله. داامکان خو وچې دحکومت ياد دفاع وزارت دګڼ شمير لوړرتبه کارکوونکوله ډلې يوځوک ترمزته زمور دهرکلي لپاره راوليږل شي. آخرهره ورځ خو له افغانستان نه دپوځونو دراوتلو ورځ نه وي.

مـا ته خبـر راکړشـو چې ټول حرکت ته چمتـو دی. خپل ساعت ته مې وکـتل اوبيامې امروکړ: «واسطې چالان کړئ» زلمو په حرکاتو کې ښه ډير دقت کاوه، دکشف کنډک غړي لکه ديووجود په څيروخوځيدل اوداداستثنا آتوله ډلې څه ده. ټول قطار زمـاتر مـخې تـهرشـو. دغـه وخت دټولوسـترګـې له اوښکو ډکې وې، خوالبته چې عامل يې بادنه و.

مامخکې يادونه کړې چې دپوځونو وتل له دوو لاروسرته رسيدل او زما زيات مرسـتيـالان له قطعـاتوسره اوږد په اوږد خوځـيدل: څـوک مـخکې تللي اوڅوک تروروستی ورځې پاتې وو. دوتلو په اصلي مسيرکې دلښکر دپوځې شورا غړی او دسياسي چارو رئيس جنرال الکساندر زاخاروف حاضرو. هغه دوروستي قطار په لومړي سرکې روان و.

مالږ انتظارويوست او دسهارپه نهوبجو او پنځه څلويښتو دقيقو زما زغرد وال ګادي تاپيرونه دافـغـانسـتـان د خـاورې په وروسـتـيـو ټوټو تـهرشـول پل ته راورسيدم، دلارې په يوه ووکي کنج کې ديوه خندق دننه زمور سرحديان ناست وو، په تګ، تګ کې مې هغوی ته وويل: «په مخه مونږه او هوښيـار اوسئ، ځکه چې مور نورله افغانستان څخه ووتلو.»

دپله له پاسه هیڅوک نه لیدل کیدل. اوبیخي تش و. یوازې لږ وړاندې ګڼ شمېر خلک لیدل کیدل. کله چې دپله له نیمایي نه تېر او له هغې کر ښې نه چې د دولتي پولې څرګند ونه کوي. تیر شو. فکر کوم ترهر چالومړی مې میخاییل لیشسنکي *او دمرکزي تلویزیون.

کمره مین باریس رومانینکو په نظر راغلل. نږدې اویا متره چې ورنږدې شو، نوله زغره وال ګادي نه کوز اوپلی روان شوم.

تقریباً یوه اوونۍ مخکې په تاشقرغان کې زما د قوماندانۍ مرکز ته دشوروي اتحاد دځوانانو سازمان (کمسمول) دمرکزي کمیټې دمنشي و. میرونکو په مشرۍ یوه ډله راغلې وه. په هغوکې د کمسمولسکا پراودا ورځپاڼې مسوول مدیر الکساندر فرونین او ځینې ژورنالیستان، دغه رازساشاروزینباوم او یوسف کابزون هم ملګري وو. داله شوروي نه د «کلتوري ډلې» ورستی راتګ و.

دیادونې وړ ده چې دیوسف کابزون * وروستی راتګ، په اصل کې افغانستان ته دهغه نهم سفر و. هغه لومړی ځل د ۱۹۸۰ کال په اپریل کې دمحدود وپوځي ټولګیو قطعاتو ته راغلی و. زه دزړه له کومې له دغه سړي سره مینه لرم. د ملګرو او هسې عادي اشنایانو په وړاندې دهغه مواظبت ماحیرانوي. یوسف یوعجیبه او

---

*- میخاییل لیشنسکي اورده موده په افغانستان کې دشوروي اتحاد دمرکزي تلویزیون خبریال و اودهیواد په ډیر وبرخوکې یې د شوروي برغلګرلښکر دجګړو له بهیرنه رپوتونه تیارکړي. دشوروبانوله وتلو روسته نومورې په مسکوکې دافغانستان دملت خلاف ځینې له دښمنې ډکې تلویزیوني خپرونې لیکنې او څرګندونې وکړې او وې ښودل چې هغه دافغانستان دخلکو له عقدې ډک لوی غلیم دی.

*- یوسف کابزون دشوروي اتحاد نامنو سندرغاړی و. (دج)

په ډیرو مواردو کې بې ساری انسان دی. په ډیرو سختو حالاتوو کې تل دهغه له خوا دملاتړ احساس کوم. له هغه سره یوځای څلویښتم لښکر ته داستراد موسیقۍ نور ډیر هنر مندان هم راغلي دي. هلته والیري لیونتف ،ولاد یمیر وینا کور ،لیف لیشنکو اوایدیتا پیخا هم راغلي وو. زه دزړه له کومي دد غو کسانو مننه کوم چې دمحدودوپوځونو سرتیرواو افسرانو ته یې دهنر رینبتینې ډالۍ وړاندې کړې دي.

په کوم ځای کې مې په بې احتیاطۍ سره له خولې نه وتلي وو چې کله له پولې نه واوړم نوبیا به دافغانستان خواته مخ اړوم ،دغه پله ته به گورم اوډیر شیان به وایم ،خو داکاربه په لوړ اوازنه ،بلکه په زړه کې کوم چې هیڅوک پرې پوه نه شی او دادی فرونین (هماغې خبرې ته په اشارې) پوښتنه کوي: «دمثال په توگه خویوڅه ووایاست... اوس نه ،وروسته په دې هکله څه لیکل غواړم... څه راته ویلی شئ ؟ ماخونه شوکولی هغه ته په ځواب کې ووایم چې غواړم هغوکسانوته دزړه له کومي ښکنځل وکړم چې افغانستان ته یې دسرتیرو دلیږلو پریکړه کړې وه ،دایوه خبره ،بله داچې ما صرف غوښتل ، هغه څوک رایاد کړم چې تر دغې ورځې ژوندي راونه رسیدل'او دهغوله میندونه ، بخښنه وغواړم.

مخکې له دې چې دمیخاییل لیشنسکي ځنگ ته وروسیږم ،ما په خپله ژمنه وفاوکړه ،ودریدم اوڅوجملې مې په لوړ اواز نه ،خوپه روښانه ټکوکې په ژبه جاري کړې. داهسې جملې وې چې دکاغذ پرمخ نه شي راتلای.

وروسته دلیشنسکي وارشو: لومړۍ پوښتنه : «څه احساس لرئ ؟البته چې

دخوشحالی اوله دی امله د ارامی احساس کوم چې هرځه پای ته ورسیدل ،هغه ته مې داهم ویلي وو چې دټولو هغو سرتیرو اوافسرانومجسمې جوړول په کاردي چې ددغه دوزخ لمبې یې وزغملې دامې هم زیاته کړې وه چې له مانه (په افغانستان کې) دځلوینبتم لنبکر هیڅ پوځي نه دی پاتې شوی.

که څه هم زه احساساتي سړی نه یم ، خوهغه وخت دخبرو کول ګران بریښېدل ، ستونی مې له عقدې ډک شو اوکه لږ نورې هم دوام کړی وای ،نوداوښکودارې مې جوړیدلی شوې.

کله چې مولهغوی سره خبرې پای ته ورسولې ،زه ترې بیل او دهرکلي کوونکیولور ته ورغلم ، زوی مې ،ماکسیم په نظرراغی چې زما خواته راغلي .هغه په ماپورې ځان ځوونډ کړ ،خوما دهغه دجګولو توان رینبتیاهم په ځان کې ونه لید.

بوریارومانینکووروسته یادونه وکړه چې مادیره موده زوی په سینه پورې نیولی و ،خوما صبرکاوه چې دجذباتویرغلیزه څپه تیره شي.

له دې وروسته زه بیا زغره وال ګاډي ته وختم اوتقریباً اته سوه متره وړاندې ،هغه ځای ته لاړم چې همدا اوس راوتلی کنډک په کې په نظام ترتیب شوی و.دخلکوګڼه ګونه وه.ما سترجنرال پاپوف ته رپوټ ورکړ چې له افغانستان نه دپوځونو دراویستلوکاربیخی بشپړ شو.ټول حاضرین خوشحاله وو اوپه تیره بیاداوروستی جمله یې ډیره خوښه شوه.مورلوژته جګ شولو.تقریباً نیم ساعت میټینګ دوام وکړ.معمولاً په داسې حالاتوکې دچاپه یادنه پاتې کیږي چې چا څه

وویل ،خوهرچادښوشیانوپه هکله خبرې وکړې.

له میټینګ وروسته له افسرانو سره یوځای له لوژنه کوز شوم او یوځل بیا رانه دخبریالانوشپول راچاپیرشو ،ددوی زیات شمیربهرني ژورنالستان و. زمور خپل خبریالان تقریباً هیڅ نه وو. یایې هلته ځان نه شورارسولی اویاورته نور هرڅه پوره روښانه نه وو.

له پاپوف سره په یوه «والګا» کې کیناستو اویوې کافي په لور وخو ځیدو. دلته دمیلمستیا دسترخوان غوړیدلی و. تراوسه مې له سرنه دااندیښنه نه وځي چې هغه ورځ هرڅه اپوټه غوندې بریښیدل. سیمه ییزو واکمنوله مور سره ډیرښه چال چلند کاوه او هرڅه په ښه بڼه ترتیب شوي وو ،خوسوګند دی چې ماغوښتل ان دکشف کنډک دسرتیرو په ګډون هرسړی باید وپوهیږي چې دا یوحقیقي جشن دی. زه هیله من وم چې هغوی ته به هم هغسې هرکلی ویل کیږی چې د ۱۹۸۸ کال په مې کې لومړنیو تولګیوته ویل شوی و. هغه وخت همدلته په تعلیمي ډګرکې ،چې دغه لږ مخکې په کې زمور میټینګ پای ته ورسیده ،میزونه ایښوول شوي وو او لکه چې وروسته ماته نکل وشو ، دخوړو دزیاتوالي له امله هغه دچا خبره میزونه ماتیدل. یوازې شراب نه وو. هغه وخت تولود فرمان رعایت کاوه*.

---

*دغه وخت دشوروی مشرمیخایل ګرباچوف دشرابو څښل بند کړی وو ،دهغه دامر له مخې دشرابو پلورنه هم ډیره محدوده شوی وه دلته ګروموف همدا غه فرمان ته اشاره کوی. (د. ج)

ترکومه ځایه چې معلومه شوه ،مور یې دګوندي ولایتي کمیټې په خورنځي کې میلمانه کړی وو. هلته تلفون هم و اومادهغه له لارې یازوف ته خبرورکړ چې دنده سرته ورسیده .ټول پوځیان راووتل. دسرزیان نه شته. هغه پرته له دې چې په اوازکې یې دخوښۍ کومه نښه پیداشي ،ماته مبارکي وویله ،مننه یې وکړه او غوږۍ یې کینبوده.

له دې وروسته مې زړه هسې تش ،تش شو.

داکوچنۍ میلمستیا ډیره عادي تیره شوه. زړه مې هیڅ شی نه غوښته. دشرابو دڅښلو په وخت کې لومړنۍ خبرې د ځلویښتم لښکر په ستاینه کې وشوې. دویم ځل دقوماندان په ویاړ جامونه پورته شول. درېیم ځل خالصې افغاني خبرې وې: دهغه چاپه یاد چې هلته وژل شوي دي. په بیره هرڅوک هرې خواته روان شو. ماهم له ټولو سره مخه نښه وکړه. نه مې غوښتل چې څوک راسره په موټر کې څنګ په څنګ کښیني.

سبا ورځ داسې پیل شوه چې په ما دزیات خوب له امله غرمه شوې وه او دا په داسې حال کې چې په افغانستاکې دخدمت په ټوله موده کې هر سهار په هماغه یو وخت یعنې دسهار په پنځه نیمو بجو له خوبه راپاڅیدم. ښکاري چې پرمادسوله ییز ژوندانه ارامۍ اغیزه کړې وه. دتلفون غوږۍ مې پورته کومه چې فکر راغی. چاته تلفون وکړم؟ په کوم لمبر زنګ ووهم؟ لنډه داچې ما اوزوی مې ژر ژر مخ او لاس ومینځل ،خپل کالی مو راټول کړل ومور یوبکس ، یوسپورتی دستکول او کوه کارتنه درلودل چې په یوه کې ویدو یې کمره اوپه بل کې څټکی پروت و. ویدیو یې مې له راوتلو لږ مخکې اخیستې وه او څټکی افغانانو سوغات راکړی وچې په ژمې کې هغه په کیفیت کې له نادراتو نه ګڼل کیږي) اوله هغه ځایه چې شپه مویه

کې تبره کړې وه، راوویتلو.

زه دې خوا په څیر لادلښکر قوماندان وم، خو اوس دا له افغانستانه راوتلی لښکر و. مور داسې دود درلود: دحالاتو دپرمختیاله پام کې نیولو پرته موهرسهارد پوځي وضعې جاج اخیست اودقطعاتو دندې مومشخصولې، دودهمداسې جاري و.

له سباناري وروسته مودلښکر له اداري هیئت سره په ګډه دجزوتامونوداستولو مهال ویش له نظره تیراوه. چاته په اورګادۍ کې تګ مخې ته پروت و، څوک لاپرلاره وو، څوک باریدو ته چمتوو او څوک ایله اوس دغه کارته چمتو کیدل. مجبور وم له خبریالانو نه په څنګ تیر شم، له افغانستان نه دراوتلو په ورځ مې البته نه شول کولی چې دبیلابیلو موضوعګانوپه هکله له هغو سره ونه غږیږم. اوس نو په کاروده چې خپله ټوله پاملرنه دلښکر دچارو بشپړې سمبالتیا ته واړوم، له یوې لنډې غونډې وروسته له پوځي میملستون نه ووتم، که ګورم چې دعمومي دروازې خواته د خبریالانو ګڼه ګڼه ده. هغوی هم زه ولیدم. زړه مې نه غوښتل کارونه پریږم اویو ځل بیا هغه څه تکرارکړم چې په کابل کې دمطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې او پرون مې دپله پرسرویلی وو، یو دافسر نه مې وغوښتل، خبریالانو ته ووایي چې نه غواړم کیف ته له تګ مخې له چاسره لیده، کاته وکړم.

دفبروري په اتلسمه نیټه په تاشکند کې له یوې لنډې دمې وروسته دکییف دپوځي حوزې دقوماندان په توګه دخپلې نوې دندې پرلور وخوځیدم. هغه وخت مې تصورهم نه شوکولای چې په خپل مورنۍ هیواد کې، چې تل موپه بحراني اولنډوشپو کې په خوب لیده، ژوند، دافغانستان په اندول، دجګړې دشرایطو په پرتله لاډیرګران دي...

۱۹۹۳ کال مسکو

PROPERTY OF ACKU 6419

په دي کتاب کې ولولی

څو خبری	الف	دویم سر دستر درستیز اکاډیمی	۲۲۷
د لیکوال له خوا	۱	ناڅاپی تلفون	۲۳٤
له جګړې نه ویر مخکی	۲	پنجشیر	۲۵۳
ځانګړی دوسیه	۱۸	احمد شاه مسعود	۲٦۲
دغرونو هیواد	۲۰	سید احمد ګیلانی	۲۸٦
حتمی بری	۲۲	صبغت الله مجددی	۲۹۳
دکورنی جګړې په جبهوکی	۲٤	ګلبدین حکمتیار	۳۱۳
مور افغانستان له لا سه نشو ورکولی	۲۵	کارمل لور په لوته تیره کوی	۳۱۸
اشد محرم یو نقل	۲٦	په خبرو اترو دی پیل وشی	۳۲۱
زغره وال ګادی په الوتکو راولیږی	٤۳	دظاهر شاه په حقله	۳۲۷
د پوځونو د لیږلو لپاره دلیل نشته	۵۲	نجیب	۳۳۷
خلګ به تاسو ونه بخښی	۷۰	څلور ویشت ساعتونه	۳۵۹
له پوځ نه هیڅ شی مه سپموی	۹۰	استخبارات	۳۷۲
د پیښو نیټه لیك ورانکاری	۹۳	هوایی ځواکونه	۳۸۰
د شوروی اتحاد کمونست ګوند مرکزی کمیټه	۹٤	دپاکستان په خاوره ګوزارونه	۳۸٦
ملګری امین ته قناعت ورکړی	۱۰۷	جګړې ته د قرار داد له مخی تګ	۳۹٤
د پیښو نیټه لیك	۱۰۹	اسیران	۳۹۷
او پر لارښوونه د استناد له مخی	۱۲۱	دافغانستان په وژنتون کی	٤۰۵
دمرکزی کمیټی له نامه ورته وواياست	۱۲۹	برهان الدین ربانی	٤۱٤
تر وسه وسه دی ددی خبری رسوا کیدل	۱۳۷	دملی روغی جوړی سیاست	٤۲۰
لومړنی سفرنوی دنده	۱٤۵	دماتی په درشل کی	٤٤٤
لومړنی جګړې	۱٦۳	اوس لاهم د رژیم لپاره خطر شته	٤۵۹
د اتیایم کال سور دوبی	۱۸۰	بری که ماتی	٤۷۳
هرات	۱۹۹	وړاندی به څه کیږی	٤۸۲
دوسلو عصری کیدل	۲۰۹	له شورویانو پرته افغانستان	٤۸٤
محمد نبی محمدی	۲۳٤		

دانش کتابخانه دهکی نعلبندی قصه خوانی پشاور